# غزنوي سلطان
# محمود



**(ژوند او پېښلیک)**

مؤلف: ډاکټر محمد ناظم

ژباړن: پوهاند محمد بشیر دودیال

بسم الله الرحمن الرحيم

# غزنوي سلطان محمود

(ژوند او پېښليک)

مؤلف ډاکټر محمد ناظم
ژباړونکی پوهاند محمد بشیر دودیال

د کتاب پېژندنه:

نوم: **د غزنوي سلطان محمود**

ليکوال: ډاکټر محمد ناظم

ژباړن: پوهاند محمد بشير دودیال

کمپوز: ذبيح الله اکبري

چاپ کال: ۱۴۲۷ هـ. قمري ۱۳۸۵ هـ. لمريز

خپرونکي: **ميوند خپرندويه ټولنه**

کمپوز او چاپ: د ميوند خپرندويه ټولنې مطبعه

کابل: د فارمسي رياست ترڅنگ، معارف مطبعې ته مخامخ، ټيلفون: ۲۱۰۳۵۶۹

گرځنده ټيلفونونه: ۰۷۰۲۸۴۹۵۴ او ۰۷۰۲۹۵۲۱۴

سبا کتابخانه، ټيلفون: ۲۲۰۰۴۵۵

گرځنده ټيلفون: ۰۷۹۳۲۰۳۶۶، پست بکس: ۱۲۷۸

پېښور: ډهکي نعلبندي، قصه خواني بازار، سبا کتابخانه، ټيلفون: ۲۵۶۵۵۲۰

گرځنده: ۰۳۰۰۵۹۴۶۳۲۹

پست بکس: ۷۹۵ U.P.O.Box

E-Mail: maiwand@asia.com

ټول حقوق محفوظ دي

# نیولیک


| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| نیولیک | ۵ |
| د ژباړونکي خبري | ۹ |
| د دري ژباړې سريزه | ۱۱ |
| د ت و آرنولد سريزه | ۱۲ |
| د مؤلف سريزه | ۱۴ |
| لومړۍ برخه | ۱۷ |
| لومړی څپرکی ماخذ | ۱۷ |
| دويم څپرکی په څلورمه هجري پيړۍ کې د اسلام نړۍ | ۴۰ |
| دريم څپرکی د سلطان محمود نيکونه (اسلاف) | ۴۲ |
| څلورم څپرکی د سلطان محمود د ژوند پيل | ۲۰ |
| پنځم څپرکی د واک پر سر شخړه | ۲۵ |
| دويمه برخه | ۷۰ |
| د سلطان محمود جګړې | ۷۰ |
| شپږم څپرکی منځنۍ آسيا کې جګړې | ۷۰ |
| الف سامانيانو سره روابط | ۷۰ |
| ب سلطان او د ترکستان خانان | ۷۷ |
| ج ساموييان او دخوارزم او جرجانيه سوبه | ۸۹ |
| د د غرشستان نيول | ۹۴ |
| هـ سلطان او سلجوقيان | ۹۷ |
| اووم څپرکی د ايران، سيستان او د هغو شاو خوا | ۱۰۲ |

الف د سیستان نیول ---------- ۱۰۲
ب دغور نیول ---------- ۱۰۶
ج سلطان او د قصدار حکمدار ---------- ۱۱۰
د د نور او قیرات د سیندونو د غاړو نیول ---------- ۱۱۲
هـ د قبایلو پرلوري د محمود د پوځونو لیږل ---------- ۱۱۵
و زیاریانو سره د سلطان اړیکې ---------- ۱۱۶
ز سلطان او د مکران چارواکي ---------- ۱۱۹
ح د ری . همدان او اصفهان نیول ---------- ۱۲۱
اتم څپرکی په هندوستان کې جګړې ---------- ۱۲۷
الف د هند د راجه سلاطینو له سلسلې او ویهند ---------- ۱۲۷
ب د ملتان حکمران سره اړیکې ---------- ۱۴۱
ج د هندوستان پر شمیر نورو سیمو ته پوځونه لیږل ---------- ۱۴۶
۱- بهند د ، بهاتیه ، نیول ---------- ۱۴۶
۲- د نراین پور نیول ---------- ۱۴۹
۳- د تهانیسر نیول ---------- ۱۵۰
۴- پر کشمیر باندې یرغلونه ---------- ۱۵۲
۵- پر ګنګا یرغل او د متره او قنوج نیول ---------- ۱۵۴
۶- د قنوج د حکمران د ، تریلو چنپال ، په وړاندې ---------- ۱۶۱
۷- ، ګوالیار ، او ، کالنجر ، ته پوځونه لیږل ---------- ۱۶۴
۸- سومنات ---------- ۱۶۷
۹- د ، جاتها ، د ځپلو او تادیب لپاره لشکر کشی ---------- ۱۷۵
نهم څپرکی د سلطان د ژوند وروستي ورځې ---------- ۱۷۸
دریيمه برخه ---------- ۱۸۲
لسم څپرکی د سلطان د اداري اصول ---------- ۱۸۲

ـِنسه څپرکی سلطان او د هغه کارونه ---- ۲۱۲

ــــ ی ---- ۲۴۳

الف نبلونه د ځینو ختیزو مؤرخینو متحد ---- ۲۴۳

ب نبلونه د سبکتګین د اسلافو نیکونو تاریخ ---- ۲۴۷

ج نبلونه فریغونیان ---- ۲۴۹

د نبلونه تاج او تخت د سلطان محمود استحقاق ---- ۲۵۱

هـ نبلونه سامانیان ---- ۲۵۳

و نبلونه د مامونیانو تاریخ ---- ۲۵۸

ز نبلونه صفاریان ---- ۲۶۱

ح نبلونه د بویه سلسله او اولاده ---- ۲۶۶

ط نبلونه د ویهند شاهانو او د هندوستان سلسله ---- ۲۷۱

ی نبلونه ۱- د بهاطیه اصلي موقعیت ---- ۲۷۴

۲- بهتندد ته د پوخ لیږلو تاریخ ---- ۲۸۰

ک نبلونه دوتنه، تریلو چنپال، نومي کسان ---- ۲۸۱

ل نبلونه ۱- د سوریې تاریخ څه اقتباس ---- ۲۸۴

۲- د سبط ابن جوزي څخه اقتباس ---- ۲۸۶

م نبلونه ۱- د سومنات د سفر ماخذ ---- ۲۸۷

۲- د سومنات د بوت اصلیت او ---- ۲۸۸

۳- لومړني معبد (بودتون) ---- ۲۹۱

۴- دلومړني بودتون ځای ---- ۲۹۳

۵- د سومنات د سفر تاریخ ---- ۲۹۴

۶- سومنات ته د سلطان تګلوری ---- ۲۹۵

۷- د سومنات دسفر په اړه کیسی ---- ۲۹۸

ن نبلونه د نیتی له مخی د سلطان محمود او دهغه ---- ۳۰۲

س نبلونه ماخذ ---- ۳۲۲

# د ژباړونکي خبرې

کله چې د حبیبې په عالي لیسه کې زده کوونکی وم نو د تاریخ مضمون راته ډیر په زړه پورې و. تل به عامه کتابتون ته تلم او د تاریخ بیلابیل کتابونه مې لوستل. وروسته بیا د مرحوم محمد داود خان په وخت کې د ځوانانو د مطالعې د هڅونې په خاطر. د عامه کتابتون یوه څانګه په زرنګار پارک کې ( د اوسنۍ کابل ښاروالی احاطه کې ) یوې پخوانې ښکلې تاریخې ودانۍ ته ولیږدول شوه. هلته د تاریخ لوستلو ځانګړی خوند کاوه. د پوهنتون په دوره کې مرحوم عبدالواسع قرار زموږ د تاریخ استاد و ( نوموړی بیا وروسته د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي رئیس شو ) ده په خپل فصیح او شیوا بیان سره تاریخ په ځانګړي طرز تدریس کاو. په دې توګه د پوهنتون دوره کې هم د تاریخ مینه وال وم او ډیر وخت به مې د پوهنتون مرکزي کتابتون کی تاریخ لوست. دادی اوس پیښور کې تل فرهنګی مراکز ته ځم. په دي لړکې اونۍ کې یو ځل دوه ځله میوند خپرندویه ټولنې ته هم ورځم. په دې لړکې مې د سلطان محمود غزنوی حیات و اوقات کتاب ولوست چې پښتو ژباړه یې ستاسو مخی کی ده. ددغه کتاب ژباړه راته ضرور و بریښیده. اذعان کوم چې په تاریخ نه پوهیږم. خو له مطالعی سره یې مینه لرم. په دې هم پوهیږم چې ډیر کسان تاریخ لوستلو سره مینه

لري. نو ځکه مې دغې ژباړې ته ملا و تړله او کتاب بشپړ ترجمه شو له میوند خپه ندویې ټولنې څخه دهغه د چاپ له امله ډیر تشکر کوم دغه کتاب دسلطان محمود غزنوي د ژوند له پیښو بر علاوه. په څلورمه هجري پیړۍ کې د سیمې وضعیت او حالت هم ډیر ښه څرګندوي. دادی نن له هغه وخته راهیسې پوره یوزر کاله تیریږي. یو زر کاله دیر عمر دی، خو د سلطان نوم لاځلاند دی او له غم لړلو، جنګې او غرور هستوونکو پیښو باید عبرت واخیستل شي. دغه کتاب د سلطان د ژوند واقعي پیښې دهغه په هکله د جوړو شویو حکایتونو څخه بیلوي. د کتاب مؤلف دهندوستان د پراخه هیواد نا متوخیړونکی او مؤرخ ډاکټر محمد ناظم دی. دغه کتاب ده کیمبرج پوهنتون کې د خپلې دوکتورا (P.H.D) د دفاع د رسالې په ینسټ لیکلی دی چې یو غوره اکاډمیک اثر دی په یوه ځانګړي سبک لیکل شوی دی. هیله ده ستاسو د مطالعې تنده پرې ماته شي.

برې او خوشحالي مو غواړم.

په درنښت

دودیال

# عرض مترجم

«حیات و اوقات سلطان محمود غزنوی» یکی از مؤلفاتی است که مترجم به سایقهٔ فکر جمع آوری و تهیه منابع برجسته وخیلی مهم تاریخی وطن خود، توانست از عهدهٔ ترجمهٔ آن بر آید.
عظمت و شهرت سلطان محمود بقدری روشن و در نزد خواص و عوام به اندازهٔ معلوم است که در اینجا حاجت به تذکار ندارد. وانگهی در خود کتاب نیز مؤلف محترم حق آنرا ادا کرده است تنها چیزیکه نگارنده میخواهد در اینجا خاطر نشان نماید، بعضی مزایائی است که این اثر بر آثار دیگر دارد: یعنی
اول: موضوع بقدری بلند، مشعشع، پرافتخار، باشکوه، جالب دقت و دلچسپ است که هر فرد وطن پرست ما را بی اختیار به مطالعهٔ آن می کشاند.
دوم: مؤلف از فضلای نامی عصر حاضر و از رجال مقتدری است که تاکنون فقط قلم ایشان توانسته چنین مضمونی را باین سرو صورت کامل، در دسترس مطالعه علاقمندان این شاهنشاه بزرگ قرار دهد.
سوم: خود این اثر بر پایهٔ چنان منابع متین و ماخذ مستند و نایابی استوار است که بباعث متفرق بودن آن در کتابخانه های معتبر حکومتی، ملی و شخصی هر کشور، هر کس را دسترس استفاده بر آن نبوده و اگر ممکن هم شود، تتبع آن از حوصله و دماغ همه کس پوره نیست «مؤلف محترم متجاوز از ۱۷۰ مآخذ را مطالعه نموده» اینست که نگارنده ترجمهٔ آنرا از وظایف اولیهٔ خود شمرده و از اختتام آن، خود را خیلی خوشبخت میدانم.
در خاتمه مؤلف محترم را نسبت به این اقدام مهم و کامیاب شان تبریک گفته و از گرد آوری چنین اثر قیمتدار که در حیات باستانی کشور ما، رول نهایت درخشان بازی کرده است، اظهار امتنان می نمایم.

«عبد الغفور امینی»

د نامتو هندوستان پېژندونکی
پروفيسر ت. و. آرنولد په قلم

# سريزه

د هندوستان د مسلمانانو له ډېرو ښو ادبي فعاليتونو څخه يو هم د هغوی تاريخی ليکنې دي چې د دغې سيمې د واکمنو له مهمو سوانحو څخه عبارت دي لکه : فيروزشاهي سوبې. د همدا اثر يا دسلطان د دوران پېښليکونه چې د دربار مؤرخينو ليکلې او يو شمير نور تاليفات چې تريو زياته حده انتقادي اړخ لري چې دا ټول د وروستيو دورو ليکوالو ليکلي دي . او بيا همدا زړې موضوعگانې په دې وروستيو کی د پخوانيو ليکوالو متتبعينو په نوی بڼه تتبع کړې چې لانجمنو ټکيو کی يې ښې پايلې ترلاسه کړې دي . په واقعيت کی د هندوستان د څوانو تاريخ ليکونکو ټولنې د تاريخ د علم لپاره گرانتبيه هڅې کړي دي .

له دغې جملې څخه همدا اثر د پورتنيو مؤرخينو د آثارو په رديف کی يو لوړ او ارزښتمن ځای لري . پخوانيو تاريخ ليکونکو يوه هم د سلطان محمود د ځانگړې تذکرې د ليکنې جرئت نه د کړي . يو له هغو ستونزو څخه چې په دغه لاره کی موجود و هغه د سرهنری ايليات له غلطی ډکې او مبهمې وينا وې وې چې د دغه ستر واکمن په هکله يې د ( هندوستان تاريخ د هغه د مؤرخينو له ژبې ) کتاب په دويم ټوک کې يې کړي وې . نو په دی توگه په ډاډ سره ويلای شو چې هغه ژمنه چې ډاکتر محمد ناظم د دغه اثر په ليکلو کی په غاړه اخيستی ده ډير زيات جرئت او حوصله غوارې . لوستونکی به ډير ژر د دغه اثر په لوستلو د هغه ښيگڼه ومنې داځکه چې تر اوسه پورې په دغه موضوع کی دومره ژور تتبع نه و تر سره شوی او د مؤلف گڼ شمير

اخځونه هغه قلمي نسخې دی چې تر اوسه قطعاً چاپ او خپرې شوي نه دي.
له دی امله چې د سلطان محمود د ژوند ډیره برخه په جګړوکی تیره شوی ده و نو طبیعی خبره ده چې د دغو بیلابیلو جګړو بیانول به د هغه د سوانحو لویه برخه وي ډاکتر محمد ناظم هم د دغو جګړو د تشریح لپاره د ستاینی وړ. معقول او ډیر سم او واضح فکر کړی دی. یعنی دغه جګړې یې د هغو د جغرافیایې او ضاعو په ترتیب سره بیان کړی دي تر څو چې لوستونکی د سلطان د پوځونو پر مختګونو او محارباتو باندی په ډیر ښه ډول پرته له ابهام څخه و پوهیږي. د دی بر عکس که چیری یې پیښې صرفاً د هغو د نیټو له مخې بیان کړی وای نو د ځینو اشتباهاتو امکان موجود و. له دې پرته د لوستونکو او مینه والو د ښې پوهې په خاطر په دغه اثر کې د نیټو له مخی هم یو جدول په (ن) ضمیمه (نښلونه) کې ترتیب شوی چې پیښې پکی ذکر شوی دي.
د هندوستان د تاریخ زده کوونکوته د ډاکتر ناظم دغه کتاب نه یوائې دا چې د هغه هیواد د مجهولو او ناڅرګندو دورو یو روښانه کوونکی اثر دی. بلکې په دغه برخه کی ډیر شمیر اشتباهات او سؤتفاهمات هم له منځه وړي. د بیلګې په توګه د دغه اثر ګڼ شمیر نښلونې او تبصرې د دغې خبرې ډیر ښه ثبوت دی.
دغه کتاب به ډیرو لوستونکو ته د مننې او په زړه پوری والی سبب شي. داځکه چې دا د یو روښانه فکر لرونکی. مسلمان او معاصر ادیب په قلم لیکل شوی اثر دی چې په ضمن کی په سلطان باندې د واردو شویو تعصبی تورونو څخه هم دفاع کوي.

ت. و. آرنولد

# د مؤلف سریزه

په دې ورځو کې د تاریخ مینه وال. د جنګ جګړو د کیسو په پرتله چې ستو مانه کوونکې دي. د ملتونو د سیاسي . اقتصادي . او ټولنیزو پرمختګونو . تحولاتو او تطور مطالعې ته ډېره مینه ښکاره کوي . خو باید و ویل شي چې داسې جګړې هم شته چې د هغو پایلې د خپل نړیوالتوب او مهم والی له کبله تل د پام وړګرځیدلې دي د غزنوي سلطان محمود جګړې هم له همدې جملې څخه دي. په تیره بیا د هندوستان ډېر پراخه هیوادته د ده د پوځونو تګ محمود هغه لومړنی سلطان و چې په هندوستان کې یې د اسلامي امپراطورۍ د جوړولو فکر عملي کړ او د هند د شمال غرب دروازو او درو څخه په پیړیو پیړیو اسلامي مهاجمین د هند پراخه ځمکې ته ننوتل. ترڅو چې د انګریزانو ګام ایښودنې د دغه بهیر مخې ته خنډ جوړ کړ.
سره له دې چې د سلطان محمود په هکله د ننیو تاریخي آثارو له مخې بیلابیلو ځایونو کې یادونه کیږي . خو لکه څرنګه چې لازمه ده هومره یې د ختیځ پوهانو پاملرنه ځان ته نه ده اړولې . دغه اثر چې لومړی د یوې رسالې په بڼه او د کمبریج له پوهنتون څخه د فلسفې د دوکتورا (P.H.D) د اخیستو په خاطر تالیف شوی . هیله ده چې تریوه حده د مینه والو تنده خړو به کړي. سره له دې چې ډېره جامع نه ده خو د سلطان د تاریخي زیرمو په راټولو او د هغو په ترتیب او سره کولو کې یې هڅې بللای شو چې کیدای شي د سلطان محمود د ادارې د اصولو . د متصرفه سیمو . د هغه د سلطنت یو سم تاریخ . ژوند او

دهغو د نورو کړنو په هکله يې يو اثر وبولو او هيله کيږي چې هغه تعصب چې دهغه په هکله ښودل شوی هغه له منځه يووړل شي . دا بايد وښودل شي چې په هندوستان کی د سلطان محمود جګړی ديو جنګيالي د چور او چپاول په بڼه او د تصادف له مخې نه بلکې د هغه د يو پراخ پروګرام له مخې وي .

ليکوال د دغه کتاب بنسټ د مستندو اخځونو په اساس ايښی دی چې له غير معتبرو ويناو او اخځونو څخه يې صرف نظر کړی دی . نو له هغه يو شمير روايتونو څخه چې ظاهراً حقيقت ښکاريدل تير شوی يم . له بلې خوا مې د اوسنيو مؤرخينو او د سلطان د منتقدينو هغه شمير اشتباهات چې د هغه په هکله يې د ناکافي معلوماتو له امله کړی . په لمن ليکونو کې ښودلي دي خود پاڼو د شمير د زياتوالی د مخنيوی لپاره مې د هغو له تفصيل څخه ډډه کړی ده . د سلطان له ادبي تاريخ څخه هم تير شوی يم . دا ځکه چې لومړی خو موضوع ډيره پراخه مطالعه او ژوره څيړنه غواړي او له بلی خوا پخوا يو شمير نامتو پروفيسرانو او پوهانو لکه پروفيسر برون . شبلی نعماني او محمود خان شيراني او نورو دغه برخه کی ليکنی کړی دي .

په انګلسی ژبه د عربی کلماتو او ځايونو د نومونو د ښودلو لپاره په ۱۸۹۴ کال کې د (ختيځ کنګری ) له اصولو څخه چې وروسته بيا ( د لندن اسيائی شاهی انجمن ديوان ) هغه تصديق کړي استفاده شوی ده . نو د يو شمير مشهورو نومونو تلفظ لکه ډهلی . لاهور . جهلم . متره . قنوج او نور مې په هماغه معمول او زاړه شکل ( Delhi. Lahore. Jhelum. Muttra. Kanayj ) پريښودل . دهندي او سانسکريت نومونو په لوستلو کی به هم ممکن ډير لږ مشکل لوستونکوته پيښ شي . خو د اشتباه سبب به ونه ګرځي .

په عیسوی سنه باندی مې د هجری سنو او نیتو په بدلولو کې د مدراس د حکومتي مطبعی ۱۹۹۲ کال چاپ جدول ). د سوامی کانو تالیف شوی اثر څخه چې ( Ar Indian Ephemeris ) په نوم دی استفاده کړی ده.

د هغی نقشي په برابرولو کی می چې د غزنوی سلطان محمود د امپراطوری پراخولی ښکاره کوي.د شرقی خلافت اراضي ( Lands of the Eastern Caliphate ) کتاب له موادو څخه استفاده کړی ده چې گای لسترینج ) ترتیب کړی دی . خود هغو ځایونو د نومونو په هکله چې یا ډیر واضح نه و یانه تشخیص کیدل او د ختیځ جغرافیه پوهانو د هغو په هکله کافی معلومات نه و ورکړي هغه پکې نه دي راغلی. په پای کی له موقع څخه په استفاده له پروفیسور رینود نکولسن څخه چې دغه کتاب یې کتلی دی او دهغه په هکله یې ځو ځو سموني کړی دی ډیره مننه کوم . ځکه که د ده ځانگړی پاملرنه نه وای . نو زیات شمیر معلومات د لیکوال لپاره مجهول پاتې کیدل . همدارنگه د سند ( کراچې ) د مدرسې مدیر ډاکتر دود پوتا او د علی گړ د مسلم پوهنتون له ویاند مولوی بدرالدین څخه مننه کوم چې د عربی پیچلو عبارتونو په حل کولو کی یې مرسته کړی ده او د کیمبرج مطبعی له کارکوونکوڅخه مننه کوم چې د دغه کتاب خپرول یې په غاړه اخیستی او په پای کې د مطبعی له منشی څخه تشکر کوم چې تل یې هدایتونه ورکړی.دی.

۱۹۳۰ د مارچ لسمه

محمد ناظم

# لومړی برخه

## لومړی څپرکی

### ماخذ

د غزنوي سلطان محمود د وخت په اړه د موجودو اخځونو (ماخذ، مراجع او ريفرنس) له شرح کولو مخکی، لازمه ده چې د يو شمير ورکو او نايابو ماخذونو يادونه هم وشي. د دغه وروستيو آثارو په لړکی هغه شمير کتابونه او آثار چې د نوموړی دوران ته ورنژدې دي دادي.

اول: د (دولت نامه)[1] په نوم يو رسمي تاريخ.

دويم: د تاج الفتوح[2] په نوم يو منظوم اثر چې د سلطان د کارونو په هکله يې بحث کړی دی.

---

[1]- د فرخي ديوان درويشتمه پاڼه. تر دغه وخته پورې د دغه کتاب يادونه نه ده شوی.

[2]- عنصري د خپل ديوان په ۷۹ او ۸۵ مخونو کی د دغه کتاب نوم په دومره خوږوالی سره ياد کړی دی چې په قوي احتمال داسی فکر پيدا کيږی چې دا کتاب به همده تصنيف کړی وي. د (ايليات و داؤسن) د کتاب دويم ټوک کی په ۵۳ مخ کی سهواً ليکل شوی دي چې تاج الفتوح د بيهقی د کتابونو يوه برخه ده چې د سلطان محمود له تاريخ څخه خبری کوي.

دریم : د ( فی غور اخبار ملوک الفرس ) کتاب چې د عبدالملک بن محمد بن اسمعیل تصنیف دی او د عجمو د پادشاهانو تاریخ له لرغونو زمانو څخه د سلطان محمود تر وخته را اخلی [۱].

څلورم : د ابوالفضل بن حسین البیهقي [۲] دري ګوني کتابونه چې په لاندی نومونو دي.

( مقامات ابونصر مشکانی ) [۳] چې د نورو اطلاعاتو او معلوماتو څخه برعلاوه د سلطان د درباری ژوند او تاریخ او دهغه د ګټورو ویناوو لرونکی دی.

( مجلدات ) [۴] یا سلطان محمود او دهغه اولاده په دیرشو ـ

---

۱- د غه کتاب په څلورو ټوکونو کی د سلطان محمود ورور ابوالمظفر نصر ته چې د خراسان د لښکر و قوماندانو و، لیکل شوی دی، له دغو څلورو ټوکونو څخه اوس صرف دوه ټوکه پاتې دي چې له اسلام څخه مخکې دورې او د سلطان محمود د دورې په هکله بحث کوي تر نن ورځی موجود دي. دا دوه ټوکه په ۱۹۰۰ م کال کی ( زوتن برګ ) په فرانسوی ژبه ژباړلي دي او پاریس کی طبع شوي دي.

۲- د بیهقی د ژوند په هکله ابن فندق ( ۱۰۱ پانه دویم مخ او ۱۰۳ پانه لومړی مخ ) او اسلامي دایرة المعارف ( لومړی ټوک ۵۹۲ مخ ) وګورئ.

په ( با خرزی ) کې یې په ۱۰۴ پانه کی په لومړی مخ کې په شاعرانو کی نوم راغلی دی.

۳- آثار الوز ( ۱۰۲ پانه دوهم مخ ) او بیهقی ( ۷۴۹ مخ ) نوم یې ابونصر بن مشکان ( ؟ ) احمد بن عبدالصمد او د سلطان محمود د دارلتحریر رئیس و د دغه اثر له مطالعې څخه چې په ( آثار الوزرا ) کتاب کی یې اقتباس موندلی. شکاري چې دا اثر د ډیرو ارزښتناکو معلوماتو لرونکی و وګورئ بیهقی ۴۱۲ مخ.

۴- دا دبیهقی د وروستی تاریخ نوم دی چې د ډیر پنډوالی له کبله یې ( مجلدات ) بولي. ابن فندق ( ۱۰۱ پانه ۲ مخ ) او حاجی خلیفه ( دوهم ټوک ۵۰۸ مخ او ۵۸۰ مخ ) کی هغه ناصری تاریخ، بنوسبکتګین جامع التاریخ او جامع التواریخ بللی←

ټوکوکی[۱] له ۴۰۹ څخه تر ۴۲۰ کال پورې[۲] چې عیسوی (۱۰۱۸ – ۱۰۲۸ عیسوی) کلونو سره برابردی. او دسلطان مسعود[۳] دلیکونو مجموعه چې مهم سیاسی مکاتیب پکې راغلی او هم د سلطان محمود یوشمیر مکتوبونه پکې شته چې (زینت الکتاب) نومیږي.[۴]

په جوامع الحکایات او آثار الوزرا کی د مقتبسات محفوظه له مخې داسې ښکاري چې (مقامات) د سلطان محمود د تاریخ لپاره ډیر ګټور مواد لرل او مجلداتو کی بیا د شپږم ټوک دوهمه نیایې او اوم، اتم او نهم ټوکونه ټول او دلسم ټوک یوه برخه د سلطان مسعود په هکله بحثونه لری، پاتې نور یو جامع اثرو چې یو شمیر برخی یې د څینو سلاطینو لپاره ځانګړی وي اود همغو په نو مونو یادیدې مثلاً د

---

← دی د غو نو مونو څنی لیکوالان لکه میجې راورټی (طبقات ناصری ۱۰۵ مخ) او ابلیات د اوسن (دویم ټوک ۵۳ مخ) تیروتنې سره مخامخ کړی دي دوی د سُبکتګین د نیکونو تاریخ هم بیهقی ته منسوب کړی دی.

[۱] - ابن فندوق ۱۲ پاڼه ۲ مخ او ۱۰۱ پاڼه ۲ مخ، روضه ۷ مخ، مګر راورټی (طبقات ناصری ۱۰۵ مخ) د هغو شمیر پرته د کوم ماخذ له ذکر کولو څخه دولس ښودلی دی.

[۲] - بیهقی ۲۳۳ او ۳۱۷ مخونه. ابن فندق (۱۲ پاڼه دویم مخ) دغه اثر د سلطان محمود او دهغه د اولادې تاریخ بللی دی او د خپل کتاب ۱۰۱ پاڼې دوهم مخ کې یې هغه د سبکتګین په تاریخ کی هم ورشاملوي.

[۳] - بیهقی ۵۲۸ مخ.

[۴] - ابن فندق د ۱۰۱ پاڼی دویم مخ او بیهقی د خپل کتاب ۵۲۸ مخ کې غالباً همدغه اثر ته اشاره کړی ده.

سلطان محمود تاریخ د «یمینی»[1] تاریخ په نوم او د سلطان مسعود تاریخ د مسعودی تاریخ ......... په نومونو یا دیدل. د بیهقي یمیني تاریخ د ډیر زیات اهمیت وړ دی داځکه چې په خپله د مصنف د ورځینو یا د دښتونو او اصلي رسمي[2] اسنادو پربنسټ کښل شوی دی[3].

پنځم: د محمود وراق عمومي تاریخ دی چې په ۴۰۹ هـ[4] (۱۰۱۸ ع) کال کې بشپړ شوی دی.

شپږم: ذیل تجارب الامم) د هلال بن محسن بن ابراهیم الالصابی لیکنه ده چې دسلطان محمود بري لیکوته یې القادر بالله عباس خلیفه ته لیږلي و ډیر تفصیلات لري. او په پای کې فریدالتاریخ دی چې د ابوالحسن محمد بن سلیمان[6] په قلم لیکل شوی دی او د خراسان له تاریخ څخه بحث کوي.

له دغو پنځو معاصرو آثار و پرته د سلطان پنځه دغه آخري آثار هم له منځه تللي دي.

---

[1]- بیهقي ۲۲، ۱۰، ۲۲ او ۱۵۸ مخونه. دغه ځنې وخت د (کتاب الیمینی عتبی) سره په تیروتنې سره یو کتاب بلل شوی دی.

[2]- بهقي ۳۲۴، ۱۲۰، او ۵۲۸ مخونه.

[3]- بیهقي ۲۲۸، ۱۷۷ او ۲۹۳ مخونه.

[4]- بیهقي ۷۱۳ مخ

[5]- د دغه تاریخ صرف یوه کوچنی برخه چې د (۳۹۰-۳۹۲) دریو کلونو د پیښو لرونکی دی، راپاتی دی او د (تجارب الامم) د دریم توکه دیوي برخي په توگه چې د ابو علی احمد بن محمد مسکویه تالیف دی. وروسته وریسی ابوشجاع الزراوري لیکلی دی. راټول د پروفیسر مارگولیتن له خوا خپاره شوی دي

[6]- ابن فندق د ۱۲ پاڼی لومړی مخ، د ۵۳ پاڼی لومړی مخ، د ۷۲ پاڼی لومړی مخ او د ۷۷ پاڼی دویم مخ.

لومړی : ( مجدول تاریخ ) چې د امام محمد بن علی ابولاقاسم عمادی[1] دی.

دویم : د ابوالحسن علی بن زید بن امیرک محمد بن حسین بن فندق ( مشارب التجارت ) چې نوموړی په ابن فندق[2] مشهورو او دغه اثریې په څلورو ټوکو کی دی.

دریم : د ابوالحسن الهثیم بن محمد ناجي[3] تاریخ.

څلورم : د ابو محمد هارون بن عباس المامونی تضیف شوی اثر ( تاریخ خراسان ) چې خپله شجره خلیفه المامون[4] ته رسوی.

پنځم : ( تاریخ محمود بن سبکتگین و بنیه ) جمال الدین ابوالحسن علی بن یوسف القفطی[5] تالیف. خو دغه موجوده ماخذ په څلورو برخو ـ

---

[1]- د طبقات ناصری ۲۹ مخ چې غالباً هماغه کتاب دی چې په مجمل ( د ۲۲۳ پاڼی دوهم مخ ) کی د تاریخ امیر عمادي محمود بن الامام السنجری الغزنوي په نوم یاد شوی دی. و دي کتل شي ( بار تولد ) ۲۴ مخ.

[2]- ابن فندق د ۱۲ پاڼی دویم مخ او د ۴۰ پاڼی لومړی مخ، ابن الاثیر ۹ ټوک ۲۴۹ مخ له ۸ مخ څخه را اخیستل شوی. ابن فندق ( ۱۲ پاڼی ۱ مخ ) کې دغه اثر د ( کتاب الیمني عتبي ) پاتی برخه بولي، خو جوینی ( تاریخ جهان کشا لومړی مخ ) کی هغه د ( ذیل التجارب الامم ) پاتې برخه د هلال الصابی لیکنه ګڼی. ( همدارنګه یاقوت الارشاد ۲۱۲ مخ وګورئ ).

[3]- طبقات ناصری ۱۹، ۲۹، ۳۱، ۵۲، ۲۰، ۱۱۲، ۳۱۷، ۱۱ او ۳۲۰ مخونه. دغه اثر له هجری اوومې پیړی څخه مخکی لیکل شوی و.

[4]- ابن خلکان، ۲ ټوک ۳۳۴ مخ، المامومنې په ۵۷۳ هـ ( ۱۱۷۷ – ۱۱۷۸ ع ) کی وفات شوی دی.

[5] یاقوت ( ۵ ټوک ۴۸۴ مخ ( ارشاد ) ) بار تولد د خپل کتاب ۲۷ مخ کې یو بل اثر د لمعات التواریخ په نوم یادوی چې د ابولفتوح البرکات بن مبارک بن اسمعیل اثر←

ویشل کیږی[۱]

۱. د سلطان معاصر ماخذ

۲. پخوانی او غیر معاصر یعنی هغه آثار چې د پنځمی پیړی له نیمائی د نهمی هجری پیړی تر نیمایې لیکل شوی دي.

۳. وروستي آثار.

۴. د عتیقه آثارو مضبوطات.

هر یو به یې بیل بیل تشریح شي.

## ۱- د سلطان معاصر ماخذ

د سلطان د عصر لومړنی ماخذ د الیمینی ابونصر محمد الجبار العتبي[۲] کتاب دی چې تر ۴۱۱ هـ (۱۰۲۰ ع) کال پورې د سبکتگین او سلطان محمود د دورې لرونکی دی[۳] د الیمینی کتاب د لیکنې طرز او سبک د اوږدو استعارو او تشبهاتو لرونکی دي او مصنف د تاریخ د پېښو د حل و فصل پرځای د انشا ښکلا ته ډیره پاملرنه اړولی ده او

---

← دی. دغه لیکوال وروسته تر ۴۲۰ هـ (۱۰۲۷ – ۱۲۷ م) په غزنیکې زیږیدلی او تاریخ یې تر ۵۰۰ و (۱۱۰۲ – ۱۱۰۷ م) پوري موجودو.

[۱] - لازمه ده چې دلته یادونه وشي چې له دی امله چې داسی یو کتاب چې ټول د سلطان محمود په هکله بخث وکړی نشته، نو ځکه زما قضاوت او محاکمه په بیلابیلو ماخذونو کی چې ذکر شول، عمومی نه بلکې خصوصی دی. یعنی د پورتنیو کتابونو صرف هغو برخو پوری تړلی چې سلطان څخه بخث کوي.

[۲] - د عتیبي د ژوند په هکله دې دلیکوال هغې مقالې ته رجوع ویشي چې (العتبي) عنوان لاندې د اسلام انسایکلو پیدیا کی خپره شوی ده.

[۳] - ۴۲۲ هـ (۱۰۳۱ م) سنه چې رینولدز د خپل کتاب په ۴۷۴ مخ کی لیکلی ده صحت نه لري.

بيانيې يې ډيرى مجملې دي. د سند له درباب څخه ها خوا يې د سلطان د لشكر كشي په هكله ډيرى لنډى خبرې كړى دي، سلطان يې هند ته وارد كړى، كاپران يې مغلوب او هغه ته په بې شمير و غنايمو سره عودت وركوي [1].

د سلطان له خط السير څخه ډير لږ نوم اخلي او د هغې كلا له ځاى څخه چې سلطان هغه نيولې وه هيڅ نوم نه اخلي او مركزي آسيا ته هم د هغه لښكر ليږل لكه د هند د لشكر كيشو په شان په سطحى توگه بيا نوى ، او له هغو موضوعاتو څخه چې د نن ورځې يوه مورخ ته ضرور دي لكه د سلطان د ژوند پيل، د اداري طرز، د حرب اصول او د عسكرو وضعيت څخه تقريباً صرف نظر كوي. د اليمني كتاب د نيتو له مخې هم نيمگړى دى، او آن دا چې د سلطان محمود د حربى كارنامو ټوله يادونه هم نه كوي، خو له دي امله چې د سلطان د خپل عصر يو اځنى تاريخ دى نو ځكه يوښه ماخذ شميرل كيداى شي [2].

[1]- د بيلگې په توگه ( ناروان ) ته سوق الجيشى چې ايليات او داوسن ژباړلى .(۳۲ مخ ۲ ټوكه).

[2]- د كتاب اليمني څو ژباړى شته چې تر ټولو غوره يې د ابوالشريف ناصر الجرباذقانى ژباړه ده چې د ۲۰۳ هـ ( ۱۲۰۲ م ) شاو خوا بشپړه شوى ده او په ۱۲۷۲ هـ ( ۱۸۵۵ م ) كى په ايران كې چاپ شوى ده . دغه ژباړه آزاده او له تصرف سره ده او د متن څنى برخى بالكل حذف شوى دي. داليمينى ترجمه چې آليمني تاريخ نوميږى د عيسوى پيړى په پيل كې د كرامت على له خوا تر سره شوى ده چې يوه سنخه يې په برتش موزيم ( ۱۸۸۸ ) كى شته. د ( جرباذقانى ) هغه ژباړه چې ( رينولدز ) په انگليسى تر سره كړى ده . له بده مرغه چې غلطه ده .
هغه ډيره ارزښتمنه ليكنه چې په كتاب اليمني ليكل شوى هغه د ( فتح الوهبي ) څخه عبارت ده چې د ۱۱۵۰ هـ ( ۱۷۲۷ م ) شاو خوا د احمد بن على←

د اهمیت له مخې د سلطان معاصر دویم ماخذ د ابو سعید عبدالحی بن الضحاک بن محمود (الگردیزی) زین الاخبار) دی چې د ایران تاریخ یې له ډیر و لرغونو وختونو تر پنځمنی هجری پیړی[1] پورې بحث لاندی نیولی دی او د سلطان محمود د زوی د وخت حکمران سلطان زین الملله ابو منصور عبدالرشید (۴۴۱ - ۴۴۴ هـ) (۱۰۴۹ - ۱۰۵۲ م) په نوم یې نومولی دی. مولف فقط د سلطان محمود د وخت هغه ډیری مهمې پیښنې لنډې بیان کړی دي او دهغی په بیانو لوکی یې هیڅ ډول قضاوت، محاکمه او د لهجی او مفکورې بدلون نه دی راوستی. ده د سلطان محمود ځنی لشکر کشی بالکل حذف کړی او ځنی یې ډیرې سرسري ښودلی دي چې د لوستونکی دلازیاتی پلټنی احساس نورهم پاروي. دغه اثر (زین الاخبار) سره له دې چې د پیښنو ډیر وچ یکنواخت او سرسری بیانو نکی اثر دی خو بیاهم د سلطان د عصر یواځنی تاریخ دی چې د محمود د سلطنت دتول حکومت دوره تشریح کوي او د کتاب الیمني بر خلاف، د پیښنو نیټیې هم ثبت ـ

← بن عمر الطرابلسي المینی له خوا شوی ده. دغه لیکنه هم د ایلیت او د اوسن د دوهم ټوک ۱۴ – ۱۸ مخونو او بارتولد ۱۹ - ۲۰ مخونو سره مقایسه کړئ او د برون دویم ټوک ۴۷۱ مخ ورسره وګورئ.

[1] - خو دغه قلمی اثر د سلطان مسعود د زوی سلطان مودود په زمانه کې (۴۳۲ – ۴۰۱ هـ)، (۱۰۴۱ – ۱۰۴۹ م) کې نیمگړی پاتی شوی دی.

کړی دي[1] د سلطان محمود د مړینی کلونو کې، ابوریحان احمد البیروني د هند[2] په هکله خپل مشهور کتاب لیکلی او هغه کې یې په پنځمه پیړۍ کې د هندوانو د رسم –رواج ، عاداتو ، مذهب، فلسفي، ادبیاتو ، جغرافیې او فلکیاتو په هکله بحث کړی دی. سره له دې چې دغه اثر تاریخي کتاب نه دی خو بیاهم د هند د شاهانو او ( ویهند ) دسلسلی او د سومنات د بت د پیدایښت په هکله ډیر ښه معلومات لري.

د سلطان د وخت یو بل ډیر غوره اثر تاریخ مسعودي دی چې ابوالفضل محمد بن حسین البیهقی تصنیف کړی دی . سره له دې

---

[1]- نن ورځ د دغه اثر صرف دوه نسخې موجودې دي چې یوه یې د ( کنگز کالج ) کتابتون کی په کمبریج کی ده چې د قلمی نسخو په ۲۱۳ گڼه کی ده او بله یې د آکسفورد په ( بودلیان ) کتابتون کی د اوسلی ۲۴۰ نمري لرونکی نسخه ده . دهغو متن اکثره ځایونو کی پیچلی او مغشوش دی . له دی کبله چې د بودلیان نسخه د کنگز کالج کاپي ده نو د مقابله کولو له لاری هم د استونزه نه هواریږی . د هغو د محتویاتو د تفصیل لپاره د ( بودلیان د کتابتون کلکسیون ( ۱۰ – ۱۲ پوري ) د فارسي قلمي نسخو کتلاگ و گورئ . د کنگز کالج د نسخې یوه برخه مې ۸۱ پاڼی ( دویم مخ ) څخه تر ۱۴۱ پاڼې ( لومړی مخ ) پوري چې له طاهریانو څخه د سلطان مسعود د زوی سلطان مودود پورې د خراسان تاریخ بیانوي **Broun Memorial Fonnd** یا ( براون یادگاري الماني ) منتظیمنونه تدوین کړی ده چې اوس د ( خاطرات براون ) لومړی جلد جوړ وی، د دي لپاره هم د بارتولد د اثر ۲۱ مخ وگورئ.

[2]- د دغه کتاب نوم ( تحقیق ماللهند ) دی نه ( تاریخ هند ) چې ابروکلمن ) د خپل کتاب د لومړی ټوک په ۴۷۴ مخ کې او ( هوارت ) ۲۰۲ مخ کی او انسا کلو پید یای اسلام په لومړی ټوک ۷۲۲ مخ کی او ایلیات و د اوسن د خپل کتاب لومړی مخ کی هغه ښودلی دي.

اصلاً د سلطان مسعود دوره يې شرح کړي ، خو بياهم ځو ځو ځايه يې د سلطان محمود او دهغه د ليکونو په هکله هم خبرې کړي دي او د غزنې د دولت د بيلابيلو چارو د ځانګو په هکله ښه معلومات لري. بيهقي د هغو کسانو رقابت . د مامورينو او اشخاصو سازشونه او در باري ژوند ډير ښه شودلی چې غوښتل يې د سلطان په نزد د نفوذ خاوندان شي . د تاريخ مسعودی ضميمه ( نښلونه ) د البيرونی له خوا تصنيف شوی د خوارزم د ورک شوي تاريخ يوه برخه ده چې د خوارزم د فتح په هکله د ډيرو په زړه پورې بياناتو څخه بر علاوه د مرکزی آسيا له حکمرانانو سره د سلطان محمود د مناسباتو په هکله د ځينو ټکيو لرونکی دی [1] بالاخره د عنصري او فرخي ديوانونه دي چې د سلطان محمود په مدح کی د هغوی قصيدی د ډيرو تاريخی پيښو لرونکی دي او دسلطان د معاصرو مورخينو د ويناوو د تائيد لپاره ګټورې دي . دغه شاعران عموماً د سلطان په سفر کی هغه سره يو ځای وو [2] او د هغو شعرونو دسلطان د خطا السير په ټاکلو کی ښه مرسته کوله .

## ۲- پخوانې او غير معاصر ليکوالان

دسلطان معاصر آثار چې د هغه د حکومت وخت شرح کوي . همدا دي . مګر د غيرو معاصرو له ډلې څخه هغه ډير پخوانی يې ( سياست نامه) ده چې په ۴۸۴ هـ ( ۱۰۹۱ ـ ۱۰۹۲ م ) کی د سلطان ملک شاه

---

[1]- د بارتولد د اثر ۲۲ ـ ۲۴ مخونه دې وکتل شي .

[2]- وګورئ، فرخی ۸ پاڼه دويم مخ، ۴۸ پاڼه لومړی مخ .

سلجوقی [۱] وزیر ابو علی حسن بن علی مشهور په نظام الملک لیکلی ده . سیاست نامې د سلطان محمود او دهغه د نیکونو په هکله ډېر زیات حکایتونه رانقل کړی دي خو د تاریخ له پلوه د ارزښت او اعتبار وړ نه دي، او هغه هیلې چې د نظام الملک له او چت نوم څخه کیږي. نه پوره کوي . خو د غزنې د دولت د ادارې د طرز د معلوماتو له مخې پوره ده [۲] مجمل التواریخ چې لیکوال یې څرګندنه دی، په ۵۳۰ ه ( ۱۱۳۵ م ) کې د سلطان ملک شاه د زوې سلطان سنجر سلجوقی پر مهال لیکل شوی دی او د سلطان محمود په هکله ډېری لنډې خبرې لري و خو ځینو څېرکیو کې چې د سامانیانو او آل بویه په اړه دي د سلطان په هکله هم ښې ګټوری نغوتې لري. د کشمیر د پاچایانو منظوم تاریخ ( راجه تر بخنې ) چې ( کلهنه ) په ۵۴۵ هـ ( ۱۱۵۰ م ) کلونو کې لیکلی ، یواځنی سانسکرتی اثر دی چې د هندو شاهیه د سلسلې ( راجه تریلو چنپال ) او سلطان یعنی ( حمیره ) تر منځ یې د جګړو د بیانولو په ترڅ کې د سلطان محمود په هکله نغوتې لري .

د ابو الحسن نظام الدین احمد بن عمر بن علی النظامی العروضي السمرقندی اثر ( چهار مقاله ) چې په ۵۵۲ هـ ( ۱۱۵۷ م ) کی لیکل شوی، موجوده ډېر لرغونی اثر دی چې له فردوسی او البیرونې سره د سلطان محمود سلوک او اړیکي د کیسې په بڼه بیانوي .

( المنتظم فی تواریخ الملوک و الامم ) چې یو عمومی تاریخ دی او د ابو الفرج عبدالرحمن بن علی ابن الجوزی البکری له خوا د شپږ

[۱]- د دغې کلمې داصلي بڼې د پوهیدو لپاره وګورئ د بار تولد د لومړی یادونې ۲۵۷ مخ .

[۲]- د بارتولد د اثر ۲۵ مخ سره مقایسه.

مې هجري پيړۍ په وروستيو کې ليکل شوی دی . عباسي خليفه ته د سلطان محمود له خوا د فتح نامو ( بري ليکونو ) او ګڼ شمير لرغونو آثارو ( غالباً ( ذيل ) صابی ) د مقتبساتو لرونکی دی .

( اخبار الدول المنقطعه ) تاريخی اثر دی چې جمال الدين ابوالحسن علی بن المنصور ظافر بن الحسين بن غازی الحلبی الازدي د اوومې هجري پيړي په پيل کی ليکلی دی او دسلاطينو د سلسلو سره برابر راغلی، خو د غزنويانو تاريخ يې کوم ځانګړی څپرکی کی نه بلکې د سامانيانو د پيښو لاندی يې ليکلی دی . دکتاب مولف خليفه ته دسلطان يو ارزښتناک بری ليک چې دسومنات ماتول دي اقتباس کړی دی .

د ۶۲۵ هـ ( ۱۲۲۸ م ) نيتی شاو خوا دري مهم آثار تاليف شوي دي . يويې ( جوامع الحکايات ) دويم يې ( لباب الالباب ) چې د نورالدين محمد عرفی دی او دريم يې په ( فخر مدير ) باندی مشهور محمد بن منصور بن سعيد بن ابوالفرج القريشی ( اداب الملوک د کفاية الملوک ) اثر دی. دغه دريم مولف د غزنويانو کورنۍ سره خپلوی درلوده. جوامع الحکايات د کيسو مجموعه ده چې ځنی يې له سلطان محمود سره اړه لري، د بيهقی له آثارو اقتباس شوی دی . دغه مجموعه کافی معلومات نه لری، ځکه چې په هغه کې د مولف عمده هدف اخلاقيات دي . نه تاريخ او احياناً يې يو نيمه بدي هم ښودلې ده . (لباب الالباب ) د شعرونو غور چاڼ دی چې لومړی يې د شاعر حال بيان کړی او بيايې د هغه شعر غوره کړی دی چې له دغو شاعرانو څخه زيات شمير يې د سلطان محمود د دربار شاعران دي .

(آداب الملوک و کفاية الملوک ) د جګړی او زړورتيا په هکله يوه داسی رساله ده چې په هغی کې سلطان محمود پورې اړوند بيلابيل

حکایات او تاریخي پیښي راغلې دي . د هغی له عبارت او سبک څخه داسي ښکاري چې د بیهقی له ( مجلات ) یا دهغه وخت له کوم بل اثر څخه ماخوذ شوی ده .

( الکامل فی التاریخ ) په ابن الاثیر باندی مشهور د ابوالحسن علی بن عبدالکریم محمد بن محمد بن عبدالکریم بن عبدالوهاب ایشبانی یو مبسوط تاریخ دی چې تر ۶۲۸ هـ ( ۱۲۳۰ م ) پوری یې پیښی بیان کړی دي . ابن خلکان[1] هغه د خپل وخت یو ډیر ښه کتاب بللی دی . ابن الاثیر د خپلو ماخذونو په هکله څه نه وایې، خو له قراینو ښکاري چې له ذیل الصابی او د عتبی له الیمنیی کتاب او مشارب التجارب ( د ابن فندق کتاب ) څخه ماخوذ دی . دسلطان محمود په هکله د ابن الاثیر بیانات ( پرته له یو څو غلطیو او یو څو مغشوشو عباراتو ) بالعموم مستند اود اغتبار وړ دی .

( مراة الزمان فی تواریخ الاعیان ) یو عمومی تاریخ دی چې د اوومې پیړۍ په نیمایې کې په سبط ابن الجوزی ( یعنی د ابن لجوازي د لور ځوی ) باندې د مشهور ابوالمظفر یوسف بن قزغلی اثر دی . د دغه کتاب مولف هغه زیات شمیر بری لیکونه ( فتح نامې ) چې سلطان عباسی خلیفه ته لیکلې دي له ( ذیل ) الصابی څخه اقتباس کړي دي .

طبقات ناصری د ابو عمر منهاج الدین عثمان بن سراج الدین جرجانی په قلم د ۶۵۸ هـ ( ۱۲۶۰ م ) شاو خوا کې لیکل شوی دي . د مولف بیانات د سلطان محمود د حکومت په هکله ډیر مختصر دي او د ډیر اعتبار وړ نه دي . خو په نورو برخو کې د غزنویانو د تاریخ او له

[1] - ابن خلکان، دویم ټوک ۲۸۹ مخ .

غوريانو. سلجوقيانو. او ترکستان له خانانو سره د سلطان محمود د اړیکو په هکله يې له لرغونو ماخذونو ډیر ګټور اقتباسونه کړي دي.

په ۱۷۱۰ هـ (۱۳۱۰ - ۱۳۱۱ م) کی رشید الدین فضل الله بن عمادالدوله ابو الخیر بن موفق الدوله علی. د (جامع التاريخ) په نوم خپل تاریخ بشپړ کړی دي. دغه کتاب سره له دې چې ښه پنډ کتاب دی، خو د سلطان محمود د وررى په اړه چندان ارزښتمن ماخذ نه دی. دهغه د عمومي تاريخ اختصار او لنډيزونه دسنو (نيټو) له مخې دي. لنډه دا چې ابن الاثير او دهغه خبرې د سلطان محمود په هکله ټولې لفظ په لفظ د جرباذقانی له خوا د اليميني عتبی د ژباړل شوي کتاب څخه راغلی دي. دغه اثر په شرقی ادبياتوکې د ادبي غلايو ښه روښانه مثال او بيلګه ده [1].

د ۷۳۰ هـ (۱۳۲۹ - ۱۳۳۰ م) کلونو شاو خوا کی حمدالله بن ابوبکر بن احمد بن نصر المستوفی په تاريخ کې دوه کتابونه وليکل يو يې (تاريخ ګزيده) او منظومه ظفرنامه وه چې غوښتل يې دغه وروستی منظوم اثر د فردوسی په شاهنامې پسی راولي، (تاريخ ګزيده) د سلطان محمود د تاريخ په اړه چندانی ارزښتناک مواد په لاس نه راکوي سره له دې چې دخپلو ماخذونو په لړکې د (مقامات ابونصر مشکانی) او ـ

---

[1] - وګورئ الف ضميمه (نښلونه).

(مجلدات بيهقی)[۱] او د ابن فندق (مشارب التجارب) نوموړي اخلې خود سلطان محمود د واکمنې د هغو لسو وروستيو کلونو شرح چې ورکړې چندان د پام وړ نه ده او له هغې څخه مخکی د دغو پيښو ذکر نورو آثارو کی راغلی دی. نو ډير د استفادې وړنه دی (ظفرنامه) د مسلمانانو واکمنو له تاريخ څخه نيولی بيا د مولف تر دورې پورې بحثونه لري خود تاريخ په علم کی څه نه اضافه کوي.

د عمومی تاريخ سلسله يو هم د محمد بن علی بن علی بن الشيخ محمد، بن محمد حسين بن ابوبکر (مجمع الانساب)[۲] دی چې په ۷۳۳ هـ (۱۳۳۲ - ۱۳۳۳ م) کې د هلاکو خان د لمسي سلطان ابوسعيد د حکومت پر مهال ليکل شوی دی. دايو اځنی معلوم تاريخ دی چې د سلطان محمود د نيکونو په هکله يې په اړوند ډول مسايل راوړی دي اود (پند نامه) او (نصايح سبکتگين به پسرش محمود) ټول متن پکی راغلی دی. دغه کتاب د سلطان محمود د واکمنې دوره ترېوې اندازې پورې په تفصيل سره روښانه کړی ده، خو يو شمير ځايونه يې نيمګړی او مبهم دي، نو ډيره استفاده ورڅخه نشی کيدای.

---

[۱]- ايليات او د اوسن، دريم ټوک ۲۰ مخ ليکی چې تاريخ ګزي، د ختيز(شرق) يو دير ښه عمومی تاريخ دی چې اعتبار وربانډې کيدای شي او زيات شمير مواد لری چې نورو ځايونو کی نه موندل کيږی. خو په خاص ډول د سلطان محمود د دورې په اړه له ډير وستايلو نه دی.

[۲]- د غزنويانو شرح د دغه کتاب له ټولو برخو څخه حذف شوی ده اود هغه قلمی نسخې دا ډول توضيحات نه لري، پرته له موجودې نسخی چې د پاريس ملی کتابتون کی (د فارسی قلمی کتابونو ۱۲۷۸ فهرست کي ده.

دغزنويانو دحال په شرح کې د هغه د عبارت له سبک څخه داسی ښکاري چې له بيهقی يا د هغه وخت له کوم بل ليکوال څخه اخيستل شوی ده.

د ۸۰۰ هـ ( ۱۳۹۷ - ۱۳۹۸ م ) کلونو شاو خوا په ابن خلدون باندې مشهور عبدالرحمن ابن محمد ابن خلدون د ( کتاب آلعبر ) په نوم يو عمومي تاريخ بشپړ کړ. ابن خلدون د سلطان محمود شرح د ابن الاثير پر بنسټ پيل کړی اود هغه تيت او پرکو يادونو ( ابن اثير ) په يوه پرله پسی بڼه جوړ کړی دی، خو کوم ارزښتناک بدلونونه او اضافات يې پکی نه دی راويستي.

( آثار الوزرا ) چې د اسلامي سلاطينو د مهمو وزيرانو د احوالاتو ژباړې دي د نهمې قمري پيړۍ په نيمايي کې د سيف الدين جامي بن نظام الفضل په قلم ليکل شوی دی. مولف په دې ترڅ کې چې د سلطان محمود د وزيرانو په هکله يې خبرې کړی، د ( مقامات ابونصر مشکان [1] د کميافته کتاب څخه هم اوږده اوږده اقتباسونه لری ( چې د سلطان محمود اړيکی د هغه له وزيرانو سره او د هغه مملکتې، اداري چارو په هکله گټور معلومات لری ).

( مجمل فصيحی ) داسی يوه رساله ده چې په فصيهی الخوافی باندی مشهور فصيح الدين احمد بن محمد د نهمې هجري پيړی شاوخوا تاليف کړی او د نيټو په ترتيب سره يې مهمی پيښی ښودلي

[1] - او په غالب گومان چې د غه اقتباسات به د بيهقی له کميا به آثارو څخه شوي وي ، څکه چې هغه عبارات چې د تاريخ مسعودی بيهقی له مخی پکی راغلی دي. تقريباً لفظ په لفظ نقل ورته ويلای شو چې له تاريخ مسعودی بيهقی څخه اخيستل شوی. وگورئ بيهقی ۱۷۱ مخ او آثار الوزرا ۱۰۲ پانه دويم مخ.

او لکه د آثار الوزرا په شان د ( مقامات ابو نصر مشکانی ) څخه د ځينو اقتباسونو لرونکی ده. خو له نورو اړخونو د اعتبار وړنه ده. دهغه نبتي غلطي دي، دهغې ستاينې چې ( ميجر راورټي ) دهغه په هکله کړې، رڼتيا نه لري[1].

## ۳- وروستي اثار

د وخت له مخې ډير پخواني وروستي آثار، د ( روضة الصفا ) عمومي تاريخ دی چې د ۹۰۰ هـ ( ۱۴۹۴ - ۱۴۹۵ م ) کلونو شاوخوا کې محمد بن خاوند شاه بن محمود چې په ميرخوند ملقب و. ليکلی دی . مولف د خپلو ماخذونو په لړکې د ( مجلدات بيهقی ) نوم راوړی دی، خو هغه معلومات، خصوصاً چې بايد له ( مجلدات ) څخه اخيستل شوی وي . پکی نه ښکاري ، او هم يې د ( کتاب اليمينی ) زياته برخه چې ( جرباذقانی ) ژباړلی دی پرته د مننې له څرگندونی را اخيستی دی او د هغه هيڅ ذکريې نه دی کړی[2] . او دسلطان محمود د حکومت د وروستيو کلونو په شرح کی يې ابن الاثير تحت الفظی ژباړلی دی . له ميرخوند څخه څوکاله وروسته د ده خوريې غياث الدين بن همام الدين چې په خوند مير مشهورو د تاريخ په هکله دوه کتابونه وليکل، يو يې ( خلاصة التواريخ ) او بل يې ( حبيب السير ) خو دا دواړه د ( روضة الصفا ) پربنسټ دي .

په ۳۹۹ هـ ( ۱۵۸۵ م ) کې ملا احمد تهتوی او آصف خان ( تاريخ الفي ) چې د نيټوپه ترتيب سره يوه تاريخي رساله ده اود زرو کلونو د

---

[1]- طبقات ناصری ۴۰ مخ نوټ او ۴۲ مخ نوټ او ۴ نوټ .
[2]- الف ننبلو نه وگورئ .

پيښو لړونکې ده . تاليف کړه. دغو مولفينو نيټې د هجرى پرځاى د حضرت محمد ( ص ) له مړينې وروسته را حساب کړي دي . چې دغه ابداع کومه ستونزه نه ده [۱] دغه اثر په اصل کې له ابن الاثير او روضته الصفا څخه برابر او تدوين شوى دى او ځينو ځايونو کى د همدغو کتابونو عين عبارات لفظ په لفظ په ډير لږ بدلون سره رانقل شوى دي [۲]

(طبقات اکبرى ) د هجري پيړۍ په لومړيو کې نظام الدين احمد بن مقيم الهروي ليکلى دى . هغه خبرى يې چې د سلطان محمود په هکله کړي دي ، د گرديزى ( زين الاخبار ) يو لنډيز دى، خو مولف دې ته ۀ بغوته نه ده کړى .

(گلشن ابراهيمى ) چې په ( تاريخ فرشته ) شهرت لري په ۱۰۱۵ هـ ( ۱۶۰۲ م ) کې محمد قاسم هندوشاه چې لقب يې فرشته و، ليکلى دى . دى د سلطان محمود د سفرونو په هکله بشپړې وينا وې لري . فرشته د گرديزى زين الاخبار خپلو اخځونو کې شميرى، د بيهقى مجلدات او د يمينى تاريخ او ( مقامات ) ته هم نغوته کوى. خو دهغه څيړنه او د ماخذ ټاكل ستونز من كار دى . ځکه پرته له يو اقتباس څخه چې د بيهقى له تاريخ ايمينى څخه يې کړى دى ، نور مواد نه دي څرگند چې ذ ده اخځ گرځيدلي وي . خو بايد وويل شي چې زين الاخبار څخه يې ډيره استفاده کړى ده. له هغه د سلطان محمود په هکله را

[۱] - (ايليات و داوسن ) د ( تاريخ الفي ) زيار ډير ستايلى دى او ويلى يې دى چې نوموړي ټولو عربى او پارسى تاريخونو ته مراجعه کړى ده، خو واضحاً يې زين الاخبار گرديزى نه دى ليدلى .

[۲] - وگورى ( الف ) نښلوته د کتاب په پاى کې .

اخیستی شوی. د سلطان مسعود څېرکی یې هم عیناً د گردیزی کتاب ځخه په ډېر لږ بدلون سره را اخیستی دی.

له متاخرو ماخذو ځخه یو هم چې باید لږ څه برسیرنې ورباندې خبری وکړو او ډېر مشهور دی، مراة مسعودی نومېږی د ( سالار مسعود غازی ) د ژوند په هکله دی ( چې نوموړی به د نقل له مخې د سلطان محمود وراره وي ) او د ۱۰۲۰ هـ ( ۱۲۱۱ م ) کال شاوخوا کې د عبدالحمن چشتی په قلم لیکل شوی دی. دا یو تاریخی اثر دی چې له تصوفی حکایت سره ډېر اغږل شوی او مولف وایې چې دغه اثر یې د ملامحمد غزنوي د تاریخ پربنسټ کښلی او ملا محمد غزنوی د سلطان محمود دربار سره اړیکې لرلې. خو پخواهیچا د سلطان په هکله د دی ډول تاریخ یادونه نه ده کړی.

یو بل کتاب چې په دي برخه کی ډېر مشهور شوی دی[1] د ( سبحان رامی ) خلاصة التاریخ نومېږی چې په ۱۰۸۲ هـ ( ۱۲۷۵ م ) کې بشپړ شوی دی ، مولف ( تاریخ مولنا عنصری ) خپلو مصادرو کی شمیري خو له قراینو ځخه شکاري چې سهواً یې د عتبی پرځای عنصری لیکلی دی، داځکه چې لومړی خو عنصري دا ډول کوم کتاب نه لری، بل دا چې ( سبحان رامی ) د محمود د تاریخ د لیکلو لپاره د داسی کم یا به کتابه ځخه څه نوی موادونه دي اخیستی، هغه وینا یې چې د سلطان په هکله کړی ده، په حقیقت کې د روضته الصفا او تاریخ فرشته ښایسته شوی او اوبدل شوی لینډیز دی، یو شمیر نورکتابونه هم شته چې د سلطان په هکله بخثونه لری او د اهمیت لرونکی وو. خو

---

[1]- وگورئ ایلیات و داوسن، ۸ ټوک، ۸ مخ.

له هغو څخه کومه ډېره ارزښتناکه تاريخي مسئله نه ترلاسه کيږي . د هغو د يو شميرو فهرست ( نيوليک ) د کلونو له مخې په دې توګه دی .

۱. د فخرالدين محمد محمد بن عمر الرازی جامع العلوم چې د اوومې هجري پيړۍ په لومړيو کی ليکل شوی دی .

۲. د ګريګوری ابوالفرج، بن هارون، الياس برهبريوس مختصرالدول چې د۶۵۸ هـ ( ۱۲۶۰م ) شاوخوا تاليف شوی .

۳. د ابومحمد عبدالله بن اسعد بن علی اليافعی مراة الجنان چې د اتمې هجري پيړۍ نيمائی کې تاليف شوی دی .

۴. د اسمعيل بن عماد الدين ابوالفدا ، ابن کثير البدايه و النهايه چې د هجري اتمې پيړۍ په نيمائی کی تاليف شوی دی .

۵. د محمد بن شاکر ، بن احمد الکتبی الشافی ( عيون التواريخ ) چې د اتمې هجري پيړۍ نيمائی کې تاليف شوی دی .

۶. د محمد الحسن ( تاريخ جعفری ) چې د ۸۲۰ هـ ( ۱۴۱۷ م ) شاو خوا کې تاليف شوی دی .

۷. د ابراهم بن محمد بن دقماق ( سيرة الخلفا و السلاطين ) چې د ۸۴۰ هـ ( ۱۴۳۲ - ۱۴۳۷ م ) شاو خوا کلونو کی تاليف شوی دی .

۸. د محمد بهامد خانې تاليف ( تاريخ محمودي ) ۸۴۲ هـ ( ۱۴۳۸ - ۱۴۳۹ م ) .

۹. تاريخ خيرات چې مولف يې څرګندنه دی او ۸۵۰ هـ ( ۱۴۴۶ م ) کال کی بشپړ شوی دی .

۱۰. د معين الزمجي الاسفزاری ( روضته الجنات فی اوصاف الهرات ) چې په ۸۹۷ هـ ( ۱۴۹۲ م ) کی تاليف شوی دی .

۱۱. د فضل الله ، بن زين العابدين ( تاريخ صدجهان ) چې په ۹۰۷ هـ ( ۱۵۰۱ - ۱۵۰۲ م ) کی تاليف شوی دی .

۱۲. د خوند میر (دستور الوزرا) چې په ۹۲۵ هـ (۱۵۱۹ م) کې لیکل شوی دی.

۱۳. د مسعودی بن عثمان کوهستانی (تاریخ ابوالخیر خانی) چې ۹۶۰ هـ (۱۵۵۳ م) کې تالیف شوی دی.

۱۴. د احمد بن یوسف القرمانی (اخبار الدول و آثار الاول) چې د ۱۰۰۷ هـ (۱۵۹۸ – ۱۵۹۹ م) شاو خوا کې تالیف شوی دی.

۱۵. د حسن بن محمد خافی (منتخب التواریخ) چې په ۱۰۱۹ هـ (۱۶۱۰ م) کې بشپړ شوی دی.

۱۶. د حاجی خلیفه (تقویم التواریخ) په ۱۰۷۵ هـ (۱۶۶۴ – ۱۶۶۵ م) تالیف شوی دي.

۱۷. د علی شیر قانع (تحفة الکرام) په ۱۱۸۳ هـ (۱۷۶۹ – ۱۷۷۰ م) تالیف شوی دی.

هغه مهم اخځونه چې د سلطان محمود له دورې څخه بحث کوي تقریباً همدغه کتابونه دي. له بده مرغه د هندوانو کوم تالیف شوی کتاب په لاس کې نشته چې دهغه له مخې تاریخ مطالعه شي، هغه څه چې دوی تاریخ بولي پرته د افسانو له ټولګې بل څه نه دي. د (سولنګهي) د راجه ګانو واقعه نګاران چې په (کاتهاوار) باندی د سلطان محمود د یرغل پر وخت حکمرانان وو، د (جینی) ځنی روحانیان وو، خو د دغه فاتح سلطان په کارناموې نقاب اچولی دي. په داسی حال کې چې سلطان د دوی مقتدرې سلسلی رنګې اود دوی قدیمی ګڼ شمیر ارباب النواع یې خاورو سره برابر کړی دي. نو زمونږ د غه کتاب په بشپړ ډول په اسلامی ماخذونو ولاړ دی.

## ۴- عتيقه اثار ( لرغوني اثار )

هغه شواهد چې د سلطان د وخت له عتيقه آثارو څخه په لاس راغلي دي ډېر لږ او چندان ارزښت نه لري. د دې لامل دا د يچې افغانستان چې د سلطان محمود د امپراطورۍ زانگو وه تر اوسه د عتيقه آثارو څېړونکو څېړنو ته نه دي پرانيستي شوي [۱] پرته له دې د سلطان له مړينې تقريباً يوه پيړۍ وروسته د سلطان علاوالدين غوري پرمهال غزنی وسوځيد او دغزنی ډېری برخې ونړيدې ، له دې پرته د سلطان محمود دقبر او زيارت دروازې د غلط فهمي له مخې د ( لارد آلن بورد ) په امر هند ته وليږدول شوې اوس په اگره کې دي . چې د هغو ليکنې د بنگال دآسيائی ټولنی د مجلې د ۷۲ او ۷۷ گڼی دولسم ټوک کې اود ( سيريا ) ( شام ) په مجله کې شپږم ټوک ۲۱ ، ۹۰ گڼی کې خپرې شوې دي . دغه ليکنې په کوفي خط دي او د اقليمی شرايطو له امله دومره وراني شوی چې چندان لوستل کيږي نه ، خو داسي ښکاري چې پرته د سلطان محمود له نوم او القابو نور څه نه لري . د سلطان د قبر د مرمرو د ډبرې لوحه تر اوسه بی نقص او عيب پاتې ده چې په هغې باندی د سلطان محمود نوم او القاب او د مړينې نيټه ليکل شوی ده .

د سلطان محمود دوری مسکوکات د هغه د دوران له ودانيو څخه تر زياته حده روغې پاتې دي . دغه مسکوکات د تاريخ ليکونکو د

---

[۱]- ډاکتر محمد ناظم په ۱۹۳۰ کی ويلی چې افغانستان کې لا د عتيقه لرغونو تاريخی آثاررو څېړنی نه دي شوی . دا خبره هغه وخت سمه وه ، خو دا د ياوس له ۱۹۹۰ کال راهيسيټول لرغوني تاريخی آثار لوټ شول نو خبره له هغی هم بدتره شوی ده . ژباړونکی

وینا وو تائید کوونکی دي چې د سلطان د لقبونو کلونه روښانه کوي او دغه موضوع (اي . تهاماس) د (مسکوکات سلاطین غزنی [۱] عنوان لاندي خپله یوه مقاله کې مفصل بحث لاندی نیولی او غوریې وربانديې کړی دی.

له بده مرغه د عتیقه آثارو د پوهانو د هلوځلو سره سره بیاهم د سلطان محمود د وخت د راجه گانو نومونه نه دي روښانه شوي . هغه څه چې تر اوسه څرگند شوی دي ډیر لږ دي چې (سر، وي. آ، سمیت) هغه خپل کتاب کی چې د (لرغونی هند تاریخ) نومیږی راالنډ کړي دي . د سلطان محمود د وخت هغه ډبر لیکونه چې تر اوسه پورې کشف شوي دي په (**Journal of the Asiatic society of Bengal**) (د بنگال د آسیایې ټولنی مجله) کی . **The Epigrophia India** (د هند ډبر لیکونه) او په **Indian Antiquary** (د هند لرغون پیژندنه) کې راپیژندل شوی دي ، خو د هغو تاریخی ارزښت ډیر لږدی.

---

[۱]-د آسیایې د شاهي انجمن مجله . لندن . ۱۷ گنه ۱۳۸ – ۱۹۰ مخونه .

# دویم څپرکی

## په څلورمه هجری پیړی کې د اسلام نړی

د اسلام دین یوه آسماني نیکمرغي وه چې عربستان کی وځلید او د دغه سپڅلی دین یو موټی کوونکی ځواک،د صحرا، بیلابیل قومونه دیو نړیوال او کشور کشا ملت په توګه وګرځول ، اود حضرت محمد (ص) له رحلت څخه وروسته تر یوې پیړی پورې د اسلام د سوبو او واکمنی سیلاو ، ختیځ او لویدیځ و مینځل او رانه یې کړل.

د سیحون او جیحون ترغاړو او د اطلس تر سمندر پوري یې د الله اکبر د غږ انګازی په یو شان خپرې شوی.

خو هغه نفاق اچوونکی تمایلات چې د ختیځ د څو سلسلو دسقوط سبب شول آن د اسلامي دولت په لومړیو کی لاڅرګندوو ، د بیلګې په توګه په ۴۰ هـ ( ۶۲۰ - ۶۲۱ م ) کی په وسله وال اقدام سره د حضرت علی (رض) له شهادت څخه وروسته د خلافت چارې د حضرت معاویه لاس ته ورغلې . په داسی حال کې چې اهل تشیع خلافت د لور له خوا د حضرت محمد (ص) د لمسیانو حق باله (یعنی د حضرت علی د میرمن فاطمې زامنو حق یې باله) دا د نفاق او شقاق هغه پیل و چې تر نن ورځې پورې یې د اسلام نړی یو له بله جلا کړی ده او د زرګونو بې ګناه خلکو د وینې د توییدو و مسئول ګڼل کیږی.

ایرانیانو داهل تشیع پلوی کاو . د ایران لرغونی سلطنت دنهاوند په جگړه کی له منځه ولاړ دغه فتح او بری هم سیاسی او هم مذهبی بری و او افغانستان او ایران هریود خپلو فاتحینو مذهب و مانه . خو امویان له عجمو سره د ښه چلند پر ځای د هغوی احساسات تپی کړل د دی پرځای چې هغوی سره د روغې جوړې له لاری پرمخ ولاړ شی او دهغوی د ډاډینی لامل شي . نوري هم هغوی ته په سپکه سترگه وکتل اودهیواد په اداره کی یې ډیر لږ برخه ورکړه ، نو حکومت د عربو لاس کی پر یوت ، دعربو قومی غرور او ملی او نژادي انگیزی او هیجان د ایران ضعیف شوی ملت په توله مانا سقوط سره مخامخ کړ . دغه ملت تر ډیره وخته د دغی پیښی اوددغه گوزار له امله بی هوښه و ، خوکله چې یې لږ څه دمه واخیسته ، ځان ته یې تکان ورکړ او د پردیو د زغ د غورځولو هڅی یې پیل کړی اود خپل ځواک د زیاتولو لپاره یې د علی د اولادې ( ښايې دا کاريې د نسب او خانداني رابطی له مخی کړی وي ) لوری او پلوي خپل کړ .

عباسیانو بیا د حضرت محمد (ص) د آل بیت درناوی کاو ، دوی د الله د رسول د تره حضرت عباس اولاده وه ، نو د آن حضرت د لمسیانود درناوي په خاطریې د اهل تشیع طرفداري وکړه او د امویانو پرضد واقع شول . په دی توگه د امویانو په ضد دري قوتونه یو ځای شول .

چې په نتیجه کی دابراهیم عباس په تدبیر د ( زاب ) جگړی د نهاوند د جگړی ماتې جبران کړه او بني هاشم بریالی شول خو واک د عباسیانو لاس ته ولوید چې دغه بري کی خراسانیانوپوره قربانې ورکړی وه .

دا وخت د حضرت علی کورنی د امویانو په پرتله هم ځواکمن دښمن سره مخامخ شول .

په هرحال : دغه سوبه د عجمو په گټه شوه . د عربو دولت په داسې يو اسلامي صحيح حکومت بدل شو چې رعيت په هغه کې مساوي حقوق درلودل .

ورو ورو عباسي امپراطوري هم په خپل وار د گډوډۍ اوتفرقې لار خپله کړه . داسلام د صدر د لومړيو وختونو اصلي مرام چې ټولو په يوه زړه او يوه غږ باندې د اسلام په لاره کې هلې ځلې او اعلای کلمة الله و ، د جاه طلبي او شخصي اقتدار غوښتنې په ټيټو احساساتو بدل شو ، دهغوی پخوانی پرتم او ځواک يې له گړندی ماتې سره مخامخ کړ . اسپانيا ، شمالي افريقا ، مصر او شام له عباسي دولت څخه جلا شول، په ايران او افغانستان کې هره خوا خپلواک حکومتونه راښکاره شول چې د عباسي خلافت د ضعف لاملونه يې رامنځ ته کړل ترڅو چې د حکومت واگې ټول ترک نژاده ساتونکو عسکروته ور ورسيدې او له ( امير المومنين ) څخه صرف په نامه اطاعت کيده . په دې توگه خليفه له ټولوسياسي چارو محروم او د اعرابو او ايرانيانو کرکه ورڅخه پيدا شوه،او ځان يې يواځې او بې مرستندويه احساس کړ . په واقعيت کې د عباسي خلافت تجزيه لا دمخه پيل شوي وه . په ۱۳۸ هـ ( ۸۵۵ – ۸۵۲ م ) کې له اموي کورنۍ څخه يوتن ځان د اسپانيې خپلواک حکمران نو ماند کړی و . په ۱۷۲ هـ ( ۷۸۸ – ۷۸۹ م ) کې د حضرت علي له اولادې څخه ادريس په مراکش کې ديوه سلطنت بنسټ ايښې و چې تر ۳۲۴ هـ (۹۷۴ - ۹۷۹ م ) يې دوام وموند .

همدارنگه همدا مهال د هارون الرشيد د عسکرو يوتن مشر ابراهيم بن اغلب په تونس کې واک پيدا کړ . د مصر نايب الحکومه احمد بن طولون په ۲۵۴ هـ ( ۸۲۸ م ) کې د عباسيانو زغ له خپلو اوږو و غورځاو، مصر يې له خلافت څخه جلا کړ . وروسته بيا

طولونی کورنۍ او سلسله په ۳۳۳ هـ (۹۳۴ - ۹۳۵ م) کې د اخشیدیانو له خوا له واکه وغورځول شوه چې اخشیدیان په ۳۵۸ هـ (۹۶۹م) کې د فاطمیانو له خوا له واکه وغورځول شول چې دوی ځانونه د خدای د رسول (ص) د لور بی بی فاطمې اولاده ګڼله . دوی له عباسیانو سره د خلافت پرسر تر ۵۶۷هـ (۱۱۷۱ - ۱۱۷۲ م) پورې په جګړه وو ، خو په همدغه کال د سلطان صلاح الدین له خوا مات شول .

د یمن ولایت د هجري دریيمې پېړۍ په پیل کې د محمد بن زیاد د نایب الحکومګۍ پر مهال آزاد شو او د سلطان صلاح الدین اولاده تر پنځمې پېړۍ پورې هلته واک وچلاو . په شام او بین النهرین کې د څلورمې پېړۍ په پیل کې حمداني کورنۍ واکمن شول ، خو د دوی دولت ډېر دوام ونه کړ بین النهرین په ۳۶۸ هـ (۹۷۸ - ۹۷۹ م) عبدالدوله او شام په ۳۶۹ هـ (۹۷۹ - ۹۸۰ م) کې فاطمیانو ونیول او د دغو سیمو لرې او سرحدي ولایتونه د بکر د غاړو مروانیانو او د موصل عقیلیانو ونیول . ایران هم په بیلابیلو ملوک الطویفی خپلواکو ادارو وویشل شو . لومړی طاهر ذوالیمنین (چې مامون دهغه په زور او د هغه په عسکری قابلیت واکمنی ته رسیدلی و) یو حکومت جوړ کړ .

طاهر په ۲۰۵ هـ (۸۲۰ - ۸۲۱ م) کې د خراسان والي شو او د وه کاله وروسته ومړ . خو حکومت دهغه کورنۍ کی میراثیپاتی شو . د طاهریانو سلسله په ۲۵۹ هـ (۸۷۲- ۸۷۳ م) د بست اوسیستان د حکمران یعقوب صفاري په لاس له منځه ولاړه او ده د طاهري کورنۍ وروستي واکمن محمود ته ماتې ورکړه او خراسان یې خپلې واکمنۍ سره وتاړه . یعقوب صفاري ورو ورو دومره ځواکمن شو چې آن خلیفه

يې ويرې سره مخامخ کړ او غوښتل يې د بغداد ( د خلافت مرکز) خواته حرکت وکړي.. خو يو ناڅاپه په ۲۲۵ هـ ( ۸۷۹ په جون ) کې ومړاو دغه هوډ يې عملي نشو.

د يعقوب ځای ناستي او ورور ( عمرو ) له خليفه سره روغه وکړه ،خو بيا هم خليفه ورڅخه په ويره کې و نو هغه يې د اسمعيل ساماني په وړاندې پاڅاو ، په پای کې عمرو ماتې وخوړه او خراسان د سامانيانو واک لاندې راغی ، دا وخت صفاريان سيستان کې وو او تل يې له لاسه وتې واک پسې هلې ځلې کولې ، تر څو چې په ۳۰۰ هـ ( ۹۱۲ – ۹۱۳ م ) کې له منځه ولاړل . څو کاله وروسته دغه سلسله احمد بيرته را ژوندی کړه چې هغه د نصر ساماني له خوا دسيستان حاکم و . د احمد له مړينې وروسته د هغه زوی ( خلف ) د سيستان واليشو خو په ۳۹۳ هـ ( ۱۰۰۲ م ) کې يې ماتې وخوړه او سلطان محمود سره بندي شو . د خزر دسمندر جنوبي غاړو يعنې ديلم ، گيلان او طبرستان کې د حضرت علي اولادې له اوږدې مودې راهيسې خلکو کې مذهبي نفوذ درلود او د دريمې هجرې پيړۍ په نيمائي کې يې طبرستان کې واک وموند او تر ۳۱۲ هـ ( ۹۲۸ م ) پورې چې بيا نصر ساماني هغه ځای فتح کړ ، واکمن ول ، له دې څخه لږ وروسته مرداويج بن زياد ( چې ځان يې د ايران دگيلان له پخوانيو سلاطينو څخه گاڼه ) په طبرستان کې واک ترلاسه کړ . بيا يې ورور ( وشمگير ) او ور پسې يې دوه زامن ( پهستون ) او ( قابوس ) هغه ايالت کې حکومتونه وچلول ترڅو چې د دوی واکمني د آل بويه له خوا وپرځول شوه او قابوس وتښتيد . قابوس په ۳۸۸ هـ ( ۹۹۸ م ) کې بيا د نيکونو تخت ته ورسيد او تر ۴۰۲ هـ ( ۱۰۱۱ – ۱۰۱۲ م ) پورې يې حکومت وکړ ، خو دهغه د ځای ناستي اوځوی منوچهر ترمړينې وروسته په ۴۲۰ هـ ( ۱۰۲۹ م ) کې د دغې کورنۍ اهميت بالکل له منځه ولاړ .

د څلورمې هجرې پيړۍ په منځ کې د کردانو د قبيلې خان ( حسنويه ) بن حسين د کردستان ډيره برخه ونيوله او په ۳۲۰ هـ ( ۹۷۹ – ۹۸۰ م ) کې د هغه تر مړينې وروسته کردستان د عبدالدوله له خوا ونيول شو خو په خپل ځای يې

(بدر) د حسنویه ځوی وکیل مقرر کړ (بدر) وروسته د (ری) له اړ دوړ څخه چې د فخرالدوله له مړینې وروسته راپیښې شول خپل ځواکونه راټول او په ۴۰۵ هـ (۱۰۱۴ – ۱۰۱۵ م) کې ومړ او ځوی یې ظاهر د ده پرځای کنیاست خو د شمس الدوله بن فخرالدوله له خوا مغلوب اوبیا ووژل شو.

آل بویه د هجري څلورمې پیړۍ په لومړی ربع کې واک ته ورسیدل. په ۳۱۹ هـ (۹۳۱ م) (مرداویج بن زیار) د (کرج) حکومت د دغې کورنۍ نیکه علی بن بویه ته چې خپل نسب بهرام گورته رسوي. تسلیم کړ. علی او دده ورونو حسن او احمد له کرج څخه خپله واکمني پراخه کړه ټول غربي ایران، عراق او بغداد یې واک لاندې راوستل، خو وروسته له دغې سوبې ډیر ژر ماتې سره مخامخ شول او دهغوی سلطنت د سلطان محمود او سلجوقیانو په لاس ونیول شو.

سامانیان د المامؤن خلیفه له وخته چې د اسد بن سامان څلورو زامنوته د ماورالنهر د مهموښارونو حکومتونه واک وسپارل شو، د نوم او رسوخ خاوندان شول، ترڅو چې د هجری دریيمې پیړۍ په وروستیو کې یې واک او ځواک له سیحون څخه تر بغداد اوله خوارزم څخه تر خزر او د هند تر پولو پراخ شو او په ۳۸۹ هـ (۹۹۹ م) کې چې سلطان محمود په خراسان او ایلک خان پر بخارا کې واک ټینگ کړ، د غی سلسلې ماتې وخوړه. د سیحون سلسلی یو واکمن (ابو موسی هارون بغراخان) په ۳۸۲ هـ (۹۹۲ م) کې بخارا ونیوله خو دهغی د اوبو او هوا د نابرابروالی له کبله یې بیرته پریښوده. د هغه ځای ناستي ایلک خان په ۳۸۹ هـ (۹۹۹ م) کې بخارا ونیوله او د سامانیانو کورنۍ یې ختمه کړه، د قره خانیانو بیلابیلو څانگو د شپږمې هجری پیړۍ تر نیمائی پوري حکمراني و چلوله [1]

[1]- له دوی پرته د جرجانیه، خوارزمیانو، غرشستانو او جوزجانو حکومتونه هم و چې هسي په نوم د بخارا تابع وو.

# دريم څپرکی

## دسلطان محمود نیکونه

### ۱- الپتگين

الپتگین د غزني د سلطنت مؤسس د ۲۲۷ هـ ( ۸۸۰ – ۸۸۱ م ) شاوخوا کلونو کی زیږیدلی دی[۱] نوموړی احمد بن اسمعیل د مرئي ( غلام ) په توگه پیرودلی وه د شاهي ساتونکو ډله کی یې ورگډ کړ[۲] نصر بن احمد هغه آزاد کړ[۳] او د نصر ځوی نوح هغه د ځینو فوځونو مشر کړ[۴] چې لږ وروسته د حاجب الحجابي رتبې ته ورسید[۵] وروسته و نوح له مړینې یې په ځوان عبدالملک ډیره اغیزه لرله ، کله چې د ۳۴۵هـ ( ۹۵۲ م ) دسمبر ) په روژه کې بکر بن ملک د خراسان د پوځ مشر بخاراته راغی ، الپتگین پر هغه یرغل وکړ ویې واژه[۶] . امیر عبدالملک د الپتگین د خدماتو په بدل کی ، یابنایې له پایتخت څخه

---

[۱]- فصیحی د ۲۰۷ پانی دویم مخ .

[۲]- گزیده ۳۸۱ مخ . صبح صادق د ۹۹۸ پانی لومړی مخ .

[۳]- فصیحی د ۲۰۷ پانی دویم مخ .

[۴]- گزیده ۳۸۴ مخ .

[۵]- گردیزی ۴۲ مخ .

[۶]- گردیزی ۴۱ مخ .

دهغه د تبعید او لری لیږلو په خاطر . هغه د بلخ د حکومت د حاکم په توگه بلخ ته واستاو ، خو دغې تحفې او بخشش د الپتگین جاه طلبانه احساسات تسکین نه کړل . نو امیر هغه د ټول خراسان د پوځ مشرو ټاکه . الپتگین دغه دنده د ۳۴۹ هـ ( ۹۶۱ م د پروری په ۱۰ مه ) ترلاسه کړه .[۱]

کله چې په ۳۵۰ هـ شوال (۹۶۱ م په نومبر ) کې امیر عبدالملک سامانی ومړ ، د هغه وزیر ابوعلی بلغمي چې د البتگین طرفدارو . نه ته یو لیک واستاو او په لیک کی یې د امیر د ځای ناستي په هکله پوښتنه ورځخه وکړه ، الپتگین په ځواب کی ورته ولیکل چې د امیر کوچنی زوی د پاچاهی او سلطنت وړتیا لری[۲] خو د لیک له رسید و وړاندې شاهی عسکرو د امیر ورور منصور د پاچا په توگه غوره کړ .

الپتگین و پتییله چې د تورې په زور خپل مقصد عملي کړي دیر ژربې له ابومنصور محمد سره چې مخکی له هغه ځخه دخراسان د پوځ مشر او اوس د طوس حاکم و ، اتفاق وکړ ، هغه یې خراسان ته لیږه او په خپله د ۳۵۰ هـ په ذی القعده ( د ۹۶۱ م په دسمبر ) مخ په بخارا روان شو . دغه وخت کې امیر منصور له یو مهارت ځخه کار واخیست د خراسان ولایت یې ابو منصور ته وسپارهٔ ( یعنی هغه یې هلته حاکم کړ ) په دی توگه یې دهغه مخ له الپتگین ځخه واړاو او خپل طرفدار یې وگرځاو ، امیرمنصور ابو منصور وهځاو چې د آمو د سیند لاره د الپتگین پر مخ وتړی[۳] . کله چې الپتگین د سیند غاړی ته راورسید ،

---

[۱]-گردیزی ۴۲ مخ .
[۲]- گردیزی ۴۳ مخ طبقات ناصری . ۴۲ مخ .
[۳]- گردیزی ۴۳ مخ .

خپل خطر ناک وضعیت څخه چې د دو لښکرو منځ کې واقع شوی و حیران شو آن دا چې خپل پوځ کې هم له توطیئی څخه وویرید ( ځکه امیر د ده ځنې صاحب منصبان خپل پلویان کړی وو ) نوله بخارا څخه یې صرف نظر وکړ ، خپلی اردوګاه ته یې اور واچاو ، بلخ ته راستون شو [۱] . امیر منصور له ۱۲ زرو څخه زیات لښکر د اشعث بن محمد [۲] په مشري ده پسی راولیږه ، دواړه لښکر د ۳۵۱ هـ په ربیع الاول ( د ۹۶۲ م اپریل ) کی دخلم درې ته نژدې یوبل سره مخامخ شول ، له جګړې وروسته الپتګین بریالی شو ، د امیر څو صاحب منصبان او مامایې هم ونیول [۳] او دهغه حکومت د تینګولو لپاره چې د امیر د نفوذ له حوزې څخه بهر وي ، د غزنې په خواروان شو . د غزنی حاکم ( ابوبکر لاویک [۴] یې لرې او له څلورمیاشتو محاصرې [۵] .

---

[۱] - ګردیزی له ۴۳ مخ تر ۴۴ مخ او مجمع الانساب دویم مخ له ۲۲۳ پاڼی څخه .

[۲] - نرشخي ، ۹۷ مخ ، ګردیزي خپل کتاب کی په ۴۴مخ کی دغه لښکر د ( بیداح ) په مشری لیکلی دی .

[۳] - تجارب ، دویم ټوک ، او ابن الاثیر اتم ټوک ۴۰۴ مخ .

[۴] - طبقات ناصري ۷۱ مخ ، ګردیزی په ۳۸۵ مخ کی لیکی چې الپتګین ، ابوبکر ( لاویک ) وواژه ، حال دا چې دا خبره غلطه وه ځکه چې ابوبکر وروسته له راګرځیدو څخه د کابل پاچاته راغی .

[۵] - مجمع الانساب د ۲۲۴ پاڼې لومړی مخ په زینب المجالس ( ۲۱ پاڼې اول مخ ) کې او د صبح صادق ( د ۹۹۹ پاڼې لومړی مخ او جنات الفردوس ( ۳۷ پاڼې دویم مخ ) کی لیکلی چې د غزنی دیوال د دوشنبی په ورځ د ۳۵۱ هـ کال د ذی الحجی په ۱۳ مه ( د ۹۶۳ م کال د جنوری په ۱۲مه ) ونیول شو .

وروسته يې د غزني ديوالونه ونيول او د پاچاهۍ اعلان يې وکړ ، خو امير منصور هغه په آرام نه پرېښوده په هغه پسې يې د ابوجعفر تر مشري لاندې ۲۰ زره تکړه پوځ راوليږه ، خو دالپتگين له خوا ماتې سره مخامخ شو ، بيرته گرځيدو ته اړ ووت [۱] . امير د دې پيښې له ليدو وروسته د خپل موقعيت د ساتلو اوله الپتگين سره د مناسباتو دخرابې د مخنيوي په خاطر الپتگين سره سوله وکړه د فتح شوې قلمرو سيمې يې ورته تسليم کړې [۲] وروسته له دې څخه الپتگين بست کلا او د کابل د پاچاهي يوه برخه هم ونيوله ، خو د ده د پاچاهي دوره ډيره لنډه وه د ۳۵۲ هـ کال د شعبان په ۲۰ مه ( د ۹۶۳ م د سپتمبر په ۱۳ مه ) ومړ [۳] .

## ۲ - ابواسحق ابراهيم

د الپتگين له مړينې وروسته دهغه ځوی ابواسحق ابراهيم [۴] د ده پرځای کيناست ، خو له دې امله چې ضعيف النفس اوسست عنصره و

---

[۱]- د ۳۸۵ مخ څخه اخيستل شوی .

[۲]- طبقات ناصرى . ۴۳ مخ کې د الپتگين د بغاوت شرح د مجمع الانساب ۲۲۳ پاڼې سياست نامه ( ۹۸- ۱۰۲ مخ ) له غلطيو ډکه او يو بل د متضادو وينا وو لرونکې ده .

[۳]- مجمع الانساب ۲۲۴ پاڼه لومړی مخ ، صبح صادق ۹۹۹ پاڼه لومړی مخ او زينت المجالس ۹۱ پاڼه لومړی مخ او جنات الفردوس ۳۷ پاڼه دويم مخ . سردينيس راس په غلطۍ خپل کتاب کې چې قلب آسيا مرکزی ( Heart of Central Asia ) نوميږي . په ۱۱۲ مخ کې ليکي چې الپتگين په ۳۶۲ هـ ( ۹۷۲ – ۹۷۷ م ) کې ومړ ، او پس له هغه سبکتگين د هغه پرځای کيناست .

[۴]- ابن حوقل ۱۳ مخ . گرديزی ۴۱ مخ .

، عسکرو د هغه له قوماندې څخه سرغړاوی وکړ ، د ابوبکر لاویک ځوی ابوعلی لاویک له موقع څخه استفاده وکړه ، د غزنی خواته یې لښکر ولیږ او ابراهیم ته یې ماتې ورکړه ، غزنی یې ونیو . ابراهیم وتښتید ، د امیر منصور[۱] د مرستې په هیله بخارا ته ورغی ، راتلونکی کال کی له یو لوی لښکر سره بیرته راستون شو د ۳۴۵ هـ کال د شوال په ۲۷ مه ( ۹۲۵ م د سپتمبر په ۲۲ مه ) یې ابوعلی لاویک[۲] مغلوب کړ او تیښتی ته یې اړ ایست ، خپله غزنی ته ننوت ، خو لږ وروسته د ۳۵۵ هـ کال د ذیقعدی په ۲۵ مه ( د ۹۲۲ م د سپتمبر په ۲۲ مه ) ومړ[۳] .

## ۳- بلکاتگین

له دې امله چې ابو اسحق ابراهیم د تاج او تخت لپاره کوم وارث نه درلود[۴] نو دهیواد اشرافو د الپتگین د ساتونکو عسکرو مشر او مرئې بلکاتگین[۵] چې یو نامتو عسکرو د حکومت په مشر توب وټاکه . داسی وایې چې بلکاتگین په خپل خصوصي ژوند کې د

---

۱- طبقات ناصری ۷۱ مخ ، عتبی ۱۴ مخ .

۲- فصیحی ۲۸۹ پانه لومړی مخ او جهان آرا ۸۲ پانه لومړی مخ .

۳- مجمع الانساب د ۲۲۴ پانی لومړی مخ . زینت المجالس ۹۲ پانه لومړی مخ . صبح صادق ۹۹۹ پانه لومړی مخ . په طبقات ناصری کی ۷۲ مخ کی لیکل شوی دی چې ابراهیم له بخارا څخه له ړاستنیدو یو کال وروسته مړ شو .

۴- عبتی ۱۵ مخ .

۵- طبقات ناصری ۷۳ مخ براون ( په لومړی ټوک ۳۷۳ مخ کی ) لیکی چې ابو اسحق او بلکاتگین دواړه د البتگین زامن ول ، حال دا چې د اغلطه ده . وگورئی ایلیات و د اوسن دویم ټوک ۴۷۹ مخ او د آسیایې شاهی ټولنې مجلی د ۱۷ ټوک ۱۴۵ مخ .

عدالت او صفا له مخې په رعیت کې تږلوته گران و ، نو موړی له لس کاله حکومت چلولو وروسته په ۳۶۴ هـ ( ۹۷۴ - ۹۷۵ م ) کې چې د گردیز د محاصره [۱] کولو په حال کې و مړ شو.

## ۴- پریتگین

د بلکاتگین له مړینې وروسته ، د البتگین یو بل مرئی چې ( پیری ) یا پرتیگین [۲] نومید په تخت کیناست . له دې امله چې ډیر ژریې په ظلم او څورولو پیل وکړ ،رعیت ابو علی لاویک پاچاهي ته غوره کړ او هغه د کابل د پاچا له زوی سره یوځای غزنیته ستون شو [۳].

په لاره خرخ ته نژدی [۴].له سبکتگین او دهغه ۵۰۰ مرئیانو سره مخامخ شو کلکه ماتې یې وخوړه ، نو ابوعلی او دکابل د پاچا زوی دواړه بندیان او بیا و وژل شول [۵]نو د هیواد اشرافو په یو اتفاق

---

۱- اداب الملوک د ۳۹۱ پاڼې دویمه پاڼه ، جهان آرا له ۸۲ پاڼی څخه دویم مخ او زینت المجالس له ۹۲ پاڼی څخه لومړی مخ .

۲- عوفی د ۳۹۱ پاڼې دویم مخ ، سرویلیم هیک په ۱۱ مخ کی هغه د ( پیرای ) په نوم یاد کړی دی . خو کوم اخځ یې نه دی ورکړی .

۳- طبقات ناصری ۷۳ مخ .

۴- خرخ د کابل او غزنې تر منځ په لاره کې یو سیمه ده .

۵- طبقات ناصری ۷۳ مخ. مجمع الانساب ( د ۲۲۵ پاڼې اول مخ ) هغه په بل ډول بیانوي . راورتی په خپل کتاب کی چې د افغانستان په اړه تبصری یا Notes on Afghanistan نومیږی ، په غلطه سره دا جگړه په ۳۶۳ هـ ( ۹۷۳ - ۹۷۴ م ) کی ښیي . وگورئی د سبکتگین د نیکونو د کارونو په هکله د همدي کتاب ( ب ) ښلونه .

پریتگین بی وسلي کړ او په ۳۲۲ ق کال د شعبان په ۳ مه ( د ۹۷۷ م د اپریل په ۲۰ مه ) یې سبکتگین د پاچا په توگه وټاکه [۱].

## ۵- ابو منصور سبکتگین

ابو منصور سبکتگین د ۳۳۱ هـ ( ۹۴۲ - ۹۴۳ م ) کال شاوخوا زیږیدلی دی [۲]. پلاریې ( جوق ) نومیده او په ترکستان کې یې په یوه کوچنۍ سیمه حکومت کاو ، ډیر غښتلی و [۳]. یو وخت د گاوندی سیمو دشمنو قبیلو پر جوق ښار یرغل وکړ ، سبکتگین دهغه دریم ځوی چې هغه وخت ۱۲ کلن و اسیر کړ او سبکتگین ځلور کلونه د دغی قبیلی په قید کی و ترڅوچې د مرئي ( غلام ) په توگه په ( نصر حاجی ) [۴]. وپلورل شو دا وخت سبکتگین ناروغ شو او نصر د اړتیاله مخې هغه درې کاله په ( نخشب ) کی پریښود . سبکتگین په دغه دریو کلونو کې د جگړی او تورې وهلو فن زده کړ ، نصر یې دومره

---

۱- طبقات ناصری ، ۷۳ مخ و ابن اثیر ۸ ټوک ۵۳ مخ ، عتبی ، د ابو اسحق ابراهیم اولادونه لکه څرنگه چې عموماً فکر کیږی ، له ټولو څخه صرف نظر نه دی کړی ، وگورئی دهغه کتاب الیمنیی کی ۱۵ مخ .

۲- دغه نیټه د طبقات ناصری له ۷۵ مخ او د مجمع الانساب د ۲۲۷ پانې له دویم مخ څخه اخیستل شوی ده .

۳- مجمع الانساب د ۲۲۲ پانې دویم مخ .

۴- په غالب گومان کله چې سبکتگین د مریي ( غلام ) په ډول د نصر حاجې لاس ته ورغی ، د اسلام دین یې ومانه ، وگورئی بیهقی ، ۱۰۷ مخ .طبقات ناصری ۷۰ مخ او مجمع الانساب ۲۲۷ پانه لومړی مخ .

خوشحاله کړ چې هغه يې د خپلو ټولو غلامانو رئيس وټاکه[۱]. سبکتگين په غالب گومان په ۳۴۸ هـ ( ۹۵۹ م ) کې بخارا ته ولېږل شو او هلته په الپتگين ، حاجب الحجاب امير عبدالملک[۲] باندی وپلورل شو . الپتگين نو موړی ته دومره زياته پاملرنه لرله چې ډيرژر پرته د هغو پړاوونو له تيرولوچې د مرئيانو د خدمت لپاره ټاکل شوې وې[۳] ډيرې لوړی رتبې ته لوړ کړلای شو . سبکتگين د البتگين حاجب الحجاب له مړينې وروسته د ابواسحق ابراهيم له ډيرو لوړو صاحب منصبانو څخه وشميرل شو[۴] او د البتگين له لور سره يې واده وکړ[۵] سبکتگين د بلکا تگين او پرتيگين د واک پر مهال هم په هماغه عزت او لوړه درجه کې و[۶] تر څو چې د هيواد د ټولو نجباو او اشرافو په خوښه د ۳۶۶ هـ کال د شعبان پر ۲۷ مه د جمعې پر ورځ ( د ۹۷۷ م اپريل په ۲۰ مه )[۷] د پاچاهی پر تخت کښيناست . سبکتگين د خپل

---

[۱]- د سبکتگين پند نامه و چې د مجمع الانساب ۲۲۶ پانه کی دويم مخ کی نقل شوی ، دسبکتگين د ژوند په هکله څه بل ډول شرح لري چې له متن سره فرق لري او دا غلطه شکاري . په جامع التايخ کې د ۲۰۴ پانی دويم مخ کی ذکر شوی ده .

[۲]- مجمع الانساب ، ۲۲۷ پانه دويم مخ او طبقات ناصري ۷۱ مخ .

[۳]- سياست نامه له ۹۵ څخه تر ۹۷ مخونو پورې .

[۴]- عتبي ، ۱۵ مخ .

[۵]- گزيده ۳۹۳ مخ .

[۶]- طبقات ناصری له ۷۱ مخونو او مجمع الانساب د ۲۲۴ پانی دويم مخ او د ۲۲۵ پانی لومړی مخ .

[۷]- طبقات ناصری ، ۷۳ مخ او ابن الاثير ۸ ټوک ۵۰۳ مخ ، او مجمع الانساب د ۲۲۵ پانی دويم مخ کی په غلط ډول دغه نيټه ۳۶۳ هـ ( ۹۷۳ - ۹۷۴ م ) ليکلی ده .

واک په لومړي اودويم کال بست او قصدار له خپل قلمرو سره و تړل [۱] بيا د هند پر لور روان شو دا وخت له لغمان څخه تر چنياب سيند پورې په ټوله پراخه سيمه باندې جيپال د هند و شاهيه کورنۍ حکمران پاچاهي چلوله [۲].

د سبکتگين په يرغل سره جيپال په ۳۷۲ هـ ( ۹۸۲ – ۹۸۷ م ) [۳]. کال کې په زيات لښکر سره مخ په غزنۍ را روان شو او دواړ ، لښکر د غوزک په نوم يو کوچنۍ غره ته نژدې سره مخامخ شول . سره له دې چې هندوان ډير په ميړانه جنگيدل خود واورې يو ناڅاپي توپان دوی پريشان کړل او جيپال سولې ته اړ شو . محمود غو ښتل چې جگړې ته دوام ورکړی او جيپال تباکړي ، خو سبکتگين له دې ويرې چې کيدای شي هندوان ځانونه له ټولو قيمتي شيانو سره وسوځوي نو د سولې د سوغاتونو په هيله يې له جگړې صرف نظر وکړ ( هندوان د نا اميدی پر وخت ځانونه سوځوي ) او سوله يې ومنله . جيپال و منله چې د جگړې په تاوان کې به

---

[۱]- خوند مير د ( خلاصة التواريخ ) په ۲۱۲ پاڼه اول مخ کې د ۳۲۷ هـ ( ۹۷۷ – ۹۷۸ م ) کلونه ليکي ، وگورئ عتبی له ۱۷ تر ۱۹ مخونو پورې اوله ۲۰ – ۲۱ مخونو . دقصدار سلطنت د ننې بلوچستان سيمې وې او قصدار ښار ننی خيزدار دی .

[۲]- د ۱۹۲۷ کال د آسيائی شاهی انجمن ټولنې په مجله کې دليکوال مقاله وگورئ ۴۹۱ مخ . او راورټی ( د افغانستان په هکله يادښتونه ۳۲۰ مخ ) او سمنها ( ۲۹۲ مخونه ) . ويل کيږي چې دغه سيمه د ( هکرې ) تر سيند پوری غځيدلې وې . خو دوی په ښکاره ( ويهند ) د هند و شاهيه د سلسلې له پايتخت ( بهتنده ) سره غلطه کړې دی . نو غلطی له همدې ځايه پيل شوی ده .

[۳]- عتبي په ۹ او ۲۲ مخونو کې ليکلي چې محمود دغه وخت کی پنځلس کلن و ، نو ليکوال د دغې جگړې د پيښيدو نيټه د عتبې د همدی وينا له مخې گڼلې او ليکلې دی .

یولک درهم. پنځوس پیلان او د سرحدي ښارونو څنی سیمې او کلاګانې دوی ته ورکړي. د دغې وعدې په ضمانت کې یې خپل څنی خپلوان سبکتګین سره یرغمل پریښودل او خپله ستون شو. کله چې ورسید د وعدې خلاف یې د سبکتګین هغه صاحب منصبان چې د دغو سیمو او کلاګانو دتسلیمولو لپاره ځان سره بیولی و بندیان کړل [1]. کله چې سبکتګین خبر شو له یوه لوی لښکر سره د جیپال پر لوری روان شو. په دې ترڅ کې یې د لغمان شاوخوا ډیرې سیمې ونیولې. جیپال هم د شمالي هند [2] د راجاګانو د عسکري قطعاتو په مرسته یو ډیر لوی لښکر چې د ځینو په روایت یولک سپرواو پلیو عسکروته رسید، راټول کړ او د سبکتګین مخې ته ورغی خو داخل هم ماتې سره مخامخ شو. سبکتګین د لغمان او پیښور ترمنځ سیمې ونیولې او هغوی ته یې د اسلام دین تبلیغ کړ، د دغې سیمی خلجې او افغان وګړي ده سره یو ځای شول او عسکري کې هم شامل شول [3].

## سبکتګین او سامانیان

د غزنی پر تخت باندی د سبکتګین د کیناستو له پیل څخه، د سامانیانو ځواک په کمیدو شو او په پرله پسې ډول د سامانیانو د امپراطوری د لری علاقو حاکمان د دولت په وړاندې پاڅیدل، خو سبکتګین امیر نوح ته درناوی درلود او هغه یې ځان څخه لوړ ګڼه او

[1]- عتبي له ۲۱ – ۲۴ مخ پوري.

[2]- فرشته (۲۰ مخ)، د اجمیر راجا هم په دی ډله کی شمیری، حال دا چې اجمیر هغه وخت نه وجوړ شوی.

[3]- عتبي ۲۱- ۲۲ مخونه.

د اشرارو په ځپلو کې يې هغه سره مرسته کوله . کله چې ( فايق ) او ابوعلي سيمجوري [۱] د امير نوح په وړاندې يو بل سره يو موټی شول ، امير نوح له سبکتگين څخه مرسته و غوښته ، نو هغه ډير ژر ور سره مرسته وکړه له پيچو مو څخه تير شو او د هرات پر لوري چې هلته شورشيان سره راټول شوی وو ورغی ، ويې ويل زه به په هغه شرط سولې ته غاړه کيږدم چې شورشيان ۵۱ ميليونه درهم د جګړې د تاوان په توګه امير نوح ته ورکړي ، له دغې سولې څخه لړ وروسته ابوعلي بيا سر غړاوی وکړ او ژمنه يې پښو لاندې کړه ، چې سبکتگين د ۳۸۴ هـ د روژې په ۱۵ مه ( د ۹۹۴ م په ۲۳ مه ) [۲] هرات ته نژدې پر هغه يرغل وکړ ، خو ابو علی ډير په زړورتيا جګړه کوله خو د محمود د يرغل له کبله ماتې سره مخامخ شو او ( ری ) ته وتښتيد او فخرالدوله ته يې پنا يو وړه . بريمن پوځ هرات ته ننوت او هلته قدرشناس امير نوح سبکتگين ته ( نصرالدين والدوله ) لقب ورکړ او د بلخ حکومت يې هم ورته وسپاره او محمود ته يې سيف الدوله لقب ورکړ او د خراسانو [۳] . د پوځ مشريې مقرر کړ دا وخت محمود نيشاپور ته لاړ ، خو ابو علی او فايق دغه شار په زور وينو او محمود يې اړ ايست چې بيرته هرات ته لاړشي . سبکتگين د دغې غمجن خبر په اوريدو د طوس خواته روان شو او د ۳۸۵ هـ جمادي الثانی په ۲۰ مه ( ۹۹۰ جولای ۲۲ مه ) يې له ابوعلی سره جګړه پيل کړه . سره له دی چې

---

[۱]- وليم هيګ ( ۱۲ مخ ) په غلطۍ سره هغه ابو علی سونجور بللی دی .

[۲]- عتبي ، ۸۰ مخ . ګرديزی ۵۵ مخ . بيهقی ۲۳۵ مخ .

[۳]- و ګورئ البيرونی او کتاب تاريخ ملل قديم The chronology of the Acient Nations ۱۳۰ مخ .

ابوعلي په ډير شدت جګړه کوله . خو د محمود د يو ډير کلک يرغل له امله ماتې سره مخ شو .ابو علي او فايق دواړه له دغې بې نتيجې مجادلې څخه ستومانه شول او له امير نوح څخه يې دسولې غوښتنه وکړه کله چې د دوی د سولې استازي بخارا ته ورسيدل امير نوح و غوښتل د دوی تر منځ بې اتفاقي واچوي نو د فايق استازی يې بندي کړ او د ابو علي استازي يې پيروزينې لاندې وينو او خوشحاله يې بيرته رخصت کړ . فايق د مرستې لپاره ايلک خان ته ورغی او ابو علي په ۳۸۲ هـ ( ۹۹۲ م ) کی بخارا ته راغی سبکتګين ته تسليم او بندي شو [۱] .

دا وخت فايق ايلک خان وهڅاو چې پر بخارا يرغل وکړی . امير نوح د دغه خبر په اوريدو بياله سبکتګين څخه مرسته وغو ښته ، هغه له خپل لښکر سره ورغی خو امير د خپل وزير عبدالله بن محمد بن عزيز په مشوره له دغې جګړی څخه تير شو ، دا وخت سبکتګين له امير نوح څخه مرور شو ،نو سبکتګين له ايلک خان سره د جګړی پرځای مجبوراً سوله وکړه د سامانيانو هغه ټولې سيمې چې د ( قطوان ) ختيز کې وې هغه يې ايلک خان ته ورپريښودې . محمود يې له ( ۲۰۰۰۰ ) پوځ سره بخارته ولیږ تر څو فاسد وزير تبعيد کړي . امير نوح و ويريد . عبدالله يې وتښتاو ،دسبکتګين په نوم يې يو بل وزير دهغه پر ځای وټاکه [۲] . له دي څخه لږ وروسته ، ابولقاسم ، د ابو علي سيمجوری ورور په خراسان کی د سبکتګين او محمود له غيابت

---

[۱] - عتبي ، له ۷۵ – ۱۰۱ مخونه – ابوعلي په ۳۷۸ هـ ( ۹۷۷ م ) کې ومړ .

[۲] - عتبي له ۹۸ – ۱۰۰ مخونه .

ځخه استفاده وکړه ، نیشاپوریې ونیو،خو د محمود او د خپل تره (بغراجق)[1] په رارسیدو سره یې ډیر ژر سیمه پریښوده .

## د سبکتګین مړینه

وروسته بیا سبکتګین بیرته بلخ ته راستون شو چې داوخت یې یوه خور او ځنې خپلوان مړه شول . سبکتګین دغو غمجنو پیښو دومره وکړ او چې ناروغ شو[2] . نو د خپلې روغتیا د ښه کیدو لپاره یې غزنی ته د تلو نیت وکړ ، خو په لاره کې د بلخ شاوخواد (مادر وموی) په کلی کې د ۳۸۷ هـ د شعبان په میاشت یا (د ۹۹۷ م آګست)[3]. کې ومړ.

سبکتګین په رعیت او عسکر وګران و ، هغوی سره یې په سختو او ستونزو کی تل برخه اخیسته د ده له ښې اداري ځخه ټول خوښ وو . سبکتګین چې مړ شو د (امیر عادل) لقب یې وګاټه او د القب ورته د مؤرخینو له خوا په یادګار پاتی شو . سبکتګین په سختیو کی صابر او د کلکی ارادی خاوند و او خیر رسونکی شخص و ، ځو ځو زامن یې درلودل چې حسن او حسین یې کوچنیتوب کی مړه شوی وو . او محمود ، اسمعیل ، نصر او یوسف ورځخه پاتې شول . سبکتګین په خپلو اولادو ډیر شفقت درلود او د هغوی تعلیم ته یې ډیره پاملرنه کړی وه . کله یې چې واک ترلاسه کړ خپل ورونه ، مور او خویندی یې

---

[1]- عتبی له ۱۰۲ ځخه تر ۱۰۳ مخونه.
[2]- عتبی له ۱۰۲ ځخه تر ۱۰۷ مخونه.
[3]- عتبی ۱۰۷ مخ ، ګردیزی ۵۸ مخ او طبقات ناصری ۷۵ مخ .

را وغوښتې او ټول يې په خوشحالی کی ورسره شریک کړل [۱]. مناسبات يې له امير نوح سره د ستاينې وړ و. هغو مره چې د بخارا اشرافو امير نوح سره خيانت وکړ. هغو مره سبکتګين د هغو مخنيوی وکړ او آن له ترکستان څخه يې د تيريو مخ نيوله. سبکتګين يو لوی سياست پوه و او له فريغوني کورنۍ څخه (چې له سامانيانو سره يې د خپلوی اړيکې وې) د يوې شهزاده نجلی په واده کولو سره، خپل زوی محمود ته، خپل اقتدار لازيات کړ [۲] او د ژوند په وروستيو کی دو مره ځواکمن واکمن ګرځيدلی و چې بهرنيو شهزادګانو له هغه سره د دوستې ډيره ليوالتيا لرله.

[۱]- مجمع الانساب د ۲۲۹ پاڼی دويم مخ.
[۲]- ګرديزی، ۹۸ مخ او عتبی ۲۲۷ مخ.

# څلورم څپرکی

## د محمود د ژوند پیل

ابوالقاسم محمود [1] د سبکتګین مشر زوی [2] د ۳۶۱ هـ کال د محرم په لسمه شپه ( د ۹۷۱ م د نومبر په دویمه شپه ) وزیږید [3] موریې

---

[1]- طبقات ناصری د محمود شجره ( ۷۰ مخ کی ) د مجدول د تاریخ له مخې په دی توګه لیکلی ده : محمود بن سبکتګین ، بن جوق ، بن قرایجکم ، بن قرا ارسلان ، بن قراملات ، بن قرا نعمان ، بن قبروز ، بن سنجان ، بن یزدګر د سامانیانو وروستی پاچاه . جوامع التواریخ ( په ۲۰۴ پانه دویم مخ کی ) محمود سامانیانو پوري تړي ، خو دا خبره سمه نه ښکاري .

[2]- عتبی ، ۱۱۴ مخ . ( برګز ) د فرشته ژباړل شوی د لومړی توک ۲۹ مخ کی په یوه تبصره کې د محمود په هکله بد رد ویلې دي هغه د سبکتګین حرامی زوی بولي . خو دا خبره دروغ ده ځکه چې ده هیڅ ډول ماخذ نه دی ښودلی . وګورئ ( ۱ ) نمبریادښت ۳۷ مخ .

[3]- طبقات ناصری ، ۷۸ مخ . عوفی په ۲۵۲ پانه دویم کې چې له بیهقی څخه یې اقتباس کړی او ابن خلکان په دویم توک ۱۱۳ مخ کې او ابن الاثیر ۹ توک ۲۸۱ مخ کی د ۳۶۰ هـ کال د محرم لسمه ( د ۹۷۰ د نومبر ۱۳ ) اوسبط ابن الجوزي د ۲۱۹ پانی دویم مخ کې چې له الصابی ( ذیل ) څخه یې اقتباس کړی د ۳۶۱ هـ د ذی الحجی ۱۴ مه ( د ۹۷۲ م د سپتمبر ۲۲ مه ) لیکلی ده خو داسی ښکاری چې دواړه د کاتبانو غلطی ده . مؤرخینو د محمود د زیږیدو نیټه ځینو فوق العاده پیښو سره تړلې ده بیلګی په توګه طبقات ناصري ( ۷۲ مخ کی ) لیکلی چې د محمود زیږیدل د ( ویهنه ) د بتخانې له ړنګیدو سره برابر و او له هغه څخه لږ مخکی←

و زابلستان د يو نجيب شخص لور وه[۱] . د محمود د ژوند له لومړيو کلونو څخه ډيرلږ معلومات په لاس کې دي . نو موږي دهغه وخت د مدرسو مداوله تعليمات لکه څرنګه چې د يوشرقي شهزاده سره ښايي ، له يوه لوی عالم ( د قاضی ابوعلی حينيائيپلار )[۲] څخه ولوستل او د دينياتو بيلابيلو څانګو کی يې پوره پوهه ترلاسه کړه[۳] قرآن يې حفظ کړی و[۴] او له شريعت او حديثو ـ

---

← سبکتګين خوب ليدلی و چې د هغه دکور له کتوی څخه يوه ونه شنه کيږی ډيره ګرندی وده کوي او په ټوله نړۍ سيوری غوړوي . په دې توګه سبکتګين له خپل نسل څخه يو لوی فاتح او جهان کشا پيش بينی کړ . خو بايد و ويل شي چې دا ډول وينا وی يواځی د سلطان محمود مؤرخينو پوری نه دی تړلي ، د سکندر زيږيدل يې هم همداسی پيښو سره تړلي و وګوری (حيات سکندر ) د پلوتارک تاليف ، ۲ ټوک ، ۱۰۴ مخ .

[۱]- سياست نامه ۱۰۸ مخ او ګزيده ۳۹۵ مخ ، په همدې خاطر د محمود د دربار شاعرانو هغه ( محمود زابلی ) بللی دی . زابلستان د هلمند سيند او د خاشرود تر منځ د غزنی خوا وشا کې يوه سيمه وه . د فردوسي په هجويه کی محمود د يوې کنيزی ( مينځی ) زوی بلل شوی دی ، خو که رښتيا هم داسی وای ، نو د دربار شاعرانو به يې هغه ( محمود زابلی ) نه بللای . پروفيسر محمود خان شيراني په ( اردو ) نومې درې مياشتنی مجله کې خپلو يولړ مقالو کې ( ۱۹۲۱ – ۱۹۲۳ ) دغه هجو بالکل بی بنسټه بولي او هغه له حقيقت څخه لری ګڼي .

[۲]- بيهقی ، ۲۰۹ مه . امين احمد رازي در هفت اقليم ، ۱۰۰ پاڼه دويم مخ ( برتش موزيم ، ضميمه فهرست اصل نمره ۲۴۰۹۲ ) ، يوځای کی په غلطه سره ابوبکر دسلطان محمود استاد ښودل شوی دی . ( حينيا ) د واسط او صاليق تر منځ يوه سيمه وه .

[۳]- عتبی ، ۸ مخ .

[۴]- بيهقی ، ۲۰۹ مخ او فرخی ۲۷ پاڼه ، لومړی مخ .

سره بلدو [۱].

د تعلیم له سیاسی اړخونو ځخه هم بی برخی نه و . سبکتگین په خپله هغه ته د هیوادنیو چارو تر سره کول وروښودل او خپل د غه تبلیغات (ښودنې) یې د (پند نامه) [۲] په نوم یوه رساله کې راوړی دي . محمود په اداري چاروکې هم ښه تجربه او پوخ لاس درلود ویل کیږی . کله چې سبکتگین د بست جگړی ته ولاړ نو اوه کلن محمود یې په خپل وکالت غزنې کی پریښود او بوعلی کرمانی د هغه وزیرو او څو کاله وروسته یې د (زمینداور) د ولایت چارې وروسپارلې [۳].

له دې پرته ، محمود د خپل وخت ټولو جنگی فنونو کی پوره مهارت درلود او نامتو تورې وهونکی و . په سانگی وهلو او ښه ویشتو کی یې ساری نه و [۴]. او حربی تجربی یې له پلار سره په گډه سفرونو او جگړو کی ترلاسه کړې وې . په داسی حال کې چې دی لا وړوکی هلک و ، هغو لښکرو سره چې د غور د اشرارو د ټکولو په خاطر لږل شوی و ، لوړ امتیاز وگاټه [۵]. په ۳۷۲ هـ (۹۸۲ – ۹۸۷ م) کی یې لغمان ته نژدې له جیپال سره په جگړه کی له خپل پلار سره یو ځای .

---

۱- حاجی خلیفه ،دویم ټوک ۳۲۷ مخ ، آن داسی هم ویل کیږی او گومان کیږی چې د شریعت په هکله یې کوم کتاب هم لیکلی دی .

۲- د غه ټول متن په مجمع الانساب له ۲۲۲ پاڼی (دویم مخ) تر ۲۲۹ پاڼی لومړی مخ پوري ثبت دی . آثارالوزرا (۸۸ پاڼه لومړی مخ) هم پند نامې ته نغوته کړی ده .

۳- عوفی ۱۴۲ پاڼه لومړی مخ او ۳۹۱ پاڼی (دویم مخ) مجمع النساب ۲۲۲ پاڼه لومړی مخ .

۴- بیهقی ۱۲۳ – ۱۲۲ مخونه .

۵- آداب الملوک ۸۰ پاڼه لومړی مخ .

ډير مهم رول ادا کړ[1].

په ۳۸۰ هـ ( ۹۹۰ – ۹۹۱ م ) کې ځينو مفسدو خلکو د ځوی او پلار تر منځ تفرقه واچوله او محمود د غزني په کلا کې بندي کړای شو . خو غلط فهمي ډير ژر له منځه لاړه وروسته له څو مياشتو له بندي خانی را خوشي شو او د پلار پيرزوينې يې په برخه شوی[2] . څو کاله وروسته په ۳۸۴ هـ ( ۹۹۴ م ) کې يې له خپل پلار سره د فايق او ابو علي سيمجوري په جګړه کې برخه واخيسته تکړ جګړه مار او لايق جنرال ورڅخه جوړ شوی و اوسبکتګين د ده د خدمتونو د ستاينې په خاطر ورته د سيف الدوله لقب او د خراسان د لښکر مشرتوب وباښه او د ابوعلی سيمجوری پر ځای يې وټاکه ، خو په نيشاپورکې له لږ ځنډ وروسته ابو علی سيمجوري او فايق د محمود د لښکرو په ضعيف کيدو پوه شول د ۳۸۵ هـ په ربيع الاول ( د ۹۹۵ اپريل ) کې يې ورباندې يرغل وروړ ، محمود د هغو په رارسيدو نيشاپور پريښود . له ښار څخه يې درې ميله لری کيږدې ولګولې اود پلار مرستې ته په تمه شو ، خو ابو علی سيمجوری او فايق هلته هم ورباندې يرغل وکړ او ماته يې ورکړه او نيشاپور يې په هغو پيلانو ونيو چې هغه د

---

[1]- تولو تاريخ ليکو نکو دغه حقيقت هير کړی دی او د محمود معاصرو ليکوالو کی صرف دوو تنو په دې هکله نغوته کړی ده : يو عنصری ( ۷۲ مخ ) چې په خپله قصيده کې د سلطان په مدح ليکی .

ورا ز شجاعت ګويې بکودکي درغور
به پشت اسپ مبارز ببود پيش پدر

او بل ځای ابو مير بخاری چې محمود ته د ( سيف الدوله ) د لقب د ورکولو په مناسبت يې يوه تبريکيه قصيده جوړه کړی وه او ويل يې و .

فالهند و الغور قد شابت شبعور هم
لمارا دم منک من باس و قد قشلوا

[2]- مجمع الانساب ۲۴۵ پاڼه او ل مخ . او فصيحی ۳۰۳ پاڼه دويم مخ . همدا دوه کتابونه دي چې پورتنی حقيقت يې څرګنده کړی دی . بيهقی په ۲۵۷ مخ کې او فرخی ۲۵ پاڼه لومړی مخ کی په غالب ګومان همدې پيښی ته نغوته کړې ده .

محمود ول. دا وخت سبکتګين مرستې ته راورسيد د دښمن له پوځ سره د ۳۸۵ هـ د جمادی الثاني په ۲۰ مه (د ۹۹۵ م د جولای په ۲۲مه) ونښتل او له کلکې جګړې وروسته يې دښمن مات کړ. د ابوعلي زيات شمير افسران يې ونيول او له هغو پيلانو سره چې دښمن له دوی څخه نيولي و مبدله شول [1]. دپلار او زوی ډيرې بر ياوې د ځينو بخيلانو له خواد دسيسه کارې سبب ګرځيدی. د بيلګې په توګه عبدالله ابن محمد ابن عزيز د امير نوح وزير امير نوح ته دې ته هڅاوه چې دوی ته ورکړل شوې سيمې بيرته ورڅخه واخلي خو امير نوح له خپلو دغو ځواکمنو متحدينو څخه دغه ځمکې بيرته نه اخيستې [2]. همدغه وزير يوبل وخت په ۳۸۲ هـ (۹۹۲ م) کې کله چې ايلک خان د بخارا خواته ولاړ د سبکتګين د خپګان وسايل برابر کړل. هماغه وچې سبکتګين محمود له شل زره پوځ سره د دغه وزير د لرې کولو او د بل وزير د ټاکلو لپاره بخارا ته وليږ. خو دغه کار لکه څرنګه چې مخکې وويل شول تر سره شو. کله چې دی بخارا ته روان شو، د ابوعلي سيمجوری ورور ابوالقاسم ځان خراسان کې ټينګ کړ او نيشاپوريې ونيو، نو د آرتيا له مخې محمود خپل تره (بغراجق) سره يوځای د نيشاپور خواته روان شو. ابوالقاسم پرته.له جګړې څخه ښار پريښود، محمود د اغتشاشونو له غلي کولو وروسته خپل ټول ځواک خراسان کې ځای پر ځای کړ، خو لږ وروسته سبکتګين مړ شو او محمود له خپل ورور اسمعيل [3]. څخه د تاج او تخت د اخيستو په خاطر غزنی ته راستون شو.

---

[1]- عتبي له ۹۰ – ۹۱ مخونه.
[2]- عتبی ۸۳ مخ.
[3]- عتبی له ۱۰۲ – ۱۰۳ مخ پورې.

# پنځم څپرکی

## د واک پرسر شخړه

سبکتگین له بلخ څخه د غزنی پر لور د سفر په لاره کی د ۳۸۷ هـ د شعبان (د ۰۰۷ م آگست) کې ومړ، خو د خپل مرگ څخه لږ مخکی یې خپل کوچنی زوی اسمعیل چې د البتگین [۱] د لور له گیډی څخه و، په بلخ او غزنی کې خپل ځای ناستی وټاکه اوله اشرافو او نجباوو څخه یې هغه ته مؤکد او په وفاتینگ بیعت د هغه لپاره ترلاسه [۲]. کړ او د خپلې کورنی او نورو خپلوانو سره پرستي یې هغه‌ته وسپارله [۳]. اسمعیل بلخ ته ولاړ او د پاچاهی اعلان یې وکړ او امیر عبدالحارث منصور بن نوح سامانی ته یې درناوی وکړ [۴] او هغه خزانه یې چې د پلار په هلو ځلو راټوله شوی وه عسکروته بخشش کړه چې که چیری محمود سره جگړه [۵]. پیښه شي هغوی به د ده ننگه وکړي، په دې خبره

---

[۱]- گزیده، ۳۹۳ مخ، او مجمع الانساب ۲۲۹ پاڼه دویم مخ.

[۲]- عتبی ۱۱۰ مخ.

[۳]- عتبی ۱۱۰ مخ، بیهقی د خپل کتاب ۳۰۲ مخ کي وایې چې سبکتگین د خپل ډیر کوچنی زوی یوسف د سرپرستی په هکله محمود ته سپارښتنه کړی وه.

[۴]- په برتش موزیم کې د شرق د مسکوکاتو فهرست، د دغو پیسو تدوین، دویم ټوک ۱۳۰ مخ.

[۵]- عتبی ۱۱۴ مخ.

باندې پوهيدل چې آيا په کوم فکر سره سبکتگين اسمعيل تر محمد غوره گڼلی چې خپل ځای ناستی يې وټاکه ، ډيره ستونزمه ده . کيدای شي لامل يې دا وي چې اسمعيل الپتگين سره اړيکی لرلې ، يا دا چې د مړينې پروخت ورسره يوځای و [1] يا داچې غوښتل يې خپلو دری واړو ځوانو زامنو ته برخه ورکړي [2].

يا دا چې صرف د پلرنۍ مينې له کبله يې دا کار وکړ . په هر حال ، له دې انکار نشی کيدای چې سبکتگين په دې گومان و چې محمود (د ده ډير لايق او مشر زوی) به د غزنی حکومت اسمعيل ته ورکړی ، خپله سياسی غلطي ښکاره کړه . محمود له دغې فيصلی څخه خوښ نه و . غوښتل يې چې په خپله استحقاقاً پاچا او واکمن وي او اسمعيل به هم د پلار په ميراث کی برخمن وي . نو همدا چې د پلار له مړينې څخه خبر شو ، ابو الحسن حمولی يې د ډاډ گيرنې له يوليک سره يوځای اسمعيل ته وليږ او دايې هم ورته ويلی و چې مشر ورور ته په درناوي او دمحمود حقوقو او د ورورې د مينې په لرلو سره غزني هغه ته وسپاری ، نو د بلخ يا خراسان ولايت به ورته ورکړي ، دايې هم زيات کړی و چې که چيری رښتيا هم اسمعيل عسکری لياقت ، تجربه او په کارونو کی کفايت لرلای نو محمود به هيڅکله د پلار له وصيت څخه سرغړونه نه وه کړی ، خو اسمعيل د هغه وړانديزونه مانه،د دغی پيښې له امله د جوزجانان حکمران او د محمود خسر عبدالحارث

---

[1] - عتبی ۱۱۴ مخ .

[2] - سبکتگين د خراسان د لښکرو مشرتوب محمود ته او د بست ولايت يې نصرته ورکړی و او د خپل وصيت سره سم يې د غزنی او بلخ ولايتونه اسمعيل ته ورکړی وو .

فریغوني [۱] ډیره هڅه وکړه چې دواړه ورونه سره پخلا شي او یو بل سره خبرې وکړي خو اسمعیل د دغه منځګري له مقام څخه شکمن شو خبروته یې غوږ ونه نیو ، نو محمود اړ شو چې غزني ته ور روان شي او د توري په زور خپل مقصد ترلاسه کړي ، خو هرات کې یې بیا د سولې له لاري اقدام وکړ اسمعیل بیا هم انکار وکړ [۲].

داخل محمود د جګړې تیاري ونیوله د بست حکمران ابوالمظفر نصر چې د ده ورور ، خپل تره بغراجوق چې د هرات او فوشنج حاکم و ځان سره یو ځای کړل [۳]. او د ده خسر ابو الحارث فریغوني هم له خپل ټول قوت سره د ده مرستې ته ورغی نو په دومره ځواک سره محمود د غزني پر لوري روان شو ، اسمعیل هم د غزنې د ساتلو لپاره له بلخ څخه روان شو ، مخکې له دې چې جګړه ونښلي بیا هم محمود د سولې لپاره وروستۍ هلې ځلې وکړې خو اسمعیل دهغه غوښتنې اوعذرونه د ده د ضعف علامه ګڼله او هغه یې نه منلې [۴] نو ځکه محمود د منازعې د حل لاره تورې ته وسپارله چې دا د پاچاهانو وروستی دلیل وي او خپل لښکر یې د اسمعیل مخې ته ورولیږل [۵]. دواړه لښکر په قوت کې سره برابرو خود خپلو قوماندانانو لیاقت کې یې فرق درلود . دیوه پوځ په سرکې یو داسې نوی ځلمی ولاړ و چې په جګړه کې بې تجربې و او زیات وخت یې له فضلا و او ادیبانو سره په خبرو کې تیر

---

[۱]- د فریغونیانو لنډه شرح په (ج) ښنلونه کې ولولئ.

[۲]- عتبی له ۱۱۴ مخ څخه تر ۱۱۲ مخ پوري.

[۳]- عتبی ۱۱۲۵ مخ.

[۴]- د دغه بحث په هکله د الفنستون وینا چې تاج او تخت ته یې محمود غیر مستحق ګڼلی د (له) په ښنلونه کې وګورئ.

[۵]- عنصري په ۷۲ مخ کې لیکي چې اسمعیل ۲۰۰ پیلان د جګړې ډګر ته راوستي و.

شوی و او دبل پوځ په سرکې یو د پوخ عمر باتجربه سړی ولاړو چې د سړی سینی جرات یې درلود او ډیری سخت یرغلونه . د ترکمنانو یو موټی زور ، او د ضغیفو هندوانو لښکر یې ټول په یو شان مات او په ګونډو کړی وو . دا وو د دواړو د لښکر فرق ، دواړه لښکر د ۳۸۸ هـ کال د ربیع الاول په میاشت[۱] . ( د ۹۹۸ مارچ ) کی د غزنې په دښته کې یوبل سره مخامخ شول . دورځی لخوا اسمعیل ټینګ و خو د شپی له خوا یې دهغی حملی له امله چې په خپله محمود وکړه ماتی وخوړه او وتښتید او محمود په دی سوبې سره د غزنی د تخت خاوند شو . اسمعیل د غزنی کلاته پنا یووړه ، کله چې پوه شو چې د غزنی ټولی سیمی محمود نیولی دي او دده کلابندی ډیر دوام نه کوی نو تسلیم شو او محمود ور سره وعده وکړه چې له هغه سره به په ډیر مهرباني چلند وکړی[۲]. د اسمعیل پاچاهی اوه میاشتې وه[۳].اسمعیل هسی په نوم نظر بند و . په حقیقت کې هر څه یې چې غوښتل چایې مخه نه نیوله ،خود ۳۸۹ هـ کال په وروستیو ( ۹۹۹ م ) کی د محمود اعتماد

---

[۱]- دغه نیټه له دې حقیقت څخه ترلاسه شوه چې د اسمعیل حکومت فقط اوه میاشتی دوام کړی و .

[۲]- عتیبی ، ۱۱۸ مخ ، سرولیهم هیګ ۱۱مخ کی په غلطه وایې چې اسمعیل د خپلو خاصو نجباو له خوا مغلوب شو .

[۳]- ابن الاثیر نهم ټوک ۹۲ مخ ، راورټی د طبقات ناصري په ژباړه کې په ۵۱ مخ ، ۲ نوټ او ده ۷۵ مخ ۲ نوټ کی په غلطه وایې چې اسمعیل په ۳۸۹ هـ ( ۹۹۹ م ) کې خلع شو .اسمعیل یو حلیم الطبع ، ادیب او شاعر سړی و ، په عربی او پارسی ژبه څو کوچنۍ رسالې لرې اوښه دیند اره و اوویل کیږی چې د خپل کم وخت حکومت په دوران کی یې د راشدینو خلفا وو په پیروي په خپله د جمعی دلمونځونو امامت کاو . وګورئ ابن فندق ۳۲ پانه دویم مخ ، ابن الاثیر ۹ ټوک ۹۲۰ مخ او طبقات الشافیه د السپکیتالیف څلورم ټوک ۱۴ مخ .

برخلاف يې، دهغه د وژلو وسايل چمتو كړل ، نوشتګين د دغې دسيسې مشرو، كله چې محمود په دغې دسيسې خبر شو ( نو شتګين كاج ) يې سياست ته ورساو [1].

او اسمعيل يې له غزنې څخه امير ابوالحارث ته وليږه او هلته يې جوزجانانو كې تبعيد كړ او پاتي عمر يې هلته په آرامى سره تير كړ [2].

[1] - عتبي په ۱۳۱ مخ كى ليكى چې دغه دسيه د ۳۸۹ هـ كال په جمادي الاول كى يعنى هغه وخت چې محمود په عبدالملك بن نوح برى و موند طرح شوى وه . د دغې دسيسې د كشف څرنګوالى عتبى په ۱۳۲ مخ كى ليكى : يوه ورځ محمود له اسمعيل او نوشتګين كاج سره يو ځاى د ( مرو رود ) خواته ښكار كولوته تلل يو ناڅاته يې په لاره كى نوشتګين ته پام شو چې توره يې را ايستلى ده او اسمعيل ته په تشو پس سره ګوري او دهغه اشارى ته انتظار باسي چې محمود له منځه يوسي ، خو لكه چې د اسمعيل زړه كى وګرځيدل چې محمود د نوشتګين په چل او مكر پوهيدلى دى . نو خان يې بى خبره ونيو او خان يې هيڅ پوه نه كړ . كيداى شي ددي سازش اصلى هڅوونكى امير ابوالحارث وي چې هغه وخت يې له محمود سره مناسبات خراب شوي و .

[2] - عتبى ۱۳۲ مخ . خو صفيحى ( ۳۰۹ پانه لومړى مخ ) كى په غلطه وايې چې اسمعيل كانجر كلا ( چې نن ورځ تلواره ورته وايې ) ته بوتلل شو .

# دویمه برخه

## د سلطان محمود جګړې

# شپږم څپرکی

## په مرکزي اسيا کې جګړې

### الف : سامانيانو سره د محمود اړیکې

د غزني له نیولو څخه وروسته محمود بلخ ته ولاړ او له امیر ابوالحارث منصور سره یې چې د امیر نوح ځای ناستی و، په ډیر درناوی چلند وکړ[1] امیر هم په اسمعیل باندی دده دبریالیتوب مبارکي ورکړه هغه یې د بلخ، هرات، ترمز، بست او نورو سیمو د حکمران په توګه و پیژاند خو له دې امله چې خراسان یې لاد مخه د بخارا یو نامتو عسکری قوماندان (بیګو زون بیګ)[2] ته سپارلی و،

---

[1] - د سامانیانو د مقدماتي تاریخ لنډه شرح د همدی کتاب (هـ) نښلونه کی و ګورئ.

[2] - (کرنیل میلسین)، د افغانستان تاریخ په نامه د خپل لیکل شوی کتاب په ۵۷ مخ کې وایي چې امیر نوح توزان بیګ د غزنی په حکومت مقرر کړ. حال دا چې داخبره بالکل ناسمه ده، خو هغه لامل چې د محمود پر ځای د (بیګتوزون) د مقررولو سبب شو هغه داسی و. د ۳۸۷ هـ په رجب میاشت (د ۹۹۷ جولای میاشت) کی د امیر نوح د مړینی له امله عبدالله بن محمود، بن عزیز د امیر پخوانی وزیر له محمود ←

خپل خپگان يې وښود . محمود ابوالحسن حمولي بخاراته د امير حضور ته ولیږ. چې خراسان له بیگتو زون څخه واخلي او ده ته يې وسپاري ، خو امير خپل پخواني حکم لغو نه کړ.

له دی کبله چې محمود په سولې سره د خراسان د ترلاسه کولو مایوس شو نو اراده يې وکړه چې خراسان د توري په زور وینسي .

د نیشاپور په لوري روان شو . بیگتو زون ښار پرېښود ، مرسته يې وغوښته ، امير شخصاً په خپله د هغه مرستې ته ورغی ، (سرخس) ته نژدې يې کیږدی ولگولی داخل محمود نیشاپور پرته له جگړی څخه پرېښود [1] او ـ

---

← څخه د غچ اخیستو ډیره ښه موقع وموندله (ابو منصور اسیفجانی) يې و هڅاو چې هغه سره کاشغرته ولاړ شي ایلک خان په بخارا باندې یرغل کولو ته و هڅوی او د بخارا له نیولو وروسته د خراسان د لښکر قوماندانی چې هغه وخت د محمود په لاس کې وه له ایلک خان څخه واخلي . ایلک خان د هغوی له غوښتنې سره سم بخارا ته ولاړ . لاکن په سمر قند کې يې د عبدالله او ابو منصور د بندی کولو حکم ورکړ او فایق يې د ۳۰۰۰ عسکرو په مشری د مقدالجیش په توگه بخارا ته ولیږ. ابوالحارث منصورد امير نوح زوی اړوت چې بخارا پرېږدي له آمو سیند څخه تیرشو او فایق بخارا ونیوله . خود سامانیانو له پریشانې څخه دومره اغیز من شو چې د ښار څو سبین زیرې يې امير ته ولیږل او له هغه څخه يې هیله وکړه چې بیرته راشي . امير دهغه خبره باندی اعتماد وکړ بخارا ته راغی . خو ویې لیدل چې فایق او بیگتو زون سره ښه نه دي نو ده له دغو دواړو څخه یو هم نشو اذیت کولای ، ځکه يې د خراسان د لښکرو قوماندانی بیگتو زون ته ورکړه او دواړه يې یو بل څخه جلا کړل. دا وخت محمود له اسمعیل سره په جگړه و .

[1] - عتبی په ۱۲۴ مخ کی وایې : محمود ځکه په شاولاړ چې له دې څخه ویریده چې هغه د سامانیانو د اقتدار زیان رسوونکی ونه گڼل شي او خلک ونه وایې چې د سامانیانو اقتدار او واک د محمود له خوا له منځه یو وړل شو .

( مرو رود [1] ته په شاوړلاړ . بیګتو زون یو ځل بیا نیشاپور ونیو او د ( سرخس ) په لوري د امیر لښکر و سره د یو ځای کیدو په خاطر روان شو ، خو دا وخت فایق او بیګتو زون دواړه په امیر بدګمانه شول فکر یې وکړ چې امیر به په محمود مهربان او هغه سره به یې لاس یو کړي وي نو د هغه د بې وسلې کولو لپاره یې لاره جوړه کړه [2] . کله چې امیر له یو ښکار څخه پیرته راستنید ( د ۳۸۹ هـ د صفری ۱۲ – د ۹۹۹ د فبروری ۱۲ مه ) او بیګتوزون په لاره کې ورسره مخامخ شو او د یوې مهمې مسئلې په هکله د خبرو په بهانهې خپلې خیمې ته بوت او بندی یې کړ . فایق او بیګتوزون د امیر نوح کشر ورور ( ابوالفرس عبدالملک ) د باچاهای پرتخت کیناو [3] .محمود د بندي کړای شوی امیر په پلوي او د فایق او بیګتوزون د ټکولو په خاطر د سرخس خواته روان شو ، کله چې ( مرو ) ته ورسید هغوی وتشتیدل محمود ( مرو ) کې کیږ دی ولګولی او په هغوی پسې شو،خو دا وخت د جګړې له پیل څخه مخکې سوله وشوه ، دهغې له مخې په هرات ، بلخ او نورو سیمو د محمود پاچاهی تائید او بیګتوزون د خراسان د لښکر و قوماندان شو ، په دې توګه محمود دخپل هغه هدف څخه چې مقصد یې د خراسان نیول و اود همغه مقصد لپاره وسله وال شوی و ناکام شو ، خو وایې چې له دغې سولې څخه دومره خوښ و چې

---

[1]- مرو رود په هغه ځای کې چې مرغاب سیند له غرونو څخه هوارې ته وځی پروت و.

[2]- بیهقی په ۸۰۴ مخ کې وایې : فایق او بیګتوزون ویریدل چې ابوالحارث هغوی د محمود په لاس ورنه کړی ، لکه څرنګه چې د هغه پلار امیر نوح ( ابو علی سیمجوری ) د سبکتګین په لاس روکړی و .

[3]- ګردیزی ، ۲۰ مخ . بیهقی ۸۰۴ مخ .

۲۰۰۰ دیناره یې د شکرانې په توګه خوارانو ته خیرات ورکړ[۱]. له بلې خوا د دغې سولې عمر ډېر لنډ و، په دې معنی چې (دارا بن قابوس) چې د دغې سولې پلوي نه و یو شمیر د امیر طرفداران یې و هڅول چې د محمود د پوځ هغې برخې پاندې یرغل وکړي چې د نصرله فرمان لاندې وه، د سفر لوازم یې لوټ کړل چې د غې خبرې محمود ته د جګړې کولو اړتیا ورپیښنه کړه[۲]. نو یو ناڅاپه راستون شو او د جګړې تیاری یې ونیوله خپل ورور نصر یې له لس زرو سپرو عسکرو او دیرشو پیلانو سره ښۍ خواته او څنې اعتباری صاحب منصبان یې دولس زرو سپرو عسکرو سره او څلویښتو پیلانو سره کینې خواته او په خپله له لس زرو سپرو او او یا پیلانو سره د پوځ سرکې جګړې ته چمتو او (مرو) ته نژدې د ۳۸۹ هـ د جمادی الاول په ۲۷ مه (د ۹۹۹ د مې په ۱۲ مه) نیته جګړه پیل شوه، محمود بریالی شو، عبدالملک بخارا ته وتښتید، زرګونه کسان یې و وژل شول او ۲۵۰۰ اسیر شول[۳]. ابوالقاسم کوهستان ته او بیګتوزون جرجان ته وتښتید. محمود (طوس) دابوالحارث (ارسلان جاذب) حکم لاندې پریښود[۴] او امر یې وکړ چې بیګتوزون تعقیب اوله خراسان څخه دې وایستل شي بیګتوزون څارونکي او تعقیب کوونکي تیر ایستل، خراسان کې یې

---

[۱]- ګردیزي ۲۰ مخ. بیهقی ۸۰۵ مخ. خو دا خبره نه ده ذکر شوې چې محمود ولې له دغې سولې څخه چې ظاهراً داډ ورکوونکې نه وه خوښ و؟

[۲]- عتبی ۱۲۲-۱۲۷ مخونه. بیهقی ۸۰۵ مخ.

[۳]- تجارب دریم ټوک ۳۴۲ -۳۴۳ مخونه خلیفه ته د سلطان له لیکونو څخه.

[۴]- (رینولدز) په ۳۲۲ کې ارسلان جاذب یو ملتانی نامتو او پیژندل شوی سړی لیکلی او را ورتی هم د طبقات ناصري د ژباړې د ۳۲۱ مخ په ۷ تبصره کې له ده څخه پیروي کړې ده.

هڅې وکړې چې د محمود پر ضد يو پاڅون پيل کړي خو ناکام پاتې شو نو له سيند څخه روغ رمټ پورې وت د ( غز )[۱] . د دښتې له لارې څخه بخاراته ولاړ .

محمود وروسته له دې څخه په ( ابوالقاسم سيمجوري ) پسې شو چې په کوهستان کې يې نوي ځواکونه برابر ول ، ارسلان جاذب يې د هغه په وړاندې ور و ليږه په نتيجه کې ابوالقاسم مغلوب او ( طبس ) ته وتښتيد[۲] .

په دې توگه محمود په خراسان واک وموند او خپل ورور نصر يې د دغه ولايت د لښکر قوماندان وټاکه او په خپله بلخ ته روان شو چې هلته په بخارا کې تيريدونکې پيښې وڅاري . له دې ځای څخه يې د خپلې سوبې او د عبدالملک د ماتې راپور عباسي خليفه القادر باالله ته وليږ. خليفه هغه د ټولو فتح شويو ملکونو د حاکم په توگه ومانه او د يمين الدوله او امين الملته لقبونه يې ورکړل . د ۳۸۹ هـ ذيحجه ( د ۹۹۹ م نومبر[۳] .

په همدې ضمن کې امير عبدالملک د خراسان د بيرته نيولو په خاطر د محمود په ضد لوی ترتيبات نيول خو د ۳۸۹ هـ په شعبان ( د ۹۹۹ م اگست – جولای ) کې د فايق په مړينې سره چې د امير يو ډيرلايق[۴] جنرال و دهغه فعاليت ځند سره مخامخ شو . لږ وروسته په ۳۸۹ هـ ذيعقده ( ۹۹۹ اکتوبر ) ايلک خان بخارا ونيوله او عبدالملک

---

۱- عتبی ۱۳۱مخ .
۲- عتبی ۱۳۱ مخ .
۳- عتبی ۱۳۳ – ۱۳۴ مخونه . گرديزي ۲۲ -۲۳ مخونه .
۴- عتبی ۱۳۴ مخ ، بيهقی ۸۰۹ مخ .

يې د هغه د کورنۍ ټولو غړو سره يو ځای ونيو او د سامانيانو سلسلې ته يې د پای ټکی کيښود . خو د امير نوح يو زوی چې ( ابو ابراهيم اسمعيل المنتصر ) نوميده د ايلک خان له بندی توب څخه وتښتيد او د خپلو نيکونو د تخت د بيرته نيولو لپاره يې ډير ژر مجاهده پيل کړه . خوازرم ته ولاړ هلته هغه مخور چې لا اوس هم سامانيانو ته وفادار ول ور سره يو ځای شول . منتصر پر بخارا باندی يوه بی نتيجه حمله وکړه او بيا د نيشاپور خواته ولاړ او نصرته يې د ۳۹۱ هـ د ربيع الاول په ۲۸ مه ( د ۱۰۰۱ م د فبروری په ۲۰ مه ) ماتې ورکړه او هرات ته يې په عقب نيشنی مجبور کړ[١] .

خو محمود ډير ژر د خپل ورور مرستې ته ورغی منتصر يې جرجان ته په تښتيدو اړايست . د ۳۹۱ هـ په شوال ( د ۱۰۰۱ م سپتمبر ) کی منتصر بيرته خراسان ته راغی او نصر بيرته نيشاپور پريښود او له محمود څخه يې مرسته وغوښته . محمود ( ابوسعيد التونتاش ) د هغه مرستې ته ور وليږه ، نصر هغه سره يو ځای مخ په نيشاپور ورغی منتصر ته يې ماتې ورکړه ، منتصر بيا جرجان ته وتښتيد خو لږ وروسته بيرته راوګرځيد سرخس يې ونيو . دا ځل نصر هغه ته سرخس ته نژدې ماتې ورکړه د هغه زيات شمير صاحب منصبان چې په هغو کې ابولاقاسم سيمجوری هم و ونيول او ټول يې غزنی ته راوليږل[٢] .

---

١- عتبی ۱۳۷ مخ . ګرديزی داهم وايې وروسته له دې جګړی څخه ( هندوبچه ) د منتصرلاس ته ورغی .
٢- عتبی ۱۴۱ مخ .

منتصر بیا د بخت د آزمایلو لپاره ماورالنهرته راغی ، خو هیڅ یې هم ونشو کولای بیرته مروې ته ولاړ او د مروې حاکم هغه ( آبی ورد ) ته چې د ( غز ) دښتې سیره ده وشاړه . کله چې منتصر تول لوړې تړلې ولیدل او خپلې تولی هلی ځلی یې ناکامې شوې له محمود څخه یې مرسته وغوښته . محمود دهرات والي د هغه مرستې ته ورولیږ ، خو منتصر دغې مرستې ته انتظار نه شو ، بیا مخ په بخارا روان شو اود ۳۹۴ په شعبان ( د ۱۰۰۴ م جون ) کې یې له ایلک خان سره جګړه پیل کړه ، ماتې یې وخوړه خراسان ته راغی له سارا څخه راتیرشو او ( پل زاغوال ) ته راغی [۱] .

سلطان د منتصر له دغې اورګډې څخه او د هغو اخلال اچونکو فعالیتونو څخه چې د نوی تسخیر شوی سیمو امنیت ته یې ګواښ متوجه کاو او د خراسان په هکله د هغه د پلانونو له امله په غوسه شو . د ( فریغون بن محمد ) په قوماندانی یولوی لښکر یې هغه پسې ولیږه ، منتصر جرجان ته وتښتید ، ( نصر ) ، ( ارسلان جاذب ) او ( طغان جق ) د سرخس حاکم ورپسې شول ، منتصر جرجان کې له چا څخه مرسته ترلاسه نشوه کړای ( نسا ) ته راغی او یو ځل بیا یې په بخارا یرغل وکړ خو ناکام شو . وروسته یې د غز په دښته کې د دغې دښتې د کوچیانو د مشر ( ابن بهیج ) کیږدی ته پنا یو وړه . د ۳۹۵ هـ په ربیع الاول ( د ۱۰۰۴ م دسمبر ) [۲] کې د دغې سیمې دسیمه ایز مشر

---

[۱] - عتبی ۱۴۲ مخ . یاقوت په دویم توک ۹۰۷ مخ کی لیکی : ( زاغول ) یو کوچنی ښار و چې د ( مرو رود ) په سیمه کی و او ( پل زاغول ) هرو مرود همدغی سیمی شاوا خوا چیری و .

[۲] - عتبی ۱۴۸ مخ . خو ګردیزی ۲۵ مخ کی د ربیع الثانی میاشت لیکلی ده .

( عبدالله ماهروی نبدار ) په لمسون او هڅو ابن بهیج هغه ووژاه په دې توګه د سامانیانو د سلسلې د وروستی توپان پاڅوونکی عملیات پای ته ورسیدل ، خو نو موړی نظر هغه استقامت او هلو ځلوته چې درلودی یې دیوشه برخلیک ورړ و .

کله چې محمود د دغه بد بخت شهزاده له وژلو خبر شو ابو عبدالله او ابن بهیج یې دواړه د دغه لوی جرم په سزا اعدام کړل [1] .

## ب : محمود او د ترکستان خانان

مخکې وویل شول،کله چې محمود خراسان ونیو ، ورپسیایلک خان بخارا ونیوله اود سامانیانو سلسله یې پای ته ورسوله [2]. دغو دوو پاچاهانو یو بل ته دوستانه پیغامونه لیږل او د آموسیند یې تر منځ پوله وټاکله . محمود د دوستی د ټینګولو په خاطر دایلک خان

---

[1]- د دغې پیښې تفصیل د عتبی په کتاب کی په ۱۳۵ – ۱۴۸ مخونو کې او د ګردیزی په ۲۳ -۲۵ مخونو کی وګورئ .

[2]- دغه خانان اسلامي مؤرخینو ( افراسیابی ترکان ) او ننني لیکوالو ( قره خانیان ) بللي دي . دهغو د تاریخ پیل او د لرغونو وختونو ژوند ښکاره نه دی . عتبی ، ګردیزی او بیهقی پرته له ځینو نغوتو ، له هغوی څخه تقریباً صرف نظر کړی دی . په ابین اثیر کې هم دهغوی شرح ناځرګندة ده . د معاصرو فضلاوو ډیرکم شمیر چې د هغو دتاریخ په تشکیل کی یې هڅی کړی دي شته . ( سرهو ورته ) په ( د آسیایې شاهي انجمن مجله ۱۹۹۸ مخ ( ۴۲۷ – ۵۰۲ ) کې او میجر راورتی د طبقات ناصري ۹۰۰ – ۹۰۲ مخونه کی غلطې ویناوی کړي دي . همدرنګه وګورئ ( د منځنیو پیړیو تتبعات ) Medieval Researches کتاب ، لومړی ټوک ۲۵۱ – ۲۷۳ مخونه چې بریت ( شنایدر ) تالیف کړي دی ، وګورئ تاریخ رشیدی ۲۲۸ – ۲۸۸ او ۳۲۱ – ۳۲۳ مخونه او ( زامبور ) ۲۰۲ – ۲۰۷ مخونه . خو بارتولد د دغو خانانو د ناندریز تاریخ د ځینو اړخونو په هکله یو عالمانه بحث کړی دي .

کورته ریباران ولیږل او دهغه لور یې وغوښته او هغه هم ومنله [۱]. او سلطان د ۳۹۰ هـ کال په محرم ( د ۹۹۹ م په دسمبر ) [۲] کی ( ابوالطیب سهل بن محمدسلیمان السلوکی ) شافعی مذهبه لوی عالم د سرخس له حاکم ( طغان جق ) [۳]. سره یوځای د خپل استازي په توګه ( ازګند ) ته ولیږل او هلته د واده لوی مراسم تر سره شول او دهمدی کال [۴]. په منځ کی یې ناوي خراسان ته راوړله.

## ایلک خان سره جګړه

خوددغې خپلوي صمیمانه اړیکی ډیر ژر وشلیدې. داځکه چې ایلک خان ډیرې مودې راهیسی خراسان ته سترګې نیولې وي او د داسی فرصت په تمه و چې هغه ونیسی [۵]. نو کله چې سلطان په ۳۹۲ هـ ( ۱۰۰۵ – ۱۰۰۲ م ) کی ملتان ته لښکرې وایستې، ایلک خان د خپل پوځ دوه فرقې، یوه یې د خپل ورور ( جغرتګین ) [۶]. په مشری د بلخ او بله فرقه یې د خپل یو ځپلوان ( سباشتګین ) په مشری د خراسان د نیولو لپاره ولیږلي. جغرتګین بلخ او سباشتګین هرات

---

۱- نوموړی هماغه ( مهد چګل ) دی چې ځینو نکلونو کی یې نوم راغلی دی.
۲- جمال القرشی ( بارتولد lexrs) ۳۹ پاڼه، لوموړی مخ.
۳- عتبی ۱۹۲ مخ. په ۵۱۸ ګڼه سکه باندې چې په د ( لین پول ) د دوهم ټوک ۲۱۸ مخ کی د ( د برتش په موزیم کې د مسکوکاتو په مجموعه کی ) ذکر شوی دی، دغه نوم د ( طغان جوق ) بڼه لیکل شوی دی.
۴- عتبی ۱۹۲ -۱۹۳ مخونه.
۵- عوفی د ۳۵۷ پاڼې دویم مخ.
۶- عتبی دغه نوم ( جعفرتګین ) لیکلی دی.

ونيول [۱]. په دی توگه ټول خراسان د ایلک خان له واک لاندی راغی . محمود د ملتان په لوري له تگ څخه مخکې خپلو صاحب منصبانو ته د همداسي یوه احتمالي یرغل په هکله لازم هدایات ورکړی وو چې دهغو له مخې ارسلان جاذب خپل ځواکونه په غزنی ځای پرځای کړی وو او وزیر ( ابوالعباس فضل بن احمد ) ټولو هغو لارو کې چې له پنجشیر څخه تر بامیانو پوری تیري شوي وي او پایتخت سره تړلې وې خپل عسکر ځای پر ځای کړی وو . کله چې سلطان له دغې پیښی څخه خبر شو ، د ملتان او شاوخوا سیمو د نیولو کار یې خپلو صاحب منصبانو ته پریښود [۲]. ډیر په بیړه غزنی ته راستون شو ، د خلجیانو د بیگار ډیرلوی لښکر سره له هندوکش څخه تیر او بلخ ته ورسید [۳]. چغرتگین ښار پریښود ترمذته وتښتید . سلطان ارسلان جاذب ته امر وکړ چې له لس زره لښکر سره یو ځای په ( سباشتگین ) پسی ورو وځی ، سباشتگین هم د ارسلان جاذب په رارسیدو بخارا ته وتښتید ، خو په لاره کی د مرغاب د سیند د اوبو د ډیروالی له کبله مروې ته وروگرځید ، له دې امله چې د ( غز ) دښته چې دده او بخارا تر منځ پرته وه، ډیره سوځنده گرمی لرله [۴]. بیرته ستون شو سرخس ته راغی ، دلته

---

[۱]- بیهقی دخپل کتاب په ۲۸۸ مخ کې لیکلی چې هغه بازار چې د ( بازار عاشقان ) په نوم د محمود خاص حکم له مخې جوړ شوی و ، په همدې وخت کې وسوځول شو .

[۲]- ابن اثیر نهم ټوک ۱۳۳ مخ او عنصری ۸۰ مخ لیکی چې محمود په لاره کې له خند پرته خان غزنی ته ورساو .

[۳]- په غالب گومان همدا وخت ( آنند پال ) د هند و شاهیه کورنی یوپاچاته د خدمت عرض وکړ . وگورئ ( بیرونی ) دوهم ټوک ۱۳ مخ .

[۴]- عتبی ۲۱۵ مخ . له دې څخه ښکاري چې دغه پیښه د ۳۲۹ هـ په وروستیو کې ( ۱۰۰۲ جولای – اگست ) کی شوی وه .

د غز د قبیلی مشر محسن بن طارق غوښتل د سپاشتګین لاره بنده کړي. سباشتګین جګړه ورسره وکړه او محسن بن طارق ته یې ماتې ورکړه. غوښتل یې له قابوس څخه د مرستی د اخیستو لپاره جرجان ته ولاړ شي خو له مرستی یې هلیله وشلیده (نسا) ته ولاړ، خپل وسایل او اسباب یې هلته پریښودل، د دښتی له لاري (مروې) ته ولاړ. سلطان د اعرابو مشر (ابو عبدالله محمد بن ابراهیم الطائی) هغه ځایته پسی ورولیږ. ده هلته سباشتګین محاصره کړ کلکه ماته یې ورکړه د هغه ورور او ۷۰۰ عسکر یې ورڅخه ونیول، خو په خپله سباشتګین ژوندی وتښتید بخاراته ولاړ[1]. همدا وخت ایلک خان، چغرتګین له دولس زرو عسکرو سره د سباشتګین د ملاتړ په خاطر او پر بلخ باندې د یرغل په موخه راولیږل، خو سلطان محمود د هغو مخه ونه نیوله پریې ښودل چې بلخ ونیسی. خو وروسته چې سباشتګین ماته وخوړه بخاراته وتښتید، نو سلطان محمود بیرته بلخ ته پاملرنه واړوله او چغرتګین پس ورغی، ښارته په رسیدو سره چغرتګین و تښتید په دې توګه د ۳۹۷ هـ کال په لومړیو (۱۰۰۲ م په دسمبر – اکتوبر) کې ټول خراسان له دښمن څخه پاک شو[2]. خو بیا هم ایلک خان دخراسان د نیولو له نیت څخه ونه ګرځید او د بیا جګړې لپاره یې تیاري نیوله خپل یو خپلوان (قدرخان)[3]. یې له یو لوی لښکر سره

---

[1]- عتبی ۲۱۲ مخ. ګردیزی ۲۸ مخ.

[2]- عتبی ۲۱۲ – ۲۱۷ همدارنګه وګورئ مجمع الانساب ۳۲ پانه لومړی مخ.

[3]- عتبی (قدر خان) په ساکن دال، ګردیزی (یوسف قدر خان)، جامع التواریخ (قطورخان) او ګزیده (قیدو خان) لیکلی دی حال دا چې د هغه اصلی نوم (یوسف قدر خان) د دال په کسر سږه دی. (قدر) یوه ترکي کلمه ده او یو صفت دی ←

چې شمشیر یې پنځوس زرو ته رسید[1] مرستې ته وغوښت . بیاله آمو څخه راتیر . سلطان هم د خلجیانو . افغانانو . کردانو . ترکمنانو . غز او هندوانو له یوه ګډ لښکر سره مخې ته ور ووت دکتر[2] په ډګر کې چې له بلخ څخه دولس میله لرې دی . تم شو او د لښکر صفوف یې داسې برابر کړل چې ( التونتاش ) یې ښي خواته . ارسلان جاذب یې کیڼې خوا نصر او د جوزجان حاکم ابو نصر فریغونی یې له ابو عبدالله محمد الطایی سره د لښکر منځ کې وټاکل او د لښکر مخې ته یې پنځه سوه پیلان کړل. مقابل لوري کي ایلک خان د ښی خوا قوماندانی قدرخان ته . د کیڼې خوا قوماندانی جغرتګین ته او خپله په مرکز کی شو او دواړه لښکرو د ۳۹۸ هـ د ربیع الثاني په ۲۲مه ـ

---

← چې معنی یې ( تر ټولو مطلق العنان سلطان ) دی . نو باید له عربی ( قدر ) سره یې فرق وشي . فرخی همدا خبره د ۲۲۰ پاڼې لومړی مخ کی ویلی .

بجاه و منزلت و قدر در جهان بوده است

بهر شماره قدرخان از و فزون تر بود

ندیده خان چو قدر خان زمین ترکستان

درین سخن نه همانا که کس بود بد گمان

[1]- عتبی ۲۱۷ مخ . لاکن ګردیزی دغه شمیره څلوېښت زره شودلې دی .

[2]- ګردیزی ۷۹ مخ . فرخی په دغه جګړه کی څو څو ځایه د ( کتر ) د نوم یادونه کړې ده مثلاً د ۱۲۸ پاڼې لومړی مخ کې وایي .

آنچه او کرد بتر کستان با لشکر خان

شاه کرده است بدان لشکر در دشت کتر

( د ۱۰۰۸ م د جنوري په ۵ مه )[۱] جګړه پیل کړه. ایلک خان ډیره په زړورتیا جګړه کوله د مرئیانو په یوکوچني ډله یې د محمود د لښکر په منځ داسې یرغل راوړ چې د هغه لښکر یې وارخطايي سره مخامخ کړ، دا وخت محمود د خدای(ج) په مرسته د خپل لښکر روحیه اوچته کړه . یعنې دجګړې له ډګر څخه ووت یوې غونډۍ ته وخوت. په سجده پریوت،د الله دربار ته یې د برې دعا و کړه. بیرته په پوره ډاډ پاڅید او په نویو روحیاتو سره یې د ایلک خان د لښکر و منځ ته ځان ورساو په هغه ځای کې چې د ده لښکر مات شوی و هلته یې پیاوړی یرغل وکړ.

د ده د لښکر نورو قوماندانو هم همداسې وکړل او دښمن ته یې ډیره کلکه ماتې ورکړه . پیلانو دوی سره ډیره برخه واخیسته . ویل کیږي چې یوه پیل د ایلک خان د لښکر بیرقچي ( علم بردار ) په خپل خرطوم هواته پورته او پرځمکه یې وویشت او ومړ. نورو پیلانو د دښمن سپاره د آسونو له شا څخه راغورځول او پښولاندې یې کول، د دغې پیښې په لیدو سره دایلک خان لښکرو ویرید او په تښتیدلو یې پیل وکړ. ډیر شمیر یې ونیول شول او یو شمیر له آمو څخه په تیریدو په اوبو کې ډوب شول،د محمود لښکر ته بې شمیره غنیمت ورپه برخه

---

[۱]- ګردیزی ( ۶۹ مخ ) . عوفی ( ۳۵۷ پانه دوهم مخ ) . خوعتبی ۲۱۹ مخ کې او ابن اثیر د نهم توک ۱۳۵ مخ کې او مجمع الانساب د ۲۳۲ پانې درویم مخ کې دانیته ۳۹۷ هـ لیکلې ده . په ( الفی ) د ۳۷۳ پانې لومړی مخ کې د دغې جګړې د پیښیدو نیټه د ۳۹۷ هـ ( ۱۰۰۷ م آګست ) یعنې په اوړي کې ښودل شوې ده . خو کرښې وروسته دا کیسه چې سلطان ایلک خان په ژمي کې تعقیب کړ د مسخره ( ولچک ) له کیسې سره یوځای بیان شوې ده .

شو. د ژمي سره سره سلطان د دشمن لښکر تعقيب کړ[1] خو دا وخت د ملتان (سخپال) کې د اړ دوړ خبر راغي نو ډير ژرغزني ته راو گرځيد[2] ايلک خان هم خپل هيواد ته ستون شو دخپل له لاسه وتي شهرت د بيرته گټلو لپاره يې هلې ځلې پيل کړي او د قصدار[3] حاکم سره يې يوه پټه ژمنه وکړه او ډير زيار يې وايست چې خپل ورور احمد طغان خان او قدر خان له سلطان سره په جگړه کې ځان سره يو موټی کړي.

غالباً دايلک خان موخه دا وه چې په غين حال کې د قصدار حاکم د محمود په وړاندې پاڅوي او بيا خپله پر خراسان يرغل وکړي. خو ناکام پاتې شو، دا ځکه چې قدر خان د هغه خبره ونه منله طغان خان هم نه يوازې دا چې د ايلک خان خبره ونه منله بلکې يو سفير يې محمود ته وليږه تر څو هغه سره دوستانه اړيکې ټينگې کړي[4].

ايلک له دغې پيښې څخه دومره په غوسه شوی چې په ۴۰۱ هـ (۱۰۱۰ م) کې د خپل ورور ملک باندې يرغل و کړ خو له (اوزگند) څخه وړاندې لاړنه، د هغې درنې واورې له امله چې يو ناڅاپه و وريده شاته تگ ته اړ وت. د راتلونکی کال په پسرلی (د ۱۰۱۱ م مارچ) کې يې بيا لښکر برابر کړ خو په غالب گومان چې د دواړو مفاهمه او

---

[1]- فرشته په ۲۵ او ۲۲ مخونو کې (غالباً د بيهقی د يمينی د تاريخ له مخی) د کلک ژمي او د مسخره (ولچک) نکل چې سلطان يې له تعقيب کولو څخه د ډې کولو ته هڅاو. ليکلی ده.

[2]- عتبی ۲۲۳ مخ.

[3]- ابن اثير نهم ټوک ۱۵۹ مخ. غالباً د غرجستان حاکم شاه محمود شار هم په پټه ايلک خان سره يوځای شوی. وگورئ عتبی ۲۲۵ مخ.

[4]- عتبی په ۲۲۲ مخ کې وايي چې د ۴۰۰ هـ کال (۱۰۰۹ م اکست) په پيل کی د طغان خان له خوايو سفير غزنی ته راغی.

موافقه وشوه او جگړه پيښه نه شوه . ویل کیږي چې دوی خپله لانجه سلطان ته وړاندې کړه او محمود د دوی ترمنځ روغه وکړه [۱].

## قدر خان سره د سلطان اړيکې

ايلک خان په ۴۰۳ هـ ( ۱۰۱۲ – ۱۰۱۳ م ) کې ومړ [۲] او د ده ورور احمد طغاخان دهغه پرځای پر تخت کيناست . ده له محمود سره د دوستی اړيکې درلودې .

په ۴۰۸ هـ ( ۱۰۱۷ – ۱۰۱۸ م ) [۳] کې د احمد طغاخان له مړينې وروسته د ده ورور ابو منصور ارسلا خان چې په ( اصم ) باندې مشهورو . په تخت کيناست او خپله يوه لوريې مسعود د محمود زوی ته ورکړه [۴] . او کله چې په ۴۱۴ هـ ( ۱۰۲۳ م ) _

---

۱- عتبی ۲۴۸ - ۲۵۰ . ابن اثير نهم ټوک ۱۵۲ مخ .

۲- عتبی ۲۹۱ مخ . سرهرورتها د ۱۸۹۸ م کال چاپ د آسيائی شاهي انجمن مجلې په ۴۸۰ مخ کی د ( ساچو ) له خوا تاليف شوی د خوارزم تاريخ **Geschichte Von Khwarezm** د کتاب دويم ټوک ۱۲ – ۱۴ مخ په استناد ليکی چې ايلک خان تر ۴۰۷ هـ ( ۱۰۱۲ – ۱۰۱۷ م ) پوري ژوندی و ، داځکه چې بيهقی د خپل کتاب په ۸۴۴ مخ کی ديوه بل ايلک خان نوم هم اخيستی دی چې په همدې کال د ماروا النهر د ځينو سيمو حاکم و حال دا چې ايلک خان لقب ونه نوم . د بيلګې په توګه بيهقی ( ۲۲۱ مخ ) د سلطان مسعود له خولې په ۴۲۲ هـ ( ۱۰۳۵ ع ) کی د ( علی تګين ) زوی سفير ته داسی وايې . ( زمونږ ورور ايلک خان څرنګه دی ؟ ) اوله دغه ايلک څخه منظور د علی تګين زوی دی .

۳- ابن ثير ،نهم ټوک ۳۱ مخ .

۴- عتبی ۳۹۳ او ۳۹۴ مخونه . ابن اثير ( نهم ټوک ۱۲۰ – ۲۱۱ مخونه ) ګډوډ او مبهم بيان لري وايي چې . قدر خان او ارسلان خان په ←

کی ومړ. د ده دوه تنه خپلوان یو د کاشغر حاکم قدرخان او بل د علی تګین بخارائی [۲] ورور طغاخان د ده د تخت او تاج د نیولو لپاره یو بل سره اخته شول تر څو چې په پای کې طغاخان بریالی او د مرحوم ارسلاخان پایتخت (بلاساغون) [۳] یې ونیو.

محمود له دغې لانجې څخه په خبرېدو سره د ۴۱۵ هـ کال په منځ (د ۱۰۲۴ م په دسمبر) [۴] کی بلخ ته راغی چې د ماورالنهر پیښې وڅیړي. کله چې د طغاخان له سوبې خبر شو او د دواړه ورونو (علی تګین) او (طغاخان) له راتلونکی ورځ په ورځ زیاتیدونکی واک څخه چې یوه یې بخارا او بل یې بلاساغون نیولی و په اندیښنه کی شو څکه

---

← ۴۱۰ هـ (۱۰۱۹ - ۱۰۲۰ م) کی په خراسان یرغل وکړ، خو بلخ ته نژدی یې د سلطان له لورې ماتې وخوړه. حال دا چې محمود په ۴۱۰ کې په هندوستان کی و. وګورئ بارتولد ۲۸۰ مخ.

[۱]- بیهقی په ۷۵۵ مخ کی کاږي: سومنات ته د محمود له تګ څخه مخکی (یعنی په ۴۱۴ هـ کی چې غالباً د ارسلان خان د مړینې له کال سره برابر دی)، د خراسان خاني اړ دوړ سره مخامخ وه.

[۲]- په مجمع الانساب (۲۳۲ پانه دویم مخ) کی لیکل شوی دی چې علی تګین د قدرخان د پلار دور ورځوی و، یعنی د بغراخان د تره زوی و. وګورئ بار تولد ۲۸۰ – ۲۸۲ او ۲۸۴ ۲۸۵ مخونه.

[۳]- بلاساغون د کائن ختیځ ته د غرض البله ۴۳ درجو او صفر د قیقو او دشمال طول البلد ۷۳ درجو او ۴۰ دقیقو کی د (کراګتی) پورته خواته په مغلستان کې د (اولي اته)، شمال مشرق ته د (چو) دسیند د یوې څانګې (کراګتی) څخه پورته واقع و. وګورئ د رشیدي تاریخ ۳۲۱ مخ تبصره او بارتولد ۵۱۴ مخ.

[۴]- عتبی ۲۴۷ – ۲۵۰ مخونه او ۲۹۱ – ۲۹۴ مخونه او بیهقی ۹۸ او ۳۴۸ مخونو او ۴۱۷ او ۴۱۸ مخونو او ۷۵۵ مخونو کی څو څو ځایه مبهمی اشارې همدغې پیښې ته کړي دي.

دوی دواړو خراسان ته گوانښ پېښولای شو. نو تصمیم یې ونیو چې د دغو دواړو له یو موټې کیدو څخه مخکې دواړه له منځه یوسي. د دې کار لپاره هیڅ بهانه هم په کار نه وه داځکه چې د ماورالنهر خلکو علی تگین له ظلم څخه سلطان ته شکایتونه کړي وو، نوله دې مله سلطان ظاهراً د علی تگین د رټلو لپاره او په اصل کې د دواړو ورونو له منځه وړلو لپاره ملاوتړله [1]. ډیر ژر یې لازم چمتو والی ونیو بیړۍ یې چمتو کړې [2] (دلته یوه کرښه په بشپړه توگه نه لوستل کیږي) خپل پوځونه یې له سیند څخه پورې ایستل او د علی تگین د ځای پر لورې مخ په سمرقند ورغی. په لاره کې التونتاش د خوارزم شاه او ځنې سیمه ایز قومي مشران هم ورسره یو ځای شول او لوی پوځ جوړ شو سمرقند ته نژدې یې اردوگاه جوړه کړه د لشکر مخه کې یې ۵۰۰ جنگي پیلان کړل، خو علی تگین پرته له جگړې څخه، سمرقند پریښود او د تښتید. سلطان خپل خزانه دار (سبکاتگین) ورپسې ولیږ، علی تگین په لاس ورنغی خو دهغه د کورنۍ غړي چې هغوی

---

[1]- گردیزی ۸۱ مخ، خو په روضه (۷۷۷ مخ) کې لیکل شوي چې علی تگین دری لپاره چې خان ته (دلوی خان) پرتم او ویاړ وگټي، قدرخان باندی یرغل وکړ او قدرخان محمود په ماورالنهر باندی یرغل کولو ته و هڅاو او ورته اویې ویل که چیری علی تگین ته وخت په لاس ورشي نوخراسان ته به لوی گوانښ پیښ کړي، همدا لامل وچې سلطان محمود سمر قند ته ولاړ او هلته یې قدر خان ښه هر کلي وکړ. ابن اثیر دا برخه ناځرگنده پریښې ده.

[2]- گردزی په ۸۱ مخ کې ددغه پله جوړول داسې بیانوي: بیړۍ یې د خرمارونو په لویو لویو پاڼو چې په اوښانو یې له سیستان څخهراوړې وې و پیچلې او په اوسپنیزو زنځیرونو چې په هغو باندې د غوا خام چرم گنډل شوی و کلک کړل. او د بیړیو دننه یې د عساکرو لپاره بوس واچول. د فرخي په وینا (۲۲ پاڼه دویم مخ) دغه پل په یوه اونۍ کې جوړ او چمتو شو.

هم علي تگين پسې تښتېدل په لاره کې لاس ته ورغلل . بلکا تگين ډېر سمرقند ته راوستل او سلطان د هغوی د مقام او منزلت په خاطر هغوی سره ډېر په درناوی چلند وکړ [1] .

لږ وروسته کاشغري قدرخان سمرقند ته راغی چې له محمود سره دوستانه يو والی رامنځ ته کړي . دواړو پاچاهانو د ۴۱۲ هـ د صفري په ۲۸ مه ( د ۱۰۲۵ م د اپريل په ۲۹ مه ) [2] د پنج شنبي په ورځ په ډېرو اوچتو مراسمو يو بل سره ليده کاته وکړل [3] . او د دوستي د مزي د ټينگولو په خاطر سلطان خپله لور ( زينب ) د قدرخان زوی يغان تگين ته چې وروسته بيا په بغراخان [4] مشهور شو . کوژده کړه او قدخان خپله يوه لور شهزاده محمد [5] ته ورکړه.وروسته له دې څخه سلطان غزني ته راستون شو سمرقنديې قدرخان ته پرېښود.لږ وروسته بيا علي تگين راپيدا شو، قدرخان ته يې ماتې ورکړه او سمرقند يې ورڅخه ونيو ، قدرخان يغان تگين د مرستې غوښتو لپاره محمود ته

---

[1]- گرديزی ۸۴- ۸۵ مخونه . فرخی د ۲۲ پاڼی دويم مخ . فرشته ۳۲ مخ کی په غلط ډول وايې چې خپله علی تگين ونيول شو او هندوستان کی بندي شو.

[2]- دغه نيټه البيرونی په خپل بی ساري تاريخ ( غزة الزيجات ) کی په دويمه پاڼه لومړی مخ کی چې تر اوسه نه وڅرگند ليکلی دی . خو بيهقی ليکلی چې دغه ليدنه کتنه په نوروزکی د ۴۱۲ هـ کال د محرم په پيڅمه نيټه ( مارچ ۱۰۲۵ م ) کی وشوه وگوری بيهقی ۲۴۲ ، ۲۲۲ ، ۷۰۸ مخونه .

[3]- د طبقات ناصری په ۱۱۲ مخ کی ليکل شوی دی چې په همدي وخت کی قدرخان له محمود څخه د ( سلجوق ) زوی او دهغه پلويان خراسان ته تبعيد کړي .

[4]- بهقی ۲۳۰ مخ. بارتولد ۲۷۴ اومه تبصره .

[5]- بيهقی ۲۳۰ مخ او ۲۳۱ مخ . گرديزی ( ۸۳ او ۸۴ مخونو ) کی د دغی ليدنې کتنې او دسوغاتونو د راکړی ورکړي مفصله شرح ليکلی ده . وگورئ بل اثر ، بار تولد ۲۸۳ مخ .

ولیږه . خو هغه نا امید بیرته راستون شو ځکه چې دا وخت محمود د سومنات خواته تصمیم نیولی و [۱] . کله چې سلطان بیرته په ۴۱۷ هـ ( ۱۰۲۲ م ) کی له سومنات څخه راستون شو . ابوبکر حصیری یې له یولوی پوځ سره د قدرخان مرستې ته ولیږ . علیتگین بیا ماتی وخوړه او سوله یې ومنله [۲] . قدر خان سلطان محمود سره سوله ایزې اړیکی ټینګې کړی ترڅو چې په ۴۲۳ هـ ( ۱۰۳۲ م ) کی و مړ [۳] . دا وخت د محمود شهرت ټول ختیځ کی خپور شوی و او په ۴۱۸ هـ ( ۱۰۲۲ م ) کې د قتا [۵] د حاکم قتاخان [۶] او ـ [۴] .

---

[۱] - بیهقی ۹۸ او ۷۵۵ مخونه .

[۲] - بیهقی ۷۵۵ . فرخی د ۱۲۸ پاڼی دویم مخ کی د دغې پیښې په اړه ناڅرنګنده نغوته کړی خو نورو کتابونو څه نه دی لیکلی .

[۳] - بیهقی ۲۵ مخ . ابن اثیر . نهم ټوک ۲۹۰ مخ . د دغی پیښی پوره شرح په بار تولد ( ۲۷۹-۲۸۵ ) مخونو کی وګورئ .

[۴] -ګردیزی ۸۷ مخ .

[۵] - البیرونی د ۹۲ پاڼی لومړی مخ کې دخپل ( قانون المسعودی ۹ په کتاب کی لیکی چې ( قتا ) د چین شمال مغرب کې د ۲۹ درجو او ۴۰ دقیقو عرض البلد ( کیندای شی دا غلط وي ځکه اصلاً دا شمال ته په ۳۹ درجو او ۴۰ دقیقو کی پروت دی ) او د مشرق د طول البلد ۱۱۳ درجو او ۴۰ دقیقو ( د نن ورځی شرقی طول البلد ۸۸ درجی او ۵۰ دقیقی ) کی واقع و د ( جهان نامه ) ۲۰۵ پاڼی لومړی مخ سره سم ( قتا ) چې خطاهم لوستل کیږی ، یو شار و چې په ( ماچین ) یا لوی چین کې و . قتا په غالب ګومان همدا د نن ورځی . ( کوچا ) دی چې د شمال ۴۱ درجو او ۴۲ دقیقو په عرض او د مشرق په ۸۲ درجو او ۵۵ دقیقو په طول کی پروت دی . وګورئ سرهند ( Serindia ) کتاب ۱۲۳۸ مخ .

[۶] - ګردیزی ۸۵ مخ کې قیاخان لیکلی دی ،خو په قانون المسعودي کی مولف البیرونی په ۹۲ پاڼه لومړی مخ کې ( قتاخان ) لیکلی دي .

د ( قچو ) [۱] . د حاکم ایغورخان [۲] له خوا ورته سفیران راولیږل شول او له محمود سره د دوستۍ د ټینګولو غوښتونکي شول خو له دي امله چې دغه خانان مسلمان نه وو ، نو سلطان د هغوی غوښتنې ونه منلی [۳] .

## ج :- مامونیان او دخوارزم او جرجانیه سوبه

مامونیان یا جرجانیه [۴] حکمرانان اصلاً سامانیانو باج ورکوونکی و چې اسلامي مورخینو تر ۳۸۲ هـ ( ۹۹۲ م ) [۵] پوري هیڅ ځای د هغوی نوم نه دی اخیستی، خو په دغه سنه کې لیکل شوي چې

---

۱- البیروني په ( قانون المسعودي ) کی په ۷۹ پانه دویم مخ کې دغه سیمه د شمال په ۴۲ درجو او صفر دقیقو په عرض کی او د مشرق په ۱۱۱ درجو او ۲۰ دقیقو په طول کی لیکی چې د نن ورځی ۸۵ درجې او ۴۵ دقیقی مشرق طول البلد کیږي . دی وایې چې د ( حسابحکت ) په نوم هم یادیده . ( قوچو ) د یو ېي ګوري ( توپان ) ترکانو پایتخت و چې د دغه ښار کنډوالې اوس هم په ( قره خوجو ) د شمال په ۴۲ درجو د ۵۲ دقیقو په عرض او د مشرق په ۸۹ درجو او ۳۰ دقیقو په طول کی لیدل کیږي . و ګورئ د هند لرغونپیژندنه Indian antiquary لومړی ټوک ۱۷ - ۱۹ مخونه او سرهند Serindia د ( سرآرل ستین ) تالیف . دریم ټوک ۳۵۹ مخ .

۲- ګردیزی یې ۸۷ مخ کی ( بورغا خان ) او ( لوغارخان ) تلفظ کوي . مګر البیرونی ( قانون المسعودي ) کی د ۹۲ پانی دویم مخ کې هغه ( ایغورخان ) بولي چې په غالب ګومان د ( خان یو یې ګورها ) دی . د عرفي په وینا ( پرتش موزیم ، داصلی فهرست ۲۲۷۲ نمره ، ۲۲ پانه کی ( ایغور ) او ( قنا ) دواړه د چین ولایتونه شمیرل شوي او ( ایغور ) د غزو ترکمانانو دیوې قبیلې نوم و .

۳- ګردیزی ۸۷ مخ .

۴- ( ګرګانج ) د پارسی پخوانی تلفظ او ( اورګنج ) یې ننني تلفظ .

۵- عتبی ۷۷ مخ . ګردیزی ۵۳ مخ . مرزا محمد په چهار مقاله غروضي کی په ۲۴۱ مخ کی دغه نیټه په غلطه ۳۸۰ هـ ( ۹۹۰ م ) لیکلی ده .

د جرجانيه حاکم مامون بن محمد بن علی امیر نوح بن منصور سامانی ته له بخارا څخه د هغه د تښتیدو پروخت کمک کړی و . او په ابو عبدالله خوارزم شاه يې چې ابو علي سيمجوری ته يې خيانت کړی و په ۳۸۵ هـ ( ۹۹۵ م ) کی یرغل کړی او هغه يې ټکولی واو بیاییې اسیر کړ او د خوارزم سلطنت يې خپلی واکمنی پوري تړلی و [1] . مامون په ۳۸۷ هـ ( ۹۹۷ م ) کی و وژل شو او د ده زوی ابوالحسن علی يې پرځای کیناست او د محمود له خور ( کاکلجی ) سره يې واده وشو [2] ابوالحسن هم په ۳۹۹ هـ ( ۱۰۰۸ م ) [3] . کې مړشو ، او دهغه ورور ابوالعباس مامون چې یو ۲۵ کلن ځوان و د هغه پرځای پر تخت کیناست او دخپل ورور کونډه [4] ( کاکلجې) يې نکاح کړه او محمودته يې ډیر درناوی کاوه آن دا چې کله چې خلیفه القادر بالله ده ته د عین الدوله و زین الملته لقب ورکړ،ده د محمود په درناوي هغه لقب نه ښکاره کاو ( ځکه چې د غه لقب پرته د محمود له لاس لرلوده ته ورکړل شوی و ) [5] خو دغو ښواړیکو ډیر دوام پیدا نه کړ ، سلطان له ابوالعباس څخه هیله وکړه چې خطبه د ده په نوم ولولي او د خپل رئیس په توگه يې وپيژني . ابوالعباس په دی هکله د خپلو صاحب منصبانو په گډون د مشوري يو مجلس جوړ کړ ، خو هغو په گده د

---

[1]- عتبی ۷۸ ، ۹۴او ۹۲ مخونه .

[2]- بیهقی ۸۳۸ مخ .

[3]- وگوری ( و ) ضمیمه د کتاب په پای کې .

[4]- گردیزی ۷۳ مخ . بیهقی ۸۳۸ مخ . راورتی د طبقات ناصری د ژباړې په ۱۲۰ مخ کې په پنځه تبصره کې په غلطه ابوالعباس د محمود اوښی ( د میرمنې ورور ) معرفی کوي .

[5]- بیهقی ۸۳۸ مخ

بهرنیانو له تابعیت څخه انکار وکړ ، کله چې لښکر خبر شو نو په پاځون یې پیل وکړ ،خو د ډیرو زیاتو سرو زرو په ورکولو بیرته آرام شول . دغه د لنډې مودې کراري وروسته په یو توپان بدله شوه ، ابوالعباس د لښکر له وضع او د محمود له احتمالي حملې څخه په ویره کې شو نو له مجبورتیه یې د ترکستان [1] خانانو سره د یووالی طرح جوړه کړه .

کله چې د محمود جاسوسانو له دغو پټو خبرو هغه ته خبر ورکړ ، نو له یو سل زریز پوځ سره چې پنځه زره جنګي پیلان [2] یې لرل بلخ ته راغی او خوارزم یې ګواښ لاندې ونیو . د ترکستان خانانو مداخله وکړه له سلطان څخه یې د بیرته ستنیدو هیله وکړه . سلطان و ویل که چیرې ابوالعباس دهغه سلطه او اقتدار ومنې نو بیرته به ستون شي ، نو ابوالعباس تسلیمی ته اړشو او امریې وکړ چې په ( نسا ) او ( فراوه ) ایالتونه کی دې خطبه د محمود په نوم ولوستل شي . د غی خبری سلطان خوښ کړ او بیرته غزنی ته راستون شو [3] .د خوارزم لښکر ، په تیره بیا هغو پوځونو چې د الپتګین بخارائی [4] تر مشری لاندی یې ( هزار اسپ ) کې اقامت درلود ،سلطان ته د ابوالعباس اطاعت ، هیواد ته سپکاوي وګاڼه،د پایتخت خواته را روان شول،یو شمیر وژنې یې وکړی او په پای کی د ۴۰۷ هـ شوال په پنځمه ( د ۱۰۱۷ م د مارچ په

---

[1] - بیهقی ۸۴۰ – ۸۴۲ مخونه .

[2] - بیهقی ۸۴۲ مخ .

[3] - بیهقی ۸۴۲ مخ .

[4] - بیهقی . ګردیزی او ابن اثیر . خو عتبی دغه نوم ( نیالستګین ) بولي او ځینو ځایونو کې د ( نیالتګین ) په بڼه هم راغلی دی .

۱۷ مه ،[۱] يې ابوالعباس مامون هم قتل کړ او بلواختمه شوه . وروسته يې د هغه له زامنو څخه يو ۱۷ کلن زوی په تخت کنياو . خو د پاچا قاتل او د بلواکوونکی پوځ مشر الپتگين د ټولو چارو اصلي واک په لاس کې لاره او څلور مياشتی يې خوارزم اړ دوړ سره مخامخ کړی و .

کله چې محمود د خپلې خور د خاوند له ظالمانه وژلو څخه خبرشو نو د پاچاد قاتلانو د ټکولو لپاره يې په خوارزم د يرغل نيت وکړ[۲] خو تر هرڅه د مخه يې وپتبيله چې خپله خور روغه رمټه راستنه کړي نو د ترکستان خانان يې په بې طرفۍ قانع کړل[۳] بيا يې ديو لوی لښکر په مشر توب د بلخ پر لوری حرکت وکړ .

د قاتل گوند د سولې وړانديز وکړ . خو محمود دومره درانه شرايط کيښودل چې دغه گوند د هغو له منلو ناتوان و نو د دفاع تر تيبات يې ونيول او دپنځوس زره په شمير يې يو پوځ راټول کړ[۴] . سلطان د بيړيو په واسطه د آمو له لاري تر مذته واوښت او ځان يې خوارزم ته ورساوه يې د خوارزم پايتخت ( جرجانيه ) يا ( گرگانج ) په لور روان شو . په نوموړی مقابله کې يې لښکر ته ډير زيات زيان ور ورسيد د لښکر مخکنې ساتونکی چې د ابو عبدالله محمود الطايي تر مشری لاندی وو او د سارا شاوخوا کې يې کيږدی لگولې وي . کله يې چې د سهار لمونځونه کول . د ( خمارتاش ) يرغل لاندې راغلل او مغلوب

---

[۱]- بيهقی ۸۴۸ مخ . گرديزی ۷۳ مخ .

[۲]- آثار الوزرا د ۹۵ پاڼی له دويم مخ د ۱۰۱ پاڼی تر دويم مخ پوري او په همدغه کتاب کې د ( مقامات ابونصر مشکانی ) د کتاب يوه اوږده برخه اقتباس شوی ده .

[۳]- بيهقی ۸۴۹ او ۸۵۰ مخونه .

[۴]- بيهقی ۸۵ مخ . گرديزی ۷۳ مخ . آثار الوزرا د ۹۵ پاڼی دويم مخ څخه د ۱۰۱ پاڼی تر دويم مخ پوري .

شول،خو دغه ماتې په خپله د سلطان ساتونکو بیرته جبران کړه. داسې چې خمارتاش یې تعقیب او بیایې ونیو [۱].

په بله ورځ په خپله الپتګین د یو لوی لښکر په مشرۍ د سلطان د لارې د بندولو په خاطر راغی، دواړه لښکر د ۴۰۸ هـ د صفرې په پنځمه ( د ۱۰۱۷ م د جولای په دریمه ) [۲] سره مخامخ شول ډیره بده جګړه ونښته. خوارزم میان ښه جنګیدل خو په پای کې ماتې سره مخامخ شول سره تیت او پرک شول نورېې مقاومت ونشو کولای او سلطان په سوبې سره جرجانیه ته ننوت [۳].

ځوان امیر د مامون د کورنی یو شمیر نورو غړو سره یو ځای بندي شو [۴]. او د ابوالعباس د قتل کسات واخیستل شو. الپتګین د پاچا له نورو قاتلینو سره یوځای ونیول شول [۵] ځینی د قمچینو او د لاس او پښو په پرې کولو و وژل شول ځنی په دارو ځړول شول او ځنی نور د پیلانو پښو لاندې شول او جسدونه یې په کوڅو وګرځول شول او په پای کې د مرحوم امیر قبر ته نږدې په دار وځړول شول [۶]. وروسته له دغې پیښې سلطان د خوارزم او جرجانیه د حکومت په مشرې التونتاش وټاکه او د ( خوارزم شاه ) لقب یې ورکړل او ارسلان جاذب

---

[۱]- بیهقی ۸۵۰ مخ. ګردیزی ۷۳ مخ ، آثارالورزا د ۱۰۰ پانی لومړی مخ.

[۲]- ګردیزی ۷۴ مخ.

[۳]- عتبی ۳۰۱ – ۳۰۲ مخونه . بیهقی ۸۵۰ – ۸۵۱ مخونه ، آثار الوزرا د ۱۰۰ پانی دویم مخ.

[۴]- فرخي د خپل دیوان د ۳۵ پانی دویم مخ کې وایې چې د مامون کورنی د ( اوک ) او ( طاق ) کلا او ( سپهبد ) یا ( اسپهبد ) ته تبعید شوله.

[۵]- عتبی ۳۰۳ مخ ، بیهقی ۸۵۱- ۸۵۲ مخونه او ګردیزی ۷۴ مخ

[۶]- عتبی ۳۰۳ مخ ، بیهقی ۸۵۱- ۸۵۲ مخونه او ګردیزی ۷۴ مخ.

يې دهغه مرستيال کړ، په خپله بيرته غزنى ته راغى . لږ وروسته بيا د شهيد ابوالعياس خسر ابواسحق د خوارزم د بيرته ترلاسه کولو په خاطر يو لښکر برابر کړ او له پرديو سره په جګړه شو خو ناکام پاتى شو او وتښتيد . وروسته دغې پيښې ارسلان جاذب او التونتاش د درنو سزاګانو او قتلونو په واسطه د خلکو د مقاومت روح له منځه يووړ او خوارزم دسلطان د امپراطورۍ يوه له امن څخه ډکه سيمه شوه[1].

## د : - د غرشستان نيول

کله چې سلطان د ۳۸۹ هـ په جمادى الاول ( د ۹۹۹ م په مى ) کې په ( مرو ) کې عبدالملک سامانى ته ماتې ورکړه ، خراسان يې ونيو ، د يمينى کتاب مولف ابونصر محمد اعتبى يې غرشستان ته وليږ[2]. چې د هغه ځاى له حاکم ابونصر محمد ابن اسد الشار[3]. څخه سلطان محمود

[1]- بيهقى ۸۵۲ – ۸۵۳ مخونه .

[2]- دي سيمى ته غرجستان او غرجشار هم ويل شوى . ( غرج ) د هغه قوم په ژبه غره ته ويل کيږى او ( شار ) د غرجستان د حاکم لقب و ، يعنى په عمومى ډول عرجستان د ښارونو دغرونو په معنى را تلاى شي . غرجستان د ننني بادغيس په ختيځ کې په بر مرغاب کى پروت دى . وګورئى د لوستر ينج کتاب ۴۱۵ مخ ) ځينو پوهانو لکه (.د هربيلوت ) ( د مقدسي ، ترجمه ( رانکينګ ، ۴۱ مخ ، تبصره ) ) او راورتى ( د طبقات ناصرى ژباړه ، نومونو فهرست ۱۸۹ مخ ) غرشستان له ننني ګرجستان يا جورجيا سره چې ققفاز کى ده غلط کړى دى .

[3]- د ( شار ) کلمه د عتبى ( ۲۵۱ مخ ) په وينا د ښاغلى ، مقتدر او مشر په معنى ده . داسلام و لومړى توک دايرة المعارف ( ۲۴۳ مخ ) له مخى ( شار ) لرغونى پارشي له ( خششريه ) څخه اخيستل شوى ده . لومړنى شارى چې په تاريخونو کى يې نوم راغلى دى ابو نصر محمد بن اسدو . نومړي ښه ادبى دوق درولد . ←

ته بیعت ترلاسه کړی ( اشار ) دغه حکم ومانه او خطبه یې د عبدالملک سامانی پر ځای د سلطان محمود په نوم ولوستله [1]. لږ وروسته ( شار کوچک ) چې شاه محمد بن ابو نصر محمد نومید له محمود سره پ، یوسفر کی له ګډون څخه ډډه وکړه ، او یو مغرورانه ځواب یې ورکړ [2]. نو ځکه سلطان ، التونتاش ، ارسلان جاذب او د مروې حاکم ابوالحسن المانعی ته حکم وکړ چې په غرشستان برید وکړي [3]. هغوی دلارې له ستونزو سره سره د غرشستان پایتخت ( افشین ) ته ننوتل [4] مشرشار (شار بزرگ ابو نصر محمد ) تابع شو خو کوچنی شار یعنی د هغه ځوی شاه محمد مقاومت وکړ یوی لویې غرنۍ کلاته ولاړ ، یرغلګر هلته ورغلل کلا یې محاصره کړه اود منجیق په واسطه یې دیوالونه ورونړول ، د کلا

← کله یې چې زوی شاه محمد د ځوانی عمرته ورسید ،ابو نصر خپل مقام هغه ته ورکړ او خپله په څېړنه بوخت شو . کله چې ابو علی سیمجورې د امیر نوح پر ضد بغاوت وکړ ، ابو نصر هڅی وکړی چې شاري راضي کړي چې هغه خپل مشرو تاکی ، خو هغو ونه منله نو ابو نصر د هغو په سیمه یرغل وکړ او لری لری ځایونو ته یې وشړل . کله چې ابو علی له سبکتګین څخه ماتی و خوړه نو مجبور شو چې له خراسان څخه ونښتي دغه شاري بیرته خپل پایتخت ته راغلل . د هغوی د تاریخ د زیاتی کتنې لپاره وګوري د عتبی د کتاب ۲۵۱ - ۲۵۹ مخونه ، راورتی د طبقات ناصری د ژباړی ۳۴۱ مخ په کوچنۍ تبصره کې د هغوی په هکله ډیرې غلطی کړي دي .

[1]- عتبی ۲۵۴ مخ .

[2]- له همدی امله دسلطان په وړاندی ( شار کوچک ) ښکاري چې په پټه یې له ایلک خان سره یووالی دلود نوله همدې امله ایلک خان په ۴۰۰ هـ ( ۱۰۰۹ - ۱۰۱۰ م ) کې بیا هلی ځلی وکړي چې خراسان ونیسی .

[3]- د ۴۰۳ هـ ( ۱۰۱۲ ع د جولای - اګست ) لومړیو ورځو کې .

[4]- افشین دبر مرغاب ختیځې غاړی ته له مرو رود څخه د پنځوس میلو په واټن پروت دی . وګوری د ( لوسترینج ) د کتاب ۴۱۲ مخ .

خلکو په میړانه دفاع کوله خو په پای کی پاتې راغلل تسلیم شول. کوچنی شار شاه محمد دی ( شار کوچک ) له خپلو افسرانو سره یوځای اسیر او ( ستنگ ) [۱] ته ولیږل شو ، څو کاله وروسته هلته مړشو [۲]. او د هغه وزیر یې د هغه د خزانو د ښودلو په خاطر چې د هغو د پټوالی احتمال و . ډیر شکنجه کړ ، په پای کی د غرشستان پاچاهی په ۴۰۳ هـ ( ۱۰۱۲ م ) [۳]. کی دسلطان محمود امپراطورۍ پورې وتړل شو او د ( مروی رود ) د حاکم ابوالحسن المافعی تر حکومت لاندی وروستل شوه [۴] ابونصر محمد مشر شار یې غزنی ته راوست ، سلطان هغه سره ډیر په درناوي چلند و کړ . او د هغه په دربار کې یې دروند ځای درلود . سلطان دهغه د قیمتی مالونو بیه چې د غرشستان په نیولو کی نیول شوی وه، ورکړه او احمد بن حسن المیمندی د سلطان وزیر هغه ته ډیر درناوی درلود . اوبو نصر په ۴۰۲ هـ ( ۱۰۱۵ – ۱۰۱۲ م ) [۵] کی ومړ.

---

[۱]- گردیزی ۷۱ مخ . سمستنگ په بلوچستان کی دی . وگوری د لوسترنج د کتاب ۳۴۷ مخ .

[۲]- ابن اثیر د نهم ټوک ۱۰۴ مخ کی لیکی :- شاه محمد د پلارله مړینی لږ مخکې چې په ۴۰۲ هـ ( ۱۰۱۵ – ۱۰۱۲ م ) کی واقع شو مړ شو .

[۳]-گردیزی ۷۱ مخ .

[۴]- عتبی ۲۵۷ مخ .

[۵]- عتبی ۲۵۹ مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۱۰۴ مخ . ابو نصر محمد یو ډیر لوی عالم اوپوه و په عربی ډیر ښه پوهید . ابن اثیر نهم ټوک ۱۰۴ مخ لیکی چې نوموړي د محمد بن احمد الازهري ( التهذیب ) کتاب چې په عربی ژبه دی له شروع تر پای پوري لیکلی دی او مصنف سره یې یو ځای لوستی دی ، د هغه علم پالنې ډیر پوهان دهغه دربار ته مینه وال کول . د ( المقدسی ) د کتاب د ۳۰۹ مخ په تبصره کی هغه ( الفقیه ) بلل شوی دی .

## هـ :- سلطان محمود او سلاجقه

د (غز)[۱] د قبيلې يوه برخه له نورو څخه جلا شوه او د څلورمې هجرى[۲] پيړۍ په وروستۍ نيمايې کې د (دوقاق)[۳] ځوى (سلجوق) تر مشرۍ لاندې يې په ماوراالنهر کې اسلامي خاورې ته هجرت وکړ او په ۳۷۵ هـ (۹۸۵-۹۸۶ م)[۴] کې د بخارا په (نور) نومې سيمه کې ميشت شول او تل به يې سامانيانو سره په هغو جګړو کې چې خپلو ګاونډيانو سره به يې کولې مرستې کولې[۵]. د ماورالنهر سياسي فضا و اوضاع د دوى د اقتدار د زياتوالى لپاره ډيره شه برابره وه. د هجرى پنځمې پيړۍ په لومړيو کې د سلجوقى زوى (اسرائيل)[۶] له دې امله په بخارا کې د زيات نفوذ خاوند شو چې علي تګين سره يې مرسته کړې وه چې بخارا له ايلک خان اود هغه له اولادى[۷] څخه ونيسي.

کله چې محمود ماورالنهر ته ورسيد، علي تګين او اسرائيل دواړه بخارا ته وتښتيدل او علي تګين په شنو جلګو کې پټ شو. خو

---

[۱]- بارتولد ۲۵۷ مخ. د اسلام انسايکلوپيديا دويم ټوک ۱۲۸ مخ.

[۲]-ابن اثير، نهم ټوک ۳۲۱ مخ. د ګزيده ۴۳۱ مخ. بارتولد ۲۵۴- ۲۵۲ مخونه.

[۳]- د راوندي په وينا (۸۸ مخ) نوم يې لقمان و.

[۴]-ګزيده ۴۳۴ مخ، فصيحى د ۳۰۱ پاڼې دويم مخ.

[۵]- عتبى ۷۳، ۱۴۳ او ۱۴۲ مخونه.

[۶]- ګرديزى ۸۴ مخ. راوندي ۸۹ مخ، خو ابن اثيرنهم ټوک، ۳۲۳ مخ کې هغه (ارسلان) بللى دى.

[۷]- ابن اثير نهم ټوک ۳۲۳ مخ، خو د ابن اثير وينا د دغى پيښى په هکله دومره ناڅرنګنده ده چې د مطلب جزئيات ورڅخه نشي ښکاره کيداى. د سلجوقيانو د تاريخ د پيل لپاره وګورئ ابن اثير نهم ټوک ۲۲۲ - ۲۲۸ او ۳۲۱ او وروسته له هغه مخونه او د طبقات ناصري کتاب کې د (سلجوق) او (غز) عنوان لاندې. اود راوندي د کتاب ۸۲ – ۹۴ مخونه. او بارتولد ۲۵۴ -۲۵۷ -۲۹۷ او ۳۰۰ مخونه.

اسرائیل په ۴۱۶ هـ (۱۰۲۵ م) [۱] کی ونیول شو او د کشمیر په غرونو کی [۲] د کالنجر په کلاکې بندي کړای شو . په دې وخت کې ویل کیږي چې د هغه قبیله سلطان ته ورغله او د ماورالنهر د تیا کل شوی سلطان د جنرالانو ظلم څخه یې شکایتونه وکړل او له هغه څخه یې هیله وکړه چې خراسان کې دوی ته د اوسیدو اجازه ورکړي . سلطان په دې هیله د دوی غوښتنه ومنله چې له دوی څخه به عسکر اخلي. خو ارسلان

---

[۱] - گردیزی ۸۴ مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۸ او ۳۲۳ مخونه . راوندي ۸۸ ، ۸۹ مخونه ، گزیده ۴۳۵ مخ . مجمع الانساب د ۲۳۲ پاڼې دویم مخ څخه د ۲۳۷ تر لومړی مخ پورې دغه پیښې په یوه بله بڼه داسې بیانوي : وایي کله چې سلطان محمود ماورالنهر ته راغی قدرخان د سلجوقیانو له اذیت څخه ورته شکایت وکړ او هیله یې ورڅخه وکړه چې هغوی خراسان ته بوځي . سلطان د قدرخان خبره ومنله او له اسرائیل سره یې د دوستی طرح جوړه کړه ، کله یې چې هغه دلیدو لپاره راوغوښت ، اسرائیل او سلطان سره یې د خبرو پروخت وویل چې د تیرو کمان (غشي او لیندیو) له چمتو کولو څخه هدف د پوځ برابرول دي . سلطان د اسرائیل له ځواک څخه دومره شکمن شو چې امریې وکړ چې د مستې او نشې پروخت یې ونیسیاو په بندي ډول کالنجر ته ولیږل شي . هلته یې اوه کاله تیر کړل یو وخت یې هڅه وکړه چې راخلاص شي خو بیا ونیول شو او بندی شو . نو موږی همدا وخت خپلو پلویانو ته خبرو لیږ چې د سلطان په ضد پاڅیږی او دهغه قلمرو یې ونیسی . کله چې اسرائیل مړ شو پلویانو یې د اړ دوړ د جوړولو لپاره له سلطان څخه هیله وکړه چې دوی ته په خراسان کی د اوسیدو اجازه ورکړي .

[۲] - دغه (کالنجر) د جهلم شمال ته په هغه دره کی وه چې د کشمیر خواته تله ، نو څکه د بندهل کهنه ، د درې له کالنجر سره توپیرلري . وگورئ بیهقی ۸۸ . ۲۱۱ او ۲۲۴ مخونه او کلهنه دویم ټوک ۴۳۳ مخ او کتاب او م ټوک ۱۲۵۲ مخ . زیات شمیر اسلامې مورخین چې د اسرائیل د بندي کولو پیښه بیانوي وایي چې کالنجر ملتان ته نژدې پرته وه . همدغی غلطي داکتر محمداقبال ته هم (راوندي ۴۷۸-۴۷۹ مخونه) فریب ورکړ چې د هغې ځای د تاکلو هڅی یې کړې وي .

جاذب د خراسان د امنیت د خرابیدوله ویري سلطان ته عرض وکړ چې یا باید دوی ټول قتل عام شي او یا یې اقلاً ګوتې پرې شي . چې کمان ونشی کار ولای ۱. خو سلطان داله انسانیت څخه لرې چلندوګانه رد یې کړ . له دې سره د غز څلور زره کورنۍ د هغو له رئیسانو سره د آمو له سیند څخه راتیر د سارا شاوخوا یې د سرخس ، ( فراوه ) او ( آبی رود ) ۲. په سیمو کې واړول . سلطان احتیاطاً دوی د وسلو له ساتلو منع کړل او امریې وکړ چې بیلابیلو سیمو کې یوبل څخه لرې میشت شي [۳] . خو سلطان خراسان ته د سلجوقیانو د راوستلو په خطا باندې ډیر ژر پوه شو ، ځکه چې سلاجقه په هغو سیمو کې دومره مضر ثابت شول چې په کم وخت کی د ۴۱۸ هـ ( ۱۰۲۷ م ) کال په پای کې د ( نسا ) او( آبی رود) خلکو د هغوی له لاسه مجبوراً سلطان ته شکایتونه وکړ ل [۴] . سلطان ارسلان جاذب د طوس حاکم د هغوی د ټکولو لپاره ولیږ، خو سلاجقه دومره پیاوړی و چې ارسلان جاذب خپل ټول ځواک سره سره د هغو په غلی کولو کی پاتې راغی [۵] . سلطان هغه ملامت کړ او نالایق یې وباله ، خو ارسلان خپل دلیل کی وایې چې سلاجقه دومره ځواکمن شوی وو چې دیو ولایت د حاکم زور په

---

۱- ګردیزي ۸۵ مخ . ابن اثیر د خپل کتاب دنهم ټوک په ۳۲۳ مخ کې لیکی . ارسلان مشوره ورکړی وه چې سلاجقه دي د آمو سیند کی ډوب شي . وګورئ بیهقی ۵۹۷ مخ .

۲- ګردیزی ۸۵ مخ .

۳- ابن اثیر نهم ټوک ۳۲۳ مخ . طبقات ناصري ۱۲۰ مخ .

۴- ګردیزی ۸۹ مخ .

۵- ګردیزی ۸۹ مخ راوندي .

هغوی نه رسید[١] له همدې امله د ناخوښې سره سره په ۴۱۹ هـ (۱۰۲۸ م) کې شخصاً د سلاجقه د مقابلې ته ورغی او ارسلان جاذب یې له پوره ځواک سره د دښمن ټکولو ته ورولیږه داخل ارسلان بریالی شو او سلاجقه یې په (رباط فراوه) کې مات کړل د هغوی زرګونه کسان یې ونیول[٢]. او یوشمیر یې و وژل یو شمیر (دهستان) او د (بلخان) غرونو او نور یې کرمان ته وتښتیدل. قوام الدوله ابو الفوارس بن بهاوالدوله د کرمان حاکم هغوی ته په مهربانی سره ښه راغلاست و وایه او د مرستې وعده یې ورسره وکړه، خو دهغه له مړینی وروسته د ۴۱۹ هـ په ذیعقده (د ۱۰۲۸ م په دسمبر)[٣]. کی یو شمیر سلجوقی ژوندي پاتی شوي کسان اصفهان ته لاړل اود هغه ځای له حاکم علاوالدوله ابو جعفر بن کاکویه څخه یې وغوښتل چې دوی عسکری ته داخل شي. علاوالدوله هم دوی سره ښه چلند وکړ، خو دغه چلند ډیروخت دوام ونه کړ اصفهان ته د هغوی په رسیدو سره محمود علاوالدوله ته پیغام ولیږ چې دوی یو هم ژوندی پری نه ږدي، نو علاوالدوله د هغوی د نیولو لپاره یوه میلمستیا جوړه کړه او د سلاجقه و رئیسان یې پوځ ته د هغوی د شاملولو په بهانه راوغوښتل، دغه رئیسان د علاوالدوله د ترکي غلامانو په واسطه له دغې پټې نقشي څخه خبر شول نو ډیر ژر و وتل سره له دې چې د علاوالدوله خلکود هغوی د لارې بندولو کې هڅې وکړی خو سلاجقه په جګړه

---

[١]- ګردیزی ۸۹ مخ.

[٢]- ګردیزی ۹۰ مخ. ابن اثیر ۹ ټوک ۲۲۲ مخ د دغی له شرحې څخه سر سري تیرشوي دي خو د هغی د پیښیدو نتیته یې ۴۲۰ هـ لیکلی ده.

[٣]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۵۹ او ۲۲۲.مخونه.

جګړه ورځخه ولاړل او هغه د کردانو قطعه چې د هغوی د تعقیب لپاره ټاکل شوی وه هغې ته یې ماتې ورکړه او خپله آذربایجان او د (بلخان) غرونو ته وتښتیدل [1].

دغو تښتیدو د سلطان تکلیفونو کې څه کمی رانه وست. ځکه چې سلاجقه وتل له خپلو غرنیو پټوځاینو څخه په شاوخوا ولایاتو حملې کولې، نو سلطان یوځل بیا ارسلان جاذب د هغوی په تکولو پسی واستاو. نو موړی دوه کاله هغوی وپلټل خپله سلطان هم د ضعف سره سره له پلټونکو سره دوی له نیشاپور او دهستان او جرجان څخه وشړل او د خراسان له سیمو یې بالکل ورک کړل [2]. خو دغه بریالیتوب د لنډی مودې سوبه وه، د سلطان له مړینې لس کاله وروسته سلاجقه د خراسان څښتنان شول.

---

[1] - ګردیزی ۹۰ مخ ابن اثیر ۲۲۲ مخ او ۳۲۴ مخ.

[2] - بیهقی ۷۱ مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۷ مخ د سلاجقه ویو شمیر د (بلخان) غرونو ته تښتیدلی و. هغوی ته سلطان مسعود بیرته اجازه ورکړه چې خراسان ته راشي.

# اووم څپرکی

## په ایران ، سیستان او د هغو شاوخوا سیمو کې د سلـطـان مـحـمـود جګړې

### الف : د سیستان نیول

د سیستان حاکم ( ولی الدوله ابو احمد حلف بن احمد ) د یعقوب صفاري اولاده د څلورمې پیړۍ په نیمائی کله چې سامانی امپراطوری له منځه لاړه خپلواک شو . نو موړی خپل ګاونډي سبکتګین سره ښه نه و او څو ځله یې ایلک خان په غزنی [2] باندې یر غل کولو ته وهڅاو. په ۳۸۸ هـ ( ۹۹۸ م ) کې خلف خپل زوی طاهر د فوشنج د ولایت د نیولو لپاره چې بی څښتنه او بی واکمنه پاتی و ولیږ ، ( دا ځکه چې د فوشنج حاکم ( تغراجق ) مـحـمـود اسمعیل سره په جګړه کې خپلې مرستې ته ورغوښتی و). کله چې مـحـمـود پرتخت کیناست . بغراجق سره یې مرسته وکړه چې خپل ولایت بیرته ترلاسه کړي ، نو بغراجق طاهر ته ماتې ورکړه او تیښتیدې ته یې اړ اسیت ، له خوشحالۍ یې بی اندازې شراب وڅښل او د مستی په حالت کی

[1] - د مخکینو صفاریانو په هکله وګورئ ( ز ) ضمیمه .

[2] - عتبی ۱۵۲ مخ .

دښمن پسی ووت . طاهر چې دهغه خراب حال ولید بیرته پسی راوګرځید او ځای پر ځای يې و واژه [۱] .

وروسته بیا محمود د (خلف) د ټکولو لپاره تصمیم ونیو او د ۳۹۰ هـ (۹۹۹ م په دسمبر) کې دیو لوی پوځ په مشری د سیستان پر لوری روان شو . خلف د (اسپهبد) کلاته و تښتید . محمود کلا محاصره کړه . آخر کې خلف د سولې غوښتنه وکړه وعده يې وکړه چې ۱۰۰ زره دیناره به د جنګ تاوان ورکوي . محمود د هغه غوښتنه ومنله او غزنی ته راستون شو [۲] . لږ وروسته خلف خپل زوی طاهر سره په جګړه شو ، کله يې چې هغه ته ماتې ورنشوه کړای نو د سولې پیغام يې ورولیږه اوویې ویل چې نور مې عمر پای ته رسیدلی راشه او ټولی خزانې واخله ، طاهر د هغه په پیغام وغولید او پلارته ورغی په داسی حال کی چې خلف هغه په غیږ کې نیولی و د بوټو او د وښوله منځه ۱۰۰ تنه جنګې سړی راو وتل طاهر يې ونیو ، لاس او پښې يې ور وتړلې د (اسپهبد) په کلا کې يې بندي اوبیا يې وواژه [۳] .

دغه غمجنه پیښه حتی د هغه وخت ډیرو وحشي صفته اشرافوته هم بده ښکاره شوه ، د خلف ډیر شمیر صاحب منصبان او طاهر بن یزید (د پوځ قوماندان) له هغی ځخه بد اغیزمن او و ویریدل نو ځکه يې

---

۱- عتبی ۱۵۴ او ۱۵۵ مخونه . (النویری) په غلطه دغه پیښه په ۳۹۰ هـ کال کی لیکی .

۲- عتبی ۱۵۵ – ۱۵۷ مخونه . ګردیزی ۲۳ مخ .

۳- تجارب الامم دریم ټوک ۳۸۵ – ۳۸۷ مخونه ، خو عتبی د خپل کتاب ۱۵۹ مخ کې وایې چې خلف له خپلې غوښتنی ځخه د طاهر په ګټه صرف نظر وکړ . خو کله چې طاهر نافرماني وکړه ، ناخوښی يې بهانه کړه او طاهر يې د خزانی د ترلاسه کولو لپاره راوغوښت .

محمود خپلی حکمرانی ته راوغوشت [۱]. محمود د ۳۹۳ هـ په محرم ( د ۱۰۰۲ په نومبر ) کې د سیستان په لور روان شو . دا ځل خلف په یوه ډیره کلکه اونه نیول کیدونکی کلا کی چې ( طاق ) [۲] نومیده اوه کلک دیوالونه یې لرل او خواوشا یې پلنه اوژده کنده ایستل شوی وه . ایسارشو. محمود دکلا شاوخوا ونیوله او امریې وکړ چې کنده دې ډکه شي . کله چې کنده ډکه شوه د محمود لښکر د کلا په دروازه یرغل وروړ او د پیلانو په زور یې دروازه وغورځوله . یرغل کوونکو د کلا د استحکاماتو دینو لو خواته یرغل وکړ د خلف عسکر و کلکه دفاع کوله خو کله یې چې ولیدل چې د محمود پیلان یو رنگه د ده عسکر وژني . ډیر ژر و ویر ید او ژر تسلیم شو [۳]. کله یې چې خلف محمود ته په بندی ډول راوست ، د سلطان پښوته ولوید او سوغاتونه ( لکه مروارید او جواهرات ) یې ورته وړاندې کړل [۴]

---

۱- سرولیم هیگ ۱۴ مخ کی لیکی : خلف د محمود په وړاندې پاڅیدلی و ، خو دغه خبره کوم بل ماخذنه ده تائید کړی .

۲- عتبی دغه کلا د ( مدنیت العذرا ) په نوم نومولي ده ( کیدای شي وایې ډیر کلکوالی او د فتح کیدو نه وړتیا له کبله وي ) .

۳- عتبی ۱۲۰ – ۱۲۲ مخونه .

۴- په مجمع الانساب کی ( د ۲۲۴ پانی دویم مخ کی ) او په گزیده ( ۳۹۲ مخ ) کی راغلی چې کله چې خلف له محمود څخه عفو او بخشش و غوښت او هغه یې سلطان وباله نو د غی خبری سلطان دومره خوښ کړ چې له وژلو یې تیر شو . خو عتبی او په گردیزی دا خبره نه ده ذکر کړی . سیاست نامه کی ( ۴۴ مخ ) او ابن اثیر ( نهم توک ۹۲ مخ ) کی راغلی چې محمود هغه لومړنی حکمران و چې د سلطان لقب یې وگاټه . د طبقات ناصري د کتاب مولف ( ۷۵ مخ ) لیکی : محمود هغه لومړنی واکمن و چې دعباسی خلیفه له خوا یې د سلطان لقب ترلاسه کړ ، خو وگوری او مقایسه کړی له بار تولد سره ۲۷۱ مخ .

محمود يې له وژلو تير شو او د ده ټوله شتمني يې بيرته ورکړه اود هغه له غوښتنې سره سم يې جوزجانان ته وليږ[۱]. داوخت يې د چارو واکې ( حاجب قنجې ) ته وسپارلې او په خپله بيرته غزنى ته راوګرځيد[۲].

د محمود له بيرته راستنيدو ډير وخت نه وتير چې خبر را ورسيد چې په سيستان کې د هغه پر ضد لوى شورش او اړ دوړ پيل شوى دى نوله همدې امله د ۳۹۳ هـ په ذيقعده ( ۱۰۰۳ م په سپتمبر ) کې له خپل ورور نصر، التونتاش او ابو عبدالله محمد سره يو ځاى دلس زرو پوځ په مشرى هغى خواته روان شو.

شورشيان د ( او ک UK ) [۳] په کلکه کلا کې پټ شول. سلطان کلا را ايساره کړه. کلا کې پټ شوى کسان د ۳۹۳ د ذيحجې په ۱۵ مه د

---

۱- سروليهم هيګ ( ۱۴ مخ ) په غلطه ليکى چې محمود خلف ته دسيمى حکومت ورکړ. کله چې خلف جوزجانانو کې اوسيد په ۳۹۷ هـ ( ۱۰۰۲ - ۱۰۰۷ م ) کې څرګنده شوه چې له ايلک خان سره چې هغه وخت له محمود سره په جګړه و ، پټ ليکونه ليږى را ليږى ، نو څکه ګرديز ته تبعيد شو او د ۳۹۹ هـ په رجب ( ۱۰۰۹ مارچ ) کې مړ شو. سلطان دهغه ټول مشخص املاک د هغه زوى ابو حفص ته ورکړل. خلف د دومره ورانکارى سره سره با استعداد. سړى و . ادبى ذوق يې درلو او عالم خلک وربانډى ګران و آن دا چې (باخرزى) هغه د شاعرانو په ډله کې شميرلى دى. د ده در بار د وخت دعالمانو ، فاضلانو او اديبانو د کيناستومرکز و. ويل کيږى چې د ده قرآن شريف د تفسير او تاليف او په قرانکريم د شرح ليکلو باندى ديرش زره ديناره مصرف کړل چې دا په سلو ټوکوکى و. وګورئ عتبي ۱۲۳-۱۲۲ مخونه. جرباذقانى ۲۵۳ مخ او ابن اثير نهم ټوک ۱۲۳ مخ.

۲- عتبى ۱۲۸ مخ.

۳- ګرديزى ۲۷ مخ. راورتى : د طبقات ناصري ژباړه ۱۴ ټوک ۴۵ مخ. عتبى اوياقوت ( لومړى ټوک ۲۱۰ مخ ) کې دغه کلا د ( ارک Ark ) په نوم ياده کړى ده.

جمعې په ورځ ( د ۱۰۰۳ د اکتوبر په ۱۵ مه ) د محمود په فوځ ناڅاپي يرغل وکړ . خوناکام شول بيرته کلا ته ننوتل . د سلطان عسکرو د شپې په تياره کې زينه جوړه کړه او مخکې له دې چې دښمن خبر شي د کلا برجونه يې ونيول .ډير ار دوړ کوونکي يې ونيول اوزرگونه نور يې و وژل نورو تښتيدل . وروسته له دې څخه محمود د سيستان ولايت خپل ورور نصرته وسپاره او خپله غزنى ته راوگرځيد[1] .

## ب : د غور نيول

تولې هغه غرنۍ سيمې چې د هرات ختيځ او جنوب ختيځ او د غرشستان جنوب او د جوزجانان جنوب ته پرتې وې ، غور يا غورستان ورته ويل کيد[2] . د دغو سيمو شاوخوا د اسلامي فاتحانو تابع شوی و ، خو د هغو سيمو مرکزی منطقی له دی امله چې ورتگ ورته ستونزمن و هماغسې آزادې پاتې وې[3] . سبکتگين د دغې سيمې د نيولو لپاره تل هڅې کولې خو په وروستيو کې يې وکولای شول چې خپل واک په ختيځ غورستان ټينگ کړي . سره له دې چې د ( منديش ) حکمران ابن

[1] - عتبی ۱۲۸ – ۱۷۰ مخونه . گرديزي ۶۷ مخ .

[2] - ( ليترينج ، ۴۱۲ مخ د اصطخری په وينا ( ۲۷۲ او ۲۸۱ مخ ) فقط د غور شاوخوا اوسيدونکو اسلام منلی و ، خو د غور دننه سيمو خلک د کفر په حالت کې پاتی وو .

[3] - گرديزی ۴۲-۴۷ مخونه او بيهقی په ۱۳۴ مخ کې ليکي چې د ۳۶۹ هـ کال ( ۹۷۹ – ۹۸۰ م ) شاوخوا کې له نيولو وروسته شاتگ ته اړ شو .

سوري[1] د هغه واکمني په نوموړې سيمه کې ومنله[2] . خو د سبکتګين له مړينې وروسته يې د دښمن چلند پيل کړ کله به يې تاکل شوی خراج نه ورکاو ، کله بې يې د کاروانونو لاربند وله او کله به يې هم د سلطان له هغو رعاياو څخه چې د غور شاوخوا اوسيدل د سرسلامتې محصول اخيست[3] د دغو سيمو حاکمان هم ورسره جنګيدل . خود هغو په رارسيدو سره به ابن سوري د پيچومو او غرونو شاته پټ شو . په ۴۰۱ هـ ( ۱۰۱۱ م )[4] کې سلطان په خپله د غور په خوا روان شو ، د هرات حاکم ( التونتاش ) اود طوس حاکم ارسلان جاذب يې د لښکر مخې ته کړل . د دغې حملې آوازه ډير ژر خپره شوه . د غور د غرنيو سيمو خلک د خپل غرنې هيواد د ساتنې لپاره له کلا و راووتل اوځانونه يې چمتو کړل . التونتاش ته يې ماتې ورکړه ، خو سلطان ډير ژر د هغه مرستې ته ورغې غوريان يې وروسته له څو جګړو مات کړل او په دې توګه غورته دننوتلو لار پرانستل شوه او يرغل کوونکو د غور پايتخت ( آهنګران) خواته ورغلل[5]. ابن سوری کلاګانې پرېښودې غرونو او پيچو موته وخوت او لس زره پوځ سره د سلطان په

۶۰

[1] - طبقات ناصری ۷۴ او ۳۲۰ مخونه . عتبی هغه ابن سوري بللی ، خو په روضته او ځينو نورو تاريخونو کی د محمد بن سوري په نوم ياد شوی دی .

[2] - طبقات ناصري ۳۱۸ مخ . ښنديش ديوي کلانوم و ، سلطان محمد وروسته له معزول کيدو هلته بندي کړای شو . وګورئ بيهقی ۱۱ مخ

[3] - عتبی ۲۴۳ مخ . ابن اثير نهم ټوک ۱۵۵ مخ . طبقات ناصری ۳۲۰ مخ .

[4] - غالباً د ۱۰۱۱ م کال د جون مياشت .

[5] - د هغی د موقعيت د پيژندلو لپاره و ګورئ کتاب ( نزهته القلوب ) د مستوني تاليف . راورټی ( تبصره ، دطبقات ناصري ژباړه ۳۲۱ مخ ) له دغی آهنګران کلا څخه د هماغې اهنګران فکر کړی دی کوم چې د اوسنې غزني شاو خوا کی ده .

وړاندی په جګړه بوخت شو تر غرمې په شدت سره وجنګید خو سلطان له خپل عسکری مهارت او جسارت سره بریالی نه شو . نو یوي دوکي څخه یې کار واخیست هغه دا چې د تیښتې په بهانه شاته ولاړ. غوریانو چې ظاهراً دهغه په شاتګ ولید له سنګرونو راووتل او دهغه په پلټون یې پیل وکړ سلطان ډېر ژر ورباندی راوګرځید اود غوریانو په تیت وپرک لښکر یې یرغل وکړ، غوریانو د ځان له ویرې تیښته وکړه . زیات شمیر غنیمتونه ورڅخه پاتې شول ، ابن سوري او دهغه ځوی ( شیث ) له خو مهمو صاحب منصبانو سره د سلطان لاس ته ورغلل [1]

سلطان ( مندیش ) د سوري [2] . یوه بل زوی ابو علی ته وسپارله په خپله ابن سوری او شیث یې بندیان او غزنې ته یې ولیږل خو ابن سوري مرګ تر اسارت څخه ښه وګاڼه او هغه زهر چې د خپلی ګوتې له غمي لاندی یې پټ کړی و وخوړل او د لارې په ترخ کې د ( کدن **kidan** ) په سیمه کې مړ شو [3].

---

[1] - عتبی ۲۴۴ مخ .

[2] - ویل شوي چې ابوعلی د خپل پلار پروخت سلطان سره دوستې لرله . نوموړی یو لایق حاکم او سلطان سره یې د خپلې وفاداري اړیکې وساتلې ، کله چې ابن سوري ځان و واژه ، سلطان شیث د هغه د ملاتړ لپاره ورولیږ او بو علی له له خپل ورور سره ښه چلند وکړ خو په ۴۲۱ هـ ( ۱۰۳۰ م ) د خپل وراره ( د شیث د زوی ) عباس له لاسه و وژل شو . وګورئ طبقات ناصري ۳۲۹ – ۳۳۰ مخونه .

[3] - عتبی ۲۴۴ مخ . طبقات ناصری ۳۲۱ مخ . ( کدن ) د غزنی او بامیان ترمنځ لاره کی و . د کدن د ښه موقعیت د طبقات ناصری ( ۳۲۴ ، ۳۴۳ ، ۴۳۱ او ۴۳۲ مخونو ) له څو څو ځایه یا دونو له مقایسې څخه ترلاسه شو . د کدن موقعیت د غور شمال غرب ته د مندیش موقعیت لوستونکی ته وریادوي .

ترديې وخت پورې يواځې ختيځ غور فتح شوی و . په ۴۰۵ هـ ( ۱۰۱۵ م ) [۱] کې سلطان د غور و جنوب شرقی ایالات [۲] یعنی ( خوابن Khwabin خواته روان شو څو کلا ګانی يې ونيولې بيرته غزنی ته راستون شو [۳] . سلطان محمود وروسته له څو کلونو خپل زوی مسعود چې د هرات حاکم و د غور د شمال غربی ایالت چې په تب Tab مشهور و وګوماره [۴] . مصعود د ۴۱۱ هـ کال د جمادی الاول په لسمه ( د ۱۰۲۰ م د دسپتمبر په لومړی ) له هرات څخه حرکت وکړ او په شپږو ورځو کې د غور سرحد ته ورسيد هلته د غور جنوب غربی او شمال شرقی سيمو له خانانو هريو ابوالحسن خلف [۵] او ( شيروان ) [۶] . سره يو ځای شو او ځواک يې دوه برابره شو د هريرود بنې غاړه باندی پرمخ ولاړ او د ( برتر ) او ( ازان ) [۷] غرنی کلا وي يې ونيوې ( تب ) ته په نژدی کيدو يې خپل استازی د تب حاکم ته وليږ چې هغه

---

[۱]- غالباً د ۱۰۱۵ م کال د می مياشت .

[۲]- د بيهقی ( ۱۲۷ مخ ) په وينا ( خوابن ) د بست او زمينداور شمال لوري ته واقع و ،او ابوالحسن خلف ( چې په غورباندی په ۴۱۱ هـ ( ۱۰۲۰ م ) کې د شهزاده مسعود په يرغل کی له شهزاده سره و ) د غور د يوې برخی حاکم و .

[۳]- بيهقی ( ۱۲۷ مخ ) . نور واخځوو د دغه سوق الجيشی ذکر نه دی کړی .

[۴]- بيهقی ۱۲۹ مخ . مولف و نشو کولای چې د دغې سيمی ځای وټاکې ځکه چې اسلامي جغرافيه پوهانو د دغې سيمی نوم ډير کم اخيستی دی خو هغه څه چې روښانه دی هغه دا دی چې دا سيمه غرشستان ته نژدی پرته ده . ( بيهقی ۱۳۳ مخ ) .

[۵]- بيهقی ۷۹۵ مخ کی وايي چې د ابوالحسن اراضی د هرات او غزنی ترمنځ وې په غالب ګومان چې نوموړی د ( خوابن ) حاکم و .

[۶]- د بيهقی ۱۲۸ مخ په وينا د شيروان اراضي غرشستان سره نښتي پرتې وي .

[۷]- د بيهقی ۱۵۹ مخ . عنصری ۸۲ مخ . هيڅ يو جغرافيا پوه د دغو ځايونو نومونه نه دي اخيستي . داځکه چې غالباً دا په کومو مهمولاروکی نه دي واقع شوي .

تسليم کيدوته وبولی .خو هغه زيږ ځواب ورکړ . نو مسعود تب ته ورننوت د مخی څو کلاوې چې مقاومت يې کاو ونيولی . د تب حاکم له ويرې تسليم شو وعده يې وکړ ټولې هغه کلاوې يې چې د غرشستان پرلوری نيولې بيرته سلطان ته ورکوي [1] مسعود له دې ځايه د بلی کلا چې ( توره ) [2] نوميده.نيولوته روان شو وروسته له يوې هفتی کلک جنګ څخه يې هغه ونيوه هغه يې خپلو منصبدارانو ته وسپارلې خپله هرات ته ستون شو . دلارې په ترڅ کې يې دَ ماراباد Marabad [3] په سيمه کې هغه خراج ( چې زياتره يې وسلې وي ) [4]. او د غور حاکم د تابعيت د شرط په توګه ورته ليږلی وي ترلاسه کړی . په دی توګه ټول غور ( پرته له کم شمر ناقابل ورود وداخلې برخو ) د سلطان واک لاندی راوستل شو [5].

## ج : محمود او د قصدار حاکم

د قصدار حکومت چې د نني بلوچستان په شمال شرقی کی و د غزنې له توابعو څخه شميرل کيد . په ۴۰۱ هـ ( ۱۰۱۰ – ۱۰۱۱ م ) کی

---

[1] - بيهقی ۱۲۸ – ۱۳۳ مخونه . نورو ماخذونو دغه پيښه نه ده بيان کړی . د اسلام انسايکلو پيديا دويم ټوک ۱۴۱ مخ کی سهواً ليکلی چې دغه ير غل په ۴۰۱ هـ ( ۱۰۱۰ - ۱۰۱۱ م ) کی د غرشستان په وړاندې وشو .

[2] - بيهقی ۱۳۳ مخ . ممکن ( تور ) هماغه ( ګذر ) يا کدر Kudar وي چې عنصري په خپل ديوان کې په ۸۲ مخ کی بيان کړی . جغرافيه پوهانو دانوم نه دی ذکر کړی .

[3] - بيهقی ۱۳۴ مخ کی وايې چې ( ماراباد ) له هرات څخه تقريباً لس فرسخ ( ۳۵ ميله ) لری واقع و وګوری لوسترينج ۴۱۰ مخ .

[4] - غور هغه وخت په خپله وسله کې نامتوو .

[5] بيهقی ۱۳۳ او ۱۳۴ مخونه .

د قصدار حكمدار د ايلك خان [۱] په لمسون له دښمنۍ ډک چلند غوره کړ او د خراج له ورکولو يې ډډه وکړه. سلطان په د ۴۰۲ هـ په جمادی الاول (د ۱۰۱۱ م دسمبر) [۲] کې دهغه په وړاندې لښکر وروست او قصدار يې محاصره کړ. بالاخره د قصدار حكمدار (حاکم) تسليم شو اد کلني خراج د ورکولو له وعدې پرته يې داهم ومنله چې پنځلس پيلان او ۱۵ ميليونه درهم [۳]. هم د جنګ د تاوان په توګه سلطان ته ورکړي. سلطان هم د سولې شرايط ومنل باج يې پرې وتاکه او غزنې ته راستون شو [۴].

د ګوارای [۵] او نور او تيرات د سيندونو [۶] خلکو د زمري عبادت اولمانځنه.

---

۱- ابن اثير نهم ټوک ۱۵۹ مخ

۲- ابن اثير نهم ټوک ۱۵۹ مخ. د دغه لښکر ايستلو نېټه د عتبی په چاپ شوي کتابونو کې نه ده راغلې. خود (اليمني) په شپږم ټوک کې ۱۳۲ مخ کې اود عتبی په ځينو قلمي نسخو کې راغلې ده.

۳- عتبی ۲۵۰ – ۲۵۱ مخونه. خو داسې ښکاري چې د دغو پيسو په اندازه کې ډېر زيات زياتوالی شوی دی.

۴- عتبی ۲۵۰ – ۲۵۱ مخونه. ابن اثير نهم ټوک ۱۵۹ مخ. ګرديزي د دغه لښکر شميرنه دي ښودلې.

۵- ګرديزي ۲۸ مخ.

۶- نور او قيرات د لغمان شمال ته په كافرستان (ننني نورستان) کی د دوسيندونو نومونه وو. وګورئ البيروني لومړی ټوک ۲۵۹ مخ. راورټي په (د افغانستان په هكله يادښتونه) کې په ۱۰۸ او ۱۳۵ مخونو کې او په هغه نقشه کې چې د هندوستان او افغانستان تر منځ د سليمان غرونه پکې ښودل شوي دي دغه سيمه ښودلې. راورتي د طبقات ناصري په ژباړه کې (۴۵ مخ کی)، ليکلي چې دغه سيندونه د درونتې په سيمه کې د کابل سيند سره يو ځای شوي دي ←

کولو [۱] کله چې دا خبر سلطان واورید .نو تصمیم یې ونیو چې دغه ځایونه ونیسي او خلک یې اسلامته راوبولي نو د ۴۱۱ هـ په

## د : د قیرات او نور د سیندونو نیول

د گوارای [۲] او نور او تیرات د سیندونو [۳] .خلکو د زمري عبادت اولمانځنه ـ

---

← دا غلطه ده ځکه چې درونته ډیره کوزه واقع ده . فرشته په ۳۱ مخ کی په غلطه دغه دوه سیندونه ، ناردین ، او ، قیرات ، نومولي دي او دغه لښکر ایستل یې له هغه لښکر ایستلو سره غلط کړی چې محمود ، ناردین ، یا ، نندنه ، ته تر سره کړی وو . کنگهم ، لرغونی جغرافیا ، ۳۳۸ – ۳۴۴ مخونو کې ، نور ، د ، نراین پور، په توگه د ،الوار، ریاست کی ښودلی دی او قیرات یې د ،ویرات،په بڼه له ،متسبا،سره غلط کړی دی چې د دهلی او جیپور تر منځ یوه لرغونی پاچاهي وه .

[۱] - گردیزی ۷۸ مخ د ،ابن حوقل، اویو شمیر نورو جغرافیا پوهانو له وینا څخه ښکاري چې په دغه سیمه کې د بودا دین ډیر په قوت سره رواج و . د زمري د لمانځلو معنی ، ساکیاسن ، ته اشاره ده . زمری یعنی بودا .

[۲] - گردیزی ۷۸ مخ.

[۳] - نور او قیرات د لغمان شمال ته په کافرستان ( نن‌نی نورستان، کی د دوسیندونو نومونه وو . وگورئ البیروني لومړی ټوک ۲۵۹ مخ . راورتي په ( د افغانستان په هکله یادښتونه ، کې په ۱۰۸ او ۱۳۵ مخونو کې او په هغه نقشه کې چې د هندوستان او افغانستان تر منځ د سلیمان غرونه پکی ښودل شوي دی دغه سیمه ښودلی . راورتی د طبقات ناصری په ژباړه کی ( ۴۵ مخ کی ) لیکلی چې دغه سیندونه د درونتی په سیمه کې د کابل سیند سره یو ځای شوي دي دا غلطه ده ځکه چې درونته ډیره کوزه واقع ده . فرشته په ۳۱ مخ کی په غلطه دغه دوه سیندونه ( ناردین ، او ( قیرات ، نومولي دي او دغه لښکر ایستل یې له هغه لښکر ایستلو سره غلط کړی چې محمود ( ناردین ، یا ( نندنه ، ته تر سره کړی وو . کنگهم ، لرغونی جغرافیا ، ۳۳۸ – ۳۴۴ مخونو کې ( نور ، د ( نراین پور، په توگه د ←

کولو [1] کله چې دا خبر سلطان واورید .نو تصمیم یې ونیو چې دغه ځایونه ونیسي او خلک یې اسلامته راوبولي نو د ۴۱۱ هـ په
د گوارای [2] او نور او تیرات د سیندونو [3] خلکو د زمري عبادت اولمانځنه کولو [4] کله چې دا خبر سلطان واورید .نو تصمیم یې ونیو چې دغه ځایونه ونیسي او خلک یې اسلامته راوبولي نو د ۴۱۱ هـ په

---

← (الوار) ریاست کی ښودلی دی او قیرات یې د (ویرات)په بڼه له (متسبا)سره غلط کړی دی چې د دهلی او جیپور تر منځ یوه لرغونی پاچاهي وه .

[1] - گردیزی ۷۸ مخ د (ابن حوقل) اویو شمیر نورو جغرافیا پوهانو له وینا څخه ښکاري چې په دغه سیمه کې د بودا دین ډیر په قوت سره رواج و . د زمري د لمانځلو معنی (ساکیاسن) ته اشاره ده . زمری یعنی بودا .

[2] - گردیزی ۷۸ مخ .

[3] - نور او قیرات د لغمان شمال ته په کافرستان (ننني نورستان) کی د دوسیندونو نومونه وو . وگورئ البیروني لومړی ټوک ۲۵۹ مخ . راورتي په (د افغانستان په هکله یادښتونه ) کې په ۱۰۸ او ۱۳۵ مخونو کې او په هغه نقشه کې چې د هندوستان او افغانستان تر منځ د سلیمان غرونه پکی شودل شوي دی دغه سیمه ښودلی . راورتی د طبقات ناصری په ژباړه کی ( ۴۵ مخ کی ) لیکلی چې دغه سیندونه د دروڼتی په سیمه کې د کابل سیند سره یو ځای شوي دي دا غلطه ده ځکه چې دروڼته ډیره کوزه واقع ده . فرشته په ۳۱ مخ کی په غلطه دغه دوه سیندونه (ناردین ) او (قیرات ) نومولي دي او دغه لښکر ایستل یې له هغه لښکر ایستلو سره غلط کړی چې محمود (ناردین ) یا (نندنه ) ته تر سره کړی وو . کنگهم (لرغونی جغرافیا ) ۳۳۸ - ۳۴۴ مخونو کې (نور ) د (نراین پور) په توگه د (الوار) ریاست کی ښودلی دی او قیرات یې د (ویرات)په بڼه له (متسبا)سره غلط کړی دی چې د دهلی او جیپور تر منځ یوه لرغونی پاچاهي وه .

[4] - گردیزی ۷۸ مخ د (ابن حوقل) اویو شمیر نورو جغرافیا پوهانو له وینا څخه ښکاري چې په دغه سیمه کې د بودا دین ډیر په قوت سره رواج و . د زمري د لمانځلو معنی (ساکیاسن) ته اشاره ده . زمری یعنی بودا .

لومړيو ( ۱۰۲۰ م مي – جون )[1] کې يې هغې خواته حرکت وکړ او تيرې توروونکي . ترکانان . پښان او خاورې کيندونکي يې وگومارل چې دغه ناخرگندو سيمو ته لارې او سړکونه وکاږي او د عسکرو ورتگ هلته ممکن شي . په آخر کې د قيرات حاکم تسليم شو او له خپلو زيات شمير خلکو سره يې د اسلام دين ومانه . سلطان هم ورسره نيک چلند وکړ د خپل باج ورکوونکي په توگه يې بيرته د هغې سيمې حکومت ورته وسپاره[2] .

خو د ( نور ) خلکو د جگړې لارونيوه ، نوسلطان د خپل دربار وزير ( علي بن ارسلان القريب )[3] . د هغو مقابلې ته ورولېږ . علي هغوی مطيع کړل اود ( علي بن قدر راجوق )[4] . تر مشرۍ لاندې يې يو پوځ د هغې سيمې د انظباط او امنيت لپاره وگوماره . سلطان د اسلام د دين د ترويج او زده کړې لپاره ښوونکي وټاکل او خپله بيرته غزني ته ستون شو[5] .

---

[1]- فرشته سهواً هغه وروسته له ۴۱۲ هجرى کال ځخه ليکى .

[2]-گرديزى ۷۸ مخ .

[3]-گرديزى ۷۸ مخ . وروسته د سلطان له مړينې همدغه علي و چې شهزاده محمد يې پرتخت کيناو . وگورئ البيروني ۱۲مخ . فرشته ۳۱ مخ . کی هغه ( علي بن ارسلان جاذب ) بللى دى .

[4]-گرديزى ۷۸ مخ . فرشته هغه د ( علي بن قدر سلجوقى ) په نوم ياد کړى دى .

[5]- گرديزى ۷۸-۷۹ مخونه .

## هـ : د قبايلو پرلوري د محمود د پوځونو ليږل

د غزني اوسند [۱] د سيند د سيمو تر منځ يو شمير اوسيدونکو قبايلو تل د سلطان د قلمرو سرحدونه چور کول او له هغو کاروانو څخه يې د لاري باج اخيست چې د هندوستان او خراسان تر منځ يې تګ راتګ کاو [۲] او په ۴۰۹ هـ ( ۱۰۱۹ م ) کې کله چې د سلطان پوځونه له ( قنوج ) څخه راتير شول د کنډکونو او قطعاتو په بڼه به له درو څخه تيريدل ، هغوی ته يې کمين نيولی و . نو ځکه سلطان په همدې کال له قنوج [۳]. څخه له راستنيدو لږ وروسته په هغوی يرغل وکړ او د دې لپاره چې په غفلت کی يې ګير کړی ، داسې يې وښودله چې په بله لاره باندې ځي يو ناڅاپه راوګرځيد هغوی يې غرنيو پټوځايونو کې محاصره کړل او خونړی وژنی وشوې آن دا چې پر تله له ښځو او

---

[۱]- کرنيل ميليسن ( د افغانستان تاريخ ۷۲ مخ ) دغه يرغل يې هماغه د غوريانو په مقابل کی لشکر کشی سره غلطه کړی ده او هغه خلک چې د سلطان دغه يرغل لاندی راغلی و ، د غور اوسيدونکی ( غلزيې ) بللی دي . حال دا چې هغوی نه غلزي و او نه دغور اوسيدونکی، بلکې هغه قبايل وو چې د سيند دسيند او غزني ترمنځ اوسيدل . عتبی هم خپل کتاب کی ليکلی . همدارنګه وګورئ البيرونی لومړی توک ۲۰۸ مخ او طبقات ناصری ۷۴ مخ دويمه تبصره .

[۲]- ابن اثير نهم توک ۲۱۸ مخ . ګزيده ۳۹۹ مخ . چهار مقاله ۱۸ مخ .

[۳]- عتبی ۳۱۷ مخ . ابن اثير نهم توک ۲۱۸ مخ کی دغه يوغل غالباً د ۴۰۹ هـ کال ذيحجه ( ۱۰۱۹ م اپريل ) کې ښودلې ده .

ماشومانو ډير لږ کسان ژوندي پاتې شول[۱] وروسته له دې څخه سلطان غزنی ته راستون شو[۲].

## و: زياريانو سره د سلطان اړيکې

شمس المعالی ابوالحسن قابوس بن وشمگير بن زياد[۳]. د طبرستان او جرجان حاکم د ۳۶۷ هـ په رجب (د ۹۷۸ م په فبروری) کې د خپل پلار (بهستون) پرځای د حکمداري په تخت کيناست او د ۳۱۷ هـ په جمادی الاول (د ۹۱۸ په نومبر) کې يې د مؤيدالدوله رکن الدوله بويه څخه د استرآباد په سيمه کې ماتې وخوړه او د مجبوريت

---

[۱]- عتبی ۳۱۷ مخ. ابن اثير نهم ټوک ۲۱۸ مخ.

[۲]- عتبی ۳۱۷ مخ. فصيحې ۳۲۴ پاڼه دويم مخ کی يوه بله سوق الجيشی هم د افغانانو په وړاندې په ۴۱۴ هـ (۱۰۲۳-۱۰۲۴ م) کی ليکي. خو نورو ليکوالو د هغې په هکله څه ندی ويلی.

[۳]- مرداويج ئن زياد، د زياريه سلطنت بنسټ اينبودونکی د (اسفارين شيروبه) صوبه دارو چې (ری) يې له ماکان بن کاکې څخه په ۳۱۵ هـ (۹۲۷- ۹۲۸ م) کی رابيل کړ. مرداويج (اسفار) په ۳۱۲ هـ (۹۲۸ -۹۲۹ م) کې و واژه او په خپله د قزوين او دی خاوند شو. لږ وروسته يې له ماکان بن کاکې څخه طبرستان او جرجان ونيول او د خپل واک لمن يې تراصفهان پورې پراخه کړه، خو د ده له مړينی مخکی ۳۲۳هـ (۹۳۴- ۹۳۵ م) د اصفهان او همدان ولايتونو د (علي بن بويه) لاربښوونی لاندې بيرته خپلواکی اخيستی وه. د مرداويج له مړينی وروسته د هغه ورور شمگير د هغه پر ځای کيناست.

په ۳۲۹ هـ (۹۷۹- ۹۸۰ م) کی قابوس، فخرالدوله د (مؤيدالدوله د ده پرضد لښکر راوليږه قابوس ته يې په استرآباد کې د ۳۱۷ هـ جمادی الاول کی ماتې ورکړه او خراسان ته يې پناه گزين کړ. د زياريانو د مقدماتی تاريخ د تفصيل لپاره وگورئ د تجارب الامم لومړی ټوک څنی تبصرې او دويم ټوک او عتبی ۳۵- ۳۹ – ۱۷۰ – او ۲۷۴ -۲۷۶ مخونه او وگورئ ابن اسفنديار ۲۲۵ – ۲۳۲ مخونه او گزيده ۴۱۴ مخ.

له مخې يې امير نوح بن منصور ساماني [۱] ته پناه يو وړه . امير څو ځله بيرته په حکومت باندې دهغه د ټينگيدو هڅه وکړه خو ناکام شو .

سبکتگين هم د قابوس د ميراثي سلطنت د بيا په لاس ورتگ کې د مرستې وعده وکړه . آن دا چې له ايلک خان څخه يې مرسته وغوښته . چې په دې برخه کې کمک وکړي . خو د خپلې نقشې له عملي کولو مخکې په ۳۸۷ هـ ( ۹۹۷ م ) کې ومړ [۲] . مـحـمـود ژمنه وکړه چې د پلار وعده به پرځای کوي . خو په دې شرط چې قابوس به په تخت باندې له کيناستو څو مياشتې وروسته دلښکر کشې . مصارف ورکوي . خو قابوس د دغو مصارفو د ورکړې لپاره لږ څه زيات وخت غوښت خو سلطان چې له ورور څخه د تاج او تخت د نيولو په هڅه کې و د دغې مودې منلو څخه يې ډډه کوله . قابوس له دغه چلند څخه مرور شو ، نو ټول عمر يې مـحـمـود سره کينه په زړه کې وساتله [۳] .

قابوس دهغه اړ دوړ له امله چې د فخرالدوله د مړينې له امله پيښ شو استعفی وکړه او د ۳۸۸ هـ په شعبان ( ۹۹۸ م ) [۴] کې يې جرجان ونيو . خو بيرته يې ورو ورو په طبرستان او ( جبال ) باندې واکمني ومونده . خو په ۴۰۲ هـ ( ۱۰۱۱ - ۱۰۱۲ م ) کې يې د هغه ظلم او استبداد له امله چې شروع کړی و ، د عسکرو له خوا بې وسلې او پرځای يې د ده ځوی منوچهر پر تخت کينول شو [۵] .

---

[۱] - تجارب ،دريم ټوک ، ۱۵ مخ ، عتبی ۳۵ مخ .

[۲] - عتبی ۱۷۱ مخ .

[۳] - عتبی ۱۷۱-۱۷۲ مخونه .

[۴] - عتبی ۱۷۲-۱۷۴ مخونه .

[۵] - عتبی ۲۷۴-۲۷۷ مخونه . ابن اثير نهم ټوک ۱۹۷ مخ . ابن اسفنديار ۲۳۱-۲۳۳ مخونه . قابوس په ۴۰۳ هـ ( ۱۰۱۲ - ۱۰۱۳ م ) کې يعنی له ←

سلطان د قابوس د بل ځوی ( دارا ) څخه چې پلار سره یې شخړه کړې وه ، غزنی ته راغلی و .ملاتړ وکړ[۱] د ارسلان جاذب په مشري یې پوځ برابر کړ تر څو هغه پر تخت کېنوی خو منوچهر سوله وکړه او د محمود مشرتوب یې ومانه او وعده یې وکړه چې هر کال به پنځوس زره دیناره د خراج په توګه ورکوي.

له دې څخه لږ وروسته سلطان خپله لور هغه ته په نکاح کړه[۲]. منو چهر محمود ته وفادار پاتې شو او دسلطان دنورو باجګذارانو په شان یې کله کله په جګړو کې ورسره برخه اخیسته[۳] او په کال ۴۲۰ هـ ( ۱۰۲۹ م ) کې کله چې محمود د ( ری ) د ییښو د ځارنې په خاطر جرجان ته روان شو،منوچهر په خپل سلطنت کی هغه ته ډیر ښه راغلاست و وایه او څلوېښت زره دیناره سوغات یې ورکړ. له دې څخه لږ وروسته خبر راورسید چې مجدالدوله بندي شوی دی ، نو سلطان له جرجان څخه ری ته راوخوځید . منوچهر د ( ری) له سقوط څخه په ویره کې شو چې کیدای شي سلطان د ری له نیولو وروسته د ده سلطنت هم ونیسي، نو د دښمني چلند یې غوره کړ، له همدې امله یې د غزنی لاره چې د ده دحکومت له سیمی څخه تیریده بنده کړه او ټول پلونه یې وران کړل. سلطان د دې خبر په اوریدو په غوسه شو ، نو تصمیم یې ونیو چې غزنی ته له ستنیدو مخکې باید منو چهر ته سزا ورکړي ، نو

---

← بی وسلې کولو څخه یو کال وروسته و وژل شو . مجمل سهواً ( په ۲۱۷ پاڼه دوم مخ کې ) د هغه مړینه ۴۰۹ هـ ( ۱۰۱۸ -۱۰۱۹ م ) لیکلی ده او رابینو بیا ( مازنداران او استر آباد ۱۴۱ مخ دویمه تبصره ) کې ۴۲۴ هـ ( ۱۰۲۳ م ) لیکلی ده.

[۱]- د ( دارا ) په هکله و ګورئ عتبی ۲۸۲-۲۸۴ مخونه او یو شمیر نور مخځونه.

[۲]- بیهقی ۲۴۵ مخ او ۲۴۲ مخ. عتبی ۲۷۸ ، ۲۸۰ او ۲۸۳ مخونه.

[۳]- عتبی ۲۷۸ مخ.

د لارې د خرابوالی او د وجود ستوماني سره سره مستقیماً جرجان ته ورغی ، د محمود دغه حرکت منوچهر په ویره کی واچاو ، نو ډیره بخشنه او معذرت یې وغوښت او د دې په تاوان کی یې پنځه سوه زره دیناره تاوان ورکړ [۱] سلطان بیرته غزنی ته راوګرځید . منوچهر څو میاشتې وروسته د ۴۲۰ هـ په وروستیو ( ۱۰۲۹ م ) کی ومړ [۲].

## ز : محمود او د مکران حاکم

د مکران سلطنت چې په لومړیو وختونو کې د بویه کورنې ته تابع و و دسند او عمان د خلیج تر منځ د سمندر پر غاړه او دکرمان او بلوچستان په یوه برخه کی پروت و . کله چې د آل بویه ځواک او واکمنې پای ته ورسیده ، د مکران [۳] حکمران ( معدان ) لومړی سبکتگین او بیا محمود ته تابعیت درلود [۴] په ۴۱۲ هـ ( ۱۰۲۵ - ۱۰۲۲ م ) کې هغه

---

۱- ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۲ مخ ، فرخي د ۳۷ پاڼی دویم مخ کې په ناڅرګندډول دغی موضوع ته نغوته کړی ده .

۲- ابن اثیر نهم ټوک ۲۷۸ مخ ، خو ابن اسفندیار په ۲۳۵ مخ او حبیب السیر د دوهم ټوکه ، څلورمې برخې په ۵۹ مخ کې دغه نیټه سهواً ۴۲۴ هـ ( ۱۰۲۳ م ) لیکلی ده . ابن خلدون سهواً لیکی چې منوچهر په ۴۲۲ هـ ( ۱۰۳۵ م ) کې مړ شوی دی او د هغه وارث چې په ۴۲۱ هـ ( ۱۰۳۰ م ) کی مړ شوی هم محمود ته درناوی درلود . د زیاریانو دسلسلی ورستی تاریخ هم ناڅرنګند دی . بیهقی او ابن اسفندیار او ابن اثیر النویری او خوند میر او ظهرالدین لړ لړ خبی دهغو په هکله کړی دي . سرد نیسنن راس د ( اسیای کبیر ) دویم ټوک په ۲۰۹ - ۲۱۳ مخونو کی هم د زیاریانو د کورنی په هکله ډیرې لندی خبری کړی دي .

۳- د مکران پایتخت ( کز Kiz ) نومید او دننتی ( تربت ) کلې ته نژدې پروت و وګورئ لوسترینج ۲۳۳ مخ .

۴- بیهقی ۲۹۲ مخ .

وخت چې محمود سومنات ته ولاړ معدان مړشو چې دوه زامن ورڅخه پاتي شول. عیسی او ابوالمعسکر. دواړو دتاج او تخت پر سر جګړې وکړې چې په پای کې ابوالمعسکر مات شو او سیستان ته وتښتید [1]. کله چې محمد په ۴۱۷ هـ (۱۰۲۲ م) کې له سومنات څخه بیرته راستون شو ابوالمعسکر غزنیته ورغی او محمود هغه د مهربانی غیږ کې ونیو. عیسی د محمود د دغه نیک چلند څخه و ویرید چې کیدای شي ابوالمعسکر سره به د تخت د نیولو لپاره مرسته ورسره وکړي نو سلطان یې خپل مشر وباله او د مکران د معتبرو او مخورو څخه یې یوهئیت د نماینده په توګه سلطان ته ولیږ او خپل وورو سره یې د شخړې دلیل هم ووایه. د سلطان قهر په دې خبر کیناست او عیسی یې د مکران د حاکم په توکه و پیژاند او ورڅخه یې وغوښتل چې د خپل ورور د هوساینی وسایل برابر کړی [2]. په ۴۲۰ هـ (۱۰۲۹ م) کې عیسی د سلاجقه وپه وړاندې د محمود پریشانې ولیده نو د دښمن چلند یې ورسره پیل کړ اود مکران آزادي یې اعلان کړه. کله چې محمود خبر شو نو تصمیم یې ونیو چې ابوالمعسکر د مکران پر تخت کینوی. خو مخکې له دی عمل څخه مړ شو [3].

---

[1]- بیهقی ۲۹۱ مخ.

[2]- بیهقی ۲۹۱-۲۹۳ مخونه.

[3]- بیهقی ۲۹۱ ـ ۲۹۳. سلطان مسعود په تخت باندی ترکیناستو لږ وروسته د پلار هیله تر سره کړه. مکران ته یې یو لوی پوځ ولیږ، عیسی ته یې ماتې ورکړه وې ولژه او ابوالمعکې یې په تخت کیناو. بیهقی ۷۱ او ۷۲ مخونه. ګردیزی ۹۷ مخ. ابن اثیر نهم توک ۲۸۱ مخ.

## د ، دری ، همدان او اصفهان نیول

فخرالدوله د ری [۱] بویه ئي حاکم په ۳۸۷ هـ ( ۹۹۷ م ) کې مړشو او ۹ کلن ځوی یې [۲]. مجدالدوله د هغه بر ځای پر تخت کیناست . دهغه د کوچنی والی له کبله دهغه مور ( سیده ) چې د (شهریار) د حاکم اسپهبد رستم بن مرزبان خور وه .نائب السطنته شوه [۳]. کله چې مجدالدوله ځوان شو ، نو ویې غوښتل چې د حکومت له کارونو ښځه دخپلې مور لاسونه ورلنډ کړي ، خو موریې ټینګار کاو تر څو خبره جګړې ته ورسیده او مجدالدوله په ۳۹۷ هـ ( ۱۰۰۶ – ۱۰۰۷ م ) [۴] ناکام او بندي شو،خو لږ وروسته یې دمور واکمني ومنله او له بند خلاص شو [۵].خپل پاتی وخت یې د علم تحصیل او خوشګذراني باندې تیرکړ [۶].په خوشګذراني کی یې دومره افراط وکړ چې کله سیده په ۴۱۹ هـ ( ۱۰۲۸ م ) کی مړه شوه،نو دحکومت چارې ده ته پاتې شوې،ځان یې د ډیرو درنو او نه زغملو وړ چارو سره مخامخ ولید ،کوم

---

[۱]- د آل بویه ( د بویه کورنی ) شرح د ( ح ) په نښلوته کی راغلی ده ویې ګورئ .

[۲]- د مجمل ( ۲۵۷ پاڼی دویم مخ ) په وینا او د ابن اثیر ( نهم ټوک ۴۸ مخ ) له مخې مجدالدوله د ۳۸۹ هـ په ربیع الثانی ( د ۹۸۹ م جولای ) کې زیږیدلی دی . خو تجارب ( دریم ټوک ۲۹۷ مخ ) او ابن اثیر ( نهم ټوک ۹۳ مخ ) په غلطه لیکی چې مجدالدوله په تخت د کیناستو پر مهال څلور کلن و . وګورئ عتبی ۲۱ او ۲۸۴ مخونه .

[۳]- عتبی ۱۷۳ مخ . جرباذقانی د ۲۶۱ مخ تبصره .

[۴]- ابن اثیر نهم ټوک ۱۴۴ مخ .

[۵]- وګورئ ( ح) نښلونه .

[۶]- مجدلادوله تر پنځوس کلنی پوری د ۳۰ اولادونوخاوند شو ' وګورئ ابن جوزي د ۱۷۷ پاڼی دویم مخ او مجمل د ۲۲۲ پاڼی دویم مخ او ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۲ مخ

اداري استعداد يې هم چې درلو .د دوامداره عياشي او گوشه گيرى له امله يې له ودې پاتې و ،همدارنگه ادبى مصروفيتونو د دهٔ طبيعت دومره نرم كړى و چې هغه عسكر چې كلک انضباط سره عادت وو د ده د نرمې اداري له كبله يې اړ دوړ پيل كړ چې د ( رى ) د خلكو او حتى په خپله د مجدالدوله ژوند يې له گواش سره مخامخ كړ نو مجدالدوله له همدې ويرې له محمود څخه مرسته وغوښته [1] .محمود چې همداسې موقع لټوله [2] د هغه غوښتنه يې په ډېره خوښى و منله نو د ( حاجب على ) په مشرتوب يې اته زره سپاره عسكر د مجدالدوله [3] د نيولو لپاره وليږل خپله هم د ستوماتى او د مزاج گډوډى سره سره له مجدالدوله سره د سلاجقه و د مرستې د مخنيوي په خاطر جرجان ته روان شو [4] .على د ۴۲۰ هـ په ربيع الثانى (۱۰۲۹م) [5] . كې (رى) ته ننوت.مجدالدوله يوائى د سلوتنو سپرو په ملگرتوب هركلي ته ورغى،په توگه دې ډير په آسانى د دښمن په لاس كى پريوت،يعنى همدا چې د درناوي لپاره او د سلطان د پيغام د اوريدو لپاره له آس څخه راكوز شو نو ،فوراً د غزنويانو خيمه كې نظربندشو او على خپل عسكر د رى د دروازو نيولوته وليږل [6] او د دغى كاميابى زيرى يې

---

[1]- ابن اثير نهم ټوک ۲۲۱ مخ . گزيده ۴۲۹ مخ خو ابوالفدا د لومړي ټوک ۱۲۵ مخ كې ليكي چې د مجدالدوله پوځ له سلطان څخه د مرستې غوښتنه وكړه .

[2]- بيهقى ۳۱۹ مخ كى داهم وايې چې د سيدى د ژوند پروخت سلطان په ( رى ) باندې له يرغل څخه قصداً ډ ډه وكړه .

[3]- ابن اثير نهم ټوک ۲۲۱ مخ .

[4]- ابن اثير نهم ټوک ۲۲۷ مخ .

[5]- ابن اثير نهم ټوک ۲۲۱ مخ .

[6]-گرديزى ۹۱ مخ .

سلطان ته ولیږ ،نوسلطان له جرجان څخه ډیر ژر مخ په ری را روان شو او د ۳۲۰ هـ د جمادی الاول په نهمه (د ۱۰۲۹ م د می په ۲۰۲ مه) د دوشنبی په ورځ بې له ځنډ څخه ښارته ننوت [۱]. او بې شمیره غنیمتونه یې ترلاسه کړل چې په دې جمله کې یو میلیون دیناره نغدې پیسنی، نیم میلیون دیناره جواهر او ۲۰۰۰۰ جوړې جامې وې او دطلا او نقرې لوښی له حساب وتلی وو [۲]. وروسته یې مجدالدوله دسلطان حضور ته راوست او په زړه پورې سوال – ځواب یې ترمنځ وشو.

سلطان ورڅخه و پوښتل:

شاه نامه او دطبری تاریخ دی لوستی ؟

مجدالدوله وویل: هو.

سلطان وویل خو ستاله وضعیت او حرکاتو ښکاري چې ندی دی لوستی،آیا په شطرنج پوهیږی ؟

مجدالدوله وویل: هو.

سلطان وپوښتل: په شطرنج کې دی لیدلي چې یو پاچا بل ته ورشي ؟

مجدالدوله وویل: نه.

سلطان وپوښتل: څه شی ته اړ استې چې له ځان څخه ځواکمن څوک خپل سلطنت ته راوغواړی؟

---

[۱] - مجمع الانساب د ۲۲۲ پانی په لومړی مخ کې او گردیزی ۹۱ مخ ابن جوزی د ۱۸۸ پانی دویم مخ کی د جمادي الاول ۱۲ مه د جون دوهمه دوشنبه لیکي. لارد کرزن ایران، لومړی توک ۳۴۸ مخ) د (ری) د نیولونیته سهواً ۱۰۲۷ م لیکلی ده.

[۲] - گردیزی ۹۱ مخ. ابن جوزي ۱۷۷ پاڼه دویم مخ. مجمل ۲۲۲ پاڼه دویم مخ. ابن اثیر نهم توک ۲۲۱ مخ.

بدبخت شهزاده د پریشاني په حال کی سرکښته واچاو [۱].

سلطان هغه د هغه له ځوی (ابو دولف) سره یوځای په بندي ډول هندوستان ته ولیږ [۲]. وروسته له دی څخه سلطان د قرامطه، باطنیه او معتزله فرقې تعقیب کړي د هغو زرګونه کسان یې ووژل او ګڼ شمیر یې په زنځیرونو تړلي خراسان ته ولیږل [۳]. د هغوی کورونه یې ولټول کتابونه یې ورته وسوځول او هغه آثار چې په مذهبی چاروکې د سلطان د پابندی او سخت ګیری په هکله و، هغه یې ټول غزنی ته یو وړل [۴].
سلطان یو څه موده په «ری» کې پاتی شو او دهغه هیواد د چارو دسمون او اداري کولو لپاره یې ور کسان وټاکل او د شاوخوا سیمو حکمرانان د بیعت لپاره سلطان ته راغلل. خو په دې ټولو کې د زنجان، ابهر، سرجهان، او شهرزور د ښارونو حاکم ابراهیم بن مرزبان دیلمی چې په (سالار) باندې مشهورو له بیعت څخه سرو غړاو [۵].

---

[۱]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۲ مخ.

[۲]- ګردیزی ۹۱- ۹۷ مخونه. د ګزیده ۴۲۹ او د فصیحی د ۳۳۵ پاني لومړی مخ کې یې لیکلي چې سلطان هغوی ووژل. خو داخبره حقیقت نه لری. د ګردیزی (۹۱-۹۷ مخونو) په وینا پلار او زوی دواړه د سلطان مسعود له حکم سره سم له هند څخه غزني ته راوستل شول او درناوی یې وشو. راورتی (د طبقات ناصری د ژباړې ۸۷ مخ کی) هم د فصیحی اوګزیده غلطه فکر راوړی.

[۳]- ګردیزی ۹۱ مخ. فرخی د ۳۹ پانی لومړی مخ. مجمل د ۲۲۲ پانی دویم مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۲ مخ.

[۴]- ابن جوزي د ۷۸ پانی لومړی مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۲ مخ کی او مجمل د ۲۲۲ پانی دویم مخ کې وایي چې هغو ونو لاندی یې چې قرامطه غر غره کړل، هلته د اوښانو پنځوس باره کتابونه هم وسوځول. وګورئ د (ارشاد) کتاب د یاقوت تالیف دویم ټوک ۳۱۵ مخ.

[۵]- د دغو سیمو د موقعیت په هکله دلوسترینج د کتاب ۲۲۱ مخ وګورئ.

سلطان يو لوی لښکر د مرزبان بن حسن په مشري ـ چې د ( سالار ) يو پخوانی رقيب او دښمن و او سلطان ته يې پنا راوړې وه د سالار د ټکولو لپاره ولیږ. مرزبان د دیلم له ځينو مخورو سره د سالار په وړاندې لاس يو کړ او قزوين يې ونيو. خو کله چې سلطان غزني ته ستون شو ، سالار بيا له خپل پټونځای څخه راووت مرزبان ته يې ماتې ورکړه او قزوين يې بيا دوباره ونيو [1] . سلطان نوی نيول شوی ولايت مسعود ته ورپرېښود او امر يې وکړ چې هغه شمیر نوروولايتونه چې د بويه د کورنۍ واکمنۍ لاندی دي هم ونيول شي [2] مسعود تر هر څه د مخه له مزربان سره يو ځای ( د سرجهان ) کلا په نيولو کوشش وکړ هلته سالار خان ايسار کړی و خو د ا کار يې په زور ونشو کولای نو د کلا يو شمير ساتونکی صاحب منصبان يې د [illegible] غاتونو په ورکولو راخپل کړل و سالار د دی حال په ليدو له کلا څخه راووت او د ۴۲۰ هـ د روژې په اوله ( د ۱۰۲۹ م د سپتمبر په ۱۳ مه ) يې يرغلگرو سره جگړه پيل کړه چې ناکام او بندي شو . خو ځوی يې اطاعت وکړ او د باج ورکولو ژمنه يې وکړه [3] . مسعود وروسته له دی څخه ( ری ) ته ور وگرځيد او د همدان او اصفهان د پوره سوبې لپاره يې لښکر برابر

---

[1] - ابن اثير نهم ټوک ۲۲۲ مخ .

[2] - بيهقی ۳۵۹ مخ طبقات ناصري ۱۷ مخ . خو بيهقی ( ۲۵۸ مخ کې ) او فرخی ( د ۱۲۵ پانی لومړی مخ کی ) ليکلی چې سلطان محمود . مسعود له کم شمير عسکرو سره چې له روز مره نه اضافه کيدل ری ته وليږل .

[3] - بيهقی ۲۵۹ مخ . ابن اثير ۹ ټوک ۲۲۳ مخ .

کړ ، نو لومړی یې په همدان یرغل وکړ د علاوالدین بن کاکه ویه [۱] . ته یې ماتې ورکړه او همدان یې ونیو. بیایې د اصفهان خواته حرکت وکړ . علاوالدوله ( تستر Tester ) ته وتښتید او مسعود اصفهان په ۴۲۱ هـ ( ۱۰۳۰ جنوری ) کی ونیو [۲] . دا وخت علاوالدوله د خپل یوه خپلوان جلال الدوله په واسطه چې په بغداد کې یو مخور سړی و ، له خلیفه څخه و غوښتل چې مسعود بیرته د اصفهان ولایت کې مقرر کړی[۳] . په داسی حال کې چې همدغو خبرو دوام درلود ، د ۴۲۱ هـ د جمادل الاول په شلمه ( د ۱۰۲۰ م د می په ۲۲مه ) د سلطان محمود د مړینې خبر مسعود ته ورسید . له دې امله چې خپل ورور سره یې د تخت د نیولو پر سر د جګړی پیش بینی کوله [۴] . موقع یې غنیمت وبلله علاوالدوله یې د خلیفه د سپارښت سره سم د اصفهان حاکم کړ، په دې شرط چې هر کال به شل زره دیناره خراج ورکړي [5] .خپله (ری) ته ستون شو او د هغه حاکمیت یې حسن سلیمانی [۷] ته ورکړ اوله دی ځایه د پلار د تخت د نیولو لپاره نیشاپورته راغی .

---

[۱] - نو میې ابو جعفر محمد بن دشمن زیارو خو په ( ابن کاکه ویه ) باندې مشهور و .ابوعلی بن سینا ، معروف فیلسوف یې په دربار کې اوسید . ابن اثیر نهم توک ۲۷۹ مخ ، تاریخ الحکما د القفطی تالیف ۴۱۹ - ۴۲۲ مخونه .

[۲] - سبط ابن جوزي ۲۱۸ پانه دویم مخ . بیهقی ۲۵۹ مخ . ابن اثیر نهم توک ۲۷۹ مخ . ( سایکز ) د ( تاریخ ایران ) په نم کتاب کې په غلطه لیکلی چې اصفهان په خپله محمود فتح کړ . او دغه پیښه په ۴۲۰ هـ ( ۱۰۲۹ م ) کی شکاره کوی چې هغه وخت غزنی ته محمود بیرته نه وراستون شوی .

[۳] - ابن اثیر نهم توک ۲۷۹ مخ . بیهقی ۱۴ - ۱۵ مخونه .

[۴] - بیهقی ۱۱مخ .

[۵] - بیهقی ۱۴-۱۲ مخونه .

[۷] - بیهقی ۱۹-۲۵ مخونه .

# اتم څپرکی

## په هندوستان کې د سلطان جګړې

**الف : د ویهند د هندو شاهیه سلسلې له راجاګانو سره دسلطان اړیکې**

هندوستان لامخکې د الپتګین او دهغه د ځای ناستو د پاملرنې وړ ګرځیدلی و و خو د هغو جګړو شرح چې هغود ویهند د هندو شاهیه کورنی له راجاګانو سره کړی [1]. فقط د سبکتګین د په تخت کیناستو راهیسی چې له جیپال را جا سره یې وکړی اود خپل سلطنت برید یې تر لغمان پوري ورساو ، ترلاسه کیدای شي . محمود هم دخپل پلار تګلاره تعقیب کړه او کله چې د بغداد د خلیفه له خوا په ۳۸۹ هـ ( ۹۹۹ م ) کې د مستقل سلطان په توګه وپیژندل شو ، نو ویې پتیله چې هر کال به هند ته پوځ لیږی [2] .

---

[1]- د هندوشاهیه دسلسلې په هکله د معلوماتو لپاره وګورئ ( ط ) نبنلوته د کتاب په پای کی . ( ویهند ) همدانننی ( هوند ) دی . کلهنه هغه ( او د هـ بهاندهـ ) هم نومولی دی . وګوري ( لوغونی جغرافیه ) د کننګم تالیف ۵۳ - ۵۴ مخونه او کلهنه دویم ټوک ۳۳۲ – ۳۳۸ مخونه . راورتی ( د طبقات ناصری ژباړه ۷۹ مخ تبصره ) کې سهواً هغه ( بهتنده ) غلط کړی دی .

[2]- عتبی ۱۳۴ مخ همدومره ویلی چې : سلطان پرځان لازمه کړه چې هر کال هند ته لښکر سره ورشي خو ایلیات د دغه عبارت ژباړه په یو بل دول را اخلی ←

## ۱ - د هند د ځینو سرحدي کلاګانو نیول

سلطان د خپلو تصمیمونو له مخی ، د ۳۹۰ هـ ( ۱۰۰۰ عیسوی ) کال په آخر کې[۱] د هندوستان خواته لښکر وکیښ . د لغمان شاوخوا یې څو څو کلاوې ونیولې او بیرته بیا غزنی ته ورستون شو[۲]

## ۲ - د ویهند او پیښور جګړه

یوکال وروسته سلطان د ویهند په راجه[۳] جیپال باندې د یرغل چمتو والی ونیواو د ۳۹۱ هـ په شوال ( ۱۰۰۱ م ) [۴] کی یې د پنځلس زرو سپرو عسکرو او یو شمیر رضا کارو په سرکرده ګۍ له غزنې څخه حرکت وکړ او پیښورته نژدی یې اردوګاه جوړه کړه،جیپال د دولس

---

← ( ایلیات و داوسن ۲۴ مخ دویم ټوک ) چې له هغه څخه دا مطلب اخیستل کیږی چې سلطان ژمنه کړی وه چې هر کال په هندوستان کې غزاکوي په دی توګه د سلطان لشکر کشیوته د مذهبي تعصب رنګ او بڼه ورکوی .

[۱]- دغه نیټه د ګردیزی له تاریخ ( ۲۳ مخ ) څخه اخیستل شوی ده .

[۲]- ګردیزی د سلطان یواځنی معاصر ماخذ دی چې دغه لشکر کشی یې شرح کړی . وروستنیو لیکوالوکې فقط فرشته او نظام الدین د دغه سفر په هکله یو څه ویلی دي چې په غالب ګومان هغه یې له ګردیزی څخه اخیستی دي .خو دهغو په استنساخ کی یې غلطی کړی ده . سرویلیهم هیګ ( ۱۳ مخ کی ) دغه پوځ لیږل او یرغل شکمن ګڼلی چې په خپل دغه فکر کی یې غلطي کړی ده .

[۳]- په مجمع الانساب ( ۲۳۱ پاڼه دویم مخ کی ) ویل شوی چې جیپال د سبکتګین له مړینې وروسته ، تصمیم ونیو چې د سبکتګین له خوا نیول شوي سیمی بیرته راجلا کړي نو ځکه یې په محمود یرغل وکړ نو ځکه سلطان له غزنې څخه د دفاع په خاطر حرکت وکړ .

[۴]- فرشته ۲۴ مخ .

زرو سپرو .دیرش زره پلي او دری سوه پیلانو په ځواک یو لښکر برابر کړ او مخی ته ورته راغی.دواړه لښکر د ۳۹۲ هـ د محرم په اتمه (د ۱۰۰۱ م د نومبر په ۲۷ مه)[۱] سره ونښتل.کلک جنګ پیښ شو.تر غرمې روان و،خو داوخت هندوانو د اسلامی سپرو لښکرو په وړاندی ماتې وخوړه وتښتیدل پنځه زره مړي د جګړې په ډګر پاتې شول[۲].

د جګړې غنیمت د فاتح لښکر ډیر طامع او حریص غړی هم خوش کړل . پنځلس د مروارید وغاړه کی چې یوه یې ۸۰ زره دیناره ارزیده،له نورو بی شمیره غنیمتونو سره د مسلمانانو لاس ته ورغلی،جیپال له خپلو پنځلسو زامنو او لمسیانو سره بندي شو[۳]. هغه یې د میرند **Mirand**[۴] په نوم یوې سیمې ته بوت . خولږ وروسته د جیپال اوسلطان ترمنځ د سولې معاهده وشوه . جیپال ژمنه وکړه چې ۲۵۰ زره دیناره نقده او پنځوس پیلان به د تاوان په توګه سلطان ته ورکړی[۵]. نو ځکه سلطان هغه بیرته په خپل سلطنت مقرر کړ،خو د هغه یو ځوی یې د دغه تاوان تر ورکولو پوري ځان سره وساته.له دغې

---

۱- عتبی ۱۵۸ مخ گردیزیْ ۲۲مخ .

۲-گردیزی ۲۲ مخ . عتبی ۱۵۷ مخ .

۳-گردیزی ۲۲مخ .

۴- عنصری (د بنګال د آسیائی انجمن قلمي نسخه) په طبقات ناصری کې دغه سیمه د (من برند) په نوم لیکل شوی ده . همدارنګه وګورئ د مولف مقاله چې په (آسیائی شاهي انجمن مجله) کی په ۱۹۲۷ م کال ۴۹۳ – ۴۹۵ مخونو کی خپره شوی ده وګورئ .

۵- عتبی ۱۵۸ مخ . مجمع الانساب ۲۳۱ پاڼه دویم مخ . د دغه وروستی کتاب له وینا څخه ښکاري چې د جیپال له خرځلاو څخه منظور د جیپال د خونبها تاکل و . دغه موضوع عنصري د مجمع الانساب نوموړی مخ کی ذکر کړی ده .

سوبې څخه وروسته سلطان د هندوشاهیه د سلسلې د راجاګانو د پایتخت ویهند پر لوری روان شو .او د ژمي نورې میاشتې یې د هغو سیمو د شاوخوا په نیولو تیرې کړي[۱] او د ۳۹۳ هـ په پسرلی ( ۱۰۰۲ اپریل ) کې بیرته غزنې ته راستون شو[۲] جیپال پنجاب ته بیرته ستنید و څخه لږ وروسته له ژوندون څخه لاس په سر شو او په غالب ګومان یې په ۳۹۳ هـ ( ۱۰۰۲ – ۱۰۰۳ م )[۳] کې ځان وسوځاو او د هغه زوی ( آنند پال ) د هغه پرځای پر تخت کیناست[۴].

## ۳- پرسند باندې جګړه

د ۳۹۲ هـ په پسرلي ( ۱۰۰۲ مارچ – اپریل ) کې سلطان د ملتان[۵] په نیت روان شو خو دسند له کوزي برخې څخه پورې وتل له خطر څخه ډک کارو ، نو تصمیم یې ونیو چې له دغه سیند څخه د پیښور په علاقو کې پورې وځی،نو ځکه یې ( آنند پال ) ته خبر ورکړ چې د

---

[۱]- عتبی ۱۵۹ مخ . ګردیزی ۵۲ مخ . کې په ښکاره لیکلي چې ویهند ته د سلطان تګ د پخوانیو لښکر کشیو په دوام و .خو ( رینولډز ۲۸۲ مخ ) کې دا په غلطه ځانګړی لښکر کشي بولي .

[۲]- عتبی ۱۵۹ مخ . ګردیزی ۵۲ مخ . دغه وخت د هندوشاهیه پایتخت ( ننده ) ته لیږدول شوی و . د ګردیزی ۳۹۲ مخ په وینا محمود له دغي سوبې څخه وروسته د غازی لقب وګاټه .

[۳]- عتبی ۱۵۹ مخ هم وګوري ( ط ) نښلوته .

[۴]- آنند پال دا وخت د لاهور حاکم و . د پیښي تفصیل د آسیائي شاهي انجمن د مجلې د ۱۹۲۷ م کال د جولای ګڼی په ۴۹۳ -۴۹۵ مخونو کې وګورئ همدارنګه وګورئ ( ط ) ضمیمه د کتاب په پای کې .

[۵]- عتبی ۲۱۱ مخ .

سلطاني لښکر د پورې وتو پر وخت ممانعت ونه کړی [1] خو آنند پال داخبره ونه منله او د ملتان د حکمران داود په ملاتړ پاڅید او د سلطان د عسکرو د مخنیوي لپاره مخ په پېښور راغی. سلطان آنند پال ته سخته ماته ورکړه او د چیناب [2] تر سیند پورې بې وځغلاو آنند پال د کشمیر غرونو ته وتښتید [3] خو سلطان له دې وړاندې ورپسې ورنغی، د ملتان پر لوری روان شو [4].

## ۴- د ویهند جګړه او د نګرکوټ نیول

آنند پال د سلطان محمود د ورځ په ورځ زیاتیدونکې ځواکمني څخه چې دی او پلار یې هریو په یوازیتوب دهغه په مخنیوې کې پاتی راغلی وو ، ویریدلی و ، شاوخوا ګاونډیو راجاګانو ته یې هیله یو وړه چې ورسره یو ځای شي ، د شمال مغرب له لوري د مسلمانانو د سوبو مخه ونیسی. د ده دغوښتنې له مخې هر راجه یوه ډله عسکر ده ته ولیږل. آنند پال دغه ټول عسکر په هغه پوځ کی ورګډ کړل چې له

---

[1]- عتبی ۲۱۱ مخ. له دې څخه ښکاري چې دا وخت آنند پال او سلطان یو بل سره پخلاول ، که نه دغی غوښتنې کومه معنی نه لرله. ګردیزی په ۷۲ مخ کې لیکی چې د دغی هیلی موخه داوه چې سلطان په داود یوناڅاپه یرغل وکړی.

[2]- فرشته ۲۵ مخ.

[3]- عتبی ۲۱۲ مخ. ګردیزی ۲۷ مخ.

[4]- عنصری (د بنګال آسیائی انجمن قلمی نسخه) لیکی چې سلطان د ملتان په لاره کې ۲۰۰ کلا ګانې ونیوي او پرته له بیاس او ستلیج څخه د پنجاب له نورو ټولو سیندونو څخه تیر شوی و.

ټول هيواد څخه يې راټول کړي و [۱]. دغه لښکر يې د خپل ځوی (برهمن پال) [۲] تر مشرۍ لاندې د پېښور خواته ولېږ. سلطان د ژمي په منځ کې له دغې پېښې څخه خبر شو. د ژمي د سختۍ سره سره د ۳۹۹ هـ د ربيع الثاني په ۲۹ مه (د ۱۰۰۸ م د دسمبر په ۳۱مه) [۳]. له غزني را روان شو. له سند څخه تير شو. د (ويهند) مخامخ ډګر کې له يرغل کوونکو سره په جګړه شو. په دغه جګړه کې هندوان ډير په زړورتيا جنګيدل. آن دا چې ترمازيګر پورې د مسلمانانو برې په شک کې و. سلطان يو حربي مهارت څخه کار واخيست خپل محافظين يې د دښمن د لښکر شاته وليږل [۴]. کله چې هندوانو د لښکر له مخکې کتارونو څخه د لښکر شاته عسکر وليږل. د دوی لښکر مخ په ماتيدو شو او نور په شا شول. ډير شمير غنيمت او له هغې جملې ديرش پيلان د سلطان لاس ته ورغلل [۵]. سلطان هغوی پسې واخيستل آن تر نګرکوټ

---

[۱]- فرشته يواځنی ماخذ دی چې د دغه ټرون له جوړيدو څخه خبرې کوي او وايي چې د اجين، ګواليا، کالنجر، قنوج، دهلي او اجمير راجاګان په دی کې ګډوو. خو غالب ګومان دا دی چې ډهلي لادا وخت نه وجوړ شوی هغه شفاهي مرکه چې راوړتې له سرويې (آ) سميت سره (تاريخ مقدماتی هند) کې په ۳۸۴ مخ کې کړي او د ګرديزي له مخې دهلی ۹۹۳ - ۹۹۴ هـ کی جوړ شوی دی.. دا د منلو وړ نيته نه ده. داځکه چې د دهلي نوم د ګرديزي په زين الاخبار بالکل نه دی راغلی.

[۲]- عتبی ۲۲۴ مخ.

[۳]- عتبی ۲۲۴ مخ. ګرديزی ۲۹ مخ.

[۴]- عتبی ۲۲۴ مخ. فرشته ۲۲ مخ کې ليکې چې دواړه لښکر ۴۰ ورځې يو بل سره وجنګيدل.

[۵]- عتبی ۲۲۴ مخ. ګرديزی ۲۹ مخ. د ايليات داوسن دکتاب د دويم ټوک په تبصره کې راغلي چې دغه جګړه پرته له عتبی نورو نه ده را اخيستی. ←

[1] کلا پوری یې چې ( کانگري ) ته نژدې دیوی غونډی په سر پرته ده ورسول . دغه سیمه د ( بانگنگا )[2] سین احاطه کړی ده . د دغې کلا معبد هندوانو ته ډیر د درناوی.وړ و چې ډیره زیاته شتمني هم پکې زیرمه شوی.وه . سلطان دري ورځی دغه کلا ایساره کړه او بالاخره یې ونیوله[3] . او ډیر زیات شته یې ورځخه ترلاسه کړل چې هغو کی ۷۰ میلیونه د پیسو سکې ، ۷۰ زره د طلا موټې ، سپین زر ، قیمتی جامې او یوه خونه چې ټوله له سپینو زرو جوړه وه او ۳۰ په پنځوسو گزو کی یې سور او پراخوالی و اویو ۴۰×۲۰ گزوکی سایبان چې د سرو او سپینو زرو قبې یې درلودې[4] او یو تخت چې مرصع کاري شوی و اود بهیم راجه Eotru و . دغه راجه د ( پاندوه )[5] په کورنی پورې اړه درلوده . دا ټول دسلطان لاس ته ورغلل او سلطان دغه کلا خپلو صاحب منصبانو ته وسپارله او د ۳۹۹ هـ په آخر ( د ۱۰۰۹ م په جون )[6] کی غزنې ته راستون شو .

---

← کیدای شي دا خبره غلطه وي ځکه چې په ابن اثیر،روضته،حبیب السیر او نورو ماخذونو کې یې ذکر شته . فرشته فقط د جنگ میدان ( ویهند ) نه بلکې پیښور لیکلی دی .

[1]- عتبی ۲۲۴ مخ . گردیزی ۷۰ مخ . له دې پرته دا هم لیکل شوي چې د معلوم له مخې دغه کلا د ( پاندوه ) د کورنی په واسطه د راجه بهیم له خوا جوړه شوه .

[2]- عتبی ۲۲۴ مخ . عنصری ۸۴ مخ .

[3]-گردیزی ۷۰ مخ .

[4]- عتبی ۲۲۲ مخ .

[5]- عضری ۸۵ مخ .

[6]-عتبی ۲۲۲ مخ . د گردیزی ( ۷۰ مخ) په وینا سلطان د ۴۰۰ هـ ( ۱۰۰۹ اگست ) په لومړیو کې امروکړ چې دغه غنیمتونه دې د ټولو خلکو د ننداري لپاره کینبودل شي .

سلطان له دغې سوبې څخه وروسته تولې نيول شوی سيمې له سند څخه تر نګر کوټ پورې خپل قلمرو پورې وتړلي . خو د هغه له راستنيدو وروسته يو ځل بيا آنند پال په خواشا سيمو لاسبری ومو‌ند او نندنه کلا يې خپل مرکز وګرځاو. خو ډير ژر مړشو او د ده زوی (تريلو چنپال) د ده پر ځای کيناست[1].

## ۵- د نندنه کلا (ناردين) نيول

سلطان و پتييله چې د تريلو چنپال ځواک په سيمه کې له منځه يوسي ، نو د دې موخې لپاره يې د ۴۰۴ هـ په منې (۱۰۱۳ نومبر)[2]. کې له غزنی څخه حرکت وکړ ، خو يوه درنه واوره و وريده نو ځکه بيرته ستون شو ، خو د بل کال[3] . په پسرلي (د ۱۰۱۴ م مارچ) کې د نندنې[4] کلا خواته رهې شو دغه کلا د (ګنګا) د سيند پر لاره د يوه غره په اړخ کې ده . کله چې تر يلوچنپال دسلطان له ورتګ څخه خبر شو خپل زوی (بهيمپال) يې د کلا د دفاع لپاره وټاکه[5] او د کشمير

---

[1]- البيرونی ، دويم ټوک ۱۳ مخ .

[2]- سرويليم هيګ (۱۷ مخ) کې هغه په غلطه دويم جيپال معرفی کړی دی .

[3]- عتبی ۲۲۰ مخ .

[4]- دا هماغه (ناردين) دی چې عتبی ښودلی و. بيهقی او ګرديزی هغه د (نندونه) په نوم يادوي . دغه ځای د شمال ۳۲ درجو او ۴۳ دقيقو په عرض او د شرق په ۷۳ درجو او ۱۷ دقيقو طول البلدکی د دوو غرونو په پوزه يا ډ ډه کی آباده کلا وه . وګوری (ګزيتر علاقهٔ پنجاب ، ۲۷ ټوک الف چاپ کال ۱۹۰۴ ۴۲ -۴۷ مخونه او (ګزيتر شاهنشاهی هند ، د ۱۹۰۷ کل چاپ تبصره شماره ۳۴۹ طبقات ناصری ۳۳۴- ۳۳۹ مخونه .

[5]- عتبی وايي چې : هغه يې نيدر Nidar يعنی نه ډاريدونکی يا زړور باله .

راجا (سنگر آمه)[۱] يې مسرتي ته وغوښت او هغه ته د کشمير دري ته ورغی[۲]. بهيمپال ځان د دووغرونو ترمنځ چې کلا د هغو مخکې آباده وه کلک کړ او د پيلانو په يوه کتار سره يې لاره بنده کړه. سلطان پر دغه ځای يرغل وکړ وروسته له څو ورځو يې د بهيمپال د لښکر يوه قطعه ميدان ته را وکښله او هغوی يې مات کړل[۳].

دغه وخت کې بهيمپال ته نوی کمک راورسيد.سنگرونه يې پريښودل ميدان ته راووتل.د لښکر وروستۍ برخه يې غرونو کې پريښوده،د لښکر دوه خواوی يې په جنگي پيلانو کلکی کړي،د سلطان پر لښکر راغلل.څو په شاو تمبول شول،بيا يې د پيلانو په واسطه بل يرغل وکړ خو د مسلمانانو په گوزراونو په شاو وتمبول شول ، په آخر کې سلطان پر بهيمپال باندې داسې وژونکی يرغل وروړ[۴] چې هغه يې له پوځ سره د (نندنه) کلا پورې وځغلا او په کلا کې يې ايسار کړ،کلا يې محاصره کړه،دهغې ديوالونو لاندې يې نقبونه کيښودل،ترکماني تيراندازانو د کلا ساتونکې د غشو گوزارونو لاندې ونيول،دښمن د کلا له ساتلو پاتې راغی ، بالآخره کلا پرته له کوم قيد اوشرط څخه مسلمانانو ته تسليم شوه. سلطان کلا ته ننوت د پيلانو،وسلې اونورو قيمتي شيانو په گدون يې ډير غنيمت ونيو

---

[۱]- گرديزی ۷۲مخ او په غالب گومان چې د هغه مقصود دلوری هاري د وادي کوزه خوا ده.

[۲]- کلهنه ، اوم کتاب ، دويم ټوک ۴۷- ۵۳ مخونه.

[۳]- عتبی ۲۲۲ مخ.

[۴]- د عتبی وينا په همدې ځای پای ته رسيږی.

[1] وروسته له دغی سوبی څخه سلطان تریولوچنپال ته پام واړاوچې هغه د جهلم د سیند شمال لوري ته په یوه وادي کې له کشمیری عسکرو سره اردوگاه لګولی وه [2] ( تونګه Tunga ) د کشمیر دعسکروقوماندان د سلطان دلښکر د کشف په قطعې د یرغل له امله دومره مغرور شوی و چې د سلطان ځواک ته یې هیڅ اهمیت ورنه کړ. خو په بله ورځ د پوځ د مشر ( ترشکه Turushaka ) [3] له خواچې په حرفی فنونوکی یې خاص مهارت درلود ، داسی ماتې سره مخامخ شو چې کشمیری ټول پوځ تارومارشو او وتښتیدل ، په خپله تونګه هم دځان له ویری وتښتید [4].تریلو چنپال خپل عسکر سره راټول کړل د بخت آزمایلو لپاره په خپل ټول توان سره یې یوځل بیا یرغل وکړ.خو ماته یې وخوړه [5] .د سلطان دغه سوبې ډیری لری لری ځایونو کې

---

[1] - گردیزی ۷۲ مخ . عتبی ۲۲۳ مخ کی لیکی چې دغه معبد یو ډبر لیک درلود چې دهغه د جوړیدونیټه یې څلوېښت زره کاله پخوانی شودلی وه .د ایلیات و داوسن د کتاب دریم ټوک ۳۹ مخ کې د عتبی ژباړه غلطه لیکل شوی ده چې دهغی له مخی یې دغه معبد ( لوی بودا ) پوری مربوط کړی . حال داچې د ( بد ) کلمه چې عتبی استعمال کړی ده د(بت) عربی شوی بڼه ده ، نه د بودا په معنی . وګورئ تاج العروس،د قاهري چاپ دویم ټوک ۲۹۵ مخ .

[2] -گردیزی ۱۲ مخ . کلهنه ، اوم کتاب ، لومړی ټوک ۵۳ مخ ، تبصره .

[3] - (د ترشکه پوځ مشر) عنوان سلطان ته د ( کلهنه کتاب اوم ټوک کی ۵۲ مخ کی ) استعمال شوی دی . په لومړی ټوک ۵۳ مخ کی سلطان د ( همیره ) په عنوان یاد شوی چې ظاهراً د امیر له کلمی څخه اخیستل شوی لفظ دی او دا لفظ عموماً د سلطان لپاره استعمالیده . سر آرل ستین ( په کلهنه لومړی ټوک ۱۰۷ مخ ) کې سهواً لیکلی چې ( همیره ) د امیرالمومنین .لنډیز دی .

[4] - کلهنه ۷ کتاب لومړی ټوک ۵۷ مخ .

[5] - کلهنه ۷ کتاب ، دویم ټوک ۵۷- ۵۸ مخونه . گردیزی ۷۲ مخ .

مشهورې شوې څو څو شاوخوا راجگانو سلطان ته د وفا داري لوړه وکړه او دهغو سيمو ګڼ شمير خلکو د اسلام دين ومانه. سلطان د اسلام د دين د مبانی د ښودلو لپاره ورته ښوونکی مقرر کړل او د سيمی په ټولو برخو کې يې جوماتونه جوړ کړل[1]. د ننندنې کلا يې (ساروغ)[2] ته وسپارله په خپله د ۴۰۵ هـ په اوړي (د ۱۰۱۴ م په اګست)[3] کې غزنې ته راستون شو.

د تريلو چنپال څواک ذړی وړی شو او د پنجاب ختيځ ته ولاړ د معلوماتو له مخې هلته يې د سوالک Siwalik[4] په غرونو کې د لاسه وتلی څواک په راټولولو شروع وکړه،خو په کرار نه و،خپلو شاوخوا راجه گانو سره يې جګړی کولې. خصوصاً د (شروه)[5] اوسيدونکې راجه (چندررای) سره يې دښمنی شوه تر څو چې په ۴۰۹ هـ (۱۰۱۸ م) کې يې پر قنوج باندې د سلطان د يرغل کولو خبر واوريد نو له چندر رای سره يې سوله وکړه او د خپل څواک د ټينګو لو لپاره يې

---

[1]- ګرديزی ۷۲ مخ.

[2]- ګرديزی ۷۲ مخ. ساروغ د محمود له مړينې وروسته په همدې مقام پر ځای و، وګورئ بيهقی ۱۲۹ مخ.

[3]- ګرديزی ۷۲ مخ.

[4]- مولف دغه پايله له لاندينو پيښنو څخه او د عتبی له کتاب څخه چې د (دهت Ruhut) د سيند د جګړی په هکلهې کړی را اخيستی.

[5]- عتبی ۳۱۱-۳۱۳ مخونه. (پارزجيپال) چې عتبی په دغو پيښنو کې بيان کړی له دی هماغه تريلو چيپال قنوج حاکم شو. هغه له دغو پيښنو څخه ډير وروسته په تخت کيناستلی و.

خپله يوه لور بهيمپال ته کوژده کړه [۱] او کله چې ( بهيمپال ) هغه ځای ته د خپلې ناوې د راوستو لپاره ورغی چندر رای هغه ځان سره وساته . په همدغه وخونو کی ( د ۴۰۹ سعبان او د ۱۰۱۹ م کال جنوری کی ) سلطان په شروه باندې يرغل وکړ [۲] . دا وخت چندر رای د مقابلې لپاره چمتو شو . خو د سلطان له رارسيدو سره سم د بهيمپال له مشورې سره سم وتښتيد ، ځکه چې بهيمپال ويريده چې که چيرې چندر رای ناکام شي . نو سلطان محمود به هغه بندې کړی اولاس ته به يې ورشي [۳] .

## ۶- درهت ( راهب ) پر سيند جګړه

غزنې ته د قنوج له سفر څخه د سلطان د بيرته له ګرځيدو لږ وروسته ( د ۴۰۹ هـ آخر او د ۱۰۱۹ م کال سرکې ) تريلو چنپال د کالنجر له راجه ( ګنده ) [۴] . سره يو تړون وکړ او له هغه څخه يې ژمنه ترلاسه کړه چې له سلطان څخه د ده د نيکونو د سلطنت د ترلاسه کولو په برخه کې له ده سره مرسته وکړی [۵] . کله چې محمود له دغې

---

[۱]- سروليم هيګ ۲۰ مخ کی دغه پيښې ناڅرګندډول باندې ښودلې ؛ ده په غلطه بهيمپال د قنوج د راجه زوی معرفی کړی دی او بل دا چې دغه راجه يې په يو عجيب نوم ( جيچنده ) سره ښودلی دی .

[۲]- عتبی ۳۱۱ مخ .

[۳]- عتبی ۳۱۱ مخ .

[۴]- يا ( ننده ) چې عتبی او نورو ليکوالو ليکلی دی ، اصلی نوم يې د ( ماوچندل ) له ډير ليک څخه ښکاري ، وګورئ د **Epiqraphia Indica** لومړی ټوک ۱۹۵ – ۲۰۷ مخونه او د آسيايې شاهی انجمن د ۱۹۰۷ کال مجلی ۲۷۸ مخ . خو سروليم هيګ بيا هم ټينګار کوی چې بايد ننده ولوستل شي .

[۵]- ګرديزی ۷۲-۷۷ مخونه . ابن اثير نهم ټوک ۲۱۸ مخ .

ژمنۍ څخه خبر شو، نو د ۴۱۰ هـ کال په منۍ (د ۱۰۱۹ م په اکتوبر)[۱] کې له غزنۍ څخه د (گنده) د ټکولو لپاره وخوځيد. تريلو چنپال د محمود له نيت څخه خبرشو د قنوج د حکمران (گنده) او (باري)[۲]. له لښکر و سره د يو ځای کيدو په خاطر مخ په جنوب ورغی سلطان تريلو چنپال[۳]. پسی ورغی د ۴۱۰ هـ په شعبان (د ۱۹۹ م د دسمبر په ۱۵ مه)[۴] يې ورسره جگړه پيل کړه خو تريلو جنپال درهوت (رام گنگا)[۵] له سيند څخه له هغه ځايه چې د غه سيند له غرونو څخه بيليږي[۶]. تير شو او د سلطان د پرمختگ په خنډ کولو کې يې هڅې وکړې له سيند څخه د تيريدو د خطر سره سره، د سلطان اتو تنو زړورو محافظينو خپل ځانونه له خيگونو (مشک) سره سيند ته وغورځول[۷]. تريلو

---

[۱]- گرديزی ۷۲ مخ او د وگورئ عتبی ۳۱۷ - ۳۱۸ مخونه.

[۲]- دغه پيښه د گرديزی له ۷۲ مخ څخه ترلاسه شوې ده وگوري ددی کتاب په پای کی د (ک) نښلونه.

[۳]- فرخی د ۱۲ پاڼی لومړی مخ کې ليکی چې سلطان راهت سيند ته له رسيدو مخکی د سرپل کلا چې له دغې سيند څخه ديوې ورځی د مزل په اندازه لرې پرته وه ونيوله. سرپل ممکن هماغه سيل گره وي چې د گنگا د غاړې کينې خواته د هردوار جنوب ته په پنځلس ميله واټن کې پرته ده. دغې سيمې کې ديوې پخوانۍ کلا کنډواله چې ۸۰۰ گزه مربع ځای يې نيولی دی را پيدا شوی ده.

[۴]- ابن اثير نهم ټوک ۲۱۸ مخ.

[۵]- رام (گنگا) سيند ته د هغه په بره برخه کی رهوت ويل کيږي. وگورئ دهند د شاهنشاهی گزتر دويم ټوک ۲۱ گنه ۱۷۵ مخ.

[۶]- فرخی د ۱۲ پاڼی لومړی مخ. په غالب گومان (افضل گړهـ) ته نژدې سيمه.

[۷]- عتبی ۳۱۹ مخ فرخی د ۱۲ پاڼی لومړی مخ. وليم هيگ (۲۱ مخ) کی ليکی: اته تنه مسلمان صاحب منصبان پرته د شاه له اجازې يوناځاپه خپلو قطعاتو سره يو ځای له سيند څخه تير شول. خو داخبره ربنتيا نه ده او په کوم ماخذ نه ده ولاړه.

جنپال خپلو عسکرو ته امر وکړ چې هغوی په سیند کی د لامبو په حال کی په غشو وولي د دی کارلپاره یې یو شمیر عسکر له پنځه پیلانو سره مؤظف کړل .خو د سلطان سرتیری د هغوی له غشوونه ویریدل.په عین لامبو کې یې د تریلو جنپال په عسکرو د غشو گوزارونه کول او په لامبو لامبو یې ځانونه د سیند غاړیته ورسول.دسلطان نورو عسکرو د دی حال په لیدو او دا چې سلطان ورسره وعده کړی وه چې که هر څوک د هغوی پسی ورشي نو وروسته له هغی ورځی به یې ټول ژوند سوکاله وي[1] وهڅیدل او چاپه آس او چاپه خیگ ځانونه سیند ته اچول او پورې وتل،پرته له دې چې یوتن هم ضایع شي،ټول له سیند څخه هاخواتیر شول [2] . ډیر ژر یې دلښکر صفونه وتړل او له دښمن سره جگړی ته تیار شول او دښمن ته یې کلکه ماته ورکړه. له دښمن څخه یې زیات شمیر غنیمت وگاټه چې په هغو کې یواځی د سلطان برخه ۲۷۰ پیلان او له جواهراتو څخه ډک دوه صندوقونه وو [3].

تریلو جنپال په جگړه کی تیښې شو او وتشتید .له سلطان څخه یې دسولې غوښتنه وکړه خوناکام شو.دې پسی وروسته د ( گند) د مسرستې لپاره ورغی،خو دخپلو ځو تنو پلویانو له خوا په ۴۱۲ هـ ( ۱۰۲۱ -۱۰۲۲ م )[4] کې و وژل شو .د ده پرځای یې ځوی ( بهیمپال

[1]- عتبی ۳۱۹ مخ .

[2]- عتبی ۳۱۹ مخ ، فرخی د ۱۲۵ پاڼی دویم مخ .

[3]- فرخی د ( ۱۲ ) پاڼی دویم مخ . گردیزی ۷۷ مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۹ مخ . له دی پرته فرخی داهم وایې چې د جگړی په غنیمت کې د تریلو جنپال دوه ښځی او دوه لورگانې هم وې .

[4]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۹ مخ فرخی د ۱۲ پاڼی دویم مخ : البیروني دویم ټوک ۱۳ مخ .

متهور ) د ګډوډۍ او کوچنۍ سیمې به پاچاهي پر تخت کیناست چې صرف د حکمرانۍ دنوم د ګټلو لپاره د پلار پر ځای کیناست او په ۴۱۷ هـ ( ۱۰۲۲ م ) [۱] کې وروسته دهغه له مړینې څخه د هندوشاهیه سلسله بالکل پای ته ورسیده [۲] د دغې سلسلې راجه ګانو په سخاوت ، علم پالنه او نجیبانه عواطفو کې نوم درلود [۳].

## ب : د ملتان حکمران سره د سلطان اړیکې

### ۱ - دملتان نیول

د ملتان ولایت له هغه وخته راهیسې چې هغه محمد ابن قاسم فتح کړی و ، په هندوستان کې د اسلام د قراول حیثیت درلود . په څلورمه هجری پیړۍ کې هلته قرامطه واکمن شول او یو شمیر حکمرانیانې یې جوړې کړې چې هغه د بغداد د خلفاو تابع نه و [۴]. کله چې سبکتګین واک ترلاسه کړنو د ملتان قرمطي حکمران ابوالفتح

---

[۱]- البیرونی دویم ټوک ۱۳ مخ خو سرولیم هیګ ۲۲مخ کې په غلطه لیکي چې بهیمپال د اجمیر راجا ته پناه یو وړه .

[۲]- البیروني دویم ټوک ۱۳ مخ . د دغې کورنۍ څو کسانو د کشمیر د راجه ګانو دربارته پناه یوړه. او هلته یوره معاش ورکول کید . وګورئ کلهنه اوم کتاب دویم ټوک ۱۴۴ ، ۱۷۸ ، ۲۷۴ ، ۹۵۲ او ۱۴۷۰ مخونه او اتم کتاب دویم ټوک ۲۲۵ – ۲۲۷ مخونه .

[۳]- البیروني دویم ټوک ۱۳ مخ . کلهنه اوم کتاب دویم ټوک ۲۲- ۲۹ مخونه .

[۴]- البیرونی لومړی ټوک ۱۱۲ مخ کې لیکي چې : جلم بن شیبان د قرامطې لومړنی سړی و چې ملتان یې ونیو . وګورئ مسعودي ۲۳۴- ۳۵۸ مخونه .

داود بن نصر [۱] هغه سره دوستانه اړیکی [۲] ټینګی کړی . د سبکتګین له مړینې وروسته یې له محمود سره د دغو شواړیکو لړی ته دوام ورکړ ، خو متاسفانه دغه وضعیت ډیر دوام ونه کړ . کله چې سلطان د ( بهتنده ) له سفر څخه په ۳۹۵ هـ ( ۱۰۰۵ م ) کی بیرته راستون شو نو داود په غالب ګومان له ملتان څخه دسلطان د لښکرو له تیریدو سره موافق نه و [۳] او په دی کاریې نا خوښی ښودله.نو له همدې امله سلطان د هغه د ټکولو او د هغه د مطیع کولو لپاره د ۳۹۲ هـ په پسرلی ( د ۱۰۰۲ م په مارچ - اپریل ) [۴] . کې له غزنې څخه د ملتان په خوا روان شو له دې کبله چې د سیند له کوزې برخی څخه تیریدل خطرناک ونو تصمیم یې ونیو چې د دغه سیند بره برخې یعنی پیښورته نژدی سیمو کی له دغه سیند څخه تیرشي.همداوخت ( آنند پال ) د سلطان د غورځنګ د مخنیوی په خاطر مخ په پیښور ور روان شو تر څو چې ناکام پاتې شو .

---

[۱]- ( بر ګز ) د ( فرشته ) ژباړه ، لومړی ټوک ۴۰ مخ ، کی لیکی چې : داود د (شیخ حمید لودي ) له اولادي څخه و حال دا چې دا غلطه وه او سهواً یې د ( لاوې ) پر ځای ( لودی ) لیکلی دی . ( لاوي ) د مسعودی په وینا ۲۳۴ مخ کې په غالب ګومان د داود پلرونه وو . همدغې غلطی نور لیکوال هم په اشتباه کې اچولی او داود یې لودي بللی دی .

[۲]- فرشته ۱۸-۲۴ مخونه .

[۳]- د عتبی ۲۱۱ مخ . کی راغلی چی : په ملتان باندې د محمود د یرغل لامل دا و چې داود قرمطی مذهب غوره کړی و .

[۴]- د عتبی ۲۱۱ مخ څخه په غلطه را وړل شوي چې سلطان د ۳۹۲ هـ په لومړیو ( د ۱۰۰۵ په اکتوبر ) کی له غزنی څخه حرکت وکړ .

وروسته د آنند پال تر ناکامي: سلطان مخامخ د پنجاب له منځ څخه په تیریدو ملتان ته ولاړ. داود له ډیرې ویرې د سند د سیند یوه ټاپوته و تښتید. خو د ملتان د کلا ساتونکي پوځ د کلا دروازه د سلطان پر مخ وتړله. کلا وروسته تر اوو ورځو محاصرې د تورې په زور پرانیستل شوه او کلا د سلطان لاس ته ولویده[1] د ښار خلکو بخښنه و غوښته او د عفوې له هیلې سره یو ځای یې دا هم ومنله چې ۲۰ میلیونه درهم[2]. به د تاوان په ډول ورکوي. سلطان د هغوی دغه غوښتنه ومنله او له قصاص څخه تیرشو ، خو په قرامطه یې رحم ونه کړ د هغوی سلګونه کسان یې و وژل[3]. آن داچې د هغوی جامع جومات څخه یې ګودام جوړ کړ چې نکریزی پکې دسته بندي کیدل[4]. وروسته له دې څخه سلطان د ملتان د شاوخوا سیمو او (بهتندې) په تصرف شروع وکړه[5] خو لږ وخت وروسته په خراسان باندې د ایلک خان له

---

[1]- ګردیزی ۲۷ مخ.

[2]- عتبی ۲۱۲ ، ګردیزی ۲۷-۲۸ مخونه. خو داسې ښکاري چې د غرامت یا تاوان په پیسو کې ډیره مبالغه شوې ده.

[3]- عبتی ۲۱۲ ، عنصبی ۸۰ مخ. د آداب الملک (د ۸۰ پاڼې لومړی مخ کې) راغلي چې سلطان د قرامطه مذهب څخه دومره ووژل چې د لاهوري دروازې څخه چې د ښار په لویدیځ کې وه د وینو ویاله وبهیده او د وینو د سرینښاک والی له کبله د سلطان لاس د تورې په قبضه داسې کلک شوی و چې ترڅو یې په تودو اوبو ونه مینځه له قبضې څخه جلا نه شو.

[4]- البیروني ، لومړی ټوک ۱۱۷ مخ.

[5]- ابن اثیر ، نهم ټوک ۱۳۷ مخ کې لیکي چې سلطان د ملتان له سقوط څخه وروسته د (ګوالیار) او کالنجر د نیولو لپاره پرمختګ ته دوام ورکړ. هغه څه چې ابن اثیر د دغو دوو سیمو د جنګي عملیاتو په هکله ویلي دي ←

يرغل څخه خبر شو. سلطان د ملتان حکومت ( د پاچالمسي )[۱] (سختپال ) ته وسپاره او د خراسان دساتنې او د خطر د مخنيوی لپاره غزنی ته راستون شو.

## ۲- د سخپال بغاوت

سخپال د سلطان او ايلک خان تر منځ له جګړو څخه استفاده وکړه ، له اسلام څخه واوښت او د ۳۹۸ په ژمی ( د ۱۰۰۷ په دسمبر ) کی يې بغاوت پيل کړ. د دغه شورش خبر سلطان ته د ۳۹۸ هـ په ربيع الاول (د ۱۰۰۸ په جنوري)کی.هغه وخت چې ده د ايلک خان پوځونو ته ماتې ورکړی وه او هغه تعقيبول . ور ورسيد [۲] . نو ځکه يې دهغه له تعقيبولو لاس واخيست ، دهوا د خرابوالی او ستونزو سره سره ( د معلوماتو له مخې سخپال د اغتشاش لپاره همداسی وخت ټاکلی و )

---

← کتې مټ هغه څه دی چې ګرديزی او سبط ابن جوزي د ۴۱۳ هـ کال پېښو په ترڅ کی ويلی دي. داسی ښکاری چې ابن اثير دغه دواړه سفرونه سره ګډ کړی دي.

[۱]- ګزيده ۳۹۷ مخ. عتبی ۲۲۳ مخ ، خو سروليم هيګ پرته د ماخذ له ښودله څخه وايې چې سخپال د اونل Unal حکومت يعنی ( ويهند ) کی مقرر شو. سخپال چې د پاچا په لمسی هم مشهورو ، دهندوشاهيه د کورنې د راجه جيپال لمسی و . وګورئ آداب الملوک د ۸۸ پانی لومړی مخ. د ګزيده ۲۹ مخ ليکی چې سخپال د جګړی له هغو بنديانو څخه و چې ابو علی سيمجوری په ۳۸۵ هـ (۹۹۵ م) کی په نيشاپورکې له سلطان څخه ترلاسه کړی وو او هغه يې مسلمان کړی و . د دغی ليکنی له مخی بايد سخپال له دی څخه مخکی يعنی له ۳۷۷ هـ ( ۹۸۷ م ) کال وړاندې چې جيپال خپل ځوځنه خپلوان سبکتګين ته د يرغمل په توګه پريښی وو. د سبکتګين لاس ته ورغلی وي.

[۲]- ګرديزی ۲۹ مخ. فرشته ۲۲ مخ. احتمال لری چې سخپال د ايلک خان په لمسون بغاوت کړی وی.

د هندوستان په لوري روان شو [۱] . او ملتان ته ورسيد .سخپال له کلک مقاومت سره سره ناکام شو او په غالب گومان د پنجاب د نمک کوه غرونو کې پټ شو [۲] چې د ده د ور ور او د تره زوی لاهلته حکومتونه چلول خو هلته ډير ژر ونيول شو او د څلور لکو درهمو له ورکولو وروسته بندي شو [۳] .

## ۳- د ملتان بشپړ نيول

سلطان په ۳۹۲ هـ ( ۱۰۰۲ م ) کې پرخراسان باندې د ايلک خان د ناڅاپي يرغل له امله د ملتان د ځينو شاوخوا سيمو له نيولو څخه صرف نظر وکړ،او د خراسان د اړدوړد غلې کولو لپاره خراسان ته ورغی . نو د خپلې موخې د پوره تر سره کولو په خاطر په ۴۰۱ هـ ( ۱۰۱۰ اکتوبر ) کې بيرته د ملتان خواته ولاړ ، پاتې ولايتونه يې هم ونيول او تابع يې کړل ، او ابوالفتح داود چې په غالب گومان اړ دوړ همده شروع کړي و ونيول شو ، زرگووه قرمطی مذهبه چې واک ته يې ځانونه رسولی و ووژل شول او ځنی نور يې بيلابيلو کلاووکې يې

---

۱- عتبی ۲۲۳ او گرديزی ۶۹ مخ . فرشته په غلطه وايي چې سلطان شخصاً د هغه مقابلی ته ورغی . يعنی سلطان په خپله جگړې ته نه و ورغلی .

۲- گرديزی ۶۹ مخ . ويل کيږی چې سخپال د ( کشنور ) غرونو ته وتښتيد ، د کشنور کلمه غالباً د کاتب غلطی ده او دهغی اصل ( کهيوره ) ده چې عموماً هماغه نمک کوه غرونه دی .

۳- گرديزی ۶۹ مخ . آداب الملوک کی په ۷۲ پاڼه دويم مخ کې راغلی چې د پاچالمسي د سلطان مسعود له مړينې څخه وروسته د کشمير د جنوب ولايتونو د راجه گانو يوه اتحاديه او پيوستون جوړکړ او په لاهور يې يرغل وکړ ، خو ناکام شو- او بيا و وژل شو . همدارنگه وگورئ ابن اثير د ۴۳۵ هـ کال د پيښو عنوان لاندی .

بنديان کړل[۱] داود (غورک) کلا کې بندي کړای شو او پاتې عمر يې ټول هماغلته په هوساينه کې تير کړ[۲]. وروسته له دې سلطان بيرته غزنې ته راستون شو.

## ج: د هندوستان د نورو برخو نيول

### ۱- د بهتنده (بهاطيه) فتح

سلطان محمود په ۳۹۵ هـ (د ۱۰۰۴ م اکتوبر)[۳] کې د بهتندې[۴] د ډيرې کلکې کلا د نيولو لپاره له غزنې څخه حرکت وکړ، د غه کلا د هغې لارې[۵] پرسر پرته وه چې له شمال غرب لوري څخه د گنگا د سروزرو څمکو ته ورتله. سلطان د ننني بلوچستان[۶] له حصار او واشستان له لارو څخه دغې خواته وخوځيد او ملتان ته نژدې[۷] له سند

[۱]- گرديزی ۷۰ مخ. البيروني لومړی ټوک ۱۱۲ – ۱۱۷ مخونه، خو د دغو سره سره د قرامطه مذهبو واک ختم نشو او د سلطان مسعود له مړينې وروسته يې د داود د زوی په مشرۍ بيا واک ترلاسه کړ. وگورئ اداب الملوک د ۷۲ پاڼې لومړی مخ او طبقات ناصری ۴۹۱ مخ.

[۲]- گرديزی ۷۰ مخ. (غورک) د قندهار شمال غرب ته تقريباً د پنځوسو ميلو په واټن کې پرته ده.

[۳]- ابن اثير نهم ټوک ۱۳۰ مخ.

[۴]- (بهاطيه) اسلامي ليکوال.

[۵]- گزيتريکا د کپتان پاولت ليکنه ۱۲۲ مخ.

[۶]- گرديزی ۶۲ مخ (واشستان) په بلوچستان کې ديوځای نوم و. وگورئ (لوسترينج) ۳۴۷ مخ او مقايسه يې له بيهقی ۷۲ مخ سره. وگورئ ابن فندق ۵۷ پاڼه دويم مخ.

[۷]- عتبی ۲۰۸ مخ.

دریاب څخه پوري وت او ( بهتنده ) ته ورسید . د بهتنډې راجا [۱] ( بجې راى ) په خپل زور دومره مغرور و چې ددې پر ځای چې په کلا کې سنګر ونیسي ، بهر میدان ته راووت او جګړه یې شروع کړه او تر درې ورځو په ډېره زړورتیا و جنګید [۲]. د هندوانو د دغې جګړی له امله د سلطان پوځ خپل معنویات بایلل او په څلورمه ورځ د جګړی له وضعیت څخه شکاریدل چې ( بجې راى ) باید پرمختګ وکړي [۳]. خو سلطان داوضع څارله، خپل پوځ ته یې ډاډ ګیرنه ورکړه ،لومړی یې په خپله د دښمن د پوځ پر زړه یرغل وکړ او هرلورې ته یې کلک ګوزارونه وکړل [۴] لښکر هم په ده پسې یو قوی یرغل وکړ چې د څلورمې ورځی له مازدیګر څخه مخکی هندوان مات او تیت پرک شول .

داوخت راجا بجی رای کلاته دننه وتښتید او دکلا شاوخوا ژوره کنده ایستل شوی وه چې دهغی کلکوالي نوم درلود . سلطان کلا ایساره کړه ،امریې وکړ چې کنده ډکه کړي . راجه د دې حال په لیدو ، ځان خطر کې ولید د کلا ساتونکی یې دفاع ته وګومارل او خپله له هغه ځایه وتښتید [۵] خو دهغه بل پته نځای ډیر ژر کشف شو.بیا

---

[۱]- سرولیم هیګ ( ۱۴ مخ ) کی په غلطه هغه ( بجره ) بللی دی .
[۲]- عتبی ۲۰۹ مخ .
[۳]- عتبی ۲۰۹ مخ کی دغی موضوع ته یوه ناڅرګنده نغوته کړی ده او فرشته د عتبی او ګردیزی په پرتله زیات تفصیلات لري .
[۴]- عتبی ۲۰۹ مخ .
[۵]- عتبی هم په ۲۰۹ مخ کې خو څو غرونه یاد کړی چې ممکن د ( هانسی ) سیمی ته نژدې ځنې غرونه وي . ګردیزی په ۲۷ مخ کی وایي چې راجه دسند د سیند غاړی ته چې په قدیم وخت کی یې نوم ( هکره ) و پناه یووړه .

محاصره شو . خو داخل راجه له بندیتوب څخه مرگ غوره وگانه،ځان یې و واژه [۱] . د راجه مړینې دهغه د لښکر یانو معنویات و غورځول کلا یې له مقاومت څخه ونیول شوه پرته له هغو څخه چې اسلام یې ومانه نور ټول ووژل شول او زیات شمیر غنیمت فاتح لښکر ته په برخه شو ،له هغې جملې پرته له سپینو او سروزرو او وسلې څخه ۱۲۰ پیلان دسلطان برخه شوه [۲] . سلطان د بهتندی د سلطنت د نورو شاوخوا سیمو د نیولو لپاره یو څه موده پاتې شو او د نویو مسلمانو شویو وگړیو د ښوونې لپاره یې ښوونکي مقرر کړل [۳]،په خپله بیرته غزنی ته راغی . له دې امله چې په بهتنده کې ډیر وخت پاتې شو نو د بارانو له کبله د سند د سیند اوبه ډیرې شوې چې د راتگ پر مهال ډیر سامان سیندیووړه او یو شمیر د جنگ ټپیان هم د سند سیند څپو پسې واخیستل [۴] . له دغوزیانو نو پرته سلطان سره د ملتان د حاکم دښمنې چې له پنجاب څخه د دغه لښکر له تیریدو سره موافق نه و ،هم زیاته شوه [۵] سلطان د ډیر وستونزو له زغملو وروسته ، د ۳۹۵ هـ په منځ ( د ۱۰۰۵ جون ) کې غزنی ته راورسید .

---

۱- عتبی ۲۱۰ مخ . گردیزی ۲۷ مخ .
۲- عتبی ۲۱۰ مخ گردیزی ۲۷مخ او ۲۸۰ مخ .
۳- عتبی ۲۱۰ مخ .
۴- عتبی ۲۱۰ مخ .
۵- فرشته ۲۵۰ مخ کې لیکي چې داود د خپلې ناوړه رویې له امله سلطان په غوسه کړی و .

## ۲ - د نراین پور نیول

د ۴۰۰ هـ کال په لومړیو ( د ۱۰۰۹ م په اکتوبر )[۱]. کې له ( نگرکوټ ) څخه له راستنیدو لږ وروسته سلطان د ( نراین پور )[۲] سفر غالباً د ملتان او بهتندې له خوا گنگا ته د لارې د پرانیستلو په خاطر پیل کړ. د نراین پور راجه سره له دې چې لږ څه مقاومت وکړ، خو په پای کې مغلوب او ښار یې ونیول شو. وروسته له دې څخه سلطان غزنې ته راستون شو[۳]. څه موده وروسته د نراین پور ـ

[۱]- ابن اثیر نهم توک ۱۴۹ مخ. عتبی د سلطان د وخت یواځنی ماخذ دی چې دغه سفر یې بیان کړی او سره له دې چې د پیښې نیټه یې ۵۳ لیکلې خو بیاهم هغه یې د (بهیم نگر) او غور د سفرونو تر منځ یعنی د ۳۹۹ او ۴۰۱ هجری کلونو ترمنځ شودلې دی.

[۲]- عتبی یې (نراین پور) بولي. کنتگهم په لرغونې جغرافیاکې په ۳۳۸-۳۴۴ مخونو کې وایې چې (نراین) همدا نراین پور څخه عبارت دی چې د ( الوار ) په ایالت کې دی. وگورئ د هند د لرغونو آثارو کتاب **Archaed ogical survey of India** دویم توک ۲۴۲ - ۲۴۷ مخونه او شپږم توک ۹۱-۱۰۳ مخونه.

[۳]- عتبی ۲۴۱-۲۴۲ مخونه، د سلطان د وخت دویم ماخذ دی چې دغه پیښه یې شرح کړې ده، یوه اوچته قصیده د د عنصری د دیوان ۱۰۰ مخ کې ثبت شوې ده چې د هغې یو فرد دا دی.

دویده ره زر بگرفتم بفتح ناراین بفتح رومیه صد بدره گیرم و خرطال

ابن جوزي، ۱۵۸ پاڼی لومړی مخ کې او سبط ابن جوزې د ۱۹۸ پاڼی دویم مخ کې لیکې چې په ۴۰۲ هـ (۱۰۱۱ - ۱۰۱۲ م) کې په هندوستان کې د اوبود کمښت له کبله د سلطان د پوځ د تکلیف خبر بغداد ته ورسید. کیدای شي دا سفر به همدا وي. خو سلطان د هغه د راپور په رسولو کې ځنډ کړی وي.

سرولیم هیگ په ۱۷ مخ کې د سلطان د همدی سفر په هکله وایې چې د دغه سفر موخه د دهلي نیول و او داهم وایې چې سلطان په (تراوری) کې کرنال ته نژدې هم یوه جگړه وکړه، خو خپل ماخذ یې نه دی ښودلی.

راجه[۱]. سلطان ته دوستانه پیغام ولیږه او ژمنه یې وکړه چې هر کال به د باج په ډول پنځوس پیلان ورکړي او لکه دهندوستان دنورو شهزادګانو په شان به ۲۰۰۰ تنه بیګار د سلطان تر امر لاندې عسکری ته ور کوي،خو د دې پر ځای باید سلطان د ده هیواد بیرته ده ته ورکړی.سلطان دهغه دغه وړاندیز ومانه او داسی هم ویل کیږی چې د دغی موافقی له مخی د هندوستان او خراسان ترمنځ تجارت او سوداګری ډیره پراختیا وموندہ[۲].

## ۳- د تهانسر نیول

د ۴۰۵ هـ په منی (د ۱۰۱۴ م اکتوبر)[۳].کې له (نندنه) څخه له بیرته راستنیدو وروسته،سلطان له غزنی[۴].څخه د (تهانسر)[۱]. دنیولو په خاطر حرکت وکړ.کله چې د آنند پال زوی تریلو چنپال د سلطان له دغه تصمیم څخه خبر شو،نو سلطان ته یې وړاندیز

[۱]- عتبی ۲۴۲ مخ. عتبی د دغه راجا نوم نه دی اخیستی ، خو ښکاره خبره ده چې دا هماغه د راین پور راجه دی. د ایلیات د اوسن غلطی په دویم ټوک کې ۴۴۸ مخ کی وګورئ.

[۲]- عتبی ۲۴۲ مخ و نراین پور د تجارتی اهمیت په هکله چې دسلطان په وخت کی یې درلود لیکنه کړی ده. همدارنګه البیرونی په لومړی ټوک ۲۰۲ – ۲۰۵ مخونو کی او دکنګهم لرغونی جغرافیا په ۳۳۸ – ۳۳۹ مخونو کی یې مطالعه کړئ.

[۳]- ابن اثیر نهم ټوک ۱۷۲ مخ. عتبی د پیښی نیټه نده لیکلی ، خو هغه ناردین او نندنې ته د سلطان له سفر څخه وروسته ښیې. خو ګردیزی د هغی پیښی نیټه ۴۰۲ هـ (۱۰۱۱ – ۱۰۱۲ م) لیکي.

[۴]- عتبی (۲۲۴ مخ) کې لیکی چې سلطان یوې شاړې سیمی څخه تیرشو چې هیڅ اوبه پکې نه وې کیدای شی دا سیمه د پنجاب هغه دښتې وي چې د (لیال پور) او (شاه پور) په سیمو کې پرتې دي.

وکړ چې که چیرې سلطان د تهانسر [2] له نیولو لاس په سر شي (تهانسر د (چکراس وامن) [3] دبت له امله هندوانو ته ډیر د درناوي وړ و) نو هغه ته به پنځوس پیلان ورکړي سلطان د هغه دا وړاندیز ونه مانه د (رام) [4] په نوم یو بل راجه چې د (دیره) [5].

حاکم و او دغه بت ته یې ډیره زیاته عقیده لرله، د ستبلج له سیند څخه (په کوم ځای کې چې دغه سیند لویو د ښتوته وځي) د سلطان د پورې وتو د مخنیوی لپاره یو لوی پوځ برابر کړ. د دغه لښکر وروستۍ برخه یې غرونو کې ځای پرځای کړه او مخکې یې د پیلانو صف او کتار جوړ کړ. سلطان پوځ ته امر وکړ چې دوه برخې شي او په یو وخت کې له سیند څخه تیر شي اود دښمن د پوځ په دوو اړخونو یرغل وکړي، هندوانو په زړورتیا سره جګړه کوله او پوره زور یې راوړی و، خو سلطان ماښام مهال یوه نه دفاع کیدونکی حمله وکړه او د دښمن پوځ ته یې ماتې ورکړه او د هغوی قیمتی شیان او پیلان یې

---

[1]- عتبی ۲۷۴ مخ کې لیکی چې سلطان څکه تهانسر باندې یرغل وکړ چې د پیلانو هغه ځانګړی نسل چې دهغی سیمی د راجه واک لاندی و او جګړی ته ښه مناسب وو ترلاسه کړي.

[2]- عتبی ۲۷۴ مخ.

[3]- چکارس اومن (د آرابی د ښاغلی) په معنی ده. او ویل کیږی چې دا د (راجه بهرت) پروخت د هغه د جګړو په درناوی جوړ شوی و، وګورئ البیروني لومړی ټوک ۱۱۷ مخ او ګردیزی ۷۰ مخ.

[4]- ګردیزی ۷۱ مخ او عتبی هم د جګړی شرح لیکلی ده خو د راجه نوم یې نه دی اخیستی. ګردیزی په ۱۰۴ مخ کی کله چې سلطان مسعود ته د درناوی په هکله لیکنه کوي د راجه نوم بیا (رام) لیکی.

[5]- ګردیزی ۷۱ مخ. (دیره) غالباً هماغه (دیره ګوپی پور) ده چې د (کانګره) په سیمه کې ده یا به هم د پنجاب دجپال په ایالت کې (د یو هره) وي.

ورځخه ونیول،سلطان فاتح شو ، خو دهغه د تلفاتو شمیر د دښمن له تلفاتو ځخه ډیر زیات و [۱]. وروسته له دې یې خپل سفر ته د تهانسر [۲] په خوا دوام ورکړ . د تهانسر راجه د سلطان په رارسیدو سره وتښتید ،بت یې یواځې پریښود.سلطان پرته له مقاومت ځخه ښارته ننوت هغه یې لوټ کړ ، د (چکرس وامن) بت یې چې کلونه کلونه د بې شمیره خلکو د درناوي ورو له ځایه راوویست اود غزنی په چوک کې یې په ځمکه واچاو [۳]. سلطان دهمدې کال په پسرلي کی یعنی د ۱۰۱۵ م کال په مارچ کی بیرته غزنی ته راستون شو .

## ۴- کشمیر باندي یرغلونه

**الف : د( لوهکوټ ) یا ( لوهرین ) لومړنی محاصره**

په ۴۰۲ هـ ( ۱۰۱۵ م ) [۴]. کې سلطان غالباً د (سنگرام راجه) د ټکولو لپاره (چې تریلوچنپال سره یې د سرغړونې پروخت مرسته کړی وه) د کشمیر د نیولو لپاره له غزنی ځخه حرکت وکړ،د جهلم تر سیند پورې ورسیده وروسته د (توهي) د وادي له لاري پرمخ ولاړ.غوښتل یې چې د (توش میدان) [۵]. په دره کې له سیند ځخه تیر شي او پر کشمیر یرغل وکړی،خو په دغه ځای کې د (لوهکوټ) غرنی کلا (چې نن ورځ د

---

[۱]- عتبی ۲۲۵ مخ گردیزی ۷۱ مخ .

[۲]- د متن شرح له عتبی ځخه پاتی شوی ده .

[۳]-گردیزی ۷۱ مخ البیرونی لومړی توک ۱۱۷ مخ .

[۴]-گردیزی ۷۲ مخ او عتبی د سلطان دغه سفر پرته له دې چې تصادفاً یې د خپل کتاب په ۳۰۴ مخ کی ورته نغوته کړی ، هیڅ ندی لیکلی .

[۵]- سر آرل ستین کلهنه ، دویم توک ۲۹۳ – ۲۹۵ او ۳۹۹ مخونه .

لوهرين په نوم يادېږي[1]. او په ټوله دره باندي حاکمه او لوړ ځايکې وه او ډېره کلکه هم وه د دوی لاره خنډ کړی وه. نو سلطان دغه کلا ايساره کړه،خو د بيسارې واورې وريدو د اړيکو سلسلو منځ کی ستونزې پيدا کړې او سلطان وروسته له يوې مياشتې هڅو څخه بې نتيجی کلا پرېښوده او بېرته را وګرځيد[2].په لاره کی يې لاره ورکه کړه داسې ځای ته راورسيدل چې ټوله سيمه تالا بونه وو[3].

سلطان پاتې ژمی په پنجاب کی تير کړ او د ۱۰۱۲ م په پسرلي[4] کی د مارچ په مياشت غزنی ته راغی.

## ب: د لوهکوټ يا لوهرين دويم ځل محاصره کول

سلطان د ۴۱۲ هـ په مني (د ۱۰۲۱ اکتوبر دسمبر)[5] کی يوځل بيا په کشمير د يرغل قصد وکړ او د لوهکوت د کلا د محاصرې لپاره

---

[1] - ګرديزی د دغی کلا نوم (لوکهوت) او کلهنه (لوهرکوته) ليکلی د دواړه معنی (او سپنيزه) ده. دغه کلا دشمال ۳۳ درجو او ۴۸ دقيقو عرض البلد او د مشرق ۸۴ درجو او ۲۳ دقيقو طول البلد کې واقع ده. وګورئ د سرآرل ستين(E) نوټ چې د کلهنه کتاب دويم ټوک ۲۹۳ – ۳۰۰ مخونو کی يې ليکلی دی.

[2] - ګرديزی ۷۳ مخ کې غالباً په همدی سفر کی يادونه کوی چې د جنوب غربی کشمير خينو راجاګانو سلطان ته اطاعت وکړ. وګورئ د عتبی وينا په ۳۰۴ مخ کی او مقايسه يې کړئ.

[3] - غالباً د (تاوسی) او (سورن) د سيندونو د يو ځای کيدو په سيمه کې د (پونچ) د جنوب غرب څو ميلی کې د (مندونه) شمال ته پرته سيمه ده.

[4] - ګرديزی ۷۳ مخ.

[5] - ګرديزی ۷۹ مخ. په ايليات داوسن کې دغو نيټه سهواً ۴۱۳ هـ (۱۰۲۲ – ۱۰۲۳ م) ليکل شوي ده.

چې په ړومبی ځل دوی ته خنډ شوی وه له غزنی څخه وخوځیدل ، خو دا ځلا هم د کلا طبیعی استحکاماتو د سلطان مقصد بی نتیجې کړ ، سره له دې چې د هغی نیولو لپاره یې یوه میاست هلې ځلی وکړی ، وژمې راتگ بالکل هغه ناکام او ډیر عسکریې مړه شول . سلطان بیا مجبور شو چې له محاصرې څخه صرف نظر وکړې اود کشمیر د نیولو فکر له سره لرې کړی[1] . سلطان ژمی په پنجاب[2] کې تیرکړ او د ( ۱۰۲۲ م مارچ – اپریل ) یعنی په پسرلی کی[3] بیرته غزنی ته راستون شو .

## ۵- په (دو اب گنگا) باندې یرغل او د (متره) او (قنوج) نیول

له دې کبله چې د ( دوآب گنگا) یعنی د گنگا او جمنا د سیندونو تر منځ سیمه د وروستیو فتوحاتو له امله پاکه شوی وه، سلطان تصمیم ونیو چې له هغی لارې پر (قنوج) یر غل ور وړی . په همدې نیت د دوشنبې په ورځ د ۴۰۹ هـ کال د جمادی الاول په ۱۳ مه ( د ۱۰۱۸ م د

---

[1]- گردیزی ۷۹ مخ .

[2]- گردیزی ۷۹ مخ . کی لیکی : سلطان لاهور او ( تاکشر ) ته راستون شو . (تاکشر د پنجاب هغه سیمه وه چې د چنیاب د سیند غرب ته د همالیا د غرونو په لمنو کې واقع و .مقایسه کړئ او وگورئ : البیرونی لومړی ټوک ۲۰۸ مخ . آداب الملوک ( چې مولف آسیایی شاهی انجمن په مجله کی د ۱۹۲۷ کال چاپ له ۴۷۲ – ۴۹۱ مخونو پوری هغه ژباړلی ده ) .

[3]- گردیزی ۷۹ مخ . په ایلیات او داوسن کې لیکل شوی چې دغه سفر دهغه سفر په ادامه و چې سلطان د نورو او قیرات د سیندونو وادي گانو ته درلود ، خو دا په کوم ماخذ باندې استوار ندی .

سپتمبر په ۲۷ مه ) [1] يې له يو ولس زره منظم پوځ سره [2] او شل زره رضا کار پوځ سره [3] حرکت وکړ او د همالیې د غرونو د لړۍ ترکوزو برخو چې د دغو دواړو سیندونو گودرونه [4] واقع دي ، ورسید اود جنوبي کشمیر [5] په غرونو کی دکانجر بهمی راجا د زوی ( جانکه ) په مرسته د ۴۰۹ هـ کال د رجب په شلمه ( د ۱۰۱۸ د دسمبر په دوهمه ) د جمناله سیند څخه پوري وت .

په ( دوآب ) کې د سلطان پرمختگ د يو شمیر فتوحاتو ،جنگونو ،محاصرو او پرله پسی یرغلونو څخه عبارت و چې د سلطان د نوم شهرت مخکی مخکی و او فتح يې آسانه کوله ، له جمناسیند څخه تر تیریدو و وروسته ، سلطان د ( سرساوه ) [7] کلا محاصره کړه چې په پای

---

[1]- ابن جوزي د ۱۲۲ پاڼی دویم مخ . گردیزی ۷۴ مخ . بسط ابن جوزي د ۱۴۹ پاڼی لومړی مخ. ابن اثیر دغه سفر سهواً په ۴۰۷ هـ کی لیکلی دي .

[2]- د سلطان د لښکر شمیره له بسط ابن جوزي څخه د ۲۰۵ پاڼی لومړی مخ څخه اخیستل شوی دی .

[3]- عتبی ۳۰۴ مخ .

[4]- عتبی ۳۰۵ مخ . سبط ابن جوزي د پنجاب د هغو سیندونو نومونه اخیستی دي چې سلطان ور څخه تیر شوی و .

[5]- عتبی ۳۰۵ مخ . او بیهقی د خپل کتاب په ۲۸-۱۲۹-۲۱۱ او ۲۲۴ مخونو کې د ( کانجي ) نوم راوړی او هغه يې د کشمیر دکالنجر حکمران بللی دی . د ده له دې لیکنو څخه ښکاري چې کالنجر د جهلم له شمال سیمی څخه ډیر لری نه و . ډاکتر اقبال ( د راوندي ۴۷۸-۴۷۹ مخونو کی ) د هغې کلا ځای ونشو ټاکلی ، بلکی هغه يې ملتان ته نژدی يو ځای تصور کړی . سر آرل ستین د ( د کلهنه دویم ټوک ۳۳۳ مخ کی ) د هغې موقعیت په سم ډول ( کوتلی ) ښودلی دی .

[7]- سبط ابن جوزی ۲۰۵ پاڼه ، لومړی مخ ، عنصری ۱۴۱ مخ .

کی.د هغې کلا راجا وتښتید او ساتونکی یې ونیول شول . د هغی غنایم درې پیلان او یو میلیون درهمه وه .

وروسته له دې څخه سلطان د (بارن) یا (بلند شهر)[۱] په لور روان شو د (بارن) راجه (هروت) تسلیم شو او ویل کیږی چې خپلو لس زره کسانو سره یې اسلام ومانه[۲].

وروسته یې د جمنا د سیند څنګ ته د (مهابن)[۳] د کلا دنیولو په خاطر وړاندې ولاړ.د (مهابن) راجا (کلچنه) خپل ټول پیلان او لښکر یوه ګڼ ځنګله ته بوتلل او حملې ته منتظرشو.خو د سلطاد لښکر دکشف له ډلی څخه یې ماتې وخوړه اووتښتید . فراریانو د ځانونو د ساتلو په خاطر او د سیند بلی غاړې ته د رسیدو لپاره ځانونه سیند ته واچول چې یو شمیر یې اوبو یوووړل او نور یې اسیر شول او یو شمیر یې ووژل شول. (کلچند) د خلاصون ټولې لارې بندې ولیدې لومړی یې خپله میرمن و وژله بیا یې توره په خپل زړه و منډله. له دغې جګړې ډیر زیات شمیر غنیمتونه مسلمانانو ته په لاس ورغلل،چې له هغی څخه یې ۱۸۵ پیلان وو[۴] .

---

[۱]- عتبی ۳۰۵ مخ . عنصری ۱۴۱ مخ ، خو فرشته په ۲۹ مخ کی په غلطه هغه میروت بللی دی . (بارن) د بلند شهر پخوانی نوم و . وګورئ ګریټر شاهشاهی هند ۱۹۲۷ کال) او د هندوستان لرغونې آثار د (فیوهور) تالیف .

[۲]- عتبی ۳۰۵ مخ .عنصری ۱۴۱ مخ. خو ګردیزی په ۷۵ مخ کې وایې چې راجه وتښتید .

[۳]- ګردیزی په ۷۵ مخ کې او عنصری ۱۴۱ مخ کې لیکلی چې (مهابن) د جمنا د سیند چپ اړخ یا کینی غاړې ته نژدې د (متره) جنوب شرق ته د شپږو میلو په فاصله کې واقع ده .

[۴]- عتبی ۳۰۲ -۳۰۷ مخونه او ګردیزی ۷۵ مخ او عنصری ۱۴۲ مخ .

سلطان وروسته له دې ځخه د (متره) خواته، چې په ښکاره ډول، د کرشنا (هغه پهلوان چې هندوانو هغه د خدايي تربريده لمانځه) دزيږيدو ځاى او د هندوانو يو ډير ښكلى او ښايسته مذهبى او علمى مركز و، حركت وكړ. متره ډيره كلكه كلا وه او شاوخوا يې د تيږو ديوال و او د جمنا د سيند پر لوري يې دوه[1] دروازې درلودې، خو دسلطان په رسيدو سره دښار ساتونكى پرته له مقاومت ځخه تسليم شول[2].

د متره ښار له پرتمينو معبدونو ځخه ډک و او د کورونو په سر سريې او چت او چت منارونه ځليدل، سلطان د دغو ودانيو له ښکلا او پرتم ځخه دومره اغيزمن شو چې د غزنې اميرانو ته يې په هغه برې ليک (فتح نامه) كى چې ورليږلى وه، دهندوانو د معمارى صنعت ډيره زياته ستاينه او صفت كړى و، خو بياهم د غو ستانيو د سلطان د بت ماتولو احساس باندې اغيزه ونه كړه، كله يې چې د معبدونو خزانې ترلاسه كړى، هغه يې ټول وران او وسوځول[3].

د جگړى غنيمتونه پنځه د سروزروبتان[4] چې په يوه کې يې د پنځوس زرو دينارو په بيه دوه دانى لالونه و، دوسوه د سپينو زروبتان او يو دانه ډير لوى د نيلم جوهر و[5]. سلطان د لښكر ډيره برخه

---

[1]- عتبى ۳۰۷ مخ.

[2]-گرديزى ۷۵ مخ.

[3]- عتبى ۳۰۸ مخ او گرديزى ۷۵ مخ.

[4]- عتبى ۳۰۸ مخ كى ليكې چې دغه بتان پرته له كوم شي په هوا كى معلق (ځوړند) وو.

[5]- عتبى په ۳۰۸ مخ كى او گرديزى په ۷۲ مخ كې ليكي چې د دغى دانى (نيلم) وزن ۴۵۰ مثقاله و. خو دا هيڅ امكان نه لرى چې يو دانه جوهر دومره وزن ولرى.

ځان پسې کړه او له دې ځایه د قنوج پرخوا روان شو. قنوج د (پراتهیاره) د شاهزادګانو د حکومت مرکز و چې د شمالي هندوستان ډیر ښاغلی، منلی او مخور کسان شمیرل کیدل[1]. سلطان د ۴۰۹ هـ کال د شعبان په اتمه (د ۱۳۱۸ م د دسمبر په شلمه)[2] قنوج ته ننوت. د قنوج[3] راجه (راجیاپال) د سلطان د راتګ د خبر په اوریدو سره د ګنګاله سیند څخه پوري وت (باري)[4] ته وتښتید[5]. سلطان د قنوج کلا محاصره کړه د هغې ټول استحکامات یې یوه ورځ کې ونیول. د ښار د لوټولو حکم یې وکړ او زرتنه هندوان یې یوه ورځ کې ونیول او ویې وژل[6].

---

[1]- عتبی ۳۰۹ مخ.
[2]- عتبی ۳۰۹ مخ، ګردیزی ۷۲ مخ.
[3]- عتبی ۳۰۹ مخ، د ۱۹۰۸ م کال د آسیائی شاهي انجمن مجلی ۷۹۱ مخ. ایلیات و د اوسن د غه راجه په غلطه سره (رای جیپال) بللی دی (دویم ټوک ۴۵مخ). ولیم هیګ ۱۹ مخ کې هغه (جیچند) بللی چې غالباً یې له راجه (روتهه) سره غلط کړی (چې هغه هم همداسې نوم درلود او له محمد بن سام غوري سره یې جګړې کړي).
[4]- عتبی ۳۰۹ مخ.
[5]- باري تقریباً ۴۰ میله د قنوج ختیځ ته واقع ده، خو د هغې سم او د قیق ځای نه دی څرګند شوی. و ګورئ البیروني لومړی ټوک ۲۰۰ – ۲۰۱ مخونه.
[6]- عتبی ۳۰۹ مخ. د ګردیزی وینا په دې برخه کې ناڅرګنده ده. امین احمد رازي په هفت اقلیم کې (د بانکي پورې د قلمي نسخې ۱۳۷ پاڼی لومړی مخ کې) لیکي چې: کله چې محمود په ۴۰۹ هـ کې قنوج ترلاسه کړ، سرینګر یې د هغه پر ځای جدم محمد یوسف ته ورکړ او هغه یې د لاهور نایب الحکومه مقرر کړ.

په دی توگه د سلطان موخه ، یعنی د قنوج نیول تر سره شوه او د بیرته راگرځیدو امریې وکړ د راتگ پر وخت چې د ( منج ) [۱] د کلا له ځنگ څخه تیریده هغه یې محاصره کړه،دا کلا د برهم نانو په کلا مشهور وه . سلطان دغه کلا له ډیر مقاومت څخه وروسته ونیوله . د کلا ساتونکو ځانونه د ژوندې پاتی کیدو په هیله له برجونو را وغورځول یو شمیر یې مړه او نور وتښتیدل [۲] .

وروسته له دې څخه سلطان ( اسی ) [۳] کلا ته ورغی،دغی کلا ته نژدې یوگڼ ځنگل و. د ( اسی ) راجه چې ( چندرپال بهور ) ـ

نومیده [۴] و تښتید او سلطان د هغه پنځه کلا گانې ونیولی ،او ( اسی ) یې لوټ کړه ساتونکی یې بندیان او ووژل [۵] .

---

۱- ( منج ) د ( اتاوې ) شمال شرق ته په ۱۴ میله کی ده ( وگورئ د یو یې د سیمې گزیتر ۱۱ ټوک ۲۱۹ مخ ) . ایلیات داوسن په بلغ باندی د همدې ( منجهاون ) خیال کړی چې د کانپور د جنوب په لس میلی کی واقع دی . میجرووست ( د هندوشاهنشاهی گزیتر د ۱۹۰۷ کال ۴ ټوک ۴۲۲ مخ کی ) هغه ظهر آباد سره چې جانپور کی دی غلط کړی .ولیم هیگ هم همد اسی غلطی کړی ده ( ۱۳۳ ) مخ .

۲- عتبی ۳۱۰ مخ .

۳- عتبی ( آسی Asi) لیکلی دی چې د ( آسی Asia ) په شان لوستل کیږی . آسی د ( اتاوه ) غرب ته په شپږ میلی کې له جمنا څخه لری پروت دی . د روایت له مخې ( اسی ) د قنوج یوه دروازه وه . وگوری د لرغونې جغرافیا ۳۳۹ مخ د کنگهم تالیف چې د اسی د موقعیت په هکله یې د البیرونی له سفر نامې څخه ←

← استفاده کړی ده . همدارنگه وگورئ د ( فیوهرر) لرغونی جغرافیا ۸۹ مخ . ایلیات د اوسن ۲ ټوک ۴۵۸ مخ کی ( اسی ) هماغه ( اسنی ) سره غلط کړی چې د گنگا پر غاړه د ( فتح پور ) شمال شرق ته د لسو میلو په واټن کی پروت دی .

۴- عتبی ۳۱۰ مخ . ابن اثیر د نهم ټوک په ۱۸۲ مخ کی ( چندپال ) لیکلی دی .

۵- عتبی ۳۱۰ مخ .

سلطان له ( اسی ) څخه مخامخ د شمال پرلوري روان شو د ( شروه )[۱] کلاته ورسید . د هغې کلا راجه چې ( چندر رای ) نومیده،د دفاع لپاره ځان چمتو کړ ، خو د سلطان په ور رسیدو سره د خپل زوم ( بیهمنپال ) په مشروه چې د تریلو چنپال[۲] زوی و . غره ته وتښتید سلطان هغه پسې شو پنځلس میله لرې یې د شعبان په ۲۵ مه[۳] ( د ۱۰۱۸ م په جنوری ) کې ونیو . دغه راجه د خپلو عسکرو په ښه برابرولو سره زړور جنګ وکړ ، خو په آخر کې مغلوب شو او لښکر یې لوټ شو . هغه زیات شمیر غنیمتونه چې زیات شمیر یې پیلان وو د فاتح لښکر لاس ته ورغی[۴] . وروسته له هغه سلطان د غزنی په لوري

---

[۱]- د مولف په ګومان ( شروه ) د ننني ( سروه ښار ) نوم و چې د ( میرت ) جنوب ته په ۱۳ میلی کې واقع دی . ایلینات د اوسن دیوم ټوک ۴۵۹ مخ کې دوه نومونه د ( سونره ) او ( سرس و ګره ) په نوم لیکلی چې په ( بندهل کهنه ) کې واقع و ، خو دا دواړه له ذکر شوی ځای څخه ډیر لری وو . د ( شروه ) راجه د تریلو جنپال ګاونډی و چې د ( سولک ) غرونو کې د واک خاوندو . ګردیزی ۷۲ مخ کې لیکی چې د چندر رای خزانه سلطان ته له قنوج څخه دهغه د ستنیدو پر مهال لاس ته ورغله . له دغی خبری او د ( شیروه ) له راجا سره تریلو جنپال د پرله پسی جنګونو څخه ښکاري چې ممکن نده چې ( شروه ) د ( سیونره ) او ( سرس وګړ ) په پرتله ډیره لری پرته سیمه وي .

[۲]- عتبی ۳۱۲ مخ .

[۳]- عتبی ۳۱۳ مخ . سلطان حتماً فوق العاده ګړندی کار کړی دی . سلطان د رجب په شلمه دوآب ګنګا ته ورسید او له جنګ وروسته د شعبان په ۲۵ مه له جمنا څخه تیر شو . نو هغه ټوله موده چې سلطان د دغو ځایونو په نیولو کې تیره کړی له ۴۰ ورځو زیاته نه وه ، خو فرشته دغه موده له دی څخه زیاته ښودلی ده .

[۴]- عتبی ۳۱۳ مخ او ګردیزی ۷۲ مخ کې لیکی چې د چندر رای یو پیل چې سلطان هیله لرله چې په هر رقم وی ترلاسه یې کړی ، یایې پنځوسو پیلانو سره بدل کړی ، په خپله د سلطان لښکر ته راغی نو ځکه یې( خدا داد ) نوم ورباندی کیښود .

روان شو. د دغه سفر د غنیمتونو توله بیه پرته له ۵۵ غلامانو (مرئیانو) څخه ۳۵۰ پیلان او درې میلیونه درهم کېدل [۱].

## ۶- د قنوج د حاکم (تریلو چنپال) او د (کالنجر) د حاکم (ګنده) په وړاندې د سلطان لښکرکشي

د ۴۰۹ هـ کال د شعبان په میاشت کې، د سلطان له راستنیدو څخه لږ وروسته د کالنجر راجه (ګنده چندل) د قنوج حاکم (راجیاپال) په دې ډېر ملامت کړ چې ولې یې له سلطان سره په ډار او ویرې جګړه کوله [۲]. او دهغه په وړاندې یې ولې د ګاونډیو راجه ګانو او له هغې جملې د ګوالیار له راجه (ارجن) سره یووالي کړې و. د متحدینو لښکر د (چندل) [۳]. د ولیعهد (ورهیادهره) ترلاربښوونې لاندې د راجیه پال په وړاندې حرکت وکړ. راجیه پال په دغه جګړه کې مړشو [۴]. او (تریلو چنپال) چې په غالب ګومان د (راجیه پال) زوی و [۵] دهغه پر ځای پر تخت کیناست.

د غې کامیابی د (ګنده) په اقتدار کې دومره زیاتوالی راوست چې ژمنه یې وکړه چې له سلطان څخه د ده د نیکونو د سلطنت د بیرته

---

۱- عتبی ۳۱۳ مخ. سبط ابن جوزی د ۲۰۵ پاڼی لومړی مخ.

۲- عتبی ۳۱۳ مخ. ګردیزی ۷۲ مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۸ مخ. نظامی او فرشته په غلطه لیکلې چې (راجیه پال) سلطان ته اطاعت وکړ. سمت (۳۸۳ مخ کې او ولیم هیګ (۲۱ مخ کې) او نوروهم د همدې غلطی تکرار کړی ده.

۳- سمت، د ۱۹۰۹ م کال د آسیائی شاهي انجمن مجله، ۲۷۸ مخ.

۴- ګردیزی ۷۲ مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۸ مخ.

۵- سمت ۳۸۳ مخ.

ترلاسه کولو لپاره د آنند پال له زوی تریلو چنپال سره مرسته وکړي [۱]. سلطان د دی خبرو په اوریدو د ۴۱۰ هـ په مني (د ۱۰۱۹ م) په اکتوبر کی د (گنده) د ځواک د ماتولو په خاطر او د قنوج او باری له نوی راجه سره دهغه د متحد کیدوله امله د هغه د رټلو په خاطر له غزنی حرکت وکړ او د گنگا په کوزه برخه یعنی (هردوار) کی له دغه سیند څخه پوري وت [۲]. د آنند پال زوی تریلو چنپال چې د سلطان له راتگ څخه خبر شو، جنوب ته د خپل همنامه (د قنوج او بارې حاکم تریلو جنپال) د لښکر و سره دیو ځای کیدو په خاطر ولاړ، سلطان هم ورپسی شو، د (رهوت) (یارام گنگا) د سیند غاړې ته نژدی یې ورباندې یرغل وکړ، خو تریلو جنپال له سیند څخه پوری وت او کوښښ یې وکړ چې له سیند څخه دسلطان د تیرید و مخه ونیسی، خو سلطان و کولای شو چې له سیند څخه تیر شي او کله یې چې تریلو چنپال ته هلته ماتې ورکړه، نو د باری په لوری یې خپل سفر ته دوام ورکړ. د سلطان په رسیدو سره د باري راجا تریلو جنپال د ښارله نورو اوسیدونکو سره یو ځای وتښتیدل [۳] سلطان د ښار دورانولو حکم ورکړ [۴].

---

[۱]- گردیزی ۷۲ مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۸ مخ . آداب المولک ) برتش موزیم او ۱۲۸۵۳ نمره قلمی نسخه ) د ۱۸۴ پاڼی لومړی مخ .

[۲]- گردیزی ۷۲ مخ . عتبی ۳۱۸ مخ . ابن اثیر د دغه سفرنیټه د ۴۰۹ هـ ( ۱۰۱۸ – ۱۰۲۹ م ) کال ښودلی او فرشته ۴۱۲ هـ ( ۱۰۲۱-۱۰۲۲ ) ښودلی دی چې دا دواړه غلط دی .

[۳]- گردیزی ۷۷ مخ . فرخی د ۱۲ پاڼی دویم مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۸ مخ .

[۴]- گردیزی ۷۷ مخ . فرخی د ۱۲ پاڼی دویم مخ .

سلطان وروسته له دي (د گنده) لورى ته پام واړاو . گنده د ۱۵ زرو پیاده او ۳۲ زرو سپرو عسکرو او ۲۴۰ پیلانو [۱] په گډون له يو لوى پوځ سره د مقابلې لپاره چمتو شو . سلطان د خپل لښکر قومانده په لاس کې واخيسته او د جگړى صفونه يې جوړ کړل بيا يې ايلچى گنده ته ولیږه ورته ویې ویل چې يا بايد اسلام و مني يا باج ورکړي . گنده دا پيغام ونه مانه ، نو د جنگ لپاره يې تيارې ونيوله [۲] . سلطان يو لوړ ځاى ته وخوت اود دښمن موقعيت يې وکوت . دا وخت يې سترگې داسى منظره باندې ولگيدى چې د ده دزړ ورتيا احساسات يې جريحه دار کړل . ځکه تر څو ستر گو کار کاو په لويه دښته کې د دښمن له حسابه وتلې خيمې پلنې وى ، سلطان د نا اميدې په حالت کى د لوى ذات دربار ته سجده وکړه او له هغه څخه يې مدد وغوښت دې کار د ده مړا وى احساسات بيرته را ژوندى کړل [۳] . ماښام عبدالله محمد الطائى د سلطان د پوځ د يوى قطعى قوماندان د دښمن د پوځ يوى قطعى سره جگړه وکړه او هغه يې ماتى سره مخامخ کړل چې دسلطان خپگان په خوشحالي بدل شو [۴] سبا بيا سلطان ايلچې گنده ته وليږه ، کله چې هغه بيرته راستون شو سلطان ته يې وويل چې د دښمن خيمې ټولې تشي دى . گنده د خپلى قطعى د ناکامى له کبله ويريدلې او د شپى په تياره کې تښتيدلى و.په دې توگه د راجيه پال قربانې د هغه د

---

۱- گرديزى ۷۷ مخ . ابن اثير نهم ټوک ۲۱۸ مخ . فرخى د ۱۷ پاڼى لومړي مخ کې ليکى چيگنده ۱۳۳ زره پياده او ۳۲ زره سپاره او ۹۰۰ پيلان لرل .

۲-گرديزى ۷۷ مخ .

۳-گرديزى ۷۷ مخ .

۴- ابن اثير نهم ټوک ۲۱۸ مخ . فرخې د دوهمى پاڼى لومړى مخ .

قاتل اخلاق او معنویات نه و اصلاح کړي [۱] . سلطان د دغې ناڅاپي خوشحالي له امله شکر وایست ، بیا یې هم لټون وکړ چې دښمن چیرې کمین نه وي نیولی،خو کله چې ډاډه شو د دښمن د اردو د لوټ کولو امریې ورکړ ، په دغه اردو کې ټول قیمتي شیان موجود وو چې د ښمن د هغو دوړلو وخت نه وموندلی [۲] . تښتیدلی پوځ تر یو ځای پورې تعقیب کړای شو چې یو شمیر اسیر او وژل شول خو ګنده ژوندی له میدان څخه ووت [۳] .

وروسته له دي څخه سلطان غزنی ته راغی [۴] او په لاره کې د ګنده ۵۸۰ جنګی پیلان په لاس ورغلل [۵] .

## ۷ - ګوالیار او کالنجر ته د سلطان پوځ لیږل

د سلطان د ۴۱۰ هـ (۱۰۱۹–۱۰۲۰ م)کال د حملی له امله بیا هم د ګنده اقتدار مات نشو،نو ځکه یې په ښکاره ډول د سلطان په وړاندې د دفاع دریغ نیولی و ، نو ځکه یو ځل بیا سلطان په ۴۱۳ هـ ( ۱۰۲۲ م ) [۶] کې د ( ګنده ) د ټکولو په نیت د کالنجر خواته حرکت

---

۱- ګردیزی ۷۷ مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۸ مخ .

۲- ګردیزی ۷۸ مخ ..فرخي دوهمی پاڼ یدوهم مخ ، ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۸ مخ .

۳- ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۸ مخ .

۴- فصیحی د ۳۲۲ پاڼي لومړی مخ کی سهواً په هند کې د سلطان د پاتې کیدو مؤده خلور کاله لیکلیده .

۵- ګردیزی ۷۷ مخ . فرخي د دویمې پاڼی دویم مخ . د دغې پیښی بشپړه شرح په مجمع الانساب کې راغلی ده ، خو د کتاب متن دومره خراب او تحریف شوی دی چې له هغه څخه څوک په څه شي باندی نشی پوهیدلای .

۶- ګردیزی ۷۹ مخ .

وکړ . د لاري په اوږدو کې ( ګواليار ) و او د هغې راجه چې ( ارجن ) نوميده د ګنده رعيت بلل کيد . کلا د يو غره په لوړه څوکه کې وه چې د هغې ډير کلک استحکام مشهور و . سلطان دغه کلا توپانی يرغلونو لاندې ونيوله، خو په نيول کيدو کې يې پاتې راغی، خو د هغې راجه د بريالي مقاومت سره سره و ويريد او وروسته له څلورو ورځو يې ۳۵ پيلان سلطان ته ورکړل [۱] .

سلطان له دې ځای څخه د کالنجر د کلا خواته حرکت وکړ . کالنجر کلا هم د يوه غره پر سر پريو مخ په څوړ ځای کی آباده شوی وه چې د خپل کلکوالی له امله نامتو وه . ويل کيږی چې په دغه کلا کی د ۵۰۰ زرو کسانو، ۲۰ زره څارويو او ۵۰۰ پيلانو خوراک او آذوقه زيرمه شوی و له دې پرته زيات مقدار جنګی مهمات اونور ضروريات هم پکی و [۲] . سلطان دغه کلا محاصره کړه او د هغې ټولی لارې يې بندې کړې ، تر څو د هغې ساتونکی د لوږی له ويرې تابع شي . آخر کې ( ګنده ) د سولې [۳] غوښتونکی شو او وعده يې وکړه چې هر کال به

---

[۱]- ګرديزی ۷۹ مخ . د Syroac Chronicle په ۲۱۱- ۲۱۲ مخونو کې له راجه ارجن سره د سلطان دسفير د ملاقات يوه شرح او د سولې د يو ژمنې او معاهدې د ترسره کولو مراسم ليکل شوی د ی چې د هغې د اصلی نسخی ژباړه د همدې کتاب په ( ل ) ننبلوته کی راغلی ده .

[۲]- ابن ظافر د ۱۴۹ پاڼې دويم مخ . سبط ابن جوزي ( بودليان کتابتون ، ۳۷۰ ګڼه قلمی نسخه ) د ۴۱۴ هـ کال د پيښو تر عنوان لاندې ابن ظافر داهم وايې چې هندوان په دې عقيده دې چې ددې کلا موسس هغه لومړنی راجه و چې د لومړی ځل لپاره يې پيلان اهلی کړل او ورباندې سپور شو او نورو راجه ګانو هم ورڅخه زده کړل .

[۳]- ابن ظافر ( د ۱۴۹ پاڼی دويم مخ ) کی ليکی چې د هندوانو د سولې د مراسمو يوه برخه داوه چې مغلوب حاکم به د خپلی يوې ګوتی څوکه پرې کوله او فاتح ته به يې ورکوله او فاتح به د بريالیتوب د يادګار په توګه ځان سره ساتله ←

۳۰۰ جنګي پيلان او نور خراج سلطان ته ورکوي [۱] . سلطان د نوموړي غوښتنه ومنله او د کلا محاصره يې پرېښوده . وروسته بيا (ګنده ) په هندي ژبه دسلطان په مدح کې ځنې بيتونه په نظم سره وليکل چې د سلطان دومره خوښ شول چې د پنځلسو کلاوو حکومت او زيات شمير سوغاتو نه يې ورو بښل [۲] .

سلطان د ۴۱۳ هـ په وروستيو ( د ۱۰۲۳ مارچ اپريل)کې بېرته غزنی ته راستون شو [۳] .

---

← نو سلطان د څو څو مغلوبو راجه ګانو د ګوتو څو کې ځان سره لرلې ، نو ګنده هم مکلف و چې د خپلی يوې ګوتې څو که سلطان ته ورکړی . وګورئ ابن اثير نهم ټوک ۱۳۳ مخ او د همدې کتاب (ل ) نښلونه .

[۱]- ګرديزی ۸۰ مخ . ابن ظافر د ۱۴۹ پاڼی دويم مخ کې د ګرديزی له مخی ليکی : ګنده دغه پيلان د سلطان د لښکر د عسکرو د زړورتيا د معلومولو لپاره پرته له فيلبانانو څخه ورلېږلی وو ، دغو عسکرو هغه بې له کومې ويری ټول ونيول او ځان سره يې راوستل . ايليات و داوسن ( دويم ټوک ۴۲۷ مخ دويمه تبصره کی ليکی ) ګنده د غو پيلانو ته کوم شی ورکړی وو او ټول يې مست کړی و ، خو په دې هکله کوم سند نشته .

[۲]- ګرديزی ۸۰ مخ . ابن ظافر د ۱۴۷ پاڼې دويم مخ . ابن اثير سهواً د سلطان دغه سفر دهغه د ملتان د سفر په دوام بللی دی کوم چې په ۳۹۲ هـ ( ۱۰۰۵ – ۱۰۰۲ م ) کی يې تر سره کړی و . ابن خلدون او ابن الفدا هم همدا غلطی نقل کړی ده . د دغه سفر ځنې تشريحات په مجمع الانساب کې د ۲۳۴ پاڼی لومړی مخ کې هم راغلی دي خو د هغی نه مخکی ماخذونو هغه ندی تائيد کړی .

[۳]- ابن ظافر ( د ۱۵۰ پاڼی لومړی مخ کی ) ليکي چې د ګنده له اطاعت څخه وروسته دهغه ګاونډی راجا ( که بکن ) چې د ( تحده ) ياد قلمی نسخو له مخې ( ګوته ) او ( نجده ) هم بلل شوی دی او د ۱۰۰۰ پيلان خاوندو ،او کله چې د سلطان له ښه وضعيت څخه خبر شو ، سلطان ته يې خبرولېږ او بيعيت يې وکړ . داسی هم ويل کيږی چې ( که بکن ) راجا سلطان ته ډير سوغاتونه هم وليږل چې په دی کی دوه شيان

## ۸ - سومنات ته د سلطان سفر

کله چې په هندوستان کې د يمين الدوله فتوحاتو پرله پسې دوام درلود او د مشرکينو معبدونه يې خاورو سره برابرول نو هندوانو به ويل چې سومنات[۱] زمونږ پربتانو په غوسه شوی دی که هغه خوښ وي ، هيڅوک به بتان تخريب نشی کړای . کله چې سلطان دا خبره واوريده د سومنات د بت د له منځه وړلو لپاره د ۴۱۲ هـ کال د شعبان په ۲۲ مه د دوشنبې په ورځ[۲] (د ۱۰۲۵ د اکتوبر په ۱۸ مه) د ديرش زره منظمو سپرو او نورو سل ها و رضا کارو[۳] سره له غزنی څخه روان شو او د رمضان په پنځلسمه (د نومبر په نهمه)[۴] ملتان ته ورسيد

---

ډير عجيب و يو يې د کوترې په شان يو الوتونکی واو کله به چې په دستر خان باندی والوت نو که په ډوډی کی به چا زهر اچولی و له سترگو به يې اوښکی راغلی . دويمه يوه عجيبه تيږه وه چې په ډيرو بدو زخمونوباندی په لگيدو سره به يې زخم روغ رمټ شو. دغه دوه سوغاتونه چې ډير فوق العاده وو ابن اثير په نهم ټوک ۲۳۴ مخ کی اوسبط ابن جوزي (بودليان کتابتون ، ۳۷۰ گڼه قلمی نسخه کی) هم د ۴۱۴ هـ کال د پيښو عنوان لاندی ذکر کړی دي .

[۱]- د سومنات دبت د اصل او قدميت په هکله دهمدغه کتاب په پای کی (م) نښلونه وگورئ .

[۲]- ابن ظافر د ۱۵۰ پانی لومړی مخ. سبط ابن جوزي د ۲۱۵ پانی لومړی مخ ، خو ابن اثير ، نهم ټوک ۲۱۴ مخ کې د شعبان لسمه نيټه ليکلی ده چې غالباً د کاتب سهو گڼل کيدای شي .

[۳]- ابن جوزې د ۱۷۵ پانې دويم مخ . ابن اثير نهم ټوک ۲۴۱ مخ . سبط ابن جوزی ۲۱۵ پانه دويم مخ کی دا هم وايې چې سلطان پنځوس زره درهمه رضا کارانو ته د دوی د لگښت په خاطر و ويشلې .

[۴]- ابن اثير نهم ټوک ۲۴۱ مخ . سبط ابن جوزي د ۲۱۵ پانی لومړی مخ .

اوهلته د سفر د ضروري وسايلو د چمتو کولو اود بيديا له لارې د سفر د امکان د څېړلو په خاطر تم شو[۱] . د سلطان د ډيرو ضروري شيانو له جملې يو يې د څښلو اوبه وي . سلطان د خپل لښکر هر عسکر ته دوه اوښان د اوبو لپاره ورکړل چې اوبه ورباندې بارکړي له دې پرته يې شل زره نورو اوښانو باندې هم اوبه بار کړې[۲] او ملتان يې د شوال په دويمه[۳] يا د نومبر په ۲۲ مه پرېښود او په يوه ناځرګنده بيديا ورګډ شو . هغه لومړنۍ آبادۍ چې په دغه بديا کې د سلطان مخې ته ورغله هغه د ( بهتي جادونز ) پايتخت يعنې د (لودواوه)کلاوه چې له دې ځايه يې بيا سفر پيل کړ او د هغو غرونود لړيو سره يې يو ځای تګ وکړ چې د ( جيسلمير )او(ملاني) له سيمو تيريږي،چې په غالب ګومان د ( چکلو درمته )[۴] . له غرونو تير شوی او په دغه بيدياکې له يوې مياشتې سفر څخه وروسته د ذيقعدې لومړيو[۵] ( د دسمبر وروستيو ) کې ( انهل واره ) ته رسيدلی دی . د ( انهل واري ) حکمران ( بهيم ديوه ) د ( کنتهه کوټ )[۶] کلکې کلا ته ولاړ چې ( کچ ) کې وه او ښار يې سلطان نه

---

[۱] - فرخي د ۱۸ پاڼې دويم مخ کې د دغه سفر ستونزې بيان کړې . سبط ابن جوزی ( ۲۱۵ پاڼې لومړي مخ کې ) وايې چې د دغې لارې ستونزې فوق العاده ډيرې وې او د سلطان عسکرو ډير مشکلات وزغمل .

[۲] - ابن اثير نهم ټوک ۲۴۱ مخ .

[۳] - سبط ابن جوزی د ۷۱۵ پاڼې لومړی مخ .

[۴] - ابن اثير نهم ټوک ۲۴۱ مخ .

[۵] - اثير نهم ټوک ۲۴۱ مخ .

[۶] - کنتهه کوټ د ( انجر ) شمال مشرق ته د ۳۲ ميلو په واټن او د ( راؤ ) جنوب مغرب ته په ۱۲ ميله فاصله کې ده . وګورئ ( دهند د لرغونو آثارو مطالعه ) د ( برګس ) تاليف ،نهم ټوک ۱۳ مخ . د بمبئ د ګزتير د اتم ټوک ۲۸۰ مخ کې ( کنتهه کوټ ) په غلط (ګندهاوي ) ليکل شوی ده چې دغه وروستی کلا د ( کيتهياوار ) شمال مغرب

پرېښود [۱]. سلطان له دې ځایه یوځه نوره آذوقه او اوبه واخیستې د جنوب خواته روان شو، په لاره کې ( مندهیر ) یا ( مدهیر ) نومې ځاى ته ورسید دلته هندوانو د ده د لارې د بندولو کوشش وکړ او د خپلو مشرانو تر قومندې لاندې یې ۲۰ زره عسکر برابر کړل خو ناکام شول او تیت پرک شول [۲]. وروسته له دې سلطان مخامخ ( د لواده ) ( او نه ته نژدې سیمه ده ) ته ورغى. د دغه ښار خلکو په دې هیله مقاومت ونه کړ چې په خپله سومنات د مسلمانانو سزا ورکوي، نو اسلامى لښکر دغه ښار بې له کوم زحمت څخه ونیو [۳].

په پاى کې سومنات را ښکاره شو. سلطان د ۴۱۲ هـ د ذیقعدې په ۱۴ [۴]مه د پنج شنبې په ورځ دغه ښارته ورسید، دسمندر تر غاړې یې یوه کلکه کلا [۵] ولیدله چې دهغې تول برجونه د برهمنانو په لاس کې وو. د غو برهمنانو په سپکاوي سره مسلمانانو ته ویل چې، ځواکمن ( سومیشور ) مسلمانان هلته را استولي چې د هندوانو د

---

ته د ( میانى ) شمال مشرق ته په خپله ځو میله فاصله کې پرته ده. سرولیم هیګ هم په ۲۵ مخ کې سهواً په هغې باندې د بیت ( شنکهور هر ) ګومان کړى چې د ( کاتهیا وله ) د ټاپو د شمال مغرب آخري څنډه کې پروت دى وګورئ ایلیات وداؤ سن لومړى توک ۴۴۵ مخ او دویم توک ۴۷۳ مخ لومړى تبصره.

[۱]- ګردیزى ۸۲ مخ.

[۲]- ابن اثیرنهم توک ۲۴۱-۲۴۲ مخونه.

[۳]- فرخى د ۱۸ پاڼى دویم مخ. ابن اثیر نهم توک ۲۴۲ مخ. سبط ابن جوزي د ۲۱۵ پاڼى لومړى مخ کې لیکى چې دغه سیمه کې یو ګڼ ګرد او غبار پیدا شو لمریې پټ کړ، هندوانو فکر وکړ چې دا کار سومنات وکړ چې د مسلمانانو لښکر تباه شي.

[۴]- ابن اثیر نهم توک ۲۴۲مخ.

[۵]- د محمود له تصرف سل کاله مخکې دا کلا ودانه شوې وه. وګورئ البیرونى دویم توک ۱۰۵ مخ.

هغو ارباب انواعو کسات ورځخه واخلی چې دوی ورته سپکاوی کړی دی .خو د کلا مشر لکه چې په خپله ناتوانې پوه شوی و ،نو ځکه یوې ټا پوته و تښتید او ترڅو چې سلطان بیرته راونه گرځید هغه هم سومنات ته رانغی [1] .

سلطان د سومنات کلا محاصره کړه، د کلا اوسیدونکو له برهنمانو او د سومنات نور عقیده مندانو سره یو ځای په کلکه دفاع کوله خو د ذیقعدهې په ۱۵ مه د جمعی په سهار (د جون په اومه) مسلمانانو په دښمن داسې یرغل ور وړ چې اړ شول چې د کلا برجونه پریږدي ، ماسپښین، د جمعی د لمانځه پر مهال مسلمانان د کلا په دیوال ور وختل او د خپلې کامیابی اعلان یې د آذان په کولو د خلکو غوږ ته ورساو او خپله کامیابی یې اعلان کړه [2]. د کلا هندوان د کلا د ننه معبد ته ننوتل د بت پښوته پریوتل او مرسته یې وغوښته دوباره په زیات جرات او هیله راپاځیدل جگړه یې بیا پیل کړه ، د مسلمانانو پوځ گډوډ شو . او هندوانو مخکی له ماښام څخه دوی له هغو سنگرونو څخه وشړل چې نیولی یې وو [3] .

په بله ورځ یعنی د ذیقعدی [4] ۱۲ دشنبی په ورځ (د ۱۰۲۲ د جنوری په اتمه) مسلمانانو بیا یرغل وکړ د کلا استحکامات یې ونیول او هندوان یې په شا وتمبول . هندوان بیا ډلی ډلی معبد ته ننوتل او له سومنات څخه یې مرسته غوښته او په مسلمانانو به یې

---

[1]- گردیزی ۸۲ مخ.

[2]- گردیزی ۸۲ مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۲ مخ. سبط ابن جوزي د ۲۱۵ پانی دویم مخ.

[3]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۲ مخ.

[4]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۲مخ.

یرغل کاو [۱]. خو دهندوانو د غه عصبیت د مسلمانانو په جرات هیڅ اغیزه ونه کړه بلاخره د کلا په نیولو بریالي شول ، عام قتل یې وکړ او د ونیو ویالې یې و بهولې ، ویل کیږی چې د سومنات په دفاع کې ۵۰ زره هندوان ووژل شول [۲] نورو هڅه وکړه چې په بیړیو کی ځانونه وکاږي خو د سلطان د ساتونکو هغی ډلې ووژل چې سلطان هلته موظف کړی وو [۳].

سلطان د سومنات معبدته ننو ت ، بت یې ولید [۴] امر یې وکړ چې دهغه پورته برخه په تبر ماته کړی ، او شاوخوا یې اور ولګوي چې ټوټه ټوټه شي

[۵] مسلمانانو د سومنات ټول قیمتی جواهر چې بیه یې ۲۰ میلیونه دیناره [۲] کیده د بت له شاوخوا را وتوږل او بت یې وسوځاو [۱].

---

[۱]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۲ مخ . فرشته د خپل کتاب په ۳۲ مخ کې دغه جنګ یو څه تشریح کړی چې سره له دي چې ناممکنه نده خو له ده څخه مخکې نورو لیکوالو هغه نه دی تائید کړی نو ځکه دلته ورڅخه صرف نظر وشو .

[۲]- ابن ظافر د ۱۵۱ پاڼی لومړی مخ . سبط ابن جوزي د ۲۱۲ پاڼی لومړی مخ .

[۳]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۲ مخ . فرشته ۳۲ مخ .

[۴]- د سومنات دبت د جوړښت اود هغه د پخواني ځای په هکله د معلوماتو لپاره وګورئ د دغه کتاب په آخر کې (م) ضمیمه .

[۵]-ګردیزی ۸۲ مخ . فرخی د ۲۰ پاڼی لومړی مخ او د ۲۱ پاڼی لومړی مخ . ابن ظافر د ۱۵۱ پاڼی لومړی مخ د دغه بت ځنی برخې مکې او بغداد ته هم ولیږل شوي ، او ځنی یې د غزنی د جامع جومات مخی ته او د سلطان د قصر مخی ته واچول شوی . وګورئ البیرونی لومړی ټوک ۱۰۳ مخ او ابن ظافر د ۱۵۱ پاڼی لومړی مخ .

[۲]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۲ مخ . د روضه (۷۴۱ مخ ) د وینا له مخې دغه بیه د ټول غنیمت پنځمه برخه او صرف د سلطان سهم و . له دي امله چې د هغه وخت دینار د

سلطان دلته له دو هفتو لږ څه زيات تم شو او وروسته يې د غزنی د تگ تصميم ونيو [۲]. له دې کبله چې د سومنات د بت ماتولو ټول هندوان اغيز من کړل ، نور سلطان د راتگ پروخت د شاوخوا سيمو د هندوانو مشران د (پرم ديواد راجه آبو) [۳] تر رياست لاندې راټول شول او هڅه يې وکړه چې د سلطان مخه ونيسي نو د دې موخې لپاره يې د (اراولی) غرونو او (کچ) خليج تر منځ سيمی ته ځانونه ورسول ، سلطان له جگړې ځخه د په ځنگ کيدو په خاطر لږ غرب خواته د (کچ) او سند [۴] د سيند له منځه تيرشو او شمال خواته د (کچ) [۵] او (کاتهياوار) تر منځ گودر څخه را پورې وت ، لومړی يې په خپله آس او بوته وغورځاو او په لامبو شو او بيا نور لښکر همدا کار وکړ ټول

---

وزن له پلوه ۸،۲۴ گرامه و نو د دغه غنيمت تخمينی بيه ۱۰۰ ميليونه او ۵۰۰ زره سترلنگ پونده کيده .

[۱]- ابن جوزي د ۱۷۵ پانی دويم مخ . فرخې د ۲۰ پانې لومړی مخ او د ۲۱ پانی لومړی مخ . ابن ظافر د ۱۵۱ پانی لومړی مخ کی دا هم وايې چې دغه اور ټولې کلا ته خپور شو او ټوله يې وسوځوله .

[۲]- په نظام الملک ، روضه او فرشته کې راغلي چې سلطان د راتگ پروخت په سومنات کی نائب الحکومه هم وټاکه ، خو کوم مستند ماخذ دا خبره نه ده ليکلی . گزتير بمبئ ۰ دويم ټوک ۴۰۷ مخ ، هم په غلط ليکلی چې سلطان سومنات کی نايب الحکومه مقرر کړی و .

[۳]- گرديزی ۸۷ مخ . گزيتر بمبئ لومړی ټوک لومړی برخه ۱۲۸ مخ .

[۴]- گرديزی ۸۷ مخ . فرخې د ۲۰ پانی دويم مخ .

[۵]- گرديزی ۸۷ مخ . ابن اثير نهم ټوک ۲۴۲ مخ

روغ سلامت د سیند غاړی ته راووتل [۱] کله چې ( بهیم پال ) دغي سیمي ته دسلطان د رانژدي کیدو خبرو اورید نو ( د کنت کوت ) له کلا څخه چې هلته پټ شوی و ، راووت او وتښتید سلطان دغه کلا لوټ کړه [۲] او د کچ له غاړی راتیر شو [۳].دلته د سومنات د بت یو عقیدت من چې د لارې د لار ښوونی دنده یې لرله ، د سومنات د کسات د اخیستو په خاطر قصداً سلطان د بیدیا په غلطه لاره ور برابر کړ چې بی اوبو او وچه وه . سلطان له ځو ورځو مایوسی او زحمت وروسته بالاخره خپل لښکر له هغه سالم راوایست [۴] وروسته له دې څخه سلطان منصوري [۵] ته ولاړ . دمنصورې قرمطی حکمران ( خفیف ) [۶] وتښتید له سیند څخه پورې وت او نخلستان کی پټ شو . سلطان

---

۱- فرخی د ۲۰ پاڼی دویم مخ کی دا هم وایې چې سلطان په دوو ورځوکی له اوبو څخه تیر شو او له عسکرو بر علاوه له ۲۰ زرو زیات آسونه او اوښان او نور بارورونکی څاروی هم پورې وتل .

۲- فرخی د ۲۰ پاڼی دوم مخ . ابن اثیر نهم توک ۲۴۲ مخ کی دا هم وایې چې دغه کلا له سومنات څخه ۱۴۰ میله لرې واقع وه .

۳- فرشته په ۳۳ مخ کی لیکی : سلطان له دې ځایه ( انهلواره ) ته لاړ خو دغه خبری تولی له ابن اثیر ، فرخی اوگردیزی سره تضاد لري .

۴- فرخی د ۲۵ پاڼی لومړی مخ . غوفی ۱۷۹ پانه ۱۸۲ مخ . مجمع الانساب ، ۲۳۹ پاڼی لومړی مخ د طبقات ناصری ۸۲ مخ . فتوح السلاطین د ۳۸ پاڼی دویم مخ . همدارنگه وگورئ گزیتر بمبئ ، پنځم توک ۱۴ مخ .

۵- منصوره د برهمن آباد د پخوانی ځای څخه په ۴۳ میلی فاصله کې د حیدر آباد شمال مشرق ته د سند په سیمه کې آبادو . وگورئ ( د هند لرغوني اثار ) او د ۱۹۰۳ ـ ۱۹۰۴ م کلنې راپورونه ۱۳۲ مخ اونور مخونه .

۶- فرخی ( ۲۱ پاڼه لومړی مخ ) د سلطان یواځنی معاصر لیکوال دی چې د دغه حکمران نوم یې لیکلی دی . وگورئ ایلیات د اوسن لومړی توک ۲۱۲ مخ .

خپل څو صاحب منصبان هغه پسی ولیږل ، هغو د خفیف عسکر محاصره او ډیر یې ور ووژل [1] .

وروسته له دې څخه سلطان د سند د سیند په اوږدوکی خپلی لارې ته دوام ورکړ د ملتان خواته ورغی ؛ خو د لارې د ښورې له امله اوله دې کبله چې د لارې دوو خواتو پرتو ( جاټانو ) دوی ته ډیر تکلیف پیښن کړ له خنډونو سره مخامخ شو له همدې امله د لښکر ډیر څاروی او یو شمیر عسکر تلف شول [2] .

سلطان وروسته له دغه ډیر ستومانه کوونکی او اوږده سفر څخه بالاخره د ۴۱۷ هـ د صفری په لسمه ۰ د ۱۰۲۲ م د اپریل په دویمه ) [3] بیرته غزنی ته راورسید .

سومنات ته د سلطان محمود لښکر ایستل د اسلام په تاریخ کې یوه لویه عسکری کارنامه وه د دغی فتح (سوبې) خبر داسلام ټولی نړۍ ته خوشحالي ور په برخه کړه . دبغداد خلیفه سلطان ، د هغه ورور او زامنو ته بیلا بیل افتخاری لقبونه او عنوانونه ورکړل [4] سلطان لکه

---

[1] - فرخی ۲۱ پاڼه لومړی مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۲ مخ . په تحفه الکرام ، او ایلیات د اوسن لومړی ټوک ۴۸۲ مخ کې لیکلی چې د سلطان وزیر عبدالرزاق ( بهکر ) ، ( سوستان ) او ( تهته ) فتح کړل او اعراب یې له هند څخه وایستل خو د دغی مدعا د تصدیق لپاره کوم مأخذ نه لری او د سلطان هیڅ یو وزیر عبدالرزاق نه نومید.

[2] - گردیزی ۸۷ مخ .

[3] - ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۳ مخ .

[4] - گردیزی ۸۷-۸۸ مخونه . سلطان محمد د کهف الدوله والاسلام او مسعود شهاب الدوله وجمال الملله او محمد د جلال الدوله و جمال الملله او یوسف د عضد الدوله و مؤلد الملله په لقبونو ملقب شول.

د زمانو او دورانو د زړورو او نامتو فهرمانانو په شان ځان ته یو داستاني حیثیت او کرکتر غوره کړ او وروسته بیالیکوالو د ده په هکله ډیرې کیسې او حکایتونه ولیکل او غوښتل یې هغه په عین حال کی یو جنگجو پاچا وښیي [۱] د سومنات بت مات شو او ټوټې ټوټې شو ،خو د سلطان نوم پاتې دی [۲].

## ۹ - د جاټانو ټکول

د ۴۱۸ هـ کال په لومړیو ( د ۱۰۲۷ م مارچ ) [۳] کې سلطان د جاټ قوم د ـ

[۱]- د دغو ځینو حکایتونو په هکله وگورئ ( م ) نښلونه د کتاب په پایکی . وگورئ حدیقهٔ سنائی او د عطار کلیات اود عوفی الحکایات او یوشمیر نورد کیسو کتابونه .

[۲]- د ( رنچودجی امر جې ) دیوان ( جوناگدهـ ) خپل کتاب کی چې د ( تاریخ سورته ) په نوم دی ( د بوگس ژباړه ۱۱۱مخ ) کی لیکی چې : کله چې سلطان د سومنات بت مات کړ . د ( مند لکه ) راجاله دې کار څخه دومره اغیزمن شو چې له ( بهیم دیوا ) سره یو ځای چې د بحرات راجه و ، د سلطان په تعقیب روانشو ، مسلمانانو د هغو مقابل کی مقاومت ونشو کولای او وتښتیدل او ډیر شمیر یې هندوانو و وژل ، خو یو څل د راجه طالع په چپه وا وښتی شاه محمود په پریشانی وتښتید او ژوندی پاتی شو ، خو ډیر ملگری یې ونیول شول ......... ) دغه وینا په بل هیڅ کتاب کی نه ده لیدل شوی نو څکه ویلای شو چې دروغ ده .

[۳]- گردیزی ۸۸ مخ تقریباً ټول وروستی لیکوال چې دغه لشکر کشی ذکر کوي نو د هغی نیته ۴۱۷ هـ ( ۱۰۲۶ م ) لیکی . ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۳ مخ کې سهواً دغه لشکر کشی د سومنات په ادامه بولي .

ټکولو په[1] خاطر چې د ده لښکر يې له سومنات څخه د بيرته راتګ پروخت کړولی و ، له ملتان څخه حرکت وکړ . او تصميم يې ونيو چې له هغوی سره په سيند کی مقابله وکړي نو د ۱۴۰۰ بيړيو د جوړولو امريې وکړ چې هره يوه کې درې د وسپنی نيزې يوه مخکی او دوه په څنګونو کی ولګولې . په هره بيړۍ کی شل شل تکړه غشی ويشتونکی وو . د غشو او ليندیو او ډالونو څخه پرته دغو بيړيو لاسی بمونه اود نفتو ګولی هم درلودی . دغه بيړۍ د سند په سيند ور لاهو شوي [2]. جاتانو هم د جګړی لپاره ډير زيات ترتيبات نيولی وو خپل مالونه او کورنۍ يې د سند يوه لرې ټاپوته وړي وو او ۴۰۰۰ بيړۍ يې مجهزی کړی وې [3] . سلطان د سند د سيند پورته خوا په بيړيو بنده کړه او يو شمير سپاره عسکر يې له پيلانوسره د سيند دغاړو د ساتلو لپاره وګومارل . د واړه ډلو بيړيو يوبل سره جګړه وکړه . جاتان ښه جنګيدل ، خودهغوی ډير شمير بيړۍ به چې د مسلمانانو له بيړيو سره

---

[1]- د البيرونی په وينا ( دويم ټوک ۱۰۴ مخ ) دغو جاتانو ( لنګه ) ډلې د تذکير د آلی ) نمانځنه کوله. ايليات و داوسن دويم ټوک ۴۷۷ مخ کی سهواً هغوی د ( جو د ) د غرونو يعنی پنجاب د نمک کوه اوسيدونکی بللي دي . دبرګس په وينا ( د غربی هند د لرغونو آثارو مطالعه ، دويم ټوک ، ۱۹۴ مخ ) دغه جاتان هماغه د ( بهوت نير ) اوسيدونکی بهتی خلک وو چې سند ته يې هجرت کړی و . موسبيو ( دينود ) د ( خاطرات هند ) کتاب کی په ۲۷۲ مخ کی د ايليات وداوسن دويم ټوک ۴۷۷ مخ فقره را نقل کړی او د ابن اثير له خولې وايي چې د غو جاتانو منصوره يرغل لاندی ونيوله او د هغی مسلمان حکمران يې د مسلمانې پريښودوته اړ ايست ، خود ابن اثير اصلی کتاب کی داسی کومه فقره نه ليدل کيږی .

[2]- ګرديزی ۸۸مخ .

[3]- د بيړيو په شمير کی مبالغه ښکاري .

ولګیدی نو د هغو نیزوله کبله چې د مسلمانانو بېړیو پوری لګول شوی وي ، چپه او ډوبی به شوی[1] په نتیجه کی ټولو شکست وخوړاو هغه شمیر چې د تښتیدو هڅه کوله په ساحل کې به د ګومارل شویو ترکمانې عسکروله خوا یرغل لاندې راتلل بیرته به سیند ته غورځول کیدل . فاتحینو د دښمن پوځ تر هغه ځایه پوری تعقیب کړ چې دوی هلته خپل قیمتی شیان ایښی و او پټ کړی یې و . بیایې هلته د دوی ډیر شمیر و وژل او له هغوی څخه یې ډیر غنیمتونه ترلاسه کړل . سلطان د ۴۱۸ هـ په لومړیو (د ۱۰۲۷ په جون - جولای) کې[2] بیرته غزنی ته راوګرځیده

---

[1]- ګردیزی ۸۹ مخ . خو په دې مسلی باندی پوهیدل ګران دی چې څرنګه د مسلمانانو بیړی نه چپه کیدی یعنی پرته د دوی د بیړیو له چپه کیدو د دښمن بیړی چپه کیدي .

[2]-ګردیزی د سلطان د وخت یو اخنی ماخذ دی چې د دغې لشکر کشی شرح یې لیکلی ده . فرخي هم ورته اشاره کړی لیکی :

من شکار آب مرغابی و ماهی دیده ام
تو در آب امسال ، شیران سیه کردې شکار

# نهم څپرکی

## د سلطان د ژوند وروستۍ ورځې

د سلطان جسماني څواک د زيات شمير جګړو له امله، خصوصاً د هندوستان د اوړي د موسم د جګړو د تکليف او سختيو له کبله، ورځ په ورځ کميده . د معلوماتو له مخې [1] د جاتانو په مقابل کی د ۴۱۸ هـ ( ۱۰۲۷ م ) کال د سوق الجيشی په ترڅ کې يې د ملاريا مکروب وجود ته ننوت، چې دغه مزمن مرض ورته د اسهالي سل سبب وګرځيد [2].

سلطان دوه کاله په دغه شديده ناروغی باندې اخته و [3] ، خونه يې غوښتل هغه ورباندې غالبه شي او هڅه يې کوله دغه ناروغې له خلکو پټه وساتې ، سره له دې چې طبيبانو ورته د بشپړ استراحت سپارښتنه کوله ، خوبيا هم سلطان ورځنۍ چارې تر سره کولې اود تل په شان يې دربار کاو ، د ورځې دوه ځله يې خلک خپل حضور ته منل

---

[1] - سبط ابن جوزی ( د ۲۲۰ پانی لومړی مخ) کی وايې چې د سلطان دغه وروستۍ ناروغې د هند په يوه سفر کې ده ته ورپيښه شوه.

[2] - سبط ابن جوزې د ۲۲۰ پانی لومړي مخ کې او ګرديزی ۹۲ مخ کې وايې چې سلطان ( دق ) ناروغی لرله ، غالباً د ملاريا ناروغې د هغه د کولمو د سل لامل شوه .

[3] - ابن اثير نهم ټوک ۲۸۱ مخ .

[1]. له دې پرته يو ځل بيا يې سلاجقه و پلټل او هغوى يې له خراسان څخه وشړل، ری ته يې لښکر وليږ (منوچهر) يې اطاعت ته اړ ايست.

آن دا چې خپل کلنی سياحت ته يې د پخوا په شان دوام ورکړ او د خپلې امپراطورۍ د ننه يې گرځيدل راگرځيدل پرې نه شودل، د ۴۲۰ هـ (۱۰۲۹ م) کال او ړی يې په خراسان او دهغه کال ژمی يې په بلخ کې تير کړ[2].

خو د بلخ آب او هوا د سلطان وجود باندې ښه ونه لگيده، غزنې ته راستون شو چې د ۴۲۱ هـ په منځ کې يعنی د ۱۰۳۰ م په اپريل کی غزنی ته راورسيد. خود ځای بدلون هم د سلطان صحت او روغتيا کې گټور ثابت نه شو، په غزنې کې له يوې هفتې اوسيد و وروسته، د ۴۲۱ هـ[3] کال د ربيع الثانی په ۲۳ نيټه د پنج شنبی په روځ وروسته له غرمې په پنځو بجو[4] (د ۱۰۳۰ م کال د اپريل په ۳۰ مه) د نهه پنځوسو کالو په عمر وفات شو[5].

په هماغه ورځ باندی د ماخستن د لمانځه پروخت په (فيروزی) بڼ کې چې د سلطان ډيره ښايسته تفرجگاه وه، خښ ـ

---

[1]- ابن اثير نهم ټوک ۲۸۱ مخ. گرديزی ۹۲ مخ، فرخی د ۴۱ پاڼی دويم مخ.

[2]- گرديزی ۹۲ مخ.

[3]- گرديزی ۹۲ مخ.

[4]- بيهقی ۱۲ مخ. گرديزی ۹۲ مخ. سبط ابن جوزي د ۲۲۰ پاڼی لومړی مخ او د سلطان د قبر په ډبره هم همدا نيټه ليکل شوی ده وگورئ (سوريه) کتاب، شپږم ټوک ۲۱ – ۹۰ مخونه او د بنگال د آسيائی انجمن مجلی دولسم ټوک ۲۷-۲۸ مخونه.

[5]- د قمری سنې په حساب يې ۲۱ کاله عمرو.

کړای شو [۱].

سلطان د خپلې مزمنې ناروغۍ پر وخت،له خپل ځان څخه حیرانوونکی طاقت او حوصله ښودله او لکه دیو ناروغ په شان بستر کی نه پریوت،بلکې شپه او روځ یې بالښت ته تکیه کوله او دهغه وروستۍ سلګۍ هم همداسې حالت کې وي [۲]. د سلطان مړینی د ده له ژونده سره ډېر ښه برابر والی درلود ،یعنی سلطان د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د زړورتیا ،په خپل ځان ویساوالی ، له خطر څخه د نه ویریدلو.په موانعو او ستونزو دبرۍ او کلک غزم ښودونکی و. سلطان لکه څرنګه یې چې ژوند وکړ هغسې هم مړشو. آن دا چې له مرګ سره یې هم مقابله کوله.

سلطان له مړینې څخه لږ مخکې،امروکړ چې شاهي جواهر د ده مخې ته راوړي ، دا وخت یې اویار طله جواهر خپلې مخې کی ولیدل

---

[۱]- بیهقی ۱۲ مخ. سبط ابن جوزي د ۲۲۰ پاڼې لومړی مخ.

[۲]- سلطان مسعود د خپل پلار پر قبر یوه پر تسمینه مقبره جوړه کړه ، ډېرې پیسې یې ورباندې ولګولې. وګورئ بیهقی ۳۱۰ مخ. سلطان ته خلکو وروسته د هغه له مړینی هم ډیر درباندی کاو ، آن دا چې علاو الدین جهانسوز هم چې غزنی یې وسوځاو د سلطان قبر سره یې غرض ونه کړ. خود هغه اخلاص مندانو چې یې زیارت ته ورځی د هغه د قبر خاورې او لرګې له ځان سره وړی. او تر ډولو بده دا چې د هلاکو خان د پوځونو د یرغل له لاسه د سلطان زیارت ډیر خراب شو. په دې وروستیو کی (لارد ایلن بورد) د مقبرې دروازې په دې ګومان چې دا به د سومنات دروازې وي. وایستلی او هندوستان ته یې ولیږدولې. څه چې پاتې دي هغه د غزنې له شار څخه یو میل لرې یوه لویه بناده چې د بشر دشان او شوکت د بې ثباتی ښودونکی ده.

چې په کتار ایښودل شوی وو او هغه د برښنا په شان ځلیدل[۱] . دغې منظرې د سلطان سترګوته د ده د ژوند سختې شیبې لکه سوځیدونکې ښارونه خرابې شوې جنګې کلا وې،د جګړې خونړۍ ډګرونه،د فرار یانو له ویرې ډکې کریغې او فریادونه،د ټپیانو چغې او د تورو خرپا را مخ ته کړې،د زړه په تل کې یې خواشینوونکو احساساتو نفوذ وکړ او له سترګو یې د اوښکو ښیلا و جارې شو په غمجنه توګه یې وژړل[۲] .

د سلطان د ژوند وروستۍ شیبې،هرومرو د دې اندیښنې لرونکې وې چې هغه پراخه سلطنت چې ده په دومره خواریو او وینو،بهیدو جوړ کړی و،هغه به ونړیږي،دغه شیبې هم په غمجنه توګه تیرې شوې،دسلطان د تیز نظر او دوراندیش فکر په افق کې تورې وریځې را ښکاریدې چې دیو ډیر بد او ویرونکي توپان لرونکې وې . دا ځکه چې سلاجقه چې سلطان هغوی ته په خراسان کې د اوسیدو اجازه ورکړې وه[۳] په ډیره چټکتیا د ځواک ځښتنان کیدل.هغه حیرانوونکې بریالیتوبونه چې سلطان په خپل ژوند کې دهغو په ترلاسه کولو بریالی شوی و،د هغه د مړیني پروخت د له منځه تلو او سقوط په حال کې ښکاره کیدل .

---

۱- ګردیزي ۹۲ مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۲۸۱ مخ . سبط ابن جویزي د ۲۲۰ پاڼې لومړی مخ .

۲- سبط ابن جویزي (د ۲۲۰ پاڼې لومړی مخ) د (ذیل الصابي) په حواله لیکي چې: کله چې سلطان دغه جواهرات ولیدل ، ډیر یې وژړل . وروسته نورو لیکوالو لکه میر خوند ، د سلطان دغه ژړا داسې تعبیر کړې چې ګواکې سلطان دولت دوست و ، او په دې حال کې یې افسوس کاو چې ولې یې دهغو یوه برخه خوارانو او بې وزلو ته نه وه ورکړې . خو دا خبره هیڅ بنسټ نه لري . ځکه چې سلطان په خپلو ټولو معاصرینو کې په فیاضي او سخاوت مشهورو . هغه تفسیر چې مؤلف یې لري ، سم دی ، ځکه چې هغه د سلطان د ژوند له پیښو سره ډیر ښه سمون لري .

۳- طبقات ناصري ۱۱۹ مخ .

## دریيمه برخه

# لسم څپرکی

## د سلطان د اداري طرز

هغه ټولنیز او سیاسی نظام چې اسلام رامنځ ته کړ ، د هغه ملاک او محک د بشری مساواتو قانون و . راشده خلفاوو له دغه قانون په کلکه پیروي کوله. خو کله چې د اسلام نړی وار په وار په پراخیدو شوه ، په هغې کې د مفتوحه سیمو د اوسیدونکو نژادونو او خلکو سیاسی نظریات ورداخل شول،کار داسې ځای ته ورسید چې د اسلام د لومړیو وختونو و گړنیز حکومت له منځه ولاړ، په عوض کی یې میراثي او مطلقه حکومت ( د هغه حکومت په شان چې لومړی ایران کی جوړ شو ) دهغه پرځای رواج وموند. یعنی ورو ورو اسلامی حکومت د مطلقه او استبدادي حکومت مرادف معنی پیدا کړه .

### سلطان محمود

سلطان محمود لکه د بخارا د سامانیانو په شان، په خپل نوع کی یوله ډیر و مطلق العنانه حکمرانانو څخه شمیرل کید ، په عین حال کې یې دسلطنت د مقننه. قضایې او اجرائي ټولو چارو اقتدار او واک

درلود اود رعيت د ژوند ټول مسايل او اختيار يې په خپل لاس کې ساتلی و [۱].

سلطان هيڅکله په خپلو دندو کې بې عمله شخص نه و. په منځنيو پيړيو کې د دولتي چارو شه والي او سمون په سيده ډول د مطلق انحصار لرونکی واکمن شخصيت پوري اړه لرله. سلطان په خپل ټول ژوند کې د دولتي ډيرو درنو چاراو په تر سره کولو کې نه ستومانه کيدونکی هلې ځلې کړي، سره له دې چې وزيرانو د مملکتي چارو له جريان څخه مسئوليت درلود، خو سلطان شخصاً د حکومت هرې ادارې څخه څارنه کوله [۲]. له دې املهٔ چې د فوق العاده استعداد او لياقت خاوندو. نو نه يې پريښودل چې اړونده ملکي او نظامي چاروکي په ورسپارل شويو چاروکې سستی وکړي. همدا چې کوم ظلم، جبر او بې عدالتی به يې وليده. ډير ژر به يې عامل ته سزا ومظلوم ته به يې د هغې د جبران چاره کوله. په پراخه سلطنت کې د هغه دوامداره گرځيدل را گرځيدل هم دلرې سيمو حاکمانو په زړه کې دسلطان محبوبيت، سلطه او نفوذ زياتاو او هم يې ويره زياتوله. سلطان د عالي رتبه دولتي چارواکو، خصوصاً په عسکری صاحب منصبانو ويښ او دوامداره څارنه لرله. دی په دې ډير ښه پوهيد چې څرنگه يو هغه جنگجو او جاه طلب چې د يو ولايت په راس کې مقرر دی. او دهغه ولايت عايدات يې په واک کې دی. هغه څرنگه اداره

[۱]- عتبی پنځم مخ. د سلطان د واکونو په برخه کې وگورئ بيهقی ۱۰۸ – ۱۲۰ او عتبی پنځم مخ او د التعابی تاليف اربعه سائل، ۱۲۰ مخ او عيوان الاخبار د ابن قتيبه دريم مخ او سياست نامه ۱۱۰ مخ.

[۲]- عتبی ۳۰۴ مخ.

اوكنترول كړي . هيڅكله يې نه پرېښودل چې د هغه حاكمانو په ډېرولرې ولاياتو كې د سيسي جوړې كړي . د دې موخې لپاره، سلطان له خپل فوق العاده ځواك څخه كار اخيست، نظم او امنيت يې په خپلې پراخه سلطنت كې راوستى و او د هيواد ټول مخور يې خپل اقتدار لاندې ساتلي وو .

سلطان په خپله د ټول پوځ قوماندان او سپه سالار و، يا شخصاً خپله په جګړو كې حاضريده او يا يې هم لازمه او امراو احكام له مركز څخه صادرول . سلطان په خپله د مرافعې اعلى محكمه وه د اعلى او ادنى په هكله يې يو شانته على السويه بى طرفه عدالت تر سره كاو [1] جاسوسان او مخبرين يې كلكې څارنې لاندې نيول . بهرنى سياست يې خپله شخصاً اداره كاو او مهم مكاتيب ( ليكونه ) يې په خپله مسوده كول ( ليكل ) . لوړ رتبه مامورين يې په خپله مقررول د زياتو معلوماتو او اطلاعاتو د ترلاسه كولو لپاره به يې وزير انو سره هم مشوره كوله د لايقو مامورينو په پيژندلو كې يې ښې د بصيرت سترګې لرلې . دا حقيقت د هغه دلاس لاندې ټاكل شويو اشخاصوله اجراتو څخه ډېر ښه څرګنديږي . په ادبيا تو كى يې پوره استعداد او برخه لرله د ده په دربار كې ډېر زيات شمير شاعرانو او قلموالو حضور در لود . او د سلطان له خوا پوره لورېينو لاندې نيول كيدل . په لنډ ډول دا چې . سلطان يو داسى مركز و چې د دولت ټولې چارې د هغه شاو خوا را ګرځيدې .

---

[1] - بيهقى ۱۸۲ مخ .

## د شورى ديوان

سلطان دولتي چاروکي له وزيرانو سره په مشورې کولو مکلف نه و[1] خود (وشاروهم فى الامر) د مبارک آيت په پيروي[2] يې مهمو چاروکي او خاصو نازکو وختونوکي د هيواد د مسلکي اونظامي صاحب منصبانو مجلس جوړاو او د هغوی نظريات يې اوريدل. له هغې جملې څخه يو هم د ده د خور د خاوند (اوښې) ابو العباس خوارزم شاه د وژل کيدو په هکله و، چې د ده دفکري استقلال او خود مختاري يوه بيلگه کيدای شي. په دغه مجلس کې ټولو لوړ رتبه ملکی او نظامی مامورينو برخه درلوده، سلطان دوی ته داسې وويل:

(له خوارزم سره چې د هغه خلکو په بيرحمانه ډول زما اوښی اوخپل پاچا و واژه، بايد څه وکړو؟ تر څو چې د پاچا قاتلين د خپل جرم په سزا ونه رسيږی، زه د شاوخوا پاچاهانو له ملامتې نشم خلاصيدای او هغوی به هيڅکله زما دوستان نشی. که د پاچا قاتلينو سره د جنگ اعلان وکوم، لوی خطر سره به مخامخ شو و څکه هغوی ډير مجهز دي او ځواک يې هم زيات دی، کيدای شي جنگ کې بريالی نشو. له بلی خوا که خوارزم فتح کړو، بايد هلته يو با اعتباره حاکم مقرر کړو. څکه چې خوارزم يو پراخ هيواد دی او ز مونږ د دښمنانو څنگ ته پروت دی او په دې صورت کی د خوارزم دير لږ عوايد د هغ ډير زيات

---

[1]- بهقی ۲۲۲ مخ.

[2]- سياست نامه ۸۴ مخ.

لګښتونه نشي پوره کولای. زه د دغې معما په حل کې حیران یم تاسې په دې هکله څه وایاست؟[1]

له ټولو مخکې، له وزیر څخه د دې پوښتنې د ځواب هیله کېده. د سلطان تر مخې د خپل نظر ښرګندولو وویرېد. نو د دې سوال د ځواب مسئولیت یې عسکري صاحب منصبانو ته ور حواله کړ او ویې ویل چې هغوی په دې هکله زما په پر تله زیات اوښه معلومات لري. خود غو صاحب منصبانو هم له ځواب ورکولو څخه ډډه وکړه ویې ویل چې زمونږ دنده فقط همداده چې سلطان ته خدمت وکړو او په دې لاره کې مړه شو. دا وخت بیاهم وزیر غوښتل چې بیا له ځواب ورکولو څخه ځان په ښنګ کړي ......دغه وضعیت سلطان په غوسه کړ، نو مشاورینو ته یې وویل. لرې شې. بزدلانو، تاسې نه غواړئ چې هیواد ترقي وکړي او پراخه شي. زه خپله د هغې لپاره د حل لاره پیدا کوم. سلطان دې ته چمتو وچې صرف هغه ډول مشوره واوري چې هغه ده ته د منلو وړ وي[2] مشاورینو له دې ویرې چې کیدای شي د نظر د رد او مخالفت په صورت کې د سلطان د غوسې او قهر لاندې رانشي، نو صرف د حال او وضعیت سره سم ځوابونه یې ورکول. یعنې مجلس او شورا صرف د مشورې او تامل (دقت او غور) لپاره و، اصلي تصمیم سلطان سره و او د مسایولو په رد او منلو کې سلطان مطلق اختیار

---

[1] - آثار الوزرا، د ۹۵ پاڼې دویم مخ څخه د ۹۹ پاڼې تر لومړي مخ پورې.

[2] - بیهقي ۳۳ مخ. چهار مقاله عروضي په ۸۵ مخ کې پاچاهان ماشومانو سره تشبه کړي دي. دا ضرور وه چې باید مستختدمین د هغوی له خوښې سره سمې خبرې وکړي.

درلود [۱]. هیڅکله هم د ختیځ د شهزاده یعنی سلطان ځانګړی امتیاز او حق د مخورو ځواک. د عوامو آزادي، د روحانیونو آزادي او د ملت د آزادي غوښتلو احساساتو نشو محدود ولای او نه یې اغیزی لاندې راوستلای شو.

## د سلطان پنځه ګونې وزیران

د غزنې سلطنت، پخوا وختونو کې، د سامانیانو واک لاندې و او د سامانیانو د دولت دیوې برخې په توګه اداره کید. سلطان هم هماغه د ادارې طرز چې پخوا معمول و پرته له تعدیل او بدلون څخه پرمخ بیوه. سلطان پنځه مهم وزیران لرل [۲].

لومړی: د (دیوان وزارت) وزیر یا د مالیې وزیر.

دویم: د (عرض دیوان) یا حربیه وزیر.

دریم: د (رسالت دیوان) یا دارلتحریر وزیر.

څلورم: د (شغل دیوان) وزیر (اشرف الملوکات) یا استخبارات.

پنځم: د (دیوان وکالت) یا د دربار وزیر [۳].

---

[۱]- بهقی ۲۲۲ مخ.

[۲]- ترشخی (۲۴ مخ) د سامانیانو د وخت د ځینو دیوانو نو فهرست برابر کړی، لکه د عمید الملک دیوان، د صاحب الشرطه دیوان. دیوان ملوک خاص، د احتساب دیوان او نور خو د عرض دیوان یې هیڅ شوی دی.

[۳]- وروسته له دغې دورې څخه د اسلامی دیوانونو د تشکیلاتو په هکله وګورئ: صبح الاعشی. دویم ټوک ۴۵۵ – ۴۹۲ مخ او څلورم ټوک ۱۴ – ۲۷ مخونه.

## د وزیرانو مقرري

دولتي مامورین د خپلو دندو له ترلاسه کولو مخکې له سلطان سره د قرار داد یا (مواضعې) په لاسلیک کولو مکلف وو [۱]. ددغه قرار داد شرایط، د مربوطه مقام کیفیت او اهمیت پورې تړلي وو. وزیر احمد بن حسن میمندي په ۴۲۲ هـ (۱۰۳۰م) کې د خپلې مقررۍ پر وخت د سلطان او نورو وزیرانو او عالي رتبه مامورینو په وړاندې په خپله مواضعه کې خپل حقوق ښکاره او تصریح کړل او کوشش یې وکړ چې له سلطان مسعود څخه ژمنه ترلاسه کړي چې د هغه لاس د دولت په اداره کې پرانیستی پریږدي. وروسته یې خپله مواضعه سلطان مسعود ته وړاندې کړه او سلطان د هغې په هر توکي کې د تصویب په توګه ځنې تبصرې ور زیاتې کړې او ژمنه یې وکړه چې په اداري تولو چارو کې به هغه سره مرسته کوي. احمد د دغې مواضعې په پای کې سلطان مسعود ته په وفادار پاتې کیدو لوړه کړې وه، اوبیا یې د ساتلو لپاره (دوات دار) (دشاهي او ر اقومامور) ته وسپارله [۲] مسعود وروسته له دغو تشریفاتو څخه چې رسمي مراسم و، احمد

---

[۱] - بیهقی ۳۲۲ مخ.

[۲] - دغې مواضعې لاندې توکي لرل:

۱. سلطان به له هغو تیرو تنوتیریږی چې سلطان یې د چارو په تر سره کولو کې کوي.

۲. سلطان به احمد دبدي په هکله راپورونو ته غوږ نه ږدي.

۳. حربیه او داخله وزارت به د احمد څارنې لاندې کار کوي.

۴. سلطان به د ولایاتو حاکمان نه پریږدی چې په جبری ډول له خلکو پیسی واخلي ـــ»

ته وزارت وسپاره او هغه يې په ټولو چاروکې د خپل وکيل په توگه اعلان کړ[۱] . نور وزيران هم په همدې ډول د احمد په مشوره وروسته له سنجش او تدقيق څخه[۲] د هغوی له وضعيت اولياقت سره سم ټاکل کيدل .

مهمې دولتی دندې يواځې يوی او خاصې طبقې پوری نه وې تړلې، بلکې د لياقت لرونکی هر سړی يوې رتبی ته رسيدلای شو[۳] . هو : سلطان د نظام الملک په خوښه چې دولتې دندې يې ټيټو طبقو. محرومو او عادې خلکو ته نه ورکولې، کارنه کاو، بلکی سلطان د استعدادونو روزونکی او هڅوونکی و، ځنی يې ډيرو لوړو مقاماتو ته ورسول او په دی توگه د ټولو مامورينو لپاره د مراتبو سلسله تشکيل شوه او دا ممکنه وه چې يو عادې مامور د وخت په تيريدو د خپل لياقت سره سم يووخت وزارت ته ورسيږی[۴] .

---

۵. ← سلطان به مرستيالان ، جواسيس اود ډاک د مامورينو د مقرری واک احمد ته پريښودی . وگورئ اثار الوزا د ۱۰۷ پاڼې لومړی مخ تر هکله چې د مسعود او وزير احمد بن عبدالصمد ترمنځ لاسليک شوه وگورئ بيهقی ۸۲۰ - ۸۲۱ مخونه .

۱- بيهقی ۱۷۷ – ۱۷۸ مخونه .

۲- بيهقی ۴۱۲ – ۴۵۳ او ۵۰۴ مخونه .

۳- په واقعيت کې د سلطنت د کورنيو چراو اداره د ايرانيانو په لاس کی وه چې زياتره وخت به يې سلطان اذيت کاو او د هيواد په زيان يې کار کاو (آثار الوزا ۱۰۱ پاڼه لومړی مخ) . اعرابو او ترکمنانو يوه هم له هغوی سره رقابت نشو کولای . او په پای کې ټول وزيران او د ديوانو نورشيان همدا ايرانيان شول .

۴- بيهقی ۱۲۲ مخ .

## وزير او د هغه واک

د وزير اړين صفات او ځانګړ تياوې د هغه با استعداده دماغ و روان قلم او په اداري کارکی د هغه کفايت او پراخه تجربه وه[۱]. احمد بن حسن ميمندی، دسلطان محمود نامتو وزير، د وزارت رتبی ته له رسيدو مخکی[۲]. د مالياتو د تحصيلداری دنده. د مکاتباتود شعبی رياست، د محاسباتو دعمومی مديريت دنده اود حربيه څانګی د رياست دندې ترسره کړی وې.

## د وزير دندې

وزير په سيده توګه د وزارت د ديوان ( د مالياتو وزارت ) اداره په لاس کې لرله[۳] او عموماً يې د دولتي عوايدو د راټولولو لپاره عمال مقرر ول. د غو عمالو ديوې ډلې مامورينو په مرسته له ولاياتو څخه عوايد راټولول او دهر ولايت په خزانه کې يې کيښودل هيڅا حق نه درلود له دغو عوايدو څخه شخصی استفاده وکړي[۴]. د هرو ولايت عوايد به مخکی له مخکی تشخيص او معلوم و او عمالو به تحصيل شوی يا ترلاسه شوي پيسې د ولايت خزانې ته سپارلې، پاتې اضافه پيسې په هغوې پسی دهغوی په نوم حواله کيدې. دغه پيسی د پوځ په معاشونو اود سلطان او وزير د حواله جاتو او فرامينو لپاره

---

۱- سياست نامه ۸۲ مخ.
۲- عتبی ۲۷۱ مخ، آثار الوزا د ۸۰ پانی لومړی مخ.
۳- بيهقی ۲۲۷ مخ، آداب الملوک د ۳۶ پانی لومړی مخ.
۴- آثار الوزرا د ۸۸ پانی لومړی مخ.

مصرف کیدې ، پاتې به ( صاحب الدیوان ) چې د ولایت مالي رئیس به و ، غزنې ته یعنی مرکزي خزانې ته رالیږلې اود دخل او خرج یوه نسخه یا کاپې به په ( دارالاستیفا )[1] کې ضبط او ساتل کیده. مستوفي الممالک وزیر ته مسؤل و او د جمع او خرج د اقلامو دلست یوه لایحه اوکاپې یې ځان سره ساتله . دهیواد عواید بالعموم نقدو، لیکن جنس هم د قیمت له مخې د اجرا کیدو وړو.اود غه اجناس چې له غلې او پسونو څخه عبارت وو[2].د سلطان لپاره ساتل کیدل، ځنې له هغوڅخه سلطاني سفر خرجونو[3] ته او ځنې نور د قحطی او لوږې پروخت فقیرانو ویشل نه کیدل[4] .

د لومړي ځل لپاره د دولت عواید ( ذکر شوی عایدات ) د هغه چاپه واسطه چې دایې راټولول لیږدول کیدل او دولت ته تادیه کیدل . دتقلب او خیانت په صورت کې، عامل یا صاحب الدیوان ته ډیره شدیده سزا ورکول کیده، له دې امله چې د دولت د عوایدو راټولول کاملاً د وزیر مسؤلیت بلل کید: نو ده به دمتقلبینو او خاینو اشخاصو په شکنجه لاس پورې کاو او د هغه دشتمنۍ په پلورلو به یې د خیانت، تقلب او باقیداري جبران کاو[5] . که چیری به په خپله وزیر د سلطان مسؤلیت لاندې راغی ، نو پاتې وجه له ده څخه اخیستل کیده[1] .

---

[1]- سیاست نامه ۲۰۲ مخ .
[2]- بیهقی ۱۴۴ – ۱۴۵ مخونه .
[3]- بیهقی ۱۴۲ مخ .
[4]- عتبی ۲۴۷ مخ .
[5]- بیهقی ۱۴۲ مخ . فرخی د خپل دیوان ۱۸۵ پاڼی لومړی مخ کې د هغې قصیدې په ترڅ کې چې د سلطان محمود وزیر ( حسنک ) په مدح کې یې ویلې ده وایې ←

د دولتي عوايد و مهم او دايمي منابع (سرچيني) د ځمکومالیات، زکات(دشتمنې دونيم فيصده) [2] باج، د شاوخوا شهزادگانو سوغاتونه ، د سرو زروکانونه [3] . د سپينو کانونه [4] او هغه محصولات وو چې په هغو تجارتي مالونو چې له چين، ترکستان، هند، خراسان، عراق او شام څخه به تيريدل [5] وضع کيدل. دغو عايداتو د حکومت لګښتونه او دسلطان دلوړ او درانه دربار مصرف ډير په سختۍ سره پوره کاوه ، خود جګړي غنيمتونو. حضوصاً د هندوستان له جګړو څخه ډير ښه تدارک کيدل .

← ( سبا کله چې هغه ( وزير ) له عمالو څخه حساب کتاب اخلې ، دهغوی خطا . اوخيانت به شکاره شي ، او هغه پيسې چې هغوی په تقلب ځانونو ته وهلې هغه به ورڅخه واخيستل شي او هغوی به محبس ته وليږل شي ) .
متقلب عاملان به ځنی وخت د قمچينو گوزارونو لاندې اچول کيدل ، ځنی وخت يې لاس يا پښې پرې کول او ځنی وخت به يو سپاهی ورسره وليږل شو چې باقيداري پوره کړي . داهغه يواځنی وسايل و چې د مظنونو او خيانت کارو مامورينو د ويرولو لپاره چې د داسې يو هيواد لرې څنډوکې يې په خيانت لاس پورې کاو چې هلته د نژدې اړيکو ، کنترول اوساتنې کار مشکل و .

[1] - آثار الوزرا .

[2] - سياست نامه ۲۰ مخ .

[3] - يو کان په سيستان کې و (گزيده ۳۹۵ مخ) په شاهنامه کې هم دغه کان ته نغوته شوې ده .

[4] - څو د سپينو زرو کانونه پنجشير ته نژدې موجود وو .

[5] - اکثره هغه تجملي شيان چې سلطان او دهغو خلکو استعمالول ، له بهر څخه وار دېدل . المقدسي دوارده او صادره شيانو فهرست په اسلامی ممالکو کې ترتيب کړې . د سلطان د مملکت پراخوالی په خپله د تجارت هخوونکی و ، کوم بل حکمران چې تجار هغه ته د مال النجاري د عبور په وخت کی محصول ورکړی موجود نه و .

په وچکالۍ کې یا هغه وخت چې کوم ولایت به د دښمن له خوا لوټ کېد ، نو هلته به عموماً وزیر د ځمکې له مالیې څخه صرف نظر کاو [۱] . له دې پرته کروند ګروته به یې پورهم ورکاو چې ځان ته څاروي اوغله او تخم ورباندې واخلي [۲] . وزیر د سلطان د کفیل په توګه په ټولو دولتي چارو او دقانوني عدالت په اجرا کولو کې څارونه کوله [۳] او د روځې به یې ماسپښین تر لمانځه پورې دربار کاو او د خلکو عریضو ته به یې غوږ نیو [۴] او بالاخره په مهمو مالي مسایلو کې لومړنې مرجع او محکمه ګڼل کېد .

## د وزیر دریځ

وایې چې سلطان ویلې و: وزیران د پاچا دښمنان وي [۵] که کوم وزیر لومړی دښمن هم نه وي، د هغې بد ګمانۍ او حسد له مخې چې طبعاً یو مطلق زمامدار یې په یو جاه طلب وزیر لري، ډېر ژر دشمن کیږي [۶] . نو د وزیر دریځ ډېر خطر ناک او ناپایدار و. که چیرې سلطان په خپلو تصامیمو او مقاصد وکې پاتې راتلای، وزیر قهر او عتاب لاندې واقع کېد. وزیر د سلطان او رعیت تر منځ یوه واسطه وه او مجبور و چې دوې یوه ګډوډ مراجې اود آبل طرف حسد ، نفرت او قهر

---

۱- چهار مقاله ۱۸-۱۹ مخونه .

۲- عتبی ۳۲۱ مخ ، سیاست نامه ۱۸ مخ .

۳- آداب الملک ۳۲ پانه دویم مخ .

۴- بیهقی ۱۸۰ – ۲۹۷ مخونه .

۵- چهار مقاله ۱۸-۱۹ مخونه .

۶- آثار الوزرا ۹۴ پانه لومړی مخ .

وزغمی. لایق او د صلاحیت لرونکی وزیر. خصوصاً هغه وخت د دولت رجالو د دښمنې او کینې ور گرځید و چې د هغه د جاه طلبي خنډ به کید ، نو تل د لازم فرصت په کمین کی به و چې د غسی وزیر د پاچا په وړاندې بې اعتباره کړي . له همدې امله د وزیر منفوریت عموماً د هغه له لیاقت سره او د پاچا د منابعو د ساتنې په لاره کې د هغه له هڅو سره مستقیمه رابطه لرله .

## د سلطان وزیران

ابو العباس فضل بن احمد ، د سلطان محمود لومړنې وزیر، د سامانیانو په وخت کی د ( مرو ) د ولایت ( صاحب البرید ) و. امیر نوح د سبکتگین په غوښتنه، هغه په ۳۸۵ هـ ( ۹۹۵ م ) کې په نیشاپور کې هغه د محمود د وزیر په توگه چې په هغه وخت کې محمود د خراسان د پوځ مشرو ، ولیږه .

فضل د محمود دسلطنت ورځ په ورځ زیاتیدونکې چارې په ډېر مهارت او لیاقت او په ډېره ښه سلیقه تر سره کولې . خو فضل لوی عالم او فاضل نه و. دهغه په وخت کې ټول رسمي لیکونه په پارسي لیکل کیدل [۱]. د ۴۰۴ هـ (۱۰۱۳ م) شاوخوا فضل د اعتصاب په فصل ملزم شو او د دې پرځای چې خپله ناملامتې ثابته او ځان تبرئه کړی، د دوستانو د توبیخ سره سره په خپله په خپله خوښه زندان ته ولاړ، سلطان له دې حرکت څخه دومره خپه او دلگیر شو چې هغه یې

---

[۱]- عتبی ۲۷۳ مخ .

هماعسی محبس کې پرېښود او نوموړې په هماغه کال چې سلطان د (ننده) سفر ته ولاړ، مړ شو [۱].

شمس الکفات ابوالقاسم احمد بن حسن میمندی، د ابوالعباس فضل جانشین یو، ډیر لوی او فاضل عالم واو په اداري چاروکی یې لوی لاس درلود، نوموړی د سلطان رضاعی ورور و او ورسره یو ځای روزل شوی و [۲].

احمد په ۴۰۵ هـ (۱۰۱۴م) کې د وزارت مقام ته لوړ کړای شوی وله هغه څخه مخکې بیلابیلو وختونو کې د خراسان صاحب الدیوان، د بست او (رخج) د ولایتونوعامل او مستوفی الممالک و او وزارت ته له لوړیدو لږ وروسته یې وویل چې ټول رسمي لیکونه د پارسي پر ځای باید په عربي ژبه ولیلکل شي [۳]. احمد یو مدبر شخص و او ډ سخت منظم و، په رسمي دندو کی یې غفلت نشو تحمل کولای [۴] او له لوړ دولتي ماموریت سره یې کلکه معامله کوله [۵] چې د همدې رویې او چلند له امله یې ډیر دښمنان پیدا کړل اودهغه د پرځولو په هڅه کې شول. احمد په ۴۱۲ هـ (۱۰۲۵ م) کې تبعیداو په کشمیر کی د

---

[۱]- عتبی ۲۲۵ – ۲۷۱ مخونه. آثار الوزرا د ۸۸ پاڼی لومړی مخ د ۸۹ پاڼې تر دویم مخ پورې.

[۲]- آثار الوزرا د ۸۴ پاڼی دویم مخ.

[۳]- عتبی ۲۷۲ – ۲۷۳ مخونه. آثار الوزرا د ۸۸ پاڼی لومړی مخ څخه د ۸۹ پاڼی تر دویم مخ پوری.

[۴]- سیاست نامه ۲۰۲ مخ.

[۵]- سیاست نامه ۲۰۲ مخ.

کالنجر په غرونو کی بندي شو[١]. د محمود له مړینی وروسته مسعود بیرته هغه د وزیر په توگه مقرر کړ په ۴۲۲ هـ (۱۰۳۱م) کی، لیکن د ۴۲۴ هـ (دسمبر ۱۰۳۲ م) کې ومړ[٢].

احمد ډیر نامتو فاضل عالم و او د هغه ځنی رسمې تصویبونه په ایجاز او جامعیت کې ضرب المثل گرځیدلی و[٣]. وروسته له احمد څخه، ابو علی حسن بن محمد بن عباس چې په (حسنک) مشهور و، دهغه پر ځای مقرر شو. نو موړی له ماشومتوب څخه دسلطان په خدمت کی و چې ورو ورو د نیشاپور تر ریاست پوری ورسید[۴] او په ۴۱۴ هـ (۱۰۲۳ م) کې حج ته ولاړ[۵]. د بیرته راتګ پروخت خلیفه فاطمې الظاهر هغه ته یوسوغات ورکړ. دغه خبره د عباسی خلیفه القادر بالله د غوسې سبب شوه، آن تر دې چې هغه یې قرمطې وباله او سلطان ته یې وویل چې هغه باید ووژل شي. خو سلطان دغه ورکړل شوی سوغات بغداد ته د سوځولو په خاطر خلیفه ته ولیږ، په دې توگه د خلیفه قهر بیرته کیناست. په ۴۱۲ هـ (۱۰۲۵ م)[٦] کې سلطان هغه د

---

[١]- بیهقی ۲۱۱ مخ. آثار الوزرا د ۱۰۵ پاڼی دویم مخ.
[٢]- بیهقی ۴۴۷- ۴۵۱ مخونه. ابن اثیر نهم ټوک ۲۹۴ مخ.
[٣]- چهار مقاله ۱۹ مخ. دهغه د ژوند په هکله وگورئ د مؤلف مقاله په (دایرالمعارف اسلامی ۹ کې د (المیمندی) عنوان لاندی.
[۴]- عتبی ۳۲۹ – ۳۳۳ مخونه.
[۵]- بیهقی ۲۰۹ – ۲۱۲ مخونه. ابن اثیر نهم ټوک ۲۳۹ مخ. ابن جوزي ۱۷۲ پاڼه لومړی مخ.
[٦]- بیهقی ۲۱۰- ۲۱۱ مخونه.

احمد پر ځای وزیر مقرر کړ او ډیر ورسره ښه و [۱] آن دا چې د حسنک قدرت دومره حد ته ورسید چې ځنی وخت به یې سلطان مسعود اذیت او توهین کاو [۲] کله چې مسعود ذواک په گدی کیناست هغه یې د قرمطي والی په جرم اعدام کړ. ۴۲۲ هـ او (۱۰۳۱ م) [۳].

## عارض او د هغه واکونه

د سلطان دویم معتبر وزیر عارض یا د عرض د دیوان لرونکی و [۴] چې د حربیه د څانگې رئیس بلل کید. عارض عموماً له ډیرو تکړه او با کفایته افسرانو څخه غوره کید. د دغه وزیر استعداد او قابلیت زیاتره ملکې اړخ درلود، یعنی د اداره کولو او اجرائیه چارو صالاحیت یې درلود، په عسکري چارو کې به یې صرف عمومی معلومات لرل.

## د سولې پروخت د عارض دندې

له وزارت څخه پرته، عارض په عسکری چارو کې د سلطان ځانگړی مشاور هم بلل کید [۵] دهغه یوه مهمه دنده د پوځ دلیاقت او هوساینې څارنه هم وه، عارض هر کال سلطانې لښکر غزنی ته نژدې د (شابهار) [۶]

---

۱- آثار الوزرا ۱۱۱ پانه لومړی مخ.

۲- بیهقی ۲۰۸- ۲۱۰ مخونه.

۳- بیهقی ۲۰۸ - ۲۱۰ مخونه.

۴- ویلیات و داوسن دویم ټوک ۷۳ مخ کې (شعل العرض) غلط تعمیر کړی، هغه یې د خبر رسولو شغل گڼلی دی.

۵- بیهقی ۱۰۰ مخ.

۶- بیهقی ۳۲۹ - ۳۳۰ او ۲۲۵ مخونه.

په ډګر کې معاینه کاو ، په دې حال کې به ټول سپاره او پلې عسکر له خپلو وسلو پیلانو او نورو مکملو وسایلو او صاحب منصبانو سره د هغه حضور ته په صف کی دریدل[۱] کله کله سلطان هم معاینې او د پوځ کتلو ته راته[۲] . عارض یا هم د هغه مرستیال ( نایب العرض ) به د پوځ دري میاشتنې معاش چې ( بیست ګانی ) بلل کید د ولایت له خزانې څخه ورکاو او دهغه د حساب صورت او محاسبه به یې د ( دارالاستیفا )[۳] په ذریعه وزیر ته تسلیم او وړاندې کاوه، عارض د پوځ د عسکر و د نو مونو فهرست او د هغو د کمبودې صورت ( د ناروغی، استعفی یا جنګ په اثر)[۴] کوت او ځان سره به یې ساتل ، یوه کاپې به یې دارلتحریر ته سپارله[۵] . له دې پرته عارض مکلف و چې د سلطان د سفر پروخت، دهغه درکاب داردو خوراک او نورو اړتیاوو څارنه وکړی[۶] .

---

[۱]- فرخي د ۴۱ پاڼی دویم مخ .
[۲]- ګردیزی ۸۰ مخ .
[۳]- ګردیزی ۲۳ مخ او ۲۴ مخ . بیهقی ۴۰۲ ، ۴۸۴ ، ۷۱۹ ، ۲۴۴ ، ۲۸۵ او ۸۱۸ مخونه ، سیاست نامه ۳۰۹۲ مخونه . ( بیست ګانې ) په نغده ډول هر و دري میاشتو کې ، او کله هم د ټول کال په پاکی ورکول کید .
[۴]- بیهقی ۵۳۲ مخ .
[۵]- بیهقی ۳۳۲ مخ .
[۶]- عموماً به سوداګر له لښکر سره یو ځای وو او هغوی ته یې آذوقه برابر وله . وګورئ عوفی ۱۲۲ پاڼه دویم مخ او سیاست نامه ۹۱ مخ .

## د جګړې پروخت د عارض دندې

عارض د جګړې پر مهال، د اردو د لواز مواو دنقليې د رئيس په توګه دنده لرله. په تم ځايونو کې يې د لښکر لپاره آسانتيا وې لکه خوراک، دحمل و نقل وسايل او نور برابر ول. وروسته له برې او سوبې څخه به يې غنايم ځارل او داغنايم د سلطان په مخکې ويشل کيدل [۱]. د غنيمت د بيلابيلو شيانو بيه ديو پوه شخص له خوا ايښودل کيده او عسکرو او صاحب منصبانو ته يې د هغوی له رتبو سره سم ويشل [۲]. د اسلامي شريعت د حکم سره سم له جواهرو، سرو او سپينو زرو، وسلې او پيلانو څخه پنځمه برخه سلطان ته ورکول کيده [۳].

## پوځ

دسلطان پوځ له سپرو (چې زياترو دوه آسونه لرل)[۴]، پليو (د پليو شميرله دې کبله چې ګرندې او چالاک نه وې کم و) شاهي محافظينو او پيلانو څخه جوړو.

د سلطان محافظين زياتره مرئيان وو، ځکه چې د مرئيتوب دطبع له مخې د هغو وفاداري اوفرمانبرا دري د پوځ د نورو قشرونو او طبقو په پرتله ډاډمنه وه. په خپله سلطان په هغو ځارنه کوله، دهغوی اداري

---

۱- فرخی ۲۲ پانه دويم مخ.

۲- فرخی ۲۲ پانه دويم مخ. په آداب الملوک کې راغلی چې پلی به دسپرو په نيمايې وو.

۳- فرخی ۱۲ پانه دويم مخ.

۴- بيهقی ۳۱۳ مخ. سياست نامه ۱۰۲ مخ. آثار الوزرا ۱۰۰ پانه دويم مخ.

قوماندانان او صاحب منصبان بيل وو [۱]. د ساتونکو (محافظينو) توغ يا بيرغ يو زمری او څو توري (کرچونه) لرل [۲]. جنګي پيلان هم په سيده توګه د سلطان څارني او اداري لاندې وو [۳]. پيل وانان زياتره هندوان وو. د هغو مشر به (مقدم پيلبانان) بلل کيدل [۴]. سلطان هر کال پيلان شخصاً په خپله کتل، ډنګر او خوار پيلان يې هندوستان ته ليږل چې څورب او تکړه شي [۵] تقريباً دغه ټول پيلان يا د هندوستان د جګړو غنيمت وو او يا هم د هغه ځای د راجګانو سوغاتونه وو [۶].

## د پوځ شمير

له دې امله چې کوم سم او ټيک ماخذ په لاس کې نشته، نو د سلطان د پوځ شمير په د قيق او سم ډول نشی ښودل کيدای. په ۳۸۹ هـ (۹۹۹ م) کې کله چې محمود عبدالملک بن نوح سامانی ته په مرو کې ماتې ورکړه، اقلاً ۳۲ زره سپاره يې حکم لاندې وو. په ۴۰۲ هـ (۱۰۱۵-

---

۱- مريئيان (غلامان) د دولت نازولی طبقه وه او اکثره وخت به سلطان سره وو او تل به يې غوښتل چې خپل لياقت ښکاره کړي، که چيرې کومه مهمه مقررې به کيده، نو دوی به له ټولو مخکې په پام کې نيول کيدل. د سلطان د حضور اکثره قوماندانان لکه التون تاش، ارسلان جاذب، قره نګين دواتی او نور يا زياتره خپله د سلطان مرئيان وو يا بې د پلار.

۲- بيهقی ۴۸۸ مخ.

۳- بيهقی ۴۸۸ مخ.

۴- بيهقی ۲۹ او ۷۹ مخونه.

۵- فرخي د ۴۱ پاڼې دويم مخ. د ۹۷ پاڼې دويم مخ.

۶- بيهقی ۷۰۹ مخ کې ديوه پيل بيه سل زره درهمه بولي.

۱۰۱۲م) کې سلطان د يو لښکر په سرکې چې د اوريدو له مخې د هغه لښکر شمير سل زرو تنو ته رسيد [1] . دبلخ خواته ولاړ، او په ۴۱۴ هـ (۱۰۲۳م) کې کله چې د شابهار ډګرکې کله چې پوځ معاينه کيد، د هغو شمير ۵۴ زره تنه وو، خو په دې کې د امپراطورۍ د قراولونو ساتونکي نه وشميرل شوي، ځکه دوی هغه ګړي د شاوخوا سيمو ساتنې ته ګومارل شوي وو.

نو په دی توګه ويلای شو چې دسلطان د پوځ شمير د سولې او عادي حالت کې د سپرو او پليو په ګډون سل زره تنه بلل کيدای شول [2] . خو د جګړې پر مهال د تيولاتو د شهزادګانو دعسکرې قطعاتو او رضا کارانو او محلي احتياطي [3] عسکرو، او نويو سرتيرو شمير هم ورباندې اضافه کول. د سلطان د مرييانو (غلامانو) شمير تقريباً څلور زره تنه و [4] خو ښکاره نه ده چې له هغې ډلې څخه څو تنه يې د سلطان ځانګړي ساتونکي وو . دسلطان د جنګي پيلانو شمير ۱۷۰۰ شاوخوا و [5] .

---

[1] - بيهقي ۸۴۲ مخ .
[2] - سبط ابن جوزي (د ۲۱۹ پاڼې دويم مخ) د (الصابی) په استناد .
[3] - بيهقي ۳۳۲ مخ. آثار الوزرا ۹۹ پاڼه دويم مخ .
[4] - بيهقي ۲۵۲ مخ. طبقات ناصري ۸۳ مخ. فتوح السلاطين د ۳۵ پاڼي دويم مخ .
[5] - فرخي د ۳ پاڼې دويم مخ. ګرديزی ۸۰ مخ کې ليکي چې په ۴۱۴ هـ (۱۰۲۳ م) کی دپيلانو شمير ۱۳۰۰۰ و فتوح السلاطين د ۳۵ پاڼی دويم مخ کی د هغو شمير ۲۰۰۰ ليکي. فرخي د ۷ پاڼې لومړی مخ کې د سلطان د يو څو مهمو پيلانو نومونه هم اخلې . . دولتي آس او اوښ خپل ځانګړی نښان (ځانګړی نښه) لرله چې څوک يې غلانه کړي . وګورئ بيهقی ۷۵۲ مخ او چهار مقاله ۳۲ مخ .

نوې سر تيري زياتره له ماورالنهر څخه اخيستل کيدل. خو له دې امله چې يوازې او يوازې د يوه نژاد راټولول له خطر څخه تش نه و، نو عرب، افغانان، ديلهمی، خراساني، غوري او هنديانو څخه به هم پکی ورګډ وو[1] اوله دغو ټولو څخه به عسکر اخيستل کيدل. نوله همدې امله هيڅ نژاد او قوم د سرکشی او بغاوت جرات نشو کولای، بلکې د جګړې پر مهال به يې يو بل سره د جرات او رقابت احساس را پاريده[2].

## د پوځ اداره او نظام

د سلطان تر مشرتابه لاندې پوځ، ډير عالی نظم او اداره درلوده چې په خپله سلطان يې سپه سالار و. وروسته له سلطان څخه د پوځ قوماندان و چې دا به د خراسان د پوځ قوماندان و چې د سلطان پروخت لومړی د نصر او بيا يوسف له خوا اداره کيدل(دا دواړه دسلطان ورونه وو). له دې پرته هر ولايت يو عسکری قوماندان درلود چې عموماً به د ترکمن له خلکو څخه و ، د هغه دنده اصلاً عسکري وه ، خو که ولايت به په سرحد کی واقع و نو بيا يې د خواشا تيولاتو له حکمرانانو څخه د خراج د راټولولو دنده هم لرله[3] عارض لکه د وزير په شان مقرريده ، خو د احتياط او يوه مخکنی تدبير په توګه مجبور و چې د دندې له نيولو مخکی خپل يو ځوی د برمته او يرغمل په توګه

[1]- د سلطان په عسکرو کې يو زيات شمير هندوان هم وو چې په غزنی کې يې په يو بيل ځای کې ژوند کاو . المعری په (رسلاة الغفران ۱۵۳ مخ) کې ديوی هندوې ښځی دستې کيدو منظره په غزني کې بيا نوي .

[2]- سياست نامه ۹۲ مخ قابوس نامه ۱۷۲ مخ .

[3]- بيهقی ۳۲۵ مخ .

د سلطان دربار ته وسپاري [۱] . د هر ولایت پوځ یو عارض درلود [۲] چې د هغه دنده یو څه د ( صاحب دیوان عرض ) له دندې سره ورته وه او د عارض تر امر لاندې یوتن مرستیال د ( نایب عرض ) په نوم او یوتن د ( کو خدا ) [۳] په نوم و چې له هغه سره به یې په عسکری ( پوځې ) ادا ره کې مرسته کوله .

( عارض ) یا دهغه مرستیال به پیسی له سیمه ایزې خزانې څخه اخیستې او د پوځ ( بیست گانې ) به یې ورکولې [۴] . په هر پوځ کی یوتن ( صاحب برید ) و چې مهمو مسایلو ته به یې غوږنیو او د هغو په هکله یې سلطان ته خبر ور کاو [۵] .

عسکری خدمت بیلابیلی رتبې او درجې درلودی : ټیټه رتبه صاحب منصب ( خیل تاش ) و چې په لسو(۱۰) سپرو عسکرو یې حکم درلود . له هغه څخه پورته ( قائد ) و چې د ( خیل ) قوماندان و چې سل تنه سپاره یکی وو. له قائد څخه پورته ( سرهنگ ) و چې پنځه سوه سپاره یې قوماندې لاندې وې. له هغه پورته حاجب و چې د ( جیش ) [۶] قوماندانې یې په غاړه وه. او د یو ولایت ټول پوځ، لکه چې

---

۱- بیهقی ۳۲۸ – ۳۲۹ مخونه .

۲- بیهقی ۱۴۵ او ۲۱۹ مخونه .

۳- بیهقی ۴۲۱ مخ.

۴- بیهقی ۲۱۲ او ۸۱۸ مخونه .

۵- بیهقی ۳۳۲ او ۴۲۳ مخونه .

۶- دغه عسکري رتبې د سلطان معاصرو لیکوال خپلو ماخذونو کې ندې لیکلی . د دغه کتاب مؤلف دغه معلومات د هغو بیلا بیلو نغوتو څخه چې ←

مخکی ویلی شوي ، دسپه سالار قوماندې لاندې و . د رتبو لوړیدل یا تر فیع د لیاقت او کفایت له مخې اجرا کیده او آن دا چې یو تن سرتیری، د لیاقت په ښودلو د وخت په تیریدو د قوماندانۍ رتبې ته رسیدلای شو .

دسفر پر مهال، هر عسکر د خپلو تر تیباتو په چمتو کولو مکلف و [۱] او په همدې خاطر په داسی حالاتو کې د ده معاش پیشکې ورکول کید. که سفر به ډیر لرې هیواد ته و، سلطان به د سفر د اړتیا وو لپاره یو څه اضافه احتیاطي تدابیر هم نیول [۲] .

هر پوځ ځانګړی د حربی وسلو زیرمې ( ذخایر ) در لودل [۳] چې د جګړې له پیل کیدو مخکی به سرتیروته ویشل کیدي [۴] .

## دارالتحریر

( دیوان رسالت ) یا دارلتحریر چې هغه ته یې د ( اسرار و مخزن ) هم وایه [۵] ، د یوه معمر، معتمد ، تجربه کار، خدمتګار او آزمایل شوی

---

← بیهقی په ۲۳، ۲۴ ، ۲۲ ، ۱۴۹ ، ۳۳۲ ، ۳۴۵ ، ۳۵۳، ۳۹۲ ، ۳۹۷ او ۴۲۰ مخونو کې کړی ، را اخیستې دي او همدارنګه یې له سیاست نامې او ( مؤیدالنعم ) کتاب څخه چې د السبکې تالیف دی له ۵۷ مخ وروسته پاڼو څخه را اخیستې دي .

[۱] - بیهقی ۲۲۹ او ۸۰۸ مخونه ، فرخې د ۱۱۱ پاڼی دویم مخ .

[۲] - ابن اثیر نهم توک ۲۴۱ مخ .

[۳] - بیهقی ۲ مخ . د ګردیزی او نیا ( ۸۲ مخ ) څخه ښکاري چې د جګړی پر مهال ، هر لوري شاته بیله وسله روانه وه .

[۴] - بیهقی ۱۳۰ مخ . فرخی ( د ۴۱ پاڼی دویم مخ کی ) غواړې چې ولیکې چې دسلطان عسکر دیو شانته ( یونیفورم ) جامو لرونکی و چې دولت هغوی ته ورکول .

[۵] - جزیا ذوقانې ۳۰ مخ . آثار الوزرا د ۸۸ پاڼی لومړی مخ .

شخص په غاړه و [۱]. نو موړی رئیس به معمولاً د پوره ادبی استعداد، لیاقت قابلیت، تدبیر او سیاست لرونکی و. دهغه دندې داسې وې چې ډیر خلک به دهغه دښمنان کیدل ، خو هغه کولای شول چې دښو اخلاقو، نیک چلند او حسن معاشرت له لارې د خلکو خوښې ترلاسه کړي [۲].

د (صاحب دیوان رسالت) مهمه دنده دسلطان له خوا خلیفه، بهرنیو شهزاده گانو، د ولایاتو نایب الحکومه گانو او نورو دولتي آمرینو او متنفذینو ته د مکتوبونو لیکل وو. مهم مکاتیب او لیکونه په خپله سلطان لیکل، خو دمعمولي او عادي مراسلاتو په هکله یې (صاحب دیوان رسالت) ته شفاهي امر کاو او هغه به د دغه شفاهي هدایت له مخې اړونده مراجعوته مکتوبونه لیکل. هغه د ډاډ وړ خبرونه چې نایب الحکومه گانو، قوماندانانو. مشرف او صاحب برید رالیږل، صاحب دیوان رسالت د هغو شفر حل کاو او سطان ته یې وړاندې کاو [۳]. صاحب دیوان رسالت دیوه مرستیال او یو شمیر منشیانو لرونکی و چې لوړ معاش یې اخیست [۴] لوموړی سرکی په دیوان رسالت کې مستوفیانو او منشیانو په افتخاري ډول بی له

---

[۱]- ابو الفضل بیهقی د مسعودي تاریخ مؤلف کله چې ۴۵ کاله عمر درلود ، ډیر ځوان و گنېل شو ، په دې دنده ونه گومارل شو وگورئ بیهقی ۷۵۳ مخ.

[۲]- د دیوان رسالت د منشیانو یاد اسرارو د ساتونکو د صفتونو او ځانگړتیا وو په هکله وگورئ چهار مقاله ۱۲-۱۳ مخونه.

[۳]- د دغی دندې له ترلاسه کولو مخکی هر معتبر صاحب منصب ته د رسالت د دیوان له خوا یو د شفر کتاب ورکول کید . وگورئ بیهقی ۵۴۱ او ۸۲۱ مخونه.

[۴]- بیهقی ۱۲۲ مخ.

معاش ځخه کار کاو ، خو وروسته به د لیاقت په نبودلو سره . مقرر او معاش به یې اجرا کید [1] په دغه اداره کی د ترفیع او د رتبی د لوړیدو اجرات هم موجود و ،تش ځایونه به لایقو مامورینو د رتبو په نظر کې نیولو سره نیول [2] عموماً د کار وختونه دسهار له ۹ یا لسو د ماسپښین تر درې بجو پورې و [3] د جمعې او سه شنبې په ورځو رخصتې وه [4] . منشی د اړتیا پر وخت [5] تل په خپله دنده پاتې کیده و حتی که سلطان به تفریح او سیاحت ته هم ته ، یو تن د دارالتحریر منشي ورسره یو ځای ته [6] .

## د استخباراتو ځانګه

په اداري ځانګو کې یوه، بله مهمه ځانګه ( دیوان شغل اشراف مملکت ) [7] یا د استخباراتو ـ

---

[1] - بیهقی ۱۲۲ مخ .

[2] - ابو الفضل بیهقی د منشی په توګه دیوان رسالت کی په کار پیل وکړ ، د وخت په تیریدو سره د صاحب دیوان رسالت رتبی ته رسید .

[3] - بیهقی ۲۹۷ مخ .

[4] - بیهقی ۱۸۲ مخ امو ۵۸۱ مخ . عوفی د ۳۵۸ پاڼی لومړی مخ نو موړی سه شنبه د هفتی نو ( ناف ) بولي .

[5] - بیهقی ۱۹۱ مخ .

[6] - بیهقی ۱۹۱ مخ .

[7] - ایلیات و داوسن دویم ټوک ۷۴ مخ کی ( شغل اشراف مملکت ) په غلطه ( شغل آمور مالی ) او ( مشرف ) یې په ( محاسب ) ژباړلی ، . د ( اشراف ) د کلمې معنی په لغت کې له یو لوړ ځای ځخه دکتلو ځخه عبارت ده .

ځانګه وه[۱] د دغې ځانګې رئیس څو څو استازې لرل چې د ‹ مشرف › په نوم یادیدل چې ټول هیواد کې خواره واره و. دغه رئیس کولای شول د پیسو، وعدو، انعامونو او نورو په واسطه با اعتباره او معتمد نوکران، مهم صاحب منصبان او بهرنې شهزادګان خوشحاله او راضې کړي او د خپلو مشرانو جاسوسی ته یې راو بولې[۲]. جاسوسان هم نارینه وو هم ښځی، په بدلو جامو به بهر نیو هیوادو ته تلل. سلطان ته به یې ګټور اطلاعات راټولول[۳].

ځنی وخت به که چیرې کوم صاحب منصب د سلطان د خپګان سبب شو او له ویرې به یې بل هیواد ته پناوړله، که دهغه هیوادله پاچا څخه یې په جاسوسی لاس پورې کاو، سلطان هغه بیرته په ډیر خوشحالې مانه[۴] یوزیات شمیر مشرفانو د ‹ مشرفان درګاه › په نوم د سلطان له دربار سره اړیکی درلودی ، دهغوی دنده د وزیرانو او درباریانو د چارو دیره ژوره او ځانګړی څارنه وه[۵]. حتې د سلطان زامن هم د دغو جاسوسانو له څارنی لرې نه و، او د هغه ډیرو با

---

[۱]- بیهقی ۴۱۲ مخ کې لیکی چې دغه ځانګه د عرض د دیوان په پرتله مهمه وه. په سیاست نامه کې په ۵۷ مخ کی او په آداب الملوک کې د ۴۰ پانې دیوم مخ کې لیکلې چې د ‹مشرف› لازم او مطلوبه صفات، صداقت، امانت او دسمې محاکمی له قوت څخه عبارت و. وګورئ بار تولد ۲٫۳۱ مخ.

[۲]- بیهقی ۸۴۲ مخ کی په مبالغه آمیز ډول لیکې چې د سلطان جاسوسانو حتې د ترکستان د خانانو د نفسونو شمیر حساباو.

[۳]- بیهقی ۴۹۳ مخ او ۵۲۲ مخ. سیاست نامه ۲۸ مخ.

[۴]- بیهقی ۲۰۹ مخ.

[۵]- آثار الوزرا د ۹۲ پانې دویم مخ. سلطان حتی د وزیرانو له خصوصی مصاحبو، مرکو او مجلسونو او خبرو اترو ځان خبر او.

اعتماده نو کړانو. او غلامانو له همدی ځانګې څخه معاش اخیست، خو څنی وخت دغو شهزادګانو سلطان هم دهغو خپلو جاسوسانو په واسطه چې لرل یې، غولاو [۱]. عموماً څو ډوله جاسوسان په دربار کی وو او سلطان ته بیلا بیلو مشرفانو راپوړونه ورکول. دغو د جاسوسي اصولو په درباري ورځنې ژوند کې ښه رول ادا کاو. مثلاً که سلطان غوښتلای چې کوم صاحب منصب ته شفاهي پیغام ولیږی، عموماً یې دوه تنه دغه کارته ګومارل چې یو به د دوهم تن لپاره مشرف او جاسوس و، ځار به یې کاو چې پیغام لکه هغسي چې دی رسیدلی او آیا ځواب هم هغسی چې و هغسی اخیستل شوی که نه [۲]. مشرفان شخصاً سلطان د (صاحب دیوان اشراف مملکت) په مشوره مقررول خو د هغو مرستیالان د وزیر له خوا د ډیره ومعتمدو اشخاصو له منځه غوره کیدل [۳]. سلطان جاسوسانوته ډیر ښه تنخواه (معاش) ورکاو، ترڅو د هغو سترګې مړې وې او د صاحب منصبانو په سروزروونه غولیږې او دهغو د کړو وړو راپور په ډیره ښه بڼه راټول کړی [۴].

## د ډاک او رسمي مخبرينو اصول

جاسوسانو سره د هغوی د اطلاعاتو او راپورونو د رسولو په برخه کې د مرستی په خاطر، د ډاک منظم سیستم د سلطان په ټوله

---

۱- بیهقی ۱۳۵ – ۱۳۸ او ۱۲۴- ۱۲۵ مخونه.

۲- بیهقی ۸۱۲ مخ. په آداب الملوک کې د ۴۱ پاڼې لومړی مخ کې لیکل شوي دي چې د سلطان په پخلنځي کې هم مشرفان موجود وو چې د هغو دنده د ماکولاتو ځارنه وه.

۳- د آثار الوزرا ۱۱۰ پاڼی اول مخ.

۴- سیاست نامه.

امپراطورۍ کې جاري و. (صاحب برید) یا د هر ولایت د ډاک مامور [1] رسمي مخبر و او د هغه دنده د هغه ولایت د مهمو خبرونو راټولول و (خصوصاً قوماندانانو او صاحب منصبانو د چارو په هکله). او دهغو په اړه به یې خبرونه سلطان ته لیږدول [2] دغې دندې ډیر دروند مسؤلیت او پوره اعتمادته ضرورت درلود او ځنې وزیران لکه ابوالعباس فضل بن احمد او ابو علی حسن بن محمد، د وزارت د دندې له نیولو مخکې همدې دنده کې توظیف وو [3]. (صاحب برید) او دهغه مرستیال لکه د مشرفانو په شان، ښه ښه معاش درلود [4]. صاحب برید خپل اطلاعات په شفري توګه چې پخوا یې له صاحب دیوان رسالت سره ترتیب کړی وو، لیږل [5]. ټول رسمي لیکونه، د مشرف او برید د راپورونو په ګډون ټول اطلاعات د ځلور بولو په واسطې سره (اسکدار) رسول [6]. خو ځنې نورمهم لیکونه ځنې مخصوصو عربو سوار کارانو رسول را رسول [7]. خو دغه سلسله او ترتیب یونیم وخت د کوم ولایت د حاکم د بغاوت پر مهال ګډوډ کیده ځکه باغې مسؤل صاحب برید د غلطو راپورونو

---

[1]- بیهقی ۱۲۵، ۴۲۳ او ۲۲۷ مخونه.

[2]- بیهقی ۳۴۲ مخ. سیاست نامه ۵۷ او ۲۰ او ۸۵ مخونه، عوفی د ۳۱۹ پاڼی لومړی مخ.

[3]- بیهقی ۱۲۲ مخ، جرباذقاني ۳۵۷ مخ.

[4]- سیاست نامه ۵۷ - ۵۸ مخونه.

[5]- بیهقی ۵۴۱ او ۸۲۱ مخونه.

[6]- بیهقی ۴۲۵ او ۳۹۴ مخونه. مهمو صاحب منصبانو دا امتیاز درلود چې خپل پټ خبرونه به یې د همدغو سپرو (سوار کارانو) په واسطه لیږل رالیږل.

[7]- بیهقی ۱۳۹ مخ کی لیکی چې دغو سوار کارانو ته د هر ځل سفر په ترڅ کی ځانګړې نورې پیسی هم ورکول کیدې.

په لیږلو مجبور او. کله به یې هم هغه ته کمین نیو او له منځه به یې وړ او سلطان ته به یې دمهمو اطلاعاتو د رسولو مخنیوی کاو[۱] په داسی حالاتو کی به صاحب برید خپل اطلاعات د نورو ځانګړو استازیو په واسطه او د جامې په بدلون رساو مثلاً دا کاربه یې د مسافرو. سوداګرو درمل پلورونکو او نورو په واسطه اجرا کاو او راپور یا معلومات به یې د خپلې ځپلی په تلې، دسورلی په زین، یا تو کریانو رو ځایونو کی پټ رساو[۲].

## حضوري مفتش

د (صاحب دیوان وکالت) یا حضوري مفتش په توګه[۳] هغه ځوک ټاکل کید چې په صداقت او امانت داري کې به مشهور و[۴] د سلطان دوخت لیکوالو[۵] د دغه مفتش په هکله لیکنې نه دي کړی. علت یې دا وو چې د غو لیکوالو له دربار او درباریانو سره چندان اړیکی نه لرلې. دغه مفتش چې وکیل بلل کید و په شاهي پخلنځي و تشریفاتو په رئیس او شاهي غوجل باندې څارنه کوله او نور حضوری مامورین

---

[۱]- بیهقی ۸۵۴ مخ.
[۲]- بیهقی ۲۷، ۴۹۳، ۵۲۲ مخونه، سیاست نامه ۲۸ مخ.
[۳]- بیهقی ۲۲۰ مخ. فرخی د ۱۷۱ پاڼی دویم مخ او د ۱۹۲ پاڼی دویم مخ.
[۴]- آثار الوزرا د ۱۰۹ پاڼی لومړی مخ. سیاست نامه ۸۱ مخ. آداب الملوک د ۴۳ پاڼی دویم مخ.
[۵]- د دغه وکیل د صلاحیت او ځانګړتیا وو په هکله وګورئ آداب الملوک (د ۴۲ پاڼی دویم مخ. او (انشا) د ۱۰ پاڼی لومړی مخ چې د بارتولد تالیف (Lexts) کی په ۳۳ مخ کی لیکل شوی دي.

او کارخاني او ځایونه یې هم پاملرنې لاندې وو [1] او شاهي مخصوص خزانه دار هم همدي و د سلطان د ساتونکو او د حضرر د مامورینو معاش او ځیره یې ورکوله [2] څنې وخت به یې خالصه شاهي املاک او د (ضیاع) اداره (چې عموماً به د یو ځانګړې مامور تر اداري لاندې وه) هم اداره کول [3].

## عدلیه اداره

په اسلامي دولت کې، د عدلیه چارو اداره د خلیفه یاد آخرالزمانی پیغمبر (ص) د جانشین په لاس کې وه او خلیفه خپل واک د اسلامی بیلابیلو دولتونو حاکمانو ته سپارلې وه، هغوی په خپل وار قاضیان مقررول تر څو د خپل علم او له اسلامی شریعت څخه د خپل پوهې او اطلاع په واسطه هغوی سره مرسته وکړی [4]. په دی توګه عدلي چارې په ټوله اسلامې نړی کی اجراکیدلې. هر ښاریو قاضي درلود او هر ولایت یو قاضي اقضات درلود [5].

له دې امله چې په اسلام کی څلور مهم مفتیان تیر شوی دی او د ا هر یو یې خپل خپل پیروان لری. نو که چیرې د دغو څلورو مذهبونو د پیروانو ترمنځ کوم اختلاف واقع کید، نو یو شمیر نور قاضیان به چې هریو به له یو یو مذهبو څخه و مقرریدل، او اختلاف به یې حل کاو.

---

[1]- بیهقی ۱۷۳ مخ. سیاست نامه ۸۱ مخ.
[2]- فرخی د ۱۷۱ پاڼی دویم مخ
[3]- بیهقی ۳۰۸ مخ.
[4]- سیاست نامه ۵۴ مخ.
[5]- بیهقی ۲۴۲ مخ.

په دولت کې د قضا مقام خاص ارزښت درلود. او ويل شوي چې قاضيانو دټولو مسالمانانو په ژوند او ملکيت باندې واک اوځواک درلود [1]. قاضيانو لوړ معاش درلود [2]. او تر هغه وخته چې د دوی به دنده کې کومه بې توجهې نه وه کړې، د قضاله دندې څخه نه معزول کيدل. د قاضی احکام به دسيمه ايز حکومت چارواکو اجرا کول، د قاضی د امر نه منل د درنې سزا لامل کيدل [3].

په محکمه کې د قاضی د حکم د اجرا طرز ډير ساده و. د قضايا وو د حل او سنجش پر مهال کوم وکيل موجودنه وو. بلکې په خپله قاضې په عين حال کې له دعوی او شريعت څخه وکالت کاو. مدعيانو او شاهدانوبه خپل مطلب اظهار کړ او قاضی به اړوند قضيه سنجش او غور لاندې نيوله بالاخره د شريعت قانون په هغې باندې تطبيق او اجرا کاو. که ځينو مواردو کې به قانون ديوې قضيې په حل صراحت نه درلود، نو قاضې به د هغې په شان د نورو قضيو د فيصلو. د عدالت او د عقل د قضاوت اوداسې نورو څخه کار اخيست. سلطان د ټول هيواد د عدالت په اجرا کولو [4] کې ډيره ليوالتيا لرله او په خپله يې قاضيان د نامتو او مشهور مفتيانو او فقها وو له جملې څخه ټاکل. خو که چيرې له قاضې څخه به د دندې په اجرا کې غفلت او ياد شخصی غرض کوم

[1]- سياست نامه ۳۸ مخ.
[2]- سياست نامه ۳۸ مخ.
[3]- سياست نامه ۴۰ مخ. د قاضې د بيلابيلو دندو په هکله چې له عدالت چلولو پرته يې لرلې، وګورئ د (سلوک الملوک) کتاب د ۴۲ پاڼې لومړی مخ.
[4]- سياست نامه ۶۵ مخ.

حرکت ولیدل شو، نو په خپله سلطان دا ډول مسئله څېړله او د بدګمانۍ او یاد اثبات په صورت کې يې فوراً له دندې لرې کاو [1].

له قاضیانو پرته، تقریباً ټولو شهزاده ګانو، وزیرانو، د ولایتونو قوماندانانو او نورو لوړرتبه مامورینو [2] هم هغه شمیر قضایا او پیښې چې دوی پورې اړه لرله اویا ډیرې پیچلې او سختې نه وې، اجرا کولې. په خپله سلطان د ورځې یو ځل دربار کاو. پرته د شخصیت او رتبې له نظر کې نیولو به يې عدالت او حکم چلاو او عدلي اجرات به يې کول چې په دې ډول حالاتو کې د هغه د رعیت حتې ډیر غریب، بیچاره او عادي وګړي هم عرض ورته کولای شو او سلطان ورته په ډیره پاملرنه غوږ نیو.

## په ولایتونو کې حکومت

د سلطان د ژوند د وخت لیکوالو، په ولایتونو کې د سلطان د حکومت د طرز په هکله ډیرې لږ لیکنې کړي او ټول هغه څه چې د سلطان معاصرو لیکوالو په دې هکله څه ویلي، هغه مخکې ذکر شول. په عمومي ډول، په ولایتونو کې حکومت لکه د مرکز په شان اجرات کول: په هر ولایت کې درې مهمې اداري څانګې موجود وې: ملکي، عسکري او عدلیه. د ملکي څانګې رئیس د (صاحب دیوان) په نوم یادید [3] نوموړی د سیمې د عایداتو را ټولولو دنده لرله او په سیده

---

[1]- سیاست نامه ۷۷ مخ.

[2]- بیهقي ۴۰ او ۱۸۱ مخونه.

[3]- بیهقي ۴۴۷او ۵۵۷ مخونه.

توگه وزیرته مسؤل و [۱]. د هغه له امرلاندی به خو تنه (عامل) وو چې د مربوطه ولایت له علاقو به یې عواید راټولول [۲]. د ولایت ډیر لوړ رتبه عسکری چارواکی. د هماغه ولایت د پوځ قوماندان و [۳] دهغه دندي لږ مخکې ذکر شوي. قوماندان او صاحب دیوان. پرته دیو د بل له مرستې. هر یوه جلا جلا خپلی چارې پر مخ بیولې. خو د ضرورت پر وخت یې یو بل سره کمک کاو [۴] د ولایت د عدلیې ډیر لوړ مامور یا چارواکی قاضی القضات و چې نوموړی پرته له خپلی ورسپارل شوې دندي څخه. د کلیو له قاضیانو او دعدلي چارو د ښه والی څارنه هم کوله [۵].

## د کلیو اداره

د سلطان د وخت د کلیو او قریه جاتو د تنظیم او اداري په باب ډیر معلومات په لاس کی نشته. هر کلی کلا لرله او د کلا قوماندان چې (کوتوال) بلل کید. د هغی سیمی دعسکري چارو مشرو [۶] د کلې د

---

[۱]- سیاست نامه ۱۵۰ مخ.

[۲]- بیهقی ۳۵۲ او ۴۸۸ مخونه. فرخی د ۴۱ پانې لومړی مخ. سیاست نامه ۱۸ او ۱۴۹ مخونه.

[۳]- بیهقی ۴۹۲ مخ.

[۴]- بیهقی ۳۳ او ۱۵۰ مخونه.

[۵]- بیهقی ۲۴۲ مخ. قاضي له قضاوت څخه پرته. په سفر تلونکو کسانو او یتیمانو د امین (د مالونو ساتونکی) په توگه هم دنده اجرا کوله. وگورئ سیاست نامه ۷۷ – ۷۸ مخونه.

[۶]- بیهقی ۴. ۵. ۸ او ۲۸۸ مخونه.

ملکي چارو مشرته (شحنه) یا محتسب ویل کیدل چې د خپلې سیمې د چارو د ترسره کولو پرته یې دا دنده هم لرله چې د خوراکي شیانو له تقلب، د وزنونو سموالي. او د سوداګرو د کارونو په سموالی یې څارنه کوله او د خلکو پر اخلاقیاتو یې د اسلامي شریعت د تطبیق څارنه هم کوله[1]. متمرد نیول شوی کسان (امیر حراس)[2] یا د محبس رئیس ته ورکول کیدل چې د محکمې تر ورځې پورې به ورسره ترقیف وو. په هر کلي کې یو سرکاري خطیب و چې خلک یې لمانځه ته بلل او خطبې یې د امیر په نوم لوستلې[3] سره له دې چې هغه وخت ښاروالی نه وه موجوده، خو بیا هم داسې ښکاری چې د کلیو مامورینو او مخورو به یو شمیر چارواکی یو بل سره مجلسونه کول او سره تولیدل به[4] د هر کلي عرفاني او مذهبي اوقاف د اوقافو اشرافو[5] پورې اړوندې ځانګړی اداری پورې مربوط و، د دغی اداري رئیس د اوقافو د عوایدو او لګښتونو څارنه کوله.

---

[1]- بیهقی ۲۲۴ مخ. عتبی ۳۳۲ مخ. سیاست نامه ۴۱ مخ.
[2]- بیهقی ۱۸۹. ۱۹۷، ۲۷۱ او ۵۳۸ مخونه. سیاست نامه ۱۲۱ مخ.
[3]- بیهقی ۱۹ مخ.
[4]- بیهقی ۳۰۸ مخ.
[5]- بیهقی ۳۰۸ مخ.

## يوولسم څپرکی

### سلطان او د هغه کارونه

محمود لکه د تاریخ د نورو نامتو مشرانو په څیر هم خوش بین او هم بد بین لري. اسلامي لیکوالان هغه د اولیا و په لاره روان بولي، آن دا چې هغه ته د یوشمیر اعجاز انگیزه ځواکونو نسبت ورکوي. یو شمیر معاصر لیکوال چې د سلطان له اخلاقو او حرکاتو بشپړه خبر تیا نه لري. هغه کوي چې هغه د تاړا گرو مشر وبولي، لوټ او وینې تویول د هغه تفریح او عادت وبنیي، خو په حقیقت کی سلطان نه داسی و نه هسی. محمود د خدای ورکړیو حمیده اوصافو او فوق العاده عسکري قریحې خاوند و. منځنی ونه یې لرله، متناظر او غبنتلی وجود، لطیفه څیره، متناسبه بڼه، کوچني او بانفوذه سترگې، گردی زنه، کوچنی ږیره چې په زنه یې راشنه وه، لرل [1] (په کتاب باندی راغلی انځور صرف د هغه خیالي تصویر دي، طبعاً هغه ته کټ مت ورته نه دی (ژ) محمود خپلې کورنی باندې مهربان او مشفق و، د اولادونو شودنې او روزنې ته دهغه پاملرنه او ورونو سره د هغه فیض بخښنو نکی رویه همدا حقیقت څرگندوي. سره له دې چې محمود عبوس او سخت گیرو. خو چارواکو او مامورینو سره یې نرم او شه

---

[1] - سیاست نامه ۷۷مخ.

چلند کاو . چې وروسته له مړينې څخه يې ماموړينو په محبت آميزه الفاظو يادونه کوله[1] . هغه څوک چې د محمود قهر او غوسې لاندې واقع شوي وو ( حتى اشرار او شورشيان )، بياهم محمود ورسره ښه سلوک او لطف کاو چې دهغو ډيره سخته او شديده سزابه يې حبس ثاکه[2] خو دغه مهرباني او ترحم داسې نه و چې تل د پام وړ خلکو خوشه وي. تاريخ داسې څه په ياد نه لري چې محمود د وزيرانو په ټاکلو کې پرته له لياقت او کفايت د بل څه لحاظ کړی وي . محمود په خپلو دوستانو او منسوبينو ډير مهربان و ، د بيلګې په توګه اسمعيل دده هغه ورور چې ده سره يې د تخت دعوه کوله هم تل د ده د عنايت او پاملرنې وړ و او کله چې د سلطان د ژوند پر ضد د هغه توطئه رابښکاره شوه، سلطان هغه صرف تبعيد کړ يعنى هغه يې له غزني څخه جوزجانانو ته وليږ، چې پاتې ژوند يې هلته په سوکالۍ تير شو. سلطان خپل دويم ورور، ابوالمظفر نصر ته ډيره لوړه عسکرى رتبه يعنى د خراسان د پوځ قومنداني ورکړه، همدارنګه د سيستان د ولايت حکومت يې ورته وسپاره چې تر مړينې پورى ۴۱۲ هـ ( ۱۰۲۱ -۱۰۲۲ م ) يې دواړه چاري پر مخ بيولې. د محمود دريم ورور، ابو يعقوب يوسف و چې د سبکتګين د مړينې پر مهال لا کوچنى ماشوم و له مسعود او محمد[3] سره يې يو ځای ښوونه او روزنه ترلاسه کړه او د نصر له مړينې وروسته دهغه رتبې ته ورسيد[4] . په ۴۱۷ هـ ~~( ۱۰۲۶ م ) کې خليفه ( غالباً د~~ سلطان په نغوته او مشوره ) يوسف

[1]- بيهقى ۴۰ او ۱۸۱ مخونه .

[2]- بيهقى ۸۴ مخ .

[3]- بيهقى ۱۲۳-۱۲۴ مخونه .

[4]- فرخى د ۱۱۹ پانې لومړى مخ. ګرديزى ۹۳ مخ .

م ) کی خلیفه ( غالباً د سلطان په نغوته او مشوره ) یوسف ته د ( عضد الدوله او موید الملله ) لقب ورکړ[۱] .

سلطان اوه زامن لرل : ابوسعید ، ابواحمد محمد ، سلیمان ، اسمعیل نصر ، ابراهیم ، ابو منصور او عبدالرشید[۲] . درې لورګانې یې وې چې یوه یې د طبرستان حاکم منوچهر[۳] ته او بله یې د ( زینب ) په نوم وه چې د قدرخان کاشغری زوی ( یغان تګین )[۴] ته او بله یې د ( قابوس نامې )[۵] لیکوال عنصرالمعالی کیکاوس بن دار ابن قابوس ته واده کړې وې .

سلطان د خپلو زامنو د روزنې په برخه کې ډیره پاملرنه کړې وه ، دهغوی دخصوصی ژوند ډیره څارنه به یې کوله . کله به چې جاسوسانو د هغوی ډیر لږ سهوه او خطا سلطان ته رسوله ، سلطان هغوی رسماً پوښتنې لاندې راوستل[۲] سلطان خپلو زامنو ته د هغه وخت د متداوله علومو له زده کړې پرته حربی فنون هم ور زده کول او د دې لپاره چې اداري چاروکې مهارت او تجربه پیدا کړی ، مهم ولایتونه یې ورته وسپارل او لایق او پوه خلک یې د هغوی وزیران مقررکړل . په ۴۰۸ هـ

---

[۱] - گردیزی ۸۸ مخ .

[۲] - طبقات ناصری ۸۸ مخ . عبدالرشید له ۴۴۱ تر ۴۴۴ هـ ( ۱۰۴۹ - ۱۰۵۲ م ) پورې د غزنی حکمران و .

[۳] - عتبی ۲۷۹ مخ . بیهقی ۲۴۵ مخ .

[۴] - بیهقی ۲۵۵ مخ .

[۵] قابوس نامه ۴ مخ .

[۲] - بیهقی ۱۳۴ - ۱۳۷ مخونه .

( ۱۰۱۸ م )[۱] کې د نوې نیول شوی ولایت ( ری ) چارې همده ته وسپارل شوې[۲] محمود ابونصر محمد له مړینې وروسته د جوزجانانو ولایت حاکم او دهغه جانشین شو[۳]. او کله چې په ۴۰۹ هـ ( ۱۰۱۸ م ) کی سلطان قنوج ته سفر وکړ[۴]. دسلطان د امپراطوری د اداری سرپرستي ورپه غاړه شوه.

د سلطان د خصوصي ژوند په هکله ډیر اطلاعات نشته. خو دومره ویلای شو چې سلطان په هغو ناولتیا وو نه وه ککړ کوم چې ډیر ځله د شرقی حکمرانانو لمن هغو ناولتیا وو لړلی وه.

سلطان عموماً د اسلامې شریعت له حکم سره سم ژوند تیر کړی دی، او داسی نه شکارې چې ده دواده په شمیر کی د اسلامی شریعت څخه تجاوز کړی وي[۵] هغه علاقه او رابطه چې سلطان له خپل ترکماني علام ابوالنجم ایاز بن اویماق سره لرله، اصلاً د ایاز د فوق العاده وفاداري او اخلاص له امله رامنځ ته شوی وه، نه د هغه د ښکلا له امله، چې دغه موضوع فرخې په خپله یوه قصیده[۶] کې اونظامې سمر قندي او شیخ فریدالدین عطار په خپلو حکایتونو کې راوستی او په ضمن کې یې په ښه ډول سره همدا خبره کړی ده[۷]. طبعاً دسلطان او

---

[۱]- گردیزی ۷۴ مخ. بیهقی ۲۵۲ مخ.
[۲]- بیهقی ۲۵۸-۲۵۹ مخونه.
[۳]- وگورئ ( ج ) ننبلونه.
[۴]- د عوفی ( سلباب لباب ) لومړی برخه ۲۵ - ۲۲ مخونه.
[۵]- مجمل ۲۲۲ پاڼه دویم مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۲ مخ.
[۶]- فرخې ۱۴۸ پاڼه دویم مخ څخه تر ۱۴۹ پاڼې دویم مخ پورې.
[۷]- چهار مقاله ۳۴- ۳۲ مخونه او د عطار کلیات.

غلام ترمنځ د داسې نازکو عواطفو او دقيقو احساساتو موجوديت د نورو خلکو پاملرنه ځان ته هرو مرو را اړوي،خصوصاً افسانه ويونکی او شاعران دې خبرې ته ډير ځير کيږي. خلکو دغه حقيقت د معاشقې او مينې[1] په بڼه اړولی دی. سلطان خپلسرې، لجوج او د مخالفينو په وړاندې بې صبره وه چې دغه نيمګړتياوې تقريباً ټولو فاتحينو لرلې[2]. حتې که په خپله سهوه خبريده هم، د خلکو مخالفت يې نشو زغملای. خو له دې امله چې دوربين او غښتلی فکر يې درلود، د مخالفينو له آرام کيدو وروسته يې خپله سهوه او خطا منله[3].هيچ چيرې نه دې ليکل شوي چې کله هم غضب د سلطان پر عقل غلبه کړې وي. حافظ ابرو د بيهقي مجلداتو د ورکو شويو برخو څخه يوه کيسه راخيستې ده[4]. او وايې چې د سلطان له حکم سره سم په بلخ کې يو پرتمين بڼ جوړ کړای شو چې د هغه ساتنه د بلخ د خلکو په غاړه شوه. د بلخ خلکوته د دغه بڼ پوره ساتنه سخت کارو نو له دی مسؤليت څخه لړ خپه شول او شکايتونه تر غوږ شول. ابو نصر مشکانې دغه موضوع سلطان ته عرض کړه. سلطان د دې موضوع څخه دومره غمجن شو چې څو ورځې يې ابو نصر سره خبرې ونه کړې خو ډير ژر خپلې سهوې ته متوجه شو او ډير ژربې يو فرمان صادر کړ او د بلخ خلک د دغه بڼ له ساتلو څخه معاف شول.

---

[1]- مثلاً زلالي (محمود و اياز) کتاب.

[2]- بيهقی ۴۹۵ مخ.

[3]- بيهقی ۴۹۵ مخ.

[4]- حافظ آبرو ، ۱۸۴ پاڼې لومړی مخ. عوفی د ۱۷۳ پاڼې لومړی مخ.

د سلطان طبعي زړورتیا په جګړو کې د هغه له رشادت او شجاعت څخه شه څرګندیږی. سلطان د پوځ په لومړي صف کي جګړه کوله او تل به یې د جګړی مغلوبه ځای باندې یرغل کاو [1]. داسي ویل کیږی چي سلطان د جګړو په ترخ کې دوه او یا ځله ټپي شوی و [2]. د ملتان په محاصره کې یې د دښمن دومره خلک ووژل چې د کرچ لاستي یې لاس پوري په وچو شویو ونیو کلک نښتي و او تر څو یې په تودو اوبو ونه مینځ، جلا نشو [3] دا د سلطان شجاعت، زړورتیا او جرات و چې حتی ډیرو نازکو شیبو او د نا امیدی په دقایقو کې به یې د پوځ روحیه لوړه ساتله. سلطان په جګړه کې ډیر لوړ استعداد او عالي فکر درلود او یو متخصص او وارد جنرال و. د جګړي نقشې او عملیات به یې په ډیره استادي او مهارت سره چمتو او اجرا کول. د سلطان ځلانده سوبې په ختیځ کې د سکندر له سوبو سره برابر والی لري. د هغه د عملیاتو ساحې له عراق څخه تر ګنګا او له خراسان څخه تر کاتهیا وار پورې پراخه وې. په دغو پراخو ډګرونو او لویه ساحه کې یې درې دیرش کلونه په نه ستومانه کیدونکې ځواک او بې مثاله بڼه محاربه وکړه او د پوځ سوقول وړ په غاړه و. کله به یې د ترکستان د ځواک پر وړاندې او کله د شمالي هندوستان په وړاندې جګړه کوله. د سلطان په جګړو کې کومه نوې اختراع نه لیدل کیږی، بلکې د جګړې له

---

[1]- عتبی ۱۲۹ مخ. فرخي د ۸ پاڼي دویم مخ.

[2]- مجمع الانساب، د ۲۴۲ پاڼي لومړی مخ. په آداب الملوک (د ۸۰ پاڼي لومړی مخ) کې راغلی چې سلطان ته ډیره مرغوبه او غوره وسله توره وه. په غشي ویشتلو کې هم ډیر تکړه و.

[3]- آداب الملوک د ۸۰ پاڼي لومړی مخ.

هماغه پخوانیو اصولو سره سم یې جګړه کوله. خو د خپلې ډیرې فعاله قوا له امله په دغو جګړو کې کامیاب و. د سلطان پوځ له عرب. خلجیانو. افغانانو. ترکمانو. ایلمي قوم او هندوانو څخه جوړ وو چې یو موټي او نه ماتیدونکی ځواک بلل کید.

سلطان ته بې کار نامی اوتت ژوند خوندنه ورکاو. بلکې تل یې هڅه وه چې ځلانده کارونه وکړي. په دې خاطر یې د سفرونو ټولې ناخوالې او ستوماني پر ځان منلی او د خپلې پراخه امپراطورۍ د پولو دننه به یې سیاحت کاو او ګرځید به. اوړی به عموماً دمرکزی آسیا په جګړو کې او ژمي به د هندوستان د جګړو په ډګر کی و.

ګرمی. یخنی او حتی طبیعی خنډونو یوه هم د سلطان دجګړو مخه نه نیوله. دغور ډیر ستونزمن غرونه، د کشمیر له واورو ډک پیچومې. د هندوستان له سیلاونو ډک بارانونه، څپاند سیندونه او دښتې، د پنجاب شاړې ځمکی او.د را جپوتانه سوځنده دښته د سلطان د ارادې په وړاندې تېنګار نشو کولای. د سلطان ډیرې ګړندۍ سوق الجیشی. دښمن هک پک او متحیر کاو. د ملتان په دروازو یې هغه وخت یرغل وکړ چې باغې سخپال آرام ویده و، ( قصدار ) ښار یې داسی محاصره کړ چې دهغه حاکم د سلطان له را نژدې کیدو بالکل خبرهم نشو. آن دا چې هغه وخت چې په بنګال کې په وژونکی ناروغۍ اخته و . دهغه د سوق الجیشی ګړندیتوب منوچهر هک حیران کړ او سلاجقه یې د خراسان پرېښودو ته اړ ایستل.

سلطان د عدالت په اجرا کولوکې جدي او د کلک هوډ لرونکی و قانون ته يې درناوی درلود . نور يې هم د شريعت درناوي ته رابلل [۱]. د هغه په ټوله امپراطورۍ کې هيچانشو کولای د خپل نسب او حسب له مخې دمسؤليت له بار څخه خپلې اوږې تشې کړي [۲]. په شهزاده مسعود باندې چې يوه سوداګر د پور دعوه کړې وه ،هغه يې مجبور کړ او محکمې ته يې حاضر کړ [۳]. علي نوشتګين د عسکرې پوځ يولوی صاحب منصب يې د اسلامي شريعت له اصولو په سرغړاونه توقيف کړ اود ټولو خلکو تر مخې يې په دره ووهه [۴].

اسلامي افسانه ويوونکی اونور ليکوال وايې چې سلطان په کلکه د رعيت په وړاندې ځان مسؤل ګاڼه او د هغوی د ژوند او شتمنې په ساتلو کې يې تر آخر بريده هڅې کولې. داسی هم ويل کيږي چې سلطان د يوې ښځې د شکايت له مخې چې يو شمير غلو تښتولی وه او د هيواد يوې ډيرې لرې سيمې ته يې بوولی وه، دهغو په ورکولوکې يې جدي اقدامات وکړل [۵]. او د يوې بلې ښځې شکايت چې د نيشاپور عامل د هغې شتمې په زور نيولې وه ،واوريد او د غه عامل ته يې شرعي سزا ورکړه او له دندې يې لرې کړ [۶]. کله چې په ۴۰۱ هـ ( ۱۰۱۰ – ۱۰۱۱ م ) کې په خراسان کې ژمې مخکې راورسيد ، قحطي پيښه

---

[۱]- سياست نامه ۴۴مخ .
[۲]- سياست نامه ۴۴ مخ .
[۳]- سياست نامه ۲۰۸ مخ .
[۴]- سياست نامه ۴۱ مخ .
[۵]- سياست نامه ۵۸ مخ .
[۶]- سياست نامه ۲۲ مخ .

شوه. نو سلطان له خلکو سره د مرستې په خاطر ډیر ژر اقدام وکړ او په هغې تولې سیمې کې یې پیسی او غلې – دانې وویشلې [۱].

سلطان په شعر او ادب کې هم تر یوه بریده پوري د نوم خاوند و [۲]. ویل کیږی چې د ‹ تفرید الفروغ › په نوم یو کتاب چې په فقه کې یو معیاري اثر گڼل کیږی، همده تالیف کړی و [۳]. سلطان په هغو مذهبې او ادبې مناظرو او بحثونو کی چې د ده په دربار کې به جوړیدل . داسی په شوق او علاقه برخه اخیستی . لکه څرنگه چې یو مسلمان

---

۱- عتبی ۲۴۷ مخ . ابن فندق ۱۰۲ پاڼه لومړی مخ .

۲- عوفی . لباب الالباب ، لومړی برخه ، ۲۴ مخ . دغه ځای کې د سلطان د څو څو منظومو بیلگې هم راغلې دي .

۳- حاجی خلیفه ، دویم ټوک ، ۳۲۷ مخ کی د امام مسعود بن شیبان له خولې راغلی قول . په یوه قصیده کې چې عسجدی د سلطان په مدح کې ویلی ‹ د علیگړه په اسلامې پوهنتون کې قلمې نسخه کې چې د حکایات السلاطین په نوم دی ، دغه قصیده شته › :

‹‹ بردادن صلات کتابی بکرد شاه چونانکه بو حنیفه کتاب صلات کرد ››

د ‹ سلطانې › د ټولگې په سریزه کې ‹ د اندین افیس لندن د کتابتون ۵۰۸ گڼه قلمی نسخه › چې د فقهی یو اثر دی . لیکل شوي دي چې ‹تفوید الفروغ › کتاب د سلطان د غو ښتنې سره سم یو شمیر فقها وو لیکلی و ،خو دا خبره رښتیا نه ښکاري ، په دغه کتاب ۰ د ۹۲ پاڼی لومړی او دویم مخ › کې د دهلی په هکله چې هغه وخت د اسلامې دولت مرکز و اود شپږمې پیړی د نامتو اثر یعنی هدایې په هکله ‹ په ۹۹ پاڼه کی لومړی مخ کی › هم یادونه شوې ده . خو دا خبره چې سلطان دې فاضلو علماوو ته امرو کړی چې کتاب تضیف کړی ، کومه فوق العاده مسئله نده .

وگورئ د ‹ فضایل بلخ › د کتاب ژباړه ‹ ۱۹۸ پاڼه لومړی مخ › د ابو بکر عبدالله بن عمر بن داود الواعظ په قلم .

دانشمند ته ښايي [1]. سلطان د علم لوی ښوونکي و او دهغه په دربار کی د نړی له هر گوټ څخه علما او فضلا راټول شوی وو [2]. ډيرو شاعرانو د ده صفتونه کړي دي [3]. ويل کيږی چې سلطان به هر کال ۴۰۰ زره ديناره په دوی باندې مصرف کاو [4]. د دغو شاعرانو څخه ډير وتلی او نامتويې فردوسی،عنصری، فرخي، عسجدی او غضائری يا دولای شو . فردوسی د خپل نه پناکيدونکی اثر ( شاهنامه ) زياته برخه د ده په دربار کې ( غالباً د ده په سپارښت ) ليکلی ده، خو د هغه زحمتونه د عنصری له خوا چې دسلطان د دربار ملک الشعرا و ( د

---

[1] - منهاج السلاطين ۱۱۲ پانه دويم مخ .

[2] - بار تولد ( ۲۸۹ مخ ) کی ليکی (( چې له شاعرانو ، فضلاوو او عالممانو سره د سلطان مينه او دربارته دهغو راټولول له دی امله و چې هغه غوښتل چې خودنمايې وکړی او خپل دربار له هره پلوه په نړۍ کی ممتاز معرفي کړی ، دافکارو روښانو نولو دی دې خبری ته اړ کړی )) . ممکنه ده چې د خود نمائی احساسات به هم و ، خو مهمه خبره داده چې په خپله سلطان هم شاعر او فاضل و ، له دې خبری انکار نشو کولای چې د علم د تشويق او ترويج په ضمن کې سلطان د افکارو تنوير هم نه هيراوه خو هغه خدمات چې سلطان د پارسې د ادب په برخه کې کړي ذي بايد هير نشي .

[3] - دولت شاه ۴۴ مخ کې ليکی : ۴۰۰ شاعران د سلطان په دربار کی وو . دهغو د شرح په هکله د ( تيا ) کتاب چې ثعابي تاليف کړی او (لباب الالباب ) چې عوفی تاليف کړی او د ( براؤن ) لومړی او دويم ټوک وگورئ . عتبی هم دڅوتنو شاعرانو نو مونو اخيستی د سلطان مدح ويوونکی وو .

[4] -گزيده ۳۹۵ مخ .

فردوسي د پوره قريحی او پوهې په هکله د بخيلی له امله يې وغوښتل چې هغه د سلطان په نزد منفور کړی ) ډير ونه ستايل شول[۱] .

محمود د غزنې دربارته د پوهانو په راټولولو کی ډيرې هڅې وکړي او دوی سره يې ډيره مينه لرله او هره هغه ښځه يا نارينه به يې چې د قريحی د خاوند په توګه و پيژاندل د خپل دربار د ښکلا لپاره يې راغوښتل[۲] سلطان په غزنی کې يو داسی پوهنتون جوړه کړی و چې د ادبياتو د بيلابيلو څانګو د ډيرو قيمتی کتابونو لرونکی و . سلطان به چې هر ښار فتح کاو نو د هغه ښار د کتابتونونو کميابه کتابونه به يې غزنيته راوړل[۳] . سلطان فضلاو و او اديبانو سره ډير فياضانه چلند کاو چې په دې برخه کې ډير لږ کسان له ده څخه مخکی دي . د

---

۱- مجمع الانساب د ۲۴۲ پاڼی دويم مخ ، ۲۴۷ پاڼې دويم مخ کی د فردوسی په اړه او له سلطان سره د هغه د اړيکو په اړه ده . په دی هکله محمود خان شيرانې ګڼ شمير مقالې د ( اردو ) درې مياشتنی مجله کی په ( ۱۹۲۱ - ۱۹۲۳ م ) کلونو کې ليکلې دي چې ادبې او تاريخی موضوعات بيانوي او دايې ثابته کړی چې د فردوسي مشهوره هجويه چې سل بيتونه کيږی او د شاهنامې له بيلا بيلو بيتونو څخه راټوله شوی ده .

۲- بيهقی ۲۳۲ - ۲۳۳ مخونو ، ابن بلخی ۱۱۸ مخ کې د غه مسئله چې سلطان البيرونی ، ابو علی سينا او نور پوهان له خوارزم څخه له ابو العباس څخه راغوښتی وو ، بالکل بی بنسته ده . دا موضوع مرزا محمد په چار مقاله کی ( ۱۹۳ ، ۱۹۷ او ۲۴۳ مخونو کی ) بيان کړی ده .

۳- ابن جوزي د ۱۷۸ پاڼی لومړی مخ . ابن اثير نهم ټوک ۲۲۲ مخ .

سلطان ډیر کوچنی انعام له زرګونو دینارو څخه هم زیات و[۱]. وروستیو شاعرانو سلطان (د سرو او سپینو زرو د پیلانو بخشش کوونکی) بللی دی[۲]. له فردوسي او البیروني سره د سلطان چلند د هغه د عادي فیاضي سره برابروالی نه لري، دا ځکه چې په دې قضیه کی د رقیبانو او مغرضینو لاس و، نو ټوله ملامتې په سلطان باندی نشو اچولای.

سلطان زهد، تقوی او بی آلایشی (ساده چلند) ته درناوی کاو[۳]. ده د مشهور او نامتو ولی (بزرګ شخص) ابوالحسن خرقاني[۴]. د لیدلو په خاطر ډیرې اوږدې لارې ووهلې او کله به چې ابوسعید عبدالملک بن ابوعثمان محمد بن ابراهیم الخرګوشي د ده دربار ته راته، نو ده به هغه په ډیر اکرام، اعزام او درنښت سره خپل حضور ته مانه[۵].

سلطان حنفی مذهبه و، خو په تخت باندې له کیناستو لږ وروسته یې قرامطه مذهب ته هم لږ څه لیوا لتیا موندلې وه[۶]. بالاخره یې د شافعی مذهب غوره کړ[۷]. په مذهبی چاروکې د سلطان د عقیدې دغه

---

۱- چهار مقاله ۳۵-۳۷ مخونه چې لیکلی یې دی: سلطان دهغو څو سو و بیتونو په وړاندې چې عنصری نظم کړل، امر وکړ د هغه خوله دریې ځلی له جواهرو څخه ډکه کړی. وګورئ دولت شاه ۳۳ مخ.

۲- تاریخ فخرالدین مبارکشاه ۵۲ مخ او (فرهنګ بهار عجم).

۳- بیهقی ۲۳۳ مخ.

۴- سمعانی، ۱۹۴ پاڼی دویم مخ. تذکره الاولیا (د عطار اثر) دویمه برخه ۲۰۹ مخ.

۵- ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۷ مخ. سمعاني د ۱۹۵ پاڼی دویم مخ.

۶- عتبی ۳۲۴- ۳۳۳ مخ.

۷- معیث الخلق د ۱۴ پاڼی دویم مخ.

بدلیدل رابدلیدل، په مذهب کې د ده د روح کنجکاوې او لټون څرګندوي[۱]. سلطان د مذهبي چارو په تر سره کولوکې دیر دقت کاو، لمونځ یې منظم کاو او هره ورځ به یې د قرآن تلاوت کاو[۲]. د روژې په میاشت کې به یې د خپلو شتو په سلو کې دونیم زکات ورکاو چې ډیرې زیاتي پیسی ورڅخه جوړیدې، دا به یې اړو خلکو ته ورکولې. له دې پرته به یې هره ورځ فقیرانو ته خیرات ورکاو او تل به یې د فاضلو او عالمو اشخاصو او معذرو خلکو سره مرسته کوله[۳]. تل به یې هغو رضاکارانو ته چې د هندوستان په سفر کې به ده سره په رکاب کې وو، نقدی مرسته کوله[۴]. سلطان په ډیره شدیده جګره کې هم الله (ج) نه هیراو او له خدایه غافل نه و له هغه ذات څخه به یې مرسته غوشتنه. د حج کولو ډیره هیله یې لرله[۵]. خو د سیاست له پلوه یې و نشو کولای چې دغې موخې ته ورسیږی. سلطان د حاجیانو په رفاه او هوساینه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه نه کوله او هغوی ته یې مدد خرج ورکاو[۶].

سلطان د تسنن له مذهب څخه د هیچا تیری او انحراف نشو زغملای او د رعیت د مذهبی عقایدو په برخه کی یې د سانسور یوه اداره جوړه کړې وه او یو مامور یې مقرر کړی و چې بد اخلاقان او د بدې عقیدی

---

[۱]- فرخي د ۲۲ پاڼې لومړی مخ او د ۲۳ پاڼې لومړی مخ.

[۲]- سیاست نامه ۴۴ مخ.

[۳]- بیهقی ۳۳۰ مخ مجمع الانساب د ۲۴۲ پاڼی لومړی مخ. ربیع الابرار د ۱۹۵ پاڼی لومړی مخ.

[۴]- سبط ابن جوزي د ۲۵۱ پاڼې لومړی مخ.

[۵]- فرخي د ۳۴ پاڼی دویم مخ.

[۶]- ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۹ مخ.

لرونکی خلکوته سزا ورکړی [۱]. د قرمطی او باطنی فرقې پیروان هر ځای کې ځارنې لاندې و ، نیول کیدل او بندیا نیدل او که خپله ناوړه عقیده به یې نه پریښوده ، وژل کیدل او سوځول کیدل. حتی د قرمطی فرقی کتابونه هم د سانسور د مامورینوله لاسه پاتی نه شول. کله چې سلطان د ری ښار ونیو ، ټول هغه کتابونه چې قرمطی مذهب پوری مربوط او د تسنن مخالف وو وسوځول شول. په دې توګه د آل بومیه د فیاضانه پالیسی له مخی هغه شمیر علم زیات شمیر آثار په ډیرو کلونو کې راټول شوی و او د آل بومیه د فاضلانه احساساتو علمی زیرمه وه د دغه متدین جنګجو د ډاډګیرنې په خاطر په یوه شیبه کې د اور د لمبو خوراک شول او په ایرو بدل شول [۲].

خو سلطان متعصب نه و [۳] بلکې د خپل دولت مذهبي یو والې یې غوښت [۴]. او هغه چا چې په دې برخه کې د ده د غوښتنی په خلاف عمل کاو، کلکه سزا یې ورکوله. دقرامطه په وړاندې دسلطان د دشمنۍ لامل اصلي محرک د قرامطه فرقې په وړاندې د بغداد د خلیفه دشمني وه . په دریمه هجری پیړی کې فاطمیانو چې ځانونه یې حضرت علي (رض) د میرمنې حضرت فاطمې اولادونه ګڼل ،د افریقا په شمال کې د خلافت بنسټ کیښود او د بلې پیړۍ تر نیمایې پورې یې تر مصر پوری پراخوالي وموند دوی په هغه واک چې په المغرب کی

[۱]- فرخی د ۱۲۵ پانی لومړی مخ و مجمع الانساب د ۲۴۵ پانې دویم مخ.

[۲]- ابن جوزې د ۱۷۸ پانی لومړی مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۲۲ مخ. مجمل د ۲۲۲ پانی دویم مخ.

[۳]- البیرونې ، د (ساچو) ژباړه دویم ټوک ۳۲۸ - ۳۲۹ مخونه ، خو بارتولد په ۲۷۸ مخ کی هغه په غلطه متعصب بللی دی.

[۴]- عتبی ۵ مخ و البیرونی لومړی ټوک ۹۹ مخ.

مصر پوری پراخوالی وموند دوی په هغه واک چې په المغرب کی یې درلود اکتفا ونه کړه، د مومنین له طرفداري ترنامه لاندې یې د بغداد د عباسیانو په ضد کلکی مجادلی او مخالفتونه شروع کړل او خپل جواسیس او مامورین یې د دی په خاطر ځینو حکمرانانو ته لیږل چې دوی د اسلامي نړۍ د سردارانو په توګه وپیژني . عباسیانو د هغوی په مقابل کې په جدیت برخورد وکړ او محمود چې د عباسیانو د اقتدار او ځواک مخلص او پلوی و، طبعاً یې د عباسیانو خوانیوله.

د عباسیانو د ینوی اقتدار ورو ورو په خراسان کی د طاهر یانو په اقتدار موند لو سره زوال سره مخامخ شو،خو هغومره چې د دوی سیاسی واک کمیده،هغو مره هم د دوی مذهبي اغیز په کمیدو و . د بغداد خلیفه د پیغمبر (ص) ځای ناستی بلل کید. سره له دې چې خلیفه شخصاً د یوه بی دوامه فنا کیدونکی تخت مالک و،خود هغه واکونه دومره لوی تصور کیدل چې که خلیفه وغواړي چې د اسلامي نړۍ هره برخه چې خلیفه وغواړي ،هر چاته یې چې ورکړي ورکولای یې شي . فاتحو شاهانو او د لویو سوبو خاوندانو د انقیاد او تابعداری تندي د خلیفه په درشل کې کیښوده،نوله همدې امله خلیفه د هغو جنګ – جګړی کوونکو او جګړه مارو لپاره چې د خپل واک د پراختیا تږي و و، یو شه ډاډمن ملاتړی اوپلوي بلل کید. سلطان هم له خلیفه سره د دوستي او یو والي په خاطر د خپلی امپراطورۍ عواید او ګټې له قرامطه سره د عباسیانو په شخړ کې ، د عباسیانو په واک کې ورکولې.

دبغداد د خلفاو او د قاهري د سیاسی واکمني تر منځ سیاسی رقابت د قرامطه مذهبو په وړاندې د سلطان تعصب او کرکه راوپاروله

،خو کله به که دغه ډول موضوعاتو د ده پاملرنه ډیره ځان ته اړوله نو سلطان مذهبی تعصب نه ښکاره کاو مثلاً هیچاندی ویلي چې سلطان په هند کې کوم تن د هندو والي په خاطر وژلی وي یایې د هندو مذهب پریښودلوته مجبور کړی وی[۱]. خو بیا هم سلطان تبلیغی حساسیت خامخا درلود. سلطان د نورو مذهبونو په وړاندی تعصب نه درلود، خو د اسلام د دین په خپراوي که یې ډیرې هڅی کولې، او په ټولو فتح شویو هیوادونو کې یې جوماتونه جوړول اود لارښوونې په خاطر یې خطیبان مقررول[۲]. داسې هم ویل کیږی چې د هند څو تنه راجګان هم په اسلام مشرف شول، خو دغه کاریې زیاتره د سلطان له ویرې کړی،ځکه همدا چې سلطان به بیرته راستو شو بیا به مرتد شول .ځنی منتقدین وایې چې هندوانو له اسلام څخه ډیر زیات نفرت درلود ،ځکه چې اسلام یې له یوه لوټمار او تاړاکګر لښکر سره هغوی ته وروښود ،خو دا نظر یه د منلو وړنه ده، دا ځکه چې هندوانو ځکه اسلام نه مانه چې د دوی له مذهب سره یې بالکل فرق درلود[۳]. اسلام چې ځنی خاص عقاید یې لرل یو هندو چې هیڅکله یې مذهب د عقایدو یو ځانګه نه بلله،ده ته د بُت د نمانځنی پریښودل (چې د دوی د باطلی عقیدې له مخی د ژوند او مرګ منبع وه) نا ممکن و او هغه یې یوه وچه بی حسه ټوټه نه بلله همدارنګه د هغو زرګونو معبودانو نه منل چې یو بل سره

---

[۱] - ویل کیږی چې هغه وخت چې سلطان د هندیوه راجه ته وویل چې که نه مسلمان کیږی نو باید باج ته غاړه کیږدی . خو له دې څخه دانه ثابتیږی چې سلطان به راجه د اسلام د دین منلوته مجبور کړی وي.

[۲] - ګردیزی ۷۲ مخ.

[۳] - البیرونی لومړی ټوک ۱۰۰ مخ.

په شخړه کې وو، نظر دې ته چې صرف یو واحد خدای ولمانځی دوی ته د دوی د خیاللاتو او تفکر په خلاف وه، همدارنګه د برهنمانو دښمني دغه اختلافات نور هم زیات کړل. دوی پیش بینی کوله چې د اسلام د قواعدو او اصولو عام کیدل هرو مرو یو ټولنیز انقلاب رامنځ ته کوي، د هغوی د مذهبی اصولو د له منځه تلو سبب کیږی او بالاخره به دغه فرقه له منځه لاړه شي. نو له همدې امله د براهنمانو ټولې فرقې د اسلام د له منځه وړلو په لاره کې هڅې کولې. له دې پرته هغه کرکه او انزجار چې د مذهب د بدلون له امله دیو هندو په زړه کی راپیدا کید، هم د دې سبب شو چې هندوستان کې د اسلام دین خپور نشي. خو له دې ټولو سره سره اسلام په پنجاب کې تر یوه حده پورې پر مختګ وکړ، خو لاهم د تبلیغ وخت نه و برابر شوی ځکه چې په یو هیواد کی د تبلیغ په خاطر ثبات او د حکومت استقرار ته ضرورت دی حال دا چې د سلطان عصر د فتوحاتو عصرو. هغه تندوان چې د سلطان له لارښوولې لاندې وو هوسا ژوندیې تیر او، او په غزنې کې ورته کورونه ورکړل شوی وو او ورته اجازه وه چې په ښکاره خپل مذهبي مراسم تر سره کړی[1]. د سلطان هغو مخالفینو او دښمنانو چې سلطان یې د هندوانو د معبدونو لوټ کوونکی باله او هغه یې وینې بهوونکی باله، دا هیره کړی وه چې دا ډول لوټ د مشروع جنګ په ترڅ کې ترلاسه کیږی چې د دنیا ټولو فاتحانو تل دا کار کړی دی.

د مغلوب دښمن غنیمتونه تل د فاتح لښکر قانونی او مشروع ملکیت ګڼل شوی. له دې امله چې په هندوستان کې ثروتونه او خزانې

---

[1]- المعری، رسالة الغفران ۱۵۳ مخ.

نه يواځې دا چې د پاچاهانو په صندوقونو کې وې . بلکې په معبدونو کې هم د ارباب النوع لپاره کېښودل کيدې،نو دا يوه طبيعي خبره وه چې فاتحانو د هغو په ترلاسه کولو کې هم هڅې کولې . هيچا هم هيڅکله نه دي ويلي چې سلطان د سولې پر مهال کوم معبد لوټ کړی اوسي. که چيرې سلطان د هند راجگانو ته اذيت رساوه،د ايران او ماورالنهر اسلامي پاچاهان يې هم په کرار نه پرېښودل د گنگا تر غاړو د وينو تويولو او لوټ او تالان ډرامه په هماغه بڼه د آمو تر غاړو هم د اجرا کولو امکان درلود،په واقعيت کې مذهبي مسايل په يو فاتح باندې ډيره لږ اغيزه لري،هيڅ داسې نه ښکاري چې سلطان دې د خپلو فتوحاتو په نقشه کې له هغو څخه اغيزمن شوی وي. له خليفه القادربالله سره د سلطان اړيکی د سياست او مذهب له مخې وې [1]. کله يې چې په ۳۸۱ هـ ( ۹۹۹ م ) کې عبدالملک ساماني ته په مروکې ماتې ورکړه خراسان يې ونيو،نو فرمان يې صادر کړ چې خطبه بايد د القادر بالله په نوم ولوستل شي [2].

خليفه هم په خپل وار د خراسان د سلطنت منشور او د يمين الدوله او امين الملله افتخاري لقب د سلطان لپاره صادر او وبښل [3]. سلطان وروسته له دغې نيتې خليفه ته په ډير درناوي کتل. په ۳۹۱ هـ ( ۱۰۰۰ م ) کې واثق د خليفه واثق ( ۲۳۲،۲۲۷هـ - ۷۴۲ ، ۷۴۷ م ) اولادې د خلافت دعوا وکړه او د ترکستان خانان يې خپل پلويان کړل،خو کله

---

[1]- عتبی ۲۲۹ – ۲۹۷ مخونه.

[2]- تجارب ،دريم توک ۳۴۱ مخ.

[3]- عتبی ۱۳۳ مخ.

چې خراسان ته راغی، محمود هغه بندي کړ او یوی کلا کې یې واچاو چې د ژوند تر پایه هلته و[1]. په ۴۰۳ هـ (۱۰۱۲ - ۱۰۱۳ م) کی د مصر حاکم خلیفه فاطمی، سلطان ته یو لیک ولیږ چې د هغه بیعت ترلاسه کړي، خو سلطان دغه لیک بغدادته ولیږ او هلته د ټولو خلکو تر مخی په عام محضر کې وسوځول شو[2]. وروسته په همدې کال کې یو ځل بیا یو ځانګړی مامور چې (تاهرتې) نومیدد هماغه مقصد په خاطر د حاکم له خوا سلطان ته راغی، سلطان د مذهبی علماوو د فتوای له مخې د هغه د اعدام امر ورکړ[3]. نو له همدې امله القادر بالله ده ته د (نظام الدین) لقب هم ورکړ، خو د محمود ورځ په ورځ زیاتیدونکی اقتدار او لوړ پرتم او وچت نوم د هغه درناوي د بغداد خلیفه ته راکم کړ. ځنی وختونه به میاشتې میاشتې تیریدې او بغداد به د محمود له فتوحاتو څخه رسمي خبرتیا نه ترلاسه کوله[4]. په ۴۱۴هـ (۱۰۲۳ م) کی د محمود او خلیفه اړیکې یو بل سره خرابې شوې دا ځکه چې ابو علی جسن (چې په حسنک مشهور و او بیا د سلطان وزیر شو) کله چې له حج څخه پیرته راته نو خلیفه الظاهر فاطمي هغه ته یو سوغات ورکړ، القادر بالله په دې ګومان شو چې ګواکې دا کار د سلطان په امر شوی دی، نو یو ډیر توند لیک یې سلطان ته ولیږه او په هغه کې یې

[1]- تجارب، دریم ټوک ۳۹۳ مخ.

[2]- ابن جوزي، ۱۵۹ پاڼې لومړی مخ.

[3]-عتبی ۲۹۹ مخ، ګردیزی ۷۱ مخ.

[4]- وګورئ خلیفه ته د سلطان لیکونه او د تجارب دریم ټوک ۳۴۱-۳۴۴ مخونه او سبط ابن جوزي د ۲۰۴ پاڼې دویم مخ د لیکونو له سرنامې او لهجې څخه ښکارې چې په وروستیو کلونو کې د سلطان رویه له خلیفه سره څو مره بدله شوی وه.

حسنک قرمطی وګاڼه او د هغه د وژلو هیله یې کړې وه . سلطان یو څه موده له خلیفه څخه خپه شو .خو ډیر ژربې بیرته پخوانۍ وضع پیل کړه او خلیفه ته یې درناوی وکړ او هغه سوغات یې بغداد ته ولیږ او هلته په لویه څلور لاره کې وسوځول شو [1]

دې کار د خلیفه د غوسې اور مړ کړ او د ۴۱۷ هـ ( نومبر،دسمبر ۱۰۲۲ م ) کې یې د سلطان د سومنات فتح وستایله او د ( کهف الدوله والاسلام ) نوم یې ورکړ اود ده زامنو او ورونوته یې هم یو شمیر لقبونه ورکړ لکه مسعود محمد او یوسف ته[2] . داسې ښکاري چې سلطان د خپل سلطنت په وروستیو کې غوښتل چې خلیفه هم خپلې اغیزې لاندې راولي، د بیلګې په توګه کله چې په ۴۲۰ هـ ( ۱۰۲۹ م ) کې یې مسعود رې کې پریښود ،نو هغه ته یې هدایت ورکړ چې اصفهان فتح کړي او خلیفه د آل بویه له اسارت څخه وژغوري،خو هغه د خپلې دغې نقشې له عملې کولو مخکې ومړ [3] .

سلطان د معمارۍ فن سره ډیره مینه لرله او هغه ثروت به یې چې له جګړو تر لاسه کړ د هیواد پایتخت او ولایتونو په ښکلې کولو به یې لګول .

سلطان قنوج ته له راستنیدو څخه مخکې په ۴۰۹ هـ ( ۱۰۱۸ م ) کې ویلي و چې باید په غزني کې د مرمرو او سماق له ډبرو یو ډیر ښکلې جومات په ډیر دقت جوړشي او هغه کتابتون چې د ډیرو کمیابو

---

[1] - بیهقی ۲۱۱-۲۱۲ مخونه .
[2] - ابن جوزی، ۱۷۲ پاڼی لومړی مخ .ابن الثیر نهم ټوک ۲۳۹ مخ .
[3] - ګردیزی ۸۷-۸۸ مخونه .

کتابونو یوه خزانه او د سلطان د امپراطورۍ بې مثاله گنج دی او همدارنگه په ډیرو زیاتو پیسو یوپوهنتون له هغو سره یو ځای جوړ شي او د زده کوونکو او ښوونکو معاش يې هم ورکړل شي . دا ټول يې نو مورۍ جومات سره یو ځای تړلی وو. د دولت نورو مشرانو او مخورو هم د خپل لاربښود په پیروي تل هڅه کوله چې په کارونو کې غفلت ونه کړي او هریوه به د ودانیو په ښکلا کی یو بل سره رقابت کاو[1] . په نتیجه کې په ډیر لږ وخت کی غزنی او دهیواد د نورو ولایتونو مرکزونه په ښکلیو ماڼیو ،جوماتونو، بڼونو، څلیو، د اوبو په حوضونو ، ویالو او کاریزونو ښکلی کړای شول[2]. د سلطان د دورې د عامه ودانیو په هکله ډیر معلومات په لاس کی نشته،خو هغه څه چې مورخینو د هغو په هکله څه لیکلی هغه د بلخ بازار[3].د آمو سیند پول[4] . او د ناور Nawar په سیند باندی د سلطان د بند[5]. څخه عبارت دي . د سلطان بند تقریباً ۱۸ میله د غزنی د ښار شمال ته پروت دی[6].

---

[1]- عتبی ۳۱۴ – ۳۱۷ مخونه.
[2]- عتبی ۳۲۳ مخ.
[3]- بیهقی ۲۸۸ مخ.
[4]-سبط ابن جوزي (د ۲۱۹ پانی دویم مخ) کې لیکي چې د هغه په جوړولو کې دوه میلیونه دیناره ولگول شول ، خو دا پیسی ډیری ښکاري.
[5]- دغه سیند ته عموماً د غزنی سیند هم ویل کیږي.
[6]- تذکره بابر دویم ټوک ۲۱۹ مخ. (وینیه) ۱۳۸ مخ او ۲۰۲ مخ کی د دغه بند د نړیدو نیټه د علاوالدین جهانسوز پر مهال له ۵۵ هـ کی ښی خو بیا جوړ شو.

له د غو ټولو څخه صرف د سلطان بند پاتې [۱]. و چې استفاده ورڅخه کیږي (دغه بند په ۱۳۸۴ ل کال کې ونړید (ژ)). دغه بند د غزنی شاو خوا ځمکو د خړوبولو په خاطر جوړشوی و. دا بند داسې جوړ شوی و چې د هغه تنګه برخه یاد بند تنګنا (خوله) چې د ناور د سیند او به ور څخه تیریږي یو پراخ میدان ته پرانیستل کیږي. دغه بند ۲۰۰ ګزه اوږدوالی او د تیږو د باري څخه جوړه شوی ۲۵ فته ارتفاع لرله او د پرچاوي او د اوبو د کنترول لپاره يې دوه دروازې درلودې چې یوه د بند په سر او بله يې د بند په آخر کې وه [۲]. د سلطان د وخت یوائنی پاتې شوی ودانی د ده زیارت او دوه منارونه دي: چې هریویې په دې توګه دي:

لومړی: د سلطان په قبر جوړه شوی ګنبذه او زیارت: د (روضه سلطان) په نامه یوه کوچنی کلي ته نژدې پروت دی چې اوسنی غزنی څخه دوه میله لری ده. د سلطان زیارت مخ په خرابیدو د ی د سلطان قبر دیوی ختیني ګنبذې دننه دی دهغه ډبر لیک سپین مر مر څخه دی او د مثلث ډوله منشور شکل لری چې په کوفي لیک ورباندی دعا ګانې او پرتمین القاب لیکل شوی دی [۳].

---

[۱]- سلطان بند بابرله واکمنی وروسته مخ په خرابیدو شو خو علیحضرت، سراج الملت والدین امیر حبیب اله هغه بیا ترمیم کړ چې بیا د سراج د بند په نوم یا دیده او همدابند تر ۱۳۸۴ پوری پاتې و (ژ).

[۲]- (وینیه) ۱۳۸ او ۳۰۲ مخونه.

[۳]- (سوریه) شپږم ټوک ۲۱-۹۰ مخ، د بنګال د آسیابي انجمن مجله، دولسم ټوک ۷۲-۷۷ مخونه.

دويم: د سلطان د وخت دوه راپاتې منارونه يو بل څخه ۴۰۰ گزه واټن کې دي چې هريو يې ۱۴۴ فټه لوړوالی لري چې د غزنې د پخواني ښار استازيتوب کوي . د دغو منارونو لاندی برخې چې د ټول منار اتمه برخه جوړوي اته اړخه لرونکی جوړښت لري خو پورته برخه يې د هند د دهلی د منارو په شان گرد دي . د دواړو منارونو منځ تش دی او د يوی مار پيچی زينې په واسطه پورته لاره ختلی ده، خو اوس مخ په خرابيدو دي. د دغو منارونو بيلابيلو برخو کې ښکلی انځورونه ، په کوفي ليک ليکنې، او ښکلی انځورونه ليدل کيږي. د شمال لوری منار محمود او د جنوب لوري منار مسعود جوړ کړی دی[1]. د ځای ناسې مسئلی له پخوا څخه د سلطان ذهن مشغول کړی و . سلطان په ۴۰۲ هـ ( ۱۰۱۵ – ۱۰۱۲ م ) کې خپل مشر زوی مسعود خپل ځای ناستی و نو ماو اوله ټولو اشرافو او مخورو څخه يې د هغه لپاره د وفاداری ژمنه ترلاسه کړی وه[2]. او په ۴۰۸ هـ ( ۱۰۱۷ – ۱۰۱۸ م ) کې يې د هرات په حکومت مقرر کړ او ابو سهل محمد بن حسين الزوزنی يې وزير ورته وټاکه[3]. خود خپل خپلسري مزاج او تو ند خوی له کبله ډير ژر قهر او غوسې لاندې واقع شو او په ۴۱۲ هـ ( ۱۰۲۱ م )[4]. کی ملتان ته تبعيد کړای شو خو لږ وروسته بيرته راوغوښتل شو او په پخوانی دنده کې بيرته ورته دنده و سپارل شوه. په دغه موده کې

---

[1]- ( وينيه ) ۱۲۹ مخ د هند او ختيځ د معماری تاريخ ، د فرگسن تاليف ، دويم ټوک ۱۹۴ مخ .

[2]- بيهقی ۲۵۲ مخ .

[3]- بيهقی ۲۵۲ مخ او گرديزی ۷۴ مخ .

[4]- ابن اثير نهم ټوک ۲۸۳ مخ .

شهزاده محمد د جوزجانان نایب الحکومه د سلطان د خوښی اسباب برابر کړل او قنوج ته په ۴۰۹ هـ ( ۱۰۱۸ م ) کی د سلطان د سفر پر مهال په غزنی کی د سلطنت په وکالت وگومارل شو او له خلیفه څخه یې وغوښتل چې په رسمي لیکونو کی دهغه نوم له مسعود څخه مخکی ولیکي [۱]. د دواړه ورونو تر منځ رقابت د دې لامل وگرځید چې په دربار کې گوندونه جوړ شي چې هر یوه په بل پسی شدید تبلیغات کول.

د غزنی امپراطوري چې د عباسي امپراطورۍ له انقراض څخه وروسته یواځنی لوی اسلامی دولت گڼل کید، د سلطان تر واکمنی لاندې و خپل ډیر لوی پرتم او پراخوالي ته ورسید. محمود په ۳۸۸ هـ ( ۹۹۸ م ) کی په تخت باندی دکیناستو پر مهال یواځې د غزنې، بُست او بلخ دولایتونو حکمران و او د سامانیانو د باج ورکوونکی په توگه یې بلخ اداره کاو، خود نو موړی کال له پای ته رسیدو مخکی یې د خراسان ولایت له امیر عبدالملک ( ساماني ) څخه را جلا کړ او د هغه له تابعیت څخه بهر سو او لکه د یو خپلواک پاچا په شان یې له خلیفه سره سیده اړیکې کلکې کړې.وروسته یې ورو ورو د سیستان،غور،غرشستان،خوارزم،نورستان،ری،جبال او اصفهان سیمی د خپل سلطنت واک لاندې راوستې او د قصدار، مکران، طبرستان ،جرجان ،ختلان ،صغانیان او قبادیان حکمرانانو سلطان د خپل مشر په توگه وپیژاند. له دې پرته د هندو شاهیه سلطنت چې له لغمان څخه تر بیاس سیند پوری یې پراخوالی و له ملتان او بهتنده ولایتونو سره

---

۱- بیهقی ۲۵۸ مخ.طبقات ناصری ۹۱ مخ.

يو ځای فتح شول. همدارنګه سلطان د جنوبی کشمیر د غرنیو ایالتونو : نراین پور ، قنوج،ګوالیار،کالنجرله راجه ګانو او دګنګا د غاړو له څو کوچنیو راجه ګانو څخه بیعت ترلاسه کړ. په دی توګه د سلطان امپراطوري د هغه د بشپړی واکمنی پرمهال هغه پراخی ساحې نیولې چې له عراق او خزرسمندر څخه ترګنګا سیند پوری اوله اورال سمندر څخه تر ماورالنهر او د هند تر سمندر پوری رسیدلې او دا جیوتانه دښتې هم پکی راتلی . د دغې لویې امپراطوری اعظمی پراخوالی له ختیځ څخه تر لویدیځ تقریباً ۲۰۰۰ میله او عرض یې له شمال څخه تر جنوب پوري تقریباً ۱۴۰۰ میلو ته رسید . سلطان په دې پوهید چې د داسی یو سلطنت اداره کول د هغه زامنو ته ستونزمنه ده، نو له همدې امله یې دخپلو دوو زامنو مسعود او محمد تر منځ وویشله . د خراسان،غزنې، بلخ او شمالي هند منظم ولایتونه یې محمد ته او نوی فتح شوي سیمې او ناامنه منطقی لکه ری،او نورې یې مسعود ته ورکړې[1]. دغه غیر مساوی تقسیم طبعاً د دغو دوو ګوندونو د مخالفت احساسات را وپارول او حتی دسلطان ځنیو غلامانو یوه توطئه جوړه کړه چې سلطان بندي او مسعود په تخت کینوي،خو لوړ همته او باوفا مسعود د هغوی دغه هوډ په کلکه رد کړ ویې ویل : د خپلو عملیاتو پایلې ته خیر شئ،زه به هیڅکله د خپل پلار په ضد له خیانت ډکو دسیسو کی ګډنه شم . زه د خپل پلار غم او ویر نشم زغملای،د خپل پلار نصیحت

---

[1]- بیهقی ۲۵۸ مخ . خو نظام التواریخ د بیضاوي تالیف ( ایلیات وداوسن دویم ټوک ۲۵۲ مخ ) لیکي چې ری،عراق او خراسان مسعود ته اوپاتی دولت محمد ته وسپارل شول .

او کومه سزا چې راکوي هغه په ورين تندي منم. پلارمې هغه پاچا دی چې د هغه ساری په ټوله نړی کی نشته[1]. خوله بده مرغه د سلطان رويه له مسعود سره ورځ په ورځ خرابيده او له خپلې مړينې لږ مخکی يې مسعود له خپل وراثت څخه محروم کړ او ټول سلطنت يې محمد ته پريښود[2]. رښتيا هم چې سلطان په خپلې دغې فيصلې کی له دور انديشی څخه کار وانخيست. داسمه ده چې د دومره پراخه امپراطورۍ ويشل يو عاقلانه کار و، خود هغې ښيګڼه د دوو ورونو ترمنځ د نا مساويانه ويش له کبله له منځه ولاړه. د محمود پرځای د محمد ځای ناستی کيدل يوه لويه تيروتنه وه ځکه چې مسعود حتی د محمد[3] په فکر هم د رارسيدونکی اړ دوړ مهال لپاره يو ډير مناسب شخص نه و. کله چې مسعود د سلطنت د شخړی په خاطر غزنی ته را روان شو ،محمد غزني پريښود او له يوه خونړی جنګ څخه يې ډډه وکړه چې د هغه په ترڅ کې ممکن د يوه ورور د وژل کيدو سبب شوی وای او دا د محمود مخکنۍ ناسنجول شې فيصلی له امله پيښيدونکی و. داود سلطان د عمومې او خصوصې ژوند لنډه شرح. سلطان د انسانيت له پلوه يو داسې شخص و چې محبت څخه ډک و،عادل و،ريښتنی، مهربان ،فياض،متقي او باديانته و چې په هر حال يې د ستاينې وړ او لوی صفتونه او اخلاق لرل. د سوبو او بريو له پلوه يې د نړی د ټولو سلحشورانو او فاتحانو په کتار کې ډير لوړ ځای درلود. ځکه چې ده د

---

[1]- بيهقی ۱۵۱ مخ.

[2]- بيهقی ۲۷-۲۸ مخونه.

[3]- طبقات ناصری ۹۱ – ۹۳ مخونه.

خپلې درې ديرش کلنې اوږدې جنگي مودې په ترڅ کې هيڅکله ماتې ونه خوړه. د پوهې په هڅونه، پوهې سره د محبت د لرلو په برخه کې رښتيا هم چې د ډيرو زياتو ستاينو وړ دې کوم چې د ختيځ ليکوالو د هغه په هکله ويلي دي. سلطان د خپل وخت د پخوانيو پاچايانو په پرتله د پارسي ادبياتو په تبليغ، ترقې ترويج او وده کې له حده زيات زيار وگاله. بالاخره د نظم او ښې ادارې له امله د درناوې وړشخص و، ځکه چې حتى ډيرو لرې سيمو ته د سفر پرمهال به هم ده خپله لويه امپراطورۍ کې نظم او امنيت ډير ښه ساتلي شو، خود خپلو اولادونو لپاره د حکومت سپارلو برخه کې ناکام بلل کيږي، ځکه خپله امپراطورۍ يې دومره پراخه کړې وه چې هيڅکله يوه تن هغه نشوه اداره کولاى.

له هغه څه سره سره چې و.مووېل سلطان محمود ددې وړتيا لرې چې د نړۍ په لويو فاتحانو او حکمرانانو کې وشميرل شي. د ده د ځوی مسعود [1]. په ويناچې: (هيڅ بله مور به د محمود په شان ځوی رانه وړي).

---

[1]- بيهقي ۲۸ مخ.

# نښلونې ( ضمایم )

## الف نښلونه[1] ( * )

د ختیځ د مؤرخینو یو څو متحد الموضوع آثار دلته د بیلګې په توګه ذکر کوو ، تر څو داپر تله وشي چې څو مره یې یو له بل څخه مواد اخیستی دي .

( ۱ )

د ملتان د جګړو ذکر : د ملتان والی ابوالفتح د نوموړی سره وران و او هغه الحاد ته ورغلی بللی و نو د ملتان د سیمی خلک یې خپلی خواته راوبلل په دی توګه یې نیک شیان او ښه خلک ټول ګناه او تیارې ته ټیل وهل،د هغو په هکله یې وویل سلطان ته،ټوله اسلام څخه ملاتړ او پردین باندی غیرت کولو هغه اړ ایست چې یو پوخ لوی لښکر راټول کړي نو د ملتان په لوری رهي شو او یو څوک یې د هند پاچا( باندبال ) ته ولیږه چې د خپل هیواد او سیمی له منځه ورته لار ورکړی چې دوی تیرشي،خو هغه دسلطان غوښتنې ته رد ځواب ورکړ او تمرد او سرکشی یې وکړه . سلطان له دې امله په غوسته شو او جګړه یې ورسره پیل کړه او دهر څه بربادولو حکم یې وکړ ....

( جامع التاریخ د ۲۲۸ پاڼی لومړی مخ )

( صرف د محتوا ژباړه )

---

* [1] - دغه بیلګی د دري ژبی له کلاسیک ادب څخه ژباړل شوي دی . هغه متون چې اوس لږ موندل کیږی ،نو ممکن ژباړه یې کټ مټ هغه شان نه وي ( ژ ) .

دمولتان د غزوې ذکر : د ملتان والي ابوالفتح په فساد او د چټل کاري او دعقيدی په خرابوالي مشهور و او د ملتان د سيمې خلک يې خپلی خوښی او خپلې لارې ته رابلل او وګړی يې په ګوناه ،تياره او ضلالت کی اچول نوداخبر سلطان ته ورسول شوه نو د خپل غيرت ،دين پالنې دا همت وکړ اودغه مهم دينی کارته يې ملاوتړله او کارته چمتو شو، د دين له اولياوو او اسلام له مطوعه و څخه يې يولوي لښکر برابر کړ او مخ په غرونو او دښتو روان شو د مولتان سيمی ته د تګ ملا يې وتړله له دې امله چې لارې ډيرې سختی او اوږدې وې نو دهند پاچا ( باندبال ) ته يې يو ځوک ولیږ چې د خپل ملک له لاری ده ته د تيريدو اجازه ورکړی اود اسلام لښکر پر مخ ولاړ شي خو هغه ونه منله او سرکشي يې وکړه سلطان ته غوسه ورغله او تصميم يې ونيو او دوه بيلابيلی لارې يې غوره کړی څکه په نرمې سره او په ښه چلند باندبال خبره ونه منله نو سلطان تصميم ونيو چې د تورې په زور د هغه پاچاهی دړی وړې کړی ....

د جرباذقانی د ۲۸۹- ۲۹۰ مخ
څخه صرف د متن دمحتوا ژباړه

(۲)

تر څو چې خبره دی بريد ته ورسيده چې اسمعيل تنګ شو اود خپل ضعف له امله يې قيام ونشو کولای او کله چې سيف الدوله د پلار له پيښی څخه خبرشو د خواشينی مراسم يې پر ځای کړل او خپل ورور ته يې د ډاډ ګيرنې ليک و ليکه او ابو الحسن حمولي يې په خپل استازيتوب ورولیږ او پيغام يې ورکړ چې امير ناصرالدين افاض الله

علیه شآبیب الغفران چې یو بی مثاله حادثه وه او بی ساری مشرو له نړۍ څخه رحلت وکړ او نن ورځ په ټوله نړی کی ماته تر تا څخه بل څوک گران نه دی . راته له ځان څخه هم گران یې او دستر گوله رڼا راته عزیز یې ،پرته له شکه له تا څخه غواړم چې تاته لښکر،ثروت،خزانی او ټول مناسب دي خو زما دعمر زیاتوالی ،تجربه او د حکومت کولو او مشر توب په چارو باندی د پوهیدو او د هیواد د وضعیت د ثبات د ساتلو لپاره ضرور ده چې د چارو واکی تر لاسه کړم ...

(د روضه الصفا ۷۳۴ مخ)

او هغه د نړۍ خزانی ورته مخکې کیښودې . دهغه ناتوانی په چاروکې ښکاره شوه او د مشرتوب او سیاست په دنده کی بریالی ونه خوت ... کله چې سیف الدولهٔ د پلاره له پیښی (مړینې) څخه خبرشو نو د ماتم مراسم یې پر ځای کړل او خپل ورور ته یې د تعزیت او همدردی لیک ولیک او ابو الحسن حمولي یې د سفیر (استازی) په توگه هغه ته ولیږ او پیغام یې ور واستاو چې پلار چې یوله مهمو مشرانو څخه و، ولاړ او نن ورځ ماته په ټوله نړۍ کې تر تابل دروند او گران او منلی څوک نشته له ځان څخه گران اودسترگو توریې هر څه چې ته وایې هغه به کیږی له حکم فرمان،خزانی او ممالکو او لښکر څخه دریغ نه کیږی،خو زما مشروالی ،تجربه اود حکومت په چاروکی پوهه او د واکداري په آدابو پوهیدل د هیواد دوام لپاره ضرور ده ....[1]

جرباذقانی ۱۷۸-۱۸۹ مخ)

[1] - که ممکنه وای دلته به دهماغه وخت د پارسي ادبیاتو اصلی متن او پخپله د جرباذقانی لیکنه را وړل شوی وه . خو دځینو تخنیکی ستونزو له کبله صرف د هغو د محتوا ژباړه تر سره شوه . (ژ)

(۳)

د دغه کال په لومړیو کی یې د ملتان د نیولو عزم وکړ ځکه چې دهغه ځای له والي چې ابوالفتح نومید د ناوړه حرکاتو شکایتونه د سلطان غوږ ته رسیدلی و . له دې امله چې پسرلی و نو د ستونزو د ډیر والی له امله له ځینولارو تیریدل گران کار و ،سلطان د هندوستان د ښارونو مشر پاچا جیپال ته یو څوک ور ولیږ چې له خپل هیواد څخه ورته د تیریدو لاره ورکړی اود اسلام لښکر لاړشي، خو خپل لښکر ته یې امر وکړ چې د جیپال دهیواد ښارونه لوټ او خلک ووژني اوتاروماریې کړی . جیپال خپله کشمیر ته ولاړ اود سلطان د قهر له زیان څخه بچ شو او کله چې الفتح د ملتان والي دا حال ولید چې د هند مشر پاچا باندی څه وشول نو خزانې او هر څه ...

(تاریخ الفی – د ۳۷۲ پاڼې لومړی مخ)

او کله چې سلطان له هغې جگړې څخه وزگارشو ،د ملتان عزم یې وکړ ځکه چې دهغه هیواد له والی څخه چې ابوالفتح نومید ناوړه حرکات د سلطان غوږته رسیدلی وو له دی امله چې پسرلی و او له ځینو سیمو څخه تیریدل ستونز من و نو سلطان د هند پاچا جیپال ته یو څوک ورولیږ او هیله یې ورڅخه وکړه چې د خپل ملک له لاری دوی ته اجازه ورکړي . جیپال ونه منله اود سلطان په وړاندی یې تمرد وکړ . سیف الدوله محمود له دې کار څخه په قهر شو د جگړی څخه تیر شو په یو ځلې یې دوه لارې ونیولې له یوې خوا یې جگړه له بلی خوا له جیپال څخه هیله نو د ملتان پر ځای یې په جیپال پسی واخیسته له یوې سیمی تر بلی یې وځغلاو تر څو کشمیر ته وتښتید کله چې د ملتان والی ابوالفتح دا حال ولید چې د هند مشر پاچا باندی څه وشول نو خزانی او هر څه ....

روضته الصفا ۷۳۵ مخ

## ب – نښلونه

### د نيټو له مخې د سبکتګين د نيکونو تاريخ

اکثره مؤرخينو د سبکتګين نيکونه او حتی صرف د هغوی نومونه هم نه دي ذکر کړی. ګرديزی د الپتګين او واکمنی ته د هغه د هيلو او د هغه له جاطلبۍ څخه خبری کړي،خوابو اسحق ابراهيم بلکاتګين،پريتګين او آن سبکتګين يې له قلم څخه غورځولې دي. عتبی د هغو په هکله يوه ناځرګنده نغوته کړی ده او تير شوی دی .سياست نامه د الپتګين په هکله ځو ځو ويناوې لري خود ډاډ وړ نه دې . خو هغه لنډه شرح چې د سبکتګين د نيکونو په هکله په طبقات ناصری کی راغلی ده ډيره دستاينې وړ ده چې د بيهقی د مجلداتو د کتاب له ورکې شوی برخې څخه رااقتباس شوی ده . مجمع الانساب هغه يواځنی قلمی کتاب دی چې دهغه د غزنويانو څپرکی تر اوسه پورې محفوظ پاتی دی . خو سره له دې چې د دغو حکمرانانو شرح په ډير لند ډول ليکي،مګر بيا هم متاسفانه د بلکاتګين د حکمرانۍ له دورې څخه همداسی تير شوی او صرف نظر يې کړی دی ،له دې پرته د هجري دلسمې او يوولسمی پيړۍ ځنی ماخذ لکه جهان آرا ،زينت المجالس،صبح صادق او جنة الفردوس ددغو حکمرانانو په هکله څه ناڅه تشريح لري، لاکن خپل مصادر او ماخذ يې نه دي ښودلي. ما مؤلف د سبکتګين دنيکونو په اړه ماخذ په ټول دقت او غورمقايسه کړل بالاخره يې د نيټو په موندلو بريالی شوم . په ابن اثير (نهم ټوک ۴۰۴ مخ ) کې او په تجارب الامم (دويم ټوک ۱۹۲ مخ) کی

راغلی چې الپتگین د منصور لښکر د ۳۵۱ هـ د ربیع الاول په نیمایي (د ۹۶۲ م د اپریل په ۲۳ مه) کی مات کړ، بیایې د غزنې نیولو ته پام واړ او هغه یې په څلورو میاشتو کی یعنی د ۳۵۱ هـ په آخرو (د جهان آرا په وینا) د ذیحجی په میاشت (د ۹۶۳ م جنوری) کې ونیو. الپتگین د ۳۵۲ هـ د شعبان په شلمه (د ۹۶۳ د دسمبر په ۱۳ مه) وروسته له اتو میاشتو حکمراني څخه مړ شو[1] او پرځای یې د هغه ځوی ابوسحق ابراهیم کیناست.

د ابراهیم د مړینی یا د بلگاتگین د تخت باندې کیناستو نیټه د طبقات ناصری له ویناڅخه (چې وایې سلطان محمود دبلکاتگین د حکومت په اووم کال پیدا شو، ۷۲ مخ) ښه څرگندیدای شي. یعنی دا چې سلطان ۳۵۵، هـ په محرم (۹۷۱ م) کې زیږیدلی دی، نو بلکاتگین هرومرو په ۳۵۵ هـ (۹۶۶ م) کې وروسته د ابراهیم له مړینی په تخت کیناستلی دی او په دې توگه ابراهیم له ۳۵۲ تر ۳۵۵ هـ (۹۶۳-۹۶۶ م) پوری حکومت کړی دی. بلکاتگین ۱۰ کاله[2].

---

[1] - را ورټی د طبقات ناصری په ترجمه کې سهواً اته کاله لیکلی. ځکه که چیری الپتگین اته کاله حکومت کړی وای باید هغ یا ابراهیم په ۳۵۹ هـ (۹۶۹-۹۷۰ م) کی د غزنی حکمران وای، حال دا چې دغه سنه د بلکاتگین په یوه سکه کې لیکل شوی ده (د آسیایې شاهی انجمن مجله، اولسم ټوک ۱۴۲ -۱۴۳ مخونه) که چیری په عربی لیک کی د میاشتې او کال په لیکلو کې لږ پاملرنه ونشي ډیر ژریو بل سره غلطیږی او یوه به د بلې معنی افاده کړی.

[2] - راورټی د طبقات ناصري په ژباړه کې د بلکاتگین حکمرانې دوه کاله لیکلی ده چې غلطه ده. ځکه چې لومړی خو د طبقات ناصري په ډیرې یوې پخوانی قلمي نسخې (برتش موزیم د ۲۲ گڼی فهرست ضمیمه او د ۹۷ پاڼی دویم مخ) کې لس کاله لیکل شوي او دویم دا چې لکه څرنگه چې پورته وویل شول ←

حکمرانۍ وکړه او په ۳۴۲ هـ ( ۹۷۴ -۹۷۵ م ) کې مړشو . د هغه ځای ناستی ،پریتګین له ۳۲۴ هـ ( ۹۷۴-۹۷۵ م ) څخه د سبکتګین تر په تخت کیناستو پوری یعنی تر ۳۶۶ هـ ( ۹۷۷ م ) کاله حکومت کړی دی .

## ج- نښلونه

### فریغونیان

فریغونیان دجوزجانانو [1] میراثي حکمرانان و چې د سامانیانو لاربنوونی لاندی په اقتدار کی وو. د دغې کورنۍ لومړنی حکمران چې اسلامې مؤرخینو د هغه په هکله لیکنی کړی دي . احمد بن فریغون نومید چې د نقل شوی وینا له مخې د ۲۸۵ هـ ( ۸۹۸ م ) شاوخوا کلونو کې يې اسمعیل بن احمد سامانی ته بیعت وکړ [2] په ۳۶۵ هـ ( ۹۷۱-۹۷۶ م ) کې نوح بن منصور سامانې له.ابوالحارث محمد بن احمد بن فریغون سره چې د جوزجانان [3]. حکمران و ،د واده اړیکې ټینګی کړی په ۳۷۲ هـ ( ۹۸۲-۹۸۳ م ) کې د جغرافیې یوه رساله د ( حدود العالم ) په نوم د یوه ناڅرګند مولف له خوا ده ته

← که بلکاتګین فقط دوه کاله حکومت کړي وي ،نو د سلطان محمود د زیږیدو کال د هغه د حکومت پر مهال نه واقع کیږی. د ( دو ) او ( ده ) لفظونه ډیر په آسانی یو بل سره غلطیدا ی شي .

[1] - جوزجانان په پارسی آثارو کی ګوزګانان لیکل شوی دي .

[2] - نرشخی ۸۵ مخ .

[3] - ګردیزی ۴۸ مخ .

ولیکل شوه [۱]. څه موده وروسته د ده زوی ابوالحارث احمد د پلار پر ځای پر تخت کیناست. نو موړی په ۳۸۰ هـ ( ۹۹۰ – ۹۹۱ م ) کې یو ځل بیا خپل مشر رئیس امیر نوح بن منصور سره د هغه د باغي اشرافو ( ابو علی سیمجوري او فایق) او د قدرت د رقیبانو په ماتولوکی مرسته وکړه. احمد له سبکتګین سره دوستانه اړیکې لرلې او په ۳۸۵ هـ ( ۹۹۰ م ) کی یې له هغه سره له خراسان څخه د ابو علی سیمجوری په ایستلو کې مرسته کړې وه [۲]. لږ وروسته دغه مناسبات د ښځی او میړه کیدو له امله نور هم ټینګ شول احمد خپله یوه لور دسبتګین زوی محمود ته او سبکتګین یوه لور د احمد زوی ابو نصر محمد ته ور واده کړه [۳].

د سبکتګین له مړینی وروسته هغه شخړه چې د ده دوو زامنو تر منځ د واک پر سره وشوه، احمد د خپل زوم محمود پلوي وکړه او د اسمعیل په ضد ودرید او د سامانیانو د واک له ختمیدو وروسته یې محمود د خپل مشر په توګه ومانه [۴]. احمد د ۳۹۰ او ۳۹۸ هـ ( ۱۰۰۰-۱۰۰۸ م ) کلونو تر منځ مړ شوی او زوی یې ابو نصر محمد دهغه پرځای کیناستلی دی او نوموړی هند او ځنی نورو ځایونو ته په سفرونو کې له محمود سره یو ځای پاتی شوی دی [۵]. او خپله یوه لور

---

[۱]- بار تولد ۱۳مخ.
[۲]- عتبی ۶۹-۷۸او ۸۸ مخونه.
[۳]- عتبی ۲۲۷ مخ.
[۴]- عتبی ۱۱۲۵ مخ.
[۵]- عتبی ۲۱۸ او ۲۲۵ مخونه.

يې د محمود زوی شهزاده ابو احمد ته ور واده کړی وه[۱]. ابو نصر محمد په ۴۰۱ هـ ( ۱۰۱۰ – ۱۰۱۱ م ) کې[۲] مړ شوی او د حسن په نوم[۳] ورځخه يو زوی پاتې شو.

خوله دې امله چې ډير کوچنی و د تخت وړتيا يې نه لرله. د جوزجانان ولايت د ابو محمد احمد تر حکومت لاندې راوستل شو[۴]. فريغونيان په شريفو سجاياوو، غوره اخلاقو او علمدوستۍ کې مشهور وو او د دوی دربار د شاعرانو او فضلاوو مرکز و[۵].

## د – ضميمه ( نښلونه )

### د سلطنت د تخت لپاره د محمود شخړه

له هغو ځخه چې محمود څو ځله خپل ورور اسمعيل سره يې په سوله ايز ډول د واک نرلاسه کولو برخه کې کړې وې، الفن ستون ( د هند دتاريخ په ۳۱۲ مخ کې ) هغه ناوړه تعبير کړی دي او ويلې يې دي چې (دغه کار په سلطنت باندی دسلطان د کيناستو په برخه کې د محمود ضعف ښکاره کوي). خو لکه څرنګه چې ښکاري، محمود له لومړی سر څخه د پلار د تخت وارث و او د سلطنت وړتيا يې لرله. سره له دې چې په دې برخه کې کوم ښکاره وينانشته خو د

---

۱- عتبی ۲۹۵ مخ، عوفی لباب الباب ولومړی برخه ۲۵ مخ.

۲- عتبی ۲۲۷ مخ، ابن اثير نهم ټوک ۱۵۹ مخ.

۳- بيهقی ۱۲۵ مخ.

۴- عتبی ۲۹۵ مخ. عوفی، لباب الباب، لومړی برخه، ۲۵ – ۲۲ مخونه.

۵- عتبی ۲۲۸ مخ. ابن اثير، نهم ټوک ۱۵۹ مخ.

پيښنو جريان څخه دغه حقيقت ډير ښه جوتيږي . محمود له ورکتوب څخه او له هغه وخته راهيسي چې سبکتگين هغه په خپل غيابت کې په غزنی کې د غزني د حکومت وکيل مقرر کړ، او له هغه وخته چې ده ته يې د (زميندا ور) د ولايت اداره ور وسپارله، د ځواني تروخته چې تومورې د جيپال راجا او ابو علي سيمجوري سره په مقابله کی له ځانه فوق العاده فعاليت وشود . محمود تل په اداره او جگړه کې له خپل پلار سره و. آن هغه وخت چې امير نوح د سبکتگين ستاينه وکړه ،نو د محمود استعداد او لياقت او کفايت يې پيژندلی و نو له همدې امله يې هغه د خراسان د پوځ قوماندان وټاکه چې دا د عسکری يوه ډيره لوړه درجه وه، خو په هيڅ ځای کی د اسمعيل نوم نه واخيستل شوی. که چيری اسمعيل رښتيا هم وليعهد وای، هڅکله به د سبکتگين له نظره نه وای لويدلی او داسی پټ به نه پاتې کيده بلکی له بلې خوا سبکتگين تل د محمود د لوړيدو،ارتقا او دهغه د هيلو د ترسره کيدو لپاره په خپل ټول شوق او ذوق سره هڅې کولې،د بيلگې په توگه ده ته يې د ساماني کورنی څخه هغه نجلی واده کړه چې شاهي خاندان څخه وه،نوښکاري چې محمود له ټولو هغو وياړونو،درناوي او تکريم څخه برخمن وکوم چې ديو وليعهد لپاره په کار و . د سبکتگين پر ځای د اسمعيل نومول صرف د پلار يو هوس و . نو له اسمعيل سره د محمود د پخلاينې پرله پسې هڅې د دې لپاره نه وې چې د محمود ادعا او حق د تخت د نيولو لپاره ضعيف و، بلکې غوښتل يې هغه پاک او شريف هدف تعقيب کړی چې مناسب و، يعنی هغه رنگه چې عتبې د خپل کتاب په ۱۱۵ مخ کی وايي چې محمود غوښتل له وينو تويولو او ورور وژنې ډ ډه وشي.

# هـ - نښلونه

## سامانیان

د ساماني سلسلې مؤسس ( سامان خدات ) د بلخ د زردښت د مخوروله کورنۍ څخه اود ( بهرام چوبین ) له اولادې څخه و [۱]. دوی د هارون الرشید د زوی مامون په لاس، چې هغه وخت د خپل ورور امین له خوا د خراسان حاکم و، مسلمان شول [۲]. اسد د سامان مشر زوی څلور زامن لرل : ابو محمد نوح، ابو نصر احمد، ابوالعباس یحیی او ابوالفضل الیاس . څلور واړه ورونه د مامون د خوښۍ سبب و او ورڅخه راضي و [۳]. د بیلګې په توګه کله چې مامون د خلافت پر تخت کیناست ،د خراسان حاکم غسان بن عباد ته یې وویل چې دا څلور واړه ورونه باید ولایتي حکومتونو کې مقرر کړي . غسان په ۲۰۴ هـ ( ۸۱۹-۸۲۰ م ) [۴]. کي د سمر قند حکومت نوح ته ،فرغانه احمد ته ،مشاش (اشرو سنه ) [۵] یحیی ته او هرات یې الیاس ته ورکړل [۱]. د نوح

---

[۱]- ګردیزی ۱۹ مخ کی دهغه نسب کیو مرث ته رسوي . وګورئ له دی سره یو ځای مجمل ۲۵۱ پاڼه لومړی مخ او ګزیده ۳۸۹ مخ .

[۲]- ګردیزی ۱۹ مخ او ۲۰ مخ . خو نرشخي په ۵۷ مخ کی بالکل نور څه لیکی چې د منلو وړ نه دي .

[۳]- ګردیزی ۲۰ مخ . نرشخی ۷۴ مخ کی لیکی چې دوی له مامون سره د رافع بن لیث د اړ دوړ په غلي کولو کی مرسته وکړه ، نو ځکه دهغه د پاملرنې وړ وګرځیدل.

[۴]- ګردیزی ۲۰ مخ . نرشخی ۷۵ مخ کی په غلطه ۲۹۲ هـ کال لیکلی .همدارنګه وګورئ ګردیزی ( کنګز کالج قلمی نسخه ) د ۸۱ پاڼی لومړی مخ .

[۵]- تاشکند او ننني او راتپه . وګورئ ( لستریخ ) ۴۷۴ او ۴۸۱ مخونه .

له مړينې وروسته احمد د سمر قند حکمران شو او په څو کلونو کې يې کاشغر هم خپلې ولکې لاندې راوست[۲] او په هـ ( ۸۲۳ - ۸۲۴ م )[۳] کې يې له نيولو وروسته خپل زوی ابوالحسن نصر پکې حاکم کړ اونو موړی بخارا په ۲۶۰ هـ ( ۸۷۳ - ۸۷۴ م ) کې ونيوله اوخپل ورور ابوابراهيم اسمعيل ته يې وسپارله[۴]. په دغه کال کې خليفه المعتمد هغه د ماورالنهر امير وټاکه. په ۲۷۵ هـ ( ۸۸۸ - ۸۸۹ م ) کې نصر خپل ورور اسمعيل سره د مخالفت له مخې په بخارا يرغل وکړ خو ناکام شو بندی کړای شو. خو اسمعيل هغه سره ډير ښه چلند او درناوی کاو نو اجازه يې ورکړه چې بيرته خپل پايتخت سمر قند ته ولاړ شي[۵].

نصر په ۲۷۹ هـ ( ۸۹۲ - ۸۹۳ م ) کې مړ شو او د ده ورور ابو ابراهيم اسمعيل چې د بخارا حاکم و، دهغه پرځای کيناست. اسمعيل په ۲۸۷ هـ کې د ربيع الاول د مياشتې په پنځلسمه ( د ۹۰۰ م په مارچ ۲۰ ) کې په بلخ کې عمروليث ته ماتې ورکړه او بغداد ته يې د بندي په

[۱]- گرديزی ۲۰ مخ کې د سمعاني ( د ۲۸۲ - پاڼی دويم مخ ) په وينا، نوح په ۲۲۷ هـ ( ۸۴۲ م ) کې، يحيی په ۲۴۱ هـ ( ۸۵۵ - ۸۵۶ م ) کې، الياس په ۲۴۲ هـ ( ۸۵۶-۸۵۷ م ) کې او احمد په ۲۵۰ هـ ( ۸۶۴ م ) کې مړه شوي دي.

[۲]- طبقات ناصري ۲۹ مخ.

[۳]- نرشخی ۷۲ مخ، خومجمل ( د ۲۴۱ پاڼی دويم مخ کی ) اوطبقات ناصري په ۲۹ مخ کی ۲۶۱ هـ کال ( ۸۷۴-۸۷۵ م ) ليکی.

[۴]- نرشخي ۷۷ مخ.

[۵]- گرديزی ۲۰ مخ.

توګه ولیږه او خراسان یې د خپل سلطنت ضمیمه کړ[۱]. وروسته د طبرستان او جرجاس د حکومت حکمران محمد بن زید علوي په وړاندې پاڅید هغه ته یې ماتې ورکړه او سلطنت یې ورڅخه ونیو[۲].

اسمعیل د ۲۹۵ هـ د صفری په ۱۴ مه (د ۹۰۷ م د نومبر په ۲۴ مه) مړشو او زوی یې ابو نصر احمد د ده پرځای پر تخت کیناست. نوموړی د خپل حکومت په لنډه موده کې سیستان خپلی امپراطوري سره وتاړه او په پای کې د ډیر زیات ظلم له لاسه خپلو یو شمېر غلامانو له خوا په ۳۰۱ هـ کال د جمادي الاخر په ۲۳ مه (۹۱۴ م د جنوری په ۲۴ مه) ووژل شو او دهغه زوی ابو الحسن نصر چې هغه وخت اته کلن و، په تخت کینول شو. د هغه د حکمرانۍ پر مهال لری پرتو ولایتونو څو ځلی شورش جوړ کړ، خو نصر هر ځل د هغوی په غلي کولو او ټکولو کی بریالی شو. د ۳۳۱ هـ کال د رجب په ۲۷ مه (د ۹۴۳ م په اپریل ۲ مه) کې د نصرله مړینې وروسته د سامانیانو حکومت مخ په زوړ شو او دهغو تباکوونکو جګړو له امله چې د نصر زوی او ځای ناستی ابو محمد نوح له بویه حکمرانانو سره وکړ، دهغه ځواک کمزوری کړ، ری، جرجان او طبرستان یو یوله هغه څخه جلا شول. نوح په ۱۹ د ربیع الثاني د ۳۴۳ هـ (د ۹۵۴ م د اګست په ۲۲ مه) مړ شو اود هغه ځوی ابو الفوارس عبدالملک[۳]. د هغه ځای ناستی شو. نوموړی په لویدیځ کی دخپل ځواک د بیرته ټینګولو

---

[۱]- طبری دریم ټوک ۲۱۹۴ مخ.

[۲]- ګردیزی ۲۱ مخ.

[۳]- په سیاست نامه کی دده نوم بالکل له منځه وړل شوی دی. مګر وګوری عتبی ۱۴۹ مخ او نرشخی ۲۴ مخ.

هڅې وکړې خو ناکام شو . عبدالملک د ۳۵۰ هـ دشوال په یوولسمه ( د ۹۶۱ م د نومبر په ۲۳ مه ) د لوبې پروخت له آس څخه ولوید اومړشو ،د هغه ورور ابو صالح منصور هغه پرځای مقرر شو [1]. د ده پر مهال د غزنی او بُست ولایتونو د خراسان د پخواني قوماندان ،الپتگین ترمشری لاندې د خپلواکی اعلان وکړ .منصور د ۳۶۵ هـ کال د شوال په یوولسمه ( د ۹۷۶ م د جون په دولسمه ) مړ شو . د ده پر ځای د ده ځوی ابوالقاسم نوح پاچاشو . د نوح د پاچاهي پرمهال یو شمیر اشرافو اړ دوړ جوړ کړ له هغوی څخه هغو ډیر جاطلبو عناصرو لکه فایق ،ابوعلی سیمجوری.او بغراخان کاشغری لاسونه سره یو کړل او په بخارا یې یرغل وکړ، د دوی په ور رسیدو امیر نوح وتښتید او بغراخان په ۳۸۲ هـ کال ربیع الاول ( د ۹۹۲ م می – جون )[2] کی په بریالي ډول بخاراته ننوت، خو د هغه ځای هوا ده باندی ښه ونه لگیده دهماغه کال په جمادل الاول ( د ۹۹۲ م په جولای ) کی بیرته کاشغرته راوگرځید او په بخارا کې یې عبدالعزیز بن نوح بن نصر د خپل وکیل په توگه وټاکه .د بغراخان له بیرته راگرځیدو وروسته ،امیر نوح د بخارا خواته روان شو عبدالعزیز ته یې ماتې ورکړه او د جمادي الثانی

---

[1] - د مقدسي په وینا ( ۳۳۸ مخ کي ) نصر د عبدالملک زوی فقط یوه ورځ امیر و .

[2] - البیرونی،تاریخ ملل قدیم ۱۳۱مخ .گردیزی ۵۳ مخ ، بیهقی ۲۳۳ مخ ، ابن اثیر نهم ټوک . ۷۰ مخ . فصیحی ( د ۳۰۵ پاڼې لومړی مخ ) . لین پول ( طبقات سلاطین الاسلام ۱۳۲ مخ ) سرهاورت ( د آسیائی شاهی انجمن مجله ، د ۱۸۹۸ کال چاپ ۴۷۰ مخ ) او بالاخره میرزا محمد قزویني ( چهار مقاله ۱۸۵ مخ کی ) د دغو پیښو په هکله غلط معلومات ورکړي دي .

په پنځلسمه (د ۹۹۲ د اګست پر ۱۸ مه)[1]. يې بخارا ونيوله. امير نوح د ۳۸۷ هـ د رجب په ۱۳ مه (د۹۹۷ م د جولای په ۲۲مه) مړ شو. ده دخپلې حکمرانۍ ټوله دوره په سازشونو. اړ دوړ، ووژلو- ټکولو او کورنيو جګړوتيره کړه. خو په رښتيا هم چې په دې موده کې يې د اړ دوړ کوونکو تر منځ د يوشمير بې اتفاقيو د اچولو له امله وکولای شول د سلطنت تخت يوڅه موده وساتي. د هغه له ټولو هغو واکمنو څخه چې ور سره وو، يوازې سبکتګين ده ته وفادار پاتې شو چې دهغه له برکته يوه موده د سامانيانو د کورنۍ مړه جسد (کالبوت) کې يوڅه ژوندی روح چليد. وروسته بيا دنوح پر ځای د ده زوی ابوالحارث پر تخت کيناست، خو نوموړی لکه د خپل پلار په شان توطيه جوړولو او بې اتفاقۍ اچولو کې ماهر نه و د خپلو مخورو يعنې فايق او بيګتوزون د لاس وسيله وګرځيده او همدوی و غوښتل چې نوموړی له محمود سره په جګړه اخته کړي، وروسته يې د ده له منځه وړل ښه وبلل، نو له همدې امله د ۳۸۹ هـ د صفري په ۱۲ مه (د ۹۹۹ م د فبرورۍ په دويمه) خلع او ړوند کړای شو او د هغه ورور عبدالملک يې پرتخت کيناو[2]. خو عبدالملک هم د پاچاهۍ له وياړونو ډيره موده برخمن نه شو، داځکه چې: د بغراخان جانشين ايلک خان پر بخارا ير غل وکړ، عبدالملک په دې هيله چې د ده ملت به د يرغل پر مهال کلکه دفاع وکړي، نو په بخارا کې يې د جمعې د لمانځه پروخت د منبر په سر له هغوی څخه مرسته وغوښته، حاضرينو د هغه خبرې د

---

[1]- ګرديزی ۵۳ – ۵۴ مخونه او بيهقی ۲۳۴ مخ.

[2]- عتبی ۱۲۴ مخ، بيهقی ۸۰۴ مخ.

کرکې په سکوت سره واوریدې، له بلې خوا د بخارا علماوو له دغه مهاجم سره د جګړې او دفاع فتوا ځکه ورنه کړه چې هغه هم مسلمان و [۱]. په پای کې ایلک خان د ۳۸۹ هـ د ذیعقدې په لسمه ( د ۹۹۹ م د اکتوبر پر ۲۳ مه ) پرته له جګړې بخاراته ننوت، عبدالملک یې ونیو، د بندي په توګه یې ( اوزبند ) ته ولیږ [۲]. خو یو ساماني شهزاده چې ابو ابراهیم اسمعیل بن نوح نومید او لقب یې المنتصر و له پهره دارانو او ساتونکو څخه وتښتید او شپږ کاله یې د خپل له لاسه وتلي حکومت د بیرته ترلاسه کولو په خاطر هڅې وکړې. کله له ری څخه سمر قندته سرګردان و او کله به بریالی شو او کله به د دښمن له لاسه ناکام شو کله به د خیانت کار دوست له لاسه نا کام شو. بالاخره دا ناکام شهزاده د ۳۹۵ هـ ربیع الاول ( د ۱۰۰۴ م دسمبر ) کې د غز د دښتو د قبایلو د مشر ابن بهیج له خوا چې ده پنا ور وړې وه و وژل شو.

## و – نښلونه

### د نیتوله مخې د مامونیانو تاریخ

د مامونیانو د حاکمانو دسلسلې په هکله ډیر لږ معلومات په لاس کې شته ځینو ختیز لیکوالو او مؤرخینو لکه حمدالله مستوفی [۳].

---

[۱]- تجارب الامم دریم ټوک ۳۷۳ مخ او ۳۷۴ مخ. خو دلته د ایلک خان پرځای سهوأ بغراخان راغلی دی.

[۲]- عتبی ۱۳۵ مخ ،ګردیزی ۲۱ مخ.

[۳]- ګردیزی ۴۰۰ مخ.

احمد غفاري،فصيحی او د نن ورځی مورخينو کی ميجر راورټی [۱] . او د هغه نورو لارويانو مامونيان له فريغونيانو سره چې د جوزجانان حکمرانان وو، غلط کړي دي [۲] .

د دغي سلسلی لومړنی حکمدار چې اسلامې مؤرخينو يې نوم اخيستی دی ، ابوعلی مامون بن محمد نوميد ،چې نوموړی د لومړي ځل لپاره عتبی په ۳۸۲ هـ ( ۹۹۱-۹۹۲ م ) [۳] . سنه کی په يمينی کتاب کی ذکر کړی دی نوموړی په ۳۷۸ هـ ۰ ۹۹۷ م ) [۴] . کی و وژل شو او پرځای يې ځوی ابوالحسن علی کيناست . وروسته له هغه ځخه يې ورور ابوالعباس مامؤن په تخت کيناست، خو د هغه د جلوس او مړينې نيتې ځرګندې نه دي .

عتبی ( ۲۱۲ مخ ) هغه په ۳۹۷ هـ ( ۱۰۰۲ -۱۰۰۷ م ) کی د خوارزم حکمران بولي بيهقی په ۸۳۸ مخ کی ليکی چې : ابوالعباس مخکی له وژل کيدو ځخه په ۴۰۷ هـ ( ۱۰۱۷ م ) کی کم له کمه اوه کاله حکومت کړی و چې د دغی ليکنی له مخې په تخت باندی دهغه د کيناستو نيټه ۴۰۰ هـ ( ۱۰۱۰ م ) کيږی .

نو له دی ځخه ښکاري چې ابوالحسن علی د ۳۹۷ او ۴۰۰ هـ ( د ۱۰۰۲-۱۰۰۷ م ) کلونو تر منځ مړشوی دی . همدارنګه بيهقی ۸۳۸ مخ کې ليکي چې : ابوالعباس،البيرنی ( د بيهقی د کتاب د ۸۳۸ مخ په وينان په ۴۰۰ هـ کی دهغه دربارته رسيدلی و ) د هغه استازي او

---

[۱]- طبقات ناصري د ۲۳۲ مخ ، تبصره .

[۲]- وګوري په چهار مقاله کې د مرزا محمد تبصره ۲۴۳ مخ .

[۳]- عتبی ۷۷ مخ ،ګرديزی ۵۳ مخ .

[۴]- عتبی ۱۰۲ او ۱۱۰ مخونه .

ایلچي مخې ته ور واستاو چې خلیفه دهغه په لاس سوغات او لقب ابوالعباس ته رالیږلی و نو د بیهقی له دې حکایت څخه ښکاري چې القاب او سوغاتونه معمولاً د پاچاهانو د په تخت کیناستو وخت کې لیږل کیږی .نو ممکنه نه ده چې البیرونی دې له ۴۰۰ هـ څخه مخکی دربارته رسیدلی وي اوله ۴۰۰ هـ ( ۱۰۰۹ – ۱۰۱۰ م ) مخکی دې د ایلچي شه راغلاست ته ورغلی وي . نو پایله داشوه چې ابوالعباس د ۳۹۹ هـ ( ۱۰۰۸-۱۰۰۹ م ) شاو خوا یعنی لږ څه تر هغه مخکی چې استازي سوغات او لقب ور وړی وي،په تخت کیناستلی دی[۱]. خو دغه سنه ځینو وروستیو لیکوالو هم تائید کړی ده. مثلاً جنات الفردوس د هغه د حکمرانې موده د یارلس کاله ښیې یعنی له ۳۸۷ څخه تر ۳۹۹ هـ پورې ( له ۹۹۷ – ۱۰۰۹ م پوري ) او زینت المجالس دهغه مړینه ۴۰۰ هـ ( ۱۰۰۹ – ۱۰۱۰ م ) لیکلی ده .

ابوالعباس د ۴۰۷ هـ کال د شوال په پنځلسمه نیټه ( د ۱۰۱۷ م د مارچ په اوولسمه ) وژل شوی دی او د ده پرځای د ده یو زوی پر تخت کیناست چې څلور میاشتی حکمران پاتې شو، تر څو چې خوارزم په ۴۰۸ هـ صفره ( ۱۰۱۷ م جولای ) کې ونیول شو او د مامونیانو سلسله بالکل ختمه شوه[۲].

---

[۱]- فصیحی ۰ د ۳۱۰ پانی دویم مخ کی دهغه مړینه ۳۹۰ هـ ( ۱۰۰۰ عیسوی لیکلی ده ) لیکی چې دا غلطه ده . بارتولد ( ۱۴۷ مخ څلورمه تبصره کی ) دیوه لرغوني منار د کیتبی نوم اخلي چې دغه منار په گوزگان یا جرجانیه کی و. د دغی کتیبی لیکنه په ۴۰۱ هـ ( ۱۰۱۰ – ۱۰۱۱ م ) کې شوی ده او د ابوالعباس مامون په واسطه جوړه شوی ده .

[۲]- وگورئ بارتولد ۱۴۷-۲۷۵ او ۲۷۸ مخونه .

# ز – نښلونه

## صفاريان

یعقوب بن لیث بن معدل، د سیستان د قرنینو[۱] اوسیدونکي، خپل پلرنی کلی پریښود او د صفاری دنده یې پیل کړه. خو د هغه لوړ احساسات په دغه دنده قانع نه و، نو ځکه یې دغه د امن او امان شغل پریښود په غلا، شکوني او لار وهنې یې پیل وکړ[۲]. او له ښه بخت څخه چې په ۲۳۷ هـ (۸۵۱-۸۵۲ م) کې د سیستان[۳] د حاکم صالح بن نصر طاهری له خوا د لارې وهغو نکوله مشرتوب څخه د بست حکومت ته لوړ کړای شو او څه موده وروسته د پوره واک خاوند شو، صالح یې ماتې سره مخامخ کړ، سیستان، غزنې، زابلستان او گردیز یې ونیول او په ۲۵۳ هـ ۰ ۸۶۸ م) کې یې هرات، بلخ او بامیان هم خپلې پاچاهۍ سره وتړل. وروسته یې د طاهري سلسلې وروستی غړی محمد په ۲۵۹ هـ (۸۷۲-۸۷۳ م) کې مغلوب کړ[۴]. او دخراسان حاکم هم شو، په همدې کال یې طبرستان له علوي نسب څخه رابیل او خپلې ولکې لاندې راوست، بیایې لښکر د بغداد په لور روان کړ[۵]. خو دلته ناکام

---

[۱]- گردیزی ۱۰ مخ. د یاقوت (څلورم ټوک ۷۳ مخ) په وینا قرنین د کلي نوم و چې د سیستان په (نشک) کی پروت و.

[۲]- گردیزی ۱۱مخ. گزیده ۲۷۳ مخ لیکی چې لیث لارې وهل شروع کړل.

[۳]- ابن اثیر، اتم ټوک ۴۳ مخ. د سیستن تاریخ د برلین په (کاره) کې اقتباس شوی (دویم ټوک ۱۴ مخ).

[۴]- طبری، دریم ټوک ۱۸۸۰ مخ.

[۵]- طبری، دریم ټوک ۱۸۸۳ مخ.

شو بيرته راوگرځيد. خو له خليفه سره يې سوله ونه کړه[۱]. بيا مخ په بغداد ورغى خو په لاره کى په ۲۶۵ هـ (۸۷۹ م جون)[۲]. کې ومړ. د يعقوب له مړينې وروسته د هغه ورور عمرو په تخت کيناست[۳]. او خليفه سره يې سوله وکړه. خليفه د هغه له ځواک څخه وويريد، اسمعيل بن احمد يې چې د ماورالنهر حاکم و وهڅاو چې په عمرو يرغل وکړي. نو عمر بلخ ته نژدې د ۲۸۷ هـ په ربيع الاول (۹۰۰ م مارچ) کى ماتې وخوړه بندي شو ،بغداد ته وليږل شو ،هلته دوه کاله وروسته مړ شو[۴].

د عمرو لشکر، لمسى يې طاهر بن محمد بن عمرو په تخت کيناو. خو د هغه پاچاهى د سيستان شاوخوا ښه خپره نه شوه په ۲۹۳ هـ (۹۰۵-۹۰۶ م) کې د عمرو ليث يو غلام يا مريى چې سبکرى[۵] نوميد د طاهر په ضد راپاڅيد هغه يې بندي کړاو بغداد ته يې وليږ، د طاهر پر ځاى معدل بن على بن ليث پر تخت کيناست. احمد بن اسمعيل سامانې هغه ته د ۲۹۸هـ کال د رجب په مياشت (د ۹۱۱ م مارچ)[۶].کې ماتې ورکړه بندي يې کړ او بغداد ته يې وليږ اوسيستان يې خپل واک

---

[۱]- گزيده (۴۳۴ مخ) کې ليکې چې صفاريان شيعه گان وو.
[۲]- طبرى ، دريم ټوک ۱۸۸۳ مخ.
[۳]- طبرى ،څلورم ټوک ، ۱۹۳۱ مخ. عمر وليث د يعقوب ورور و چې له هغه وروسته پر تخت کيناست خو زوى يې نه و کوم چې (مونير) خپل د (خلافت) کتاب کى په ۵۴۴ مخ کى ذکر کړى دى.
[۴]-طبرى ، دريم ټوک ۲۲۰۸ مخ.
[۵]-گرديزى ۲۸ مخ. ميجر راورټى (د طبقات ناصرى ۱۸۴ مخ تبصره) کى فکر کوي چې (سبکرى) په اصل کى (سگزى) دى. يعنى د زابلستان د غرونو اوسيدونکى چې (سگز) بلل کيده.
[۶]- تجارب الامم ، لومړى ټوک ۱۹ مخ. ابن اثير ، اتم ټوک ۴۵ مخ.

لاندې راوست. خو خلک دهغه په ضد پاڅیدل د هغه نایب الحکومه منصور بن اسحق یې بندي کړ او د عمرو لیث لمسی عمرو یې پر تخت کیناو . عمرو په د ۳۰۰ هـ په ذیحجه ( د ۹۱۳ م په جولای ) کی ماتې وخوړه . له دې څخه وروسته سیستان د سامانیانو د امپراطورۍ یوه برخه شوه چې د حکومت چاري یې ( سیمجوری دواتی ) [۱] . ته وسپارل شوی . څو کاله وروسته [۲] د صفاري کورنۍ پرتم یو ځل بیاابو جعفر احمد بن محمد د طاهر بن محمد بن عمرو لمسي تر یوه حده بیرته را ژوندی کړ. نو موړی لومړی د خپل مټ په زور گټله او خوړله ، دهغه نجیبانه وضعیت د امیر نصر بن احمد سامانی پاملرنه ځان ته راواړوله، رحم یې ورباندی راغی، د سیستان پر حکومت یې مقرر کړ او د خپلی کورنې یوه نجلۍ یې ور واده کړه [۳]. احمد د ۳۵۳ هـ ( ۹۲۴ م ) شاوخوا مړ شو، پرځای یې د ده زوی ابو احمد خلف کیناست [۴].

په ۳۵۴ هـ ( ۹۲۵ م ) کې خلف حج ته ولاړ ،دهغه په نشتوالي کې طاهر بن حسین پوځ خپل پلوی کړ ،سلطنت یې ونیو. خلف دامیر منصور بن نوح سامانی په مرسته ،طاهر ته ماتې ورکړه ،خو لږ

---

۱- گردیزی ۲۴ مخ .

۲- زبدة التاریخ کې دغه نیټه ۳۰۹ هـ ( ۹۲۱ -۹۲۲ م ) لیکل شوی ده .

۳- گردیزی ۳۸۲ مخ .

۴- د الذهبی په وینا ( د ۱۸۱ پاڼی لومړی مخ ) او جنات الفردوس د ۳۲ پاڼی د لومړی مخ له مخې خلف په ۳۲۶ هـ ( ۹۳۷-۹۳۸ م ) کې پیدا شوی او په ۳۵۳ هـ ( ۹۲۴ م ) کی یې تخت نیولی . همدارنگه وگورئ فهرست مسکوکات برتش موزیم د لین پول تالیف ،دریم ټوک ، ۱۲ مخ او (زنبور ) ۲۰۰-۲۰۱ مخونه .

وروسته طاهریو ځل بیا په سیستان یرغل وکړ خلف یې تیښتې ته اړ ویست.

خلف بخاراته ولاړ. امیر دهغه ښه هر کلی وکړ، له لازم پوځ سره یې بیرته د طاهر په وړاندې جګړې ته راولیږ. له دې امله چې دا وخت طاهر مړشوی و، د هغه ځوی حسین مقابلې ته ورغی، خو ډیر ژر امیرته تسلیم شو او سیستان یې خلف ته وسپاره، بخاراته لاړ. له دې څخه لږ وروسته په خپله خلف د بخارا د امیر په ضد پاڅید. امیر دهغه پخوانی رقیب یعنی حسین د ده جګړې ته راولیږ. خلف د (یوک) کلکې کلاته ولاړ او اوه کاله یې ډیره ښه دفاع وکړه. خو په ۳۷۱ هـ (۹۸۱-۹۸۲ م) کې یې د خپل دوست ابو الحسن سیمجوری په غوښتنه کلا پریښوده او د سیستان د ولایت چارې د حسین لاس ته ولویدې. خو خلف ډیر ژر بیرته حسین بن طاهر بې وسلې کړ اود سیتان حکومت یې خپل کړ[1].

لږ وروسته خلف له سبکتګین سره وران شو. کله چې سبکتګین په ۳۷۲ هـ (۹۸۲-۹۸۷ م) کې له جیپال سره جګړې ته تللی و، بست خلف ونیو. سبکتګین د خلف صاحب منصبان و ایستل او ورپسې یې په سیستان یرغل وکړ. خو خلف له سبکتګین څخه ډیر معذرت و غوښت له خپلو کړو څخه یې پښیمانې وښوده او هغه مالیات چې له بست څخه یې ترلاسه کړی و سبکتګین ته یې بیرته ورکړل[2].

---

[1]- عتبی ۳۱-۳۵ مخونه.

[2]- عتبی ۱۵۱-۱۵۲ مخونه.

وروسته له دې پېښې خلف مخ د کرمان خواته واړ او خپل زوی عمرو يې د هغه ځای نيولوته ولېږ. خو عمرو د ۳۸۲ هـ محرم مياشت ( د ۹۹۲ - مارچ ) کې ( سيرجان ) ته نژدې شکست وخوړ بيرته سيستان ته راغی. عمرو د هغه له ماتې څخه دومره په غوسه شو چې هغه يې ووهه او ويې واژه. خلف وروسته له دې څخه يوه رذيلانه پرېکړه وکړه غوښتل يې خلک په کرمان باندې يرغل ته اړ کړي ،يعنې د کرمان له حاکم سره د روغې جوړې په نامه او بهانه يې قاضي ابو يوسف چې د کرمان خلکو ته ډير د درناوي وړو ،هلته د ژمنې د لاسليک په خاطر ولېږ،او هم يې وپتييله چې هغه هلته مړ کړی او د کرمان حاکم ورباندې تورن کړي. دغه پرېکړه يې عملي کړه د سيستان خلک ددغه عمل له امله د کرمان د حاکم پر ضد پاڅيدل ،خلف خپل زوی طاهر د کسات اخيستو لپاره کرمان ته ولېږ،خو طاهر ماتې وخوړه او له ماتې وروسته مجبور شو چې بيرته سيستان ته راشي [1].

کله چې خلف په خپلو دغو نقشو کې ناکام شو،سبکتگين سره يې دوستانه اړيکې ټينګې کړې او کله چې سبکتگين په ۳۸۵هـ ( ۹۹۵م) کې د ابو علي سيمجوري پر ضد جګړه کوله،خلف هغه سره مرسته وکړه [2]. خو لږ وروسته له سبکتگين سره وران او د هغه په ضد شو .کله چې ايلک خان په ۳۸۲هـ ( ۹۹۲م ) کې بخارا وګوابنله ،خلف هغه په غزنی باندې يرغل کولوته وهڅاو. سبکتگين د دې حال په ليدو د سيستان د نيولو نيت وکړ ،خو خلف بيا د دوستی وړانديز وکړ او د سبکتگين پر ضد له راپورونو څخه منکر شو او د سبکتگين قهر

---

[1]- تجارب الامم ، دريم ټوک ۱۹۰ – ۱۹۷ مخونه.

[2]- عتبی ۸۸- ۱۵۲ مخونه.

کیناست [۱]. کله چې سبکتگین په ۳۸۷ هـ (۹۹۷ م) کې مړشو، خلف د محمود نه تاکل کیدو له کبله په ښکاره خوشی څرګنده کړه چې داکار د محمود خپه کیدو سبب شو [۲]. او کله چې محمود له خپل ورور سره د تخت پر سره په شخړه کې و، خلف د (فوشنج) ولایت چې د غزنی د حکومت واک لاندې و ونیو. له همدې امله و چې محمود خلف سره جګړه وکړه او سیستان یې ورڅخه ونیو.

## ح ـ نښلونه

### ال بویه

ابو شجاع بویه، د ایران د بویه پاچاهانو نیکه و چې د قزوین څنګ ته د کیا کالش [۳]. اوسیدونکی و او ویل یې چې دی د سامانی سلطان بهرام گور له نسب څخه دی [۴]. کله چې ماکان بن کاکي طبرستان ونیو، ابوشجاع له خپلو دریو زامنو علی، حسن او احمد سره د هغه په حضور کې د ملازمت دنده ترلاسه کړه. خو په ۳۱۵ هـ (۹۲۷-۹۲۸ م) کې ماکان د اسفار بن شیروبه له لاسه له تخت څخه ولوید او نوموړی خراسان ته وتښتید. د تیښتی پر مهال اسفار (مرداویج بن زیار) و واژه [۵]. او په خپله یې ځان د طبرستان حاکم اعلان کړ. د بویه درې زامن هم د ده خواته ورغلل. مرداویج د بویه

---

۱- عتبی ۱۵۲-۱۵۳ مخونه.

۲- عتبی ۱۵۴ مخ.

۳- گزیده ۴۱۴ مخ.

۴- البیروني (تاریخ ملل قدیم ۴۵مخ) د دغی خبری رښتیا والی ثابتوی.

۵- تجارب لومړی ټوک ۱۲۱ او ۲۷۵ مخونه.

مشر زوی علی ته د کرج [۱]. حکومت ورکړ ،دوه نور ورونه يې هم کرج ته ورسره لاړل [۲].وروسته پسې دری واړه ورونو په سوبو او فتوحاتو پيل وکړ : علی (فارس) ونيو او حسن ( ری ) فتح کړ او احمد عراق ونيو . د مرداويج له مړينې وروسته په ۳۲۳ هـ ( ۹۳۴-۹۳۵ م ) کې [۳]. علی خپلواکې اعلان کړه او اصفهان يې هم ونيو او خپل ورونه حسن او احمد يې فتح شويو ولاياتو کی مقرر کړل . احمد ډير لږ وخت کې خپل واک (اهواز ) او ( ورسط) پوری خپور کړ او په ۳۳۴ هـ ( ۹۴۵-۹۴۶م ) کې يې د بغداد اداره [۴]. لاس کې واخيسته او خليفه المستکفی علی ته د عمادالدوله لقب ،حسن ته رکن الدوله او احمد ته يې د معزالدوله لقبونه ورکړل [۵].عمادالدوله د ۳۳۸ هـ په جمادی الاول ( د ۹۴۹ م په دسمبر ) کې مړشو او خپل سلطنت يې ( فناخسرو) ته چې د رکن الدوله زوی وو سپاره . معزالدوله د ۳۵۲هـ ربيع الثانی ( د ۹۶۷ مارچ ) کې مړشو، پرځای يې زوی عزالدوله کيناست . نوموړی خپل تره رکن الدوله د خپل مشر په توګه ومانه . عزالدوله په ۳۶۷هـ ( ۹۷۷ مارچ ) کې و وژل شواو پرځای يې عضدالدوله کيناست . د عزالدوله زامن د صمصام الدوله په حکم بنديان او په ۳۸۳ هـ ( ۹۹۳-۹۹۴ م ) کې ووژل شول [۶].

---

[۱]- ( کرج) همدان ته نژدی پروت و.وګوریٔ لسترنج .۱۹۷ مخ .

[۲]- تجارب ،لومړی ټوک ۲۷۵ مخ ،ګزيده ۴۱۴مخ .

[۳]- تجارب لومړی ټوک ۳۱مخ ،ابن اثير اتم ټوک ۲۲۲ مخ .

[۴]- تجارب دويم ټوک ۸۵ مخ .

[۵]- تجارب لومړی ټوک ۲۷۵ مخ ،ګزيده ۴۱۴ مخ .

[۶]- تجارب ، دويم ټوک ۳۲۲-۳۲۳ مخونه .

رکن الدوله له خپلې مړينې څخه لږ مخکې د ۳۶۶ هـ محرم ( د ۹۷۶ سپتمبر ) کې خپل مشر زوی عضدالدوله خپل ځای ناستی وټاکه. مؤالدوله ته يې اصفهان ولايت او فخرالدوله ته يې د همدان ولايت وبښل[۱]. بل کال کې عضدالدوله عراق له عزالدوله څخه رابيل کړ. ډير ژر درې واړه ورونه سره وران شول. فخرالدوله د عضدالدوله له اطاعت څخه ووت او په ۳۷۰ هـ (۹۸۰ – ۹۸۱م) کې يې په فخرالدوله يرغل وکړ هغه يې د همدان پريښودوته اړ کړ او هغه د جرجان او طبرستان حاکم او خپل خسر قابوس ته پنا يووړه. کله چې قابوس د فخرالدوله له بيرته تسليمو لو ډ ډه وکړه،عضدالدوله خپل ورور مؤيدالدوله جګړې ته ورپسې وليږ،قابوس ته يې د ۳۷۱هـ جمادی الاول ( د ۹۸۱ نومبر ) کې ماته ورکړه آستر آباد کی يې شکست وخوړ او له فخرالدوله سره يوځای خراسان ته وتښتيد[۲].

کله چې د ۳۷۳ په شوال ( د ۹۸۴ جون )کې مويدالدوله مړ شو ،فخرالدوله د خپل پخواني وزير[۳]. صاحب بن عباد په بلنه جرجان ته ستون شو او په څو کلونو کې يې تر ری او همدان پوری واک پراخ شو. فخرالدوله د ۳۸۷ په شعبان[۴]. ( د ۹۹۷ اګست ) کې مړ شو او زوی يې مجدالدوله چې نهه کلن و ، د هغه پرځای کيناست دغه وخت قابوس له خراسان څخه راغی جرجان او طبرستان يې ونيول. مجدالدوله د

---

[۱]- تجارب ، دويم ټوک ، ۳۲۲-۳۲۳ مخونه.
[۲]- عتبی ۳۲-۳۷ مخونه. خو تجارب الامم ،دريم ټوک ۱۵-۱۷ مخونه هم وګورئ.
[۳]- عتبی ۴۹-۵۰ مخونه ،تجارب ،دريم ټوک ۹۳ مخ.
[۴]- عتبی ۱۰۸ مخ ،خو بناکشی ( د ۷۷ پاڼی دريم مخ ) کی په غلطه سره ۴۱۳ هـ ليکلي دی.

۴۲۰ هـ تر جمادیالاول ۱۰۲۹ م تر می ) پورې حکمراني وچلوله [۱]. آخر کې هغه سلطان محمود بندې کړ او سیمه یې ورته له غزنی سره وتړله. عضدالدوله د ۳۷۲ هـ رمضان ( د ۹۸۳ فبروری - مارچ ) [۲]. کی مړ شو او پاچاهی یې د زامنو تر منځ وویشل شوه. عراق صمصام الدوله ته ،فارس او کرمان شرف الدوله ته ورسیدل ، خو دواړه وروڼه لږ وروسته سره ونښتل او په ۳۷۲ هـ ( ۹۸۲-۹۸۷ م ) کی شرف الدوله صمصام الدوله ته ماتې ورکړه بندی یې کړاو سلطنت یې د خپل ملک سره وتاړه په ۳۷۹ جمادی الاخر ( ۹۸۹ سپتمبر ) کی د شرف الدوله له مړینې وروسته صمصام الدوله بیرته آزاد شو د فارس ولایت یې ونیو، خو په ۳۸۸ ذالحجه ( د ۹۹۸ دسمبر ) کې ومړ. د شرف الدوله له مړینې وروسته د هغه ورور بهاوالدوله [۳]. پر تخت کیناست او سلطان محمود سره یې دوستې شروع شوه او خپل دریغ یې شه کلک کړ [۴]. بهاؤالدوله د ۴۰۳ هـ په جمادی الثانی ( د ۱۰۱۳ دسمبر ) کې مړ شو. د ده زوی سلطان الدوله [۵]. د هغه پر ځای کیناست. په ۴۰۷ هـ

---

۱- گردیزی ۹۱ مخ و خوبناکشی ( د ۷۷ پانې دویم مخ ) کې په غلطه سره ۴۱۴ هـ لیکلي دی.

۲- عتبی ۳۳۵ مخ ،خوابن اثیر دغه نیټه د ۳۷۲ هـ شوال ( د ۹۸۳ مارچ- اپریل ) بولي.

۳- ابن اثیر ، هم ټوک ۱۳-۲۳ او ۴۲ مخونه.

۴- عتبی ۲۴۰-۲۴۱ مخونه .گردیزی ۴۳۰ مخ.

۵- ابن اثیر ،نهم ټوک ۱۲۹ مخ.

( ۱۰۱۲-۱۰۱۷ م )[۱]. کې قوام الدوله د کرمان حاکم ، د خپل ورور سلطان الدوله په ضد پاڅيد .سلطان الدوله يې بست ته وځغلاو هغه له سلطان ابوسعيد الطائی څخه مرسته وغوښته سلطان يو لوی لښکر ورسره کړه چې هغه بيرته د کرمان په حکومت کينوی ، خو کله چې دسلطان ابوسعيد الطائی لشکر بيرته ورڅخه راغی بيا يې سلطان الدوله پسی راواخيست[۲]. خو لږ وروسته دغه دوه ورونه بيرته پخلا شول ، داوخت سلطان الدوله د کرمان ولايت خپل ورور قدام الدوله ته ورکړ[۳]. د ۴۱۱ هـ په ذالحجه ( د ۱۰۲۱ مارچ ) کې د بهاالدوله زوی مشرف الدوله عراق له سلطان الدوله څخه ونيو ، مشرف الدوله د ۴۱۲ هـ په ربيع الاول ( د ۱۰۵۲ په مۍ ) کی مړ شو او زوی يې جلال الدوله پرتخت کيناست او د په ۴۳۵ شعبان ( ۱۰۴۴ مارچ ) کې د هغه له مړينې وروسته عراق د سلطان الدوله د زوی ابوکالنجر له خوا ونيول شو[۴].

سلطان الدوله د ۴۱۵ هـ شوال ( د ۱۰۲۴ دسمبر ) کې مړشو او زوی يې ابوکالنجر د ده پرځای کيناست نو موړی په ۴۱۹ هـ ذالحجه ( د ۱۰۲۸ نومبر ـ دسمبر ) کې د قوام الدوله له مړينی وروسته کرمان او په ۴۳۵ شعبان ( د ۱۰۲۸ دسمبر – نومبر ) کی د جلال الدوله له

---

[۱]- ابن اثير ، نهم ټوک ۲۰۷ مخ ،د عتبی ۲۷۲ ، ۲۹۰، ۲۷۴ او ۲۹۱ مخونو څخه ښکاری چې دا نيټه سمه ده، خو گرديزی ۷۱ مخ کې وايي چې دغه پيښی په ۴۰۳ هـ ( ۱۰۱۲ -۱۰۱۳ م ) کې شوی وي .

[۲]- ابن اثير ،نهم ټوک ۳۵۲، ۲۴۳، ۲۲۴ او ۳۵۳ مخونه .

[۳]- ابن اثير ۳۷۳، ۲۵۹، ۲۳۲ او ۴۲۰ مخونه .

[۴]- عتبی ۲۹۰-۳۸۹ مخونه ،ابن اثير نهم ټوک ۲۰۷ مخ .

مړينې وروسته عراق ونيوله ابو کالنجر د ۴۴۰ هـ په جمادي الاول (د ۱۰۴۸ م په اکتوبر) کې مړ شو پر ځای يې زوی (الملک الرحيم) په تخت کيناست. نو موړی د ۴۴۷ هـ په رمضان (۱۰۵۵ دسمبر)[۱]. کې د سلطان تغرل بيک سلجوقی له خوا اسير شو.

## ط- نښلونه

### د ويهند هندوشاهيه سلسله

لسمه ميلادي پيړۍ کې، د هند د شهزادگانو يوه سلسله په داسې يوه سيمه چې له لغمان څخه د چيناب تر سيند[۲]. او د جنوبي کشمير له غرونو څخه د ملتان تر سيمې پورې پراخه وه. حکمراني چلوله او پايتخت (پلازمينه) يې (ويهند)[۳] و. لليه[۴]. د دغې سلطنت بنسټ ايښودونکی و. دی د (لگتورمان)[۵]. په نامه د (ترکي شاهيه)[۱]. د سلسلې د آخري

---

[۱]- ابن اثير نهم توک ۲۰۸ مخ.

[۲]- وگورئ د مولف مقاله: (د آسيائي شاهي انجمن مجله) ۱۹۲۷ م کال ۴۴۵-۴۸۲ مخونه او د (سمت) غلطي چې په (تاريخ مقدماتي هند) کتاب ۳۹۲ مخ کې يې کړې ده.

[۳]- (ويهند) د نن ورځې (هوند) او پخواني (اوده بهاند) يا (کلهنه) ده.

[۴]- کلهنه، دويم توک ۳۳۲-۳۳۹ مخونه J تبصر، دلته سرآرل ستين د دغې سلسلې د پيداينبت د تاريخ په هکله علمي ليکنه کړې. (سربيلی) په Numismatic Chronicle کې (دويم توک: دريمه لړۍ، ۱۲۸-۱۲۵ مخونه ۱۸۸۲ م کال) غلطې وينا وې کړې دی. د البيروني په وينا (دويم توک ۱۳ مخ) د دغې کورنۍ حکمرانان برهمنان وو. خو په آداب الملوک کې (د ۹۲ پاڼې دويم مخ) راغلي چې جيپال او د هغه نيکونه بهتي مذهبه وو.

[۵]- د ترکيې شاهي کورنۍ فخر کول چې د کوشانې راجه کنشکا له نسب څخه دي.

پاچا وزیر و. د میلادي نهمې پیړۍ په آخره [۲]. کې لليه (لگتورمان) بې وسلې کړ او خپله د سلطنت خاوند شو. خو دلليه له مړينې وروسته ، (د ترکی شاهیه) له کورنی څخه یو تن د (سامنت دیوا) [۳]. په نوم د خپلو نیکونو تخت بیرته ترلاسه کړ ،خو په ۹۰۳م کال کی د (گوپال ورمن) له خوا چې د کشمیر راجا د ماتی سره مخامخ شو او د لليه زوی (تور مانه کملوکه) يې پرتخت کیناو [۴]. د کملوکه له مړينې وروسته د (ددا) ملکې نیکه (دغه ملکه د کشمیر د حکمران راجه کشم گپتاو میرمن وه چې له ۹۲۰-۹۸۰ م يې واک درلود او په تاریخ کی نامتو میرمن ده) او د کملوکه زوی (بهیم) د سلطنت واک ترلاسه کړ [۵]. وروسته له (بهیم) څخه جیپال [۶]. په ۹۲- هـ کی په تخت باندې کیناست [۷]. نوموړی ډیر ژر د گاونډی (غزنی) د سلطنت له حکمران سره شخړه پیل کړه. د غزنی حکمران سبکتگین جیپال ته په دوو جگړو کی ماتې ورکړه اود

---

[۱]- البیرونی .دویم ټوک ۱۳ مخ. کنگهم د (منځنی پیړی دهند مسکوکات) کتاب ۵۵ مخ کی د ترکی شاهیه د سلسلې وروستی پاچا (کتورمان) بللی دی.

[۲]- کلهنه دویم ټوک ۳۳۲ – ۳۳۹ مخونه.

[۳]- کلهنه دویم ټوک ۳۳۲ – ۳۳۹ مخونه.

[۴]-کلهنه دویم ټوک ۳۳۲ – ۳۳۹ مخونه.

[۵]- کلهنه لومړی ټوک ۱۰۵ مخ.

[۶]- البیرونی ، دریم ټوک ۱۳ مخ کی د هندو شاهیه د سلسلې د نومونو په فهرست کی د جیپال نوم وروسته له بیهم څخه ذکر کړی دی. له دې څخه ښکاری چې جیپال د بیهم زوی دی ،خو فرشته ۱۹ مخ کې جیپال د (اشتپال) زوی بولي.

[۷]- له دې امله چې جیپال په منځنی عمر کی مړ شوی دی. (عتبی ۱۵۸ مخ) نو دغه نیټه دهغه د پرتخت کیناستو سره نژدی بللای شو و داسمه خبره ده.

هغه ټوله سيمه يې تر لغمان پورې خپلې حکمرانۍ لاندې راوستله[۱].

خو جيپال ختيځ ته نورې ځمکې ترلاسه کړې د غربي له لاسه وتلو سيمو جبران يې وکړ. په ۹۹۱ م کال کې د لاهور راجا (بهرت) د (ننديني) دسيمې د فتح کولو په خاطر له يو لوی پوځ سره له چنياب سيند څخه چې د دواړه هيوادونو پوله بلل کيده، پورې وت او د جيپال په سلطنت يې يرغل وکړ. جيپال خپل زوی (آنند پال) مقابلې ته ورواليږ، نوموړي د بهرت پوځ مات کړاو په برياليتوب سره لاهور ته ننوت، خو د ښار مخور د شفاعت او عذر لپاره مخې راووتل او ژمنه يې وکړه چې بهرت به خراج ورکوي، نو آنند پال هغه بيرته په خپل سلطنت بر قرار پريښود[۲].

د آنند پال له بيرته راگرځيدو لږ وروسته، بهرت د هغه د ځوی (چندردت) له خوا بې وسلې شو، اوله جيپال سره يې د دښمنی رويه شروع کړه. په ۳۸۹ هـ (۹۹۹ م) کې جيپال پيا آنند پال د هغه د ټکولو لپاره ور وليږ. (چندردت) د جگړې لپاره ډيره تيارې نيولې وه اوله لاهور څخه د دفاع په خاطر وخوځيد، خو يوه ورځ چې د ښکار لپاره له خپل لښکر څخه لرې يو، ځنگل ته ولاړ هلته ورته د آنند پال عسکروکمين نيولی و اودی يې ونيو. د (چندردت) زامن وتښتيدل او د (جالندر) راجا ته ورغلل.

جيپال د (چندردت) سلطنت چې د بياس تر سيند پورې پراخ و خپل سلطنت سره يو ځای کړ او دهغه د چارو واک يې آنند پال ته

---

۱-۲ - آداب الملوک د آسيائی شاهی انجمن مجله د ۱۹۲۷ م کال ۴۸۲-۴۹۳ مخونو څخه اقتباس.

وسپارلې [۱]. له دې څخه لږ مخکې یعنی په ۹۹۷ م کې چې سبکتګین مړشو او محمود یې پر ځای کیناست اوده په ۹۹۹م کې تصمیم ونیو چې هرکال یو ځل پر هند یرغل وکړي، نو د دغو یرغلونوله کبله جیپال او دهغه کورنی ډیرې کلکې ضربې ولیدې، تر څو چې د هندوشاهیه د سلطنت ټولې سیمې ورو ورو دسلطان له خوا فتح شوی او وار په وار د غزنی سلطنت سره وتړل شوې [۲].

# ی- نښلونه

## ۱- د (بهاطیه) اصلي موقعیت

بهاطیه چې سلطان په ۳۹۵ هـ (۱۰۰۴ – ۱۰۰۵م) کی یرغل ورباندې وکړ، ځینو (بهیره) [۳]. بللې چې په پنجاب کی دشمال ۳۲ درجو او ۲۸ دقیقو په عرض البلد او د مشرق په ۷۲ درجو او ۵۲

---

۱- آداب الملوک، مولف مقاله د آسیائی شاهی انجمن مجله د ۱۹۲۷ کال چاپ ۴۷۲-۴۹۳ مخونه عتبی هم همدې پیښې ته اشاره کړی وه.

۲- البیرنی، دویم ټوک ۱۳ مخ. د دغې سلسلې د نجیبو عواطفو ډیر صفتونه کیدل. کلهنه (۷ کتاب دویمه برخه ۲۲-۲۹ مخونو کی) په خواشنیو نکی ډول د دغی کورنی او سلسلې له لاسه وتلی ویاړونه پرتم اوښیګنی یاد وي.

۳- ایلیات و داوسن، دویم ټوک ۴۳۹-۴۴۰ مخونه. یو هغه دلیل چې بهاطیه له بهیره سره برابره ګڼلای شو هغه چې خلاصة التواریخ او محبت اخبار (چې لومړنی یې په ۱۱۰۷ هـ (۱۶۹۵ م) او دویم یې په ۱۱۹۰ هـ (۱۷۷۶ م) کې تالیف شوی دی) هغه (بهیره) بللی دی. ایلیات وداوسن په دغه مسئله نه ده پوه چې که چیری بهاطیه هماغه بهیره وي، نو هغه ټوله وینا چې عتبی او فرشته په دې هکله لری ګډ وډ کیږی.

دقيقو طول البلد کې واقع ده ، ځينو ( با او چهه )[1] بللې چې د شمال ۲۹ درجو او ۱۵ دقيقو عرض البلد او د مشرق په ۷۱ طول او ۲ دقيقو کی پروت دی . ځينو بيا ( بهت نير )[2]. بللی چې د ( پيکانير ) د ايالت د ۲۰ درجو او ۳۵ دقيقو په عرض او د مشرق په ۷۴ درجو او ۲۰ دقيقو طول کی پروت دی . د سلطان د وخت مؤرخينو او جغرافيه پوهانو دي برخه کی لږ ليکنه کړی ده . عتبی (۲۰۸-۲۰۹ مخونو ) کې ليکی : سلطان د بهاطيه د سفر پر لاره د ملتان خواته نژدی له سند درياب څخه تير شو . او د بهاطيه د کلا په هکله ليکي چې : يوه لوړه کلا وه چې په ژورې کندی ايساره شوی وه ،اوهغی ته نژدی د غرونو خواته ځنګل و د سلطان مداح،عنصري په خپله يوه قصيده کی وايي[3]:

ور از بهاطيه گويم عجب فرومانی
که شاه مشرق آنجا چگونه شد بسفر
رهی که خاک در شتش چو تود های خسک
بسان عالم ومنزلگه اندرو کشور(؟)
اگرش گرگ بدرد بريزدش چنگال
ورش عقاب گذارد . بيفگند همه پر
بنات هاش تو گفتی که کژدمانندی
گره گه شده وخارها برو نشتر

---

[1]- د ( مهران سند ) مقاله چې راورتی د آسيائی شاهې انجمن په مجله کی په ۱۸۹۲ م کی په ۲۴۷ مخ کې ليکلی ده . او سروليهم هيګ ۱۴ مخ .
[2]- د جی . برد **J.Bird** په واسطه د مرآة الاحمدي د ژباړې ۲۱ مخ .
[3]- د بنګال د آسيائی انجمن له قلمې نسخی څخه اقتباس شوه .

برون گشت برو شاه شهریار چو باد
بزور دین و بآزار مذهب آزر
گرفت ملک بجیرا و گنج خانهٔ او
ز خون لشکر او کرد دشت خشک ،ثمر
چنانش کرد خداوند خسروان زمین
که نام او بجهان گم شده است طول و قصر

د عنصری له وینا څخه ښکاري چې بهاطیه په لامزرع دښته کی پرته سیمه وه او سلطان دغې سیمی ته په سفر کې له اغزنې او شگلین دښتې څخه تیر شوی و .

البیروني په خپل مشهور اثر د ( تحقیق ماللهنه ) [1] په ۱۰۰۰ مخ کې لیکي : بهتې یا ( بهاطیه ) د ملتان او نراین[2]. ( نراین پورپه الورابالت کی و ) او د نراین او آور یا ( رهروی ) تر منځ پروت و .د

[1]- دغه وینا د دغی نسخی له عربی اثر څخه ( ساچو ) تدوین کړی ده، اخیستل شوی ،نه د هغی له انگلیسی ژباړې څخه چې ساچو تر سره کړی . ځکه چې په انگلیسی اثر کی ( ۱۰۰ مخ کی ) د دغی برخی ژباړه سرې بی لارې او خطا سره مخامخ کوی دهغی سمه ژباړه داسی ده :

له نراین څخه ( په اصلی نسخه کی ( براند ) لیکل شوی لاکن باید (نرانه ) وی چې د البیرونی په وینا د ۹۰ پانی لومړی مخ له مخې چې ماللهنر کی یې لیکلی و چې مسلمانانو هغه وخت نراین تلفظ کاو ) د ملتان غرب ته په پنځوس فرسخ فاصله کې او بهاتې یا بهاطیه په پنځلس فرسخ فاصله کی پرته سیمه وه. له بهاتی څخه جنوب غرب ته آرور او په پنځلس فرسخ کې پرته سیمه وه . دغه (آرور) سیمه د سند د دوو ښاخو تر منځ پرته وه .

[2]- د هغې د اصلي موقعیت په هکله وگورئ ( جغرافیای قدیم ) د کنگهم تالیف ۳۳۷ – ۳۴۰ مخونه .

همدې کتاب ۸۲ مخ کې لیکي چې: په بهاطیه او سیند کې یوه ځانګړې الفبې چې ( اردهناګري ) نومیده رواج وه. همدارنګه د قانون المسعودي ( د ۹۰ پاڼې په لومړي مخ کې ) د بهاطیه عرض البلد لکه د ملتان په شان ۹۰ درجې او ۴۰ دقیقې شمال کې شودل شوی و. نو بهاطیه د البیروني په وینا بهاطیه سند ته نژدې د ملتان او روهروی تر منځ د ملتان دعرض البلد مطابق ځای کې پرته سیمه وه. ګردیزی د خپل کتاب ۷۲ مخ کې لیکي: سلطان بهاتیه ته د ( والتشان )[۱] ( په بلوچستان کې اوسني سیبي ) له لارې سفر وکړ. او په ۸۷-۸۸ مخونو کې لیکي چې د ملتان او بهاطیه جتانو د سند د سیند تر غاړو د ملتان او منصورې تر منځ ژوند کاو. له دې څخه ښکاري چې بهاطیه هم دیو هیواد نوم و چې د بهاطیه راجه ورباندې حکومت کاو....

د سلطان د وخت دلیکوالو له وینا څخه چې پورته ورڅخه یادونه وشوه داسې ښکاري چې بهاطیه نه بهیره ده اونه هم اوچهـ. داځکه چې بهیره د ملتان شمال ته پرته وه او او چهـ د ملتان او نراین تر منځ پرته نه وه. سلطان اوچهـ ته په کومه شګلنه لاره سفرنه وکړی، ځکه چې اوچهـ د ( پنجد )[۲]. پر سیند پرته سیمه ده. هغه لنډې یادونې چې د سلطان د وخت لیکوالو د بهاطیه په هکله کړې وې ورڅخه ښکاري چې بهاطیه همدا ( بهت نیر ) سیمه ده. خو باید وویل شي چې: لومړی خو بهاطیه د بهت نیر بدل شوی شکل نه دی. دویم دا چې بهت نیر د

---

[۱]- دا هغه عمومې لاره وه چې له بست څخه ملتان ته رسیدلې وه. وګورې بیهقي ۱۴۰ مخ.

[۲]- آداب الملوک د ۲۸ پاڼې په لومړي مخ کې بهاطیه او ارچهـ دواړه بیل بیل ځایونه بولي.

ملتان او بهاطيه په عرض البلد کی (لکه څرنګه چې مؤرخينو ليکلی) واقع نه دی دريم دا چې د (ملفوظات تيموري) د کتاب مؤلفين او ظفر نامه[۱]. وايې چې په ۱۳۹۸ م کی د تيمور په لاس د بهت نير له نيولو مخکې هيڅکله د کوم دښمن پوځ دغې سيمې ته نه وورغلی، يعنی دغه مؤلفين د سلطان محمود په واسطه د بهت نيرو له نيولوڅخه خبرنه وو. يواځنی مهم ځای چې دبهاطيه تفصيلات ور سره تطبيق کيدای شي هغه (بهتنده) ده چې د شمال ۱۳۰ درجو او ۱۵ دقيقو په عرض کې يعنی تقريباً ملتان سره په يوه عرض کې واقع ده.

بهتنده د نراين يا نراين پور او ملتان تر منځ واقع ده او سلطان دلته د راتلو پر مهال حتماً د ستليج دسيند شرق ته له شګلنې دښتې څخه راتير شوی دی. د بهتنده کلاتل د خپل کلکوالي له مخې مشهوره کلا وه او همدارنګه يې د سر هند[۲]. خواته په ۴۰ ميلې کې يو ځنګل موجود و. له دې پرته هغه ټولې ځمکی چې د شمال ۲۹ درجو او ۱۵ دقيقو او ۳۰ درجو او ۱۵ دقيقو طول اود مشرق د ۷۴ درجو او صفر دقيقو او ۷۵ درحواو ۴۵ دقيقو تر منځ واقع دي او ګهګر د سيند غاړې او فتح آباد سيمی چې بهت نير له کلا څخه د بيګانير تر ايالت پوری پرتې دي او د هغو دښتو يوه برخه چې د ستليج د سيند

[۱]- ايليات وداوسن دريم ټوک ۴۲۲ -۴۸۸ مخونه.

[۲]- د کپتان پازلت تاليف شوی کتاب (ګزيتر بيګانير) په ۱۲۲ مخ کی او (ګزيتر شاهشاهی هند) د خپل اتم ټوک ۹۰ مخ کې وايي: د هغی کلا د ۱۱۸ فوټه په لوړوالی له لری ښکاري. همدارنګه وګورئ د (هند د لرغوآثاروته کتنه) کتاب ته چې کنګهم تاليف کړي دی د ۲۳ برخې ۲-۵ مخونه.

له ساحل څخه د ګهګر د سیند تر غرب پورې پرتې دي تولې د (بهتیانه) په نوم یعنې د بهتیانو د هیواد (چې غالباً د بهتنده د راجا ګانو حاکمیت لاندې وی) په نوم یادیدي[1] لکه څرنګه چې د ګردیزی له وینا څخه ښکاري د بهتنده سلطنت غالباً د سند تر غاړو پورې رسید.

بهتنده له څلور مهمو کلا وو څخه یوه کلا[2]. وه چې په یومربع شکله کونجونو (هر ضلع یې څلویښت میله وه) کې واقع وي او په دې توګه د شمال مغرب له خواد راتلونکی یرغلګر پر لاره یې موقعیت درلود چې د بهتنده نیول ضروری وه .ځکه بهتنده هغه لاره بندوله چې دګنګا د سروزرو سیمې ته ورتله[3].

له بهتنده سره د بهاطیه تطبیق کول د بهتنده د نوم له اشتقاق څخه چې کنګهم د خپل کتاب (د هند لرغو آثاروته کتنه) په ۲۳ برخه پنځم مخ کی تر سره کړی ده ،زیاته د تائیدوړ ده. نوموړی وایي چې: (بهتی دنګر) یا (دبهتیانو ښار) په ډیر احتمال د (بهاطیه) بشپړ نوم دی چې د بهتي له قبیلی او (د) د اضافه حرف دی چې معمولاً په دغه سیمه کې د (س)او(ک)پر ځای استعمالیږی. په دی اړه چې معمولاً وروستی لفظ یعنی (نګره) یا (پوره) د ښار په معنی ده او دا عادتاً حذف شوی او (د) پی هماغسی پریښی. ډیر داسی مثالونه شته چې

---

[1]- هغه تیموري ملفوظات چې په ایلیات و داوسن، دریم ټوک ۴۲۷ مخ کی ژباړل شوی دي.

[2]- ګزتیر شاهنشاهی هند اتم ټوک ۹۱ مخ.

[3]- د سلطنت پروخت ،(بهتنده) د ګهګر د سیند د یوه مرستیال پر غاړه پروت و، خود هغې شاوخوا سیمی نه کرل کیدې او دښتې وې.

د هغو له مخې آخرې لفظ نه ويل کيږي . په واقعيت کې د ( بهتي ده ) کلمه خلک معمولاً ( بهتده ) او کله کله ( بهتنده ) تلفظ کوي او هيڅکله يې د ( بهاتنده ) په بڼه نه تلفظ کوي له دې پرته ،له دې امله چې د بهتنده خلک له اسلام څخه مخکې د ( بهتيانو ) په نوم ياديدل.

نو د دوی ښار هرو مرو ( بهتی دانگرهـ ) يا ( بهاتی د ) په نوم ياديد ،نوله دې امله چې اسلامي فاتحين معمولاً د( بهاتی د ) له اشتقاق څخه خبرنه و ،نو د (د)تلفظ چې يو څه ثقيل و پاتی شوی او په عوض يې بهاتيه رواج کړی چې په ليکلو يې د بهاطيه بڼه غوره کړی ده ځکه کله چې يوه کلمه عربی ته واوړی (ت) په (ط)بدليږی .

## ۲- بهتنده ته د سفر نيته

عتبی د دغی نيتی يادونه نه ده کړی ،خو د ده له نورو وينا وو څخه کولای شو دغه نيته پيدا کړو.نو موږی د ۳۹۳هـ په ذوالحجی ( د ۱۰۰۳اکتوبر)کې دسيستان له اړ دوړ له بيان وروسته ( ۱۷۰ مخ کی ) ليکې چې : سلطان بلخ ته ولاړ چې هند سره د جګړې لپاره چمتووالی ونيسی . دغه جګړه به په خپل ځای کی ذکر شي . بيا په ۲۰۸ مخ کې بهاطيه ته د سلطان سفر داسی شرح کوي : ( کله چې سلطان د سيستان چارې سمبال کړی ،او دهغې سيمی نارامه وريځی او پريشانه وضع يې سمه کړه ،نو د بهاطيه د نيولو نيت يې وکړ) له دغو دوو ويناوو څخه په شکاره ډول ثابته شوه چې (هندسره غزا ) همدادبهاطيه سفرو ،او عتبی دغه سفر وروسته له ۳۹۳ هـ ( ۱۰۰۳ م ) کال څخه ذکر کړی دی ،همدارنگه عتبی (۱۲۹ مخ )کی وايې چې سلطان د ۳۹۳ هـ د ذيحجی ( ۱۰۰۳اکتوبر ) کی د سيستان له پوره

سوبې وروسته د هیواد بشپړتیا د ساتنې په خاطر یو څه موده هلته پاتې شو . نو ځکه په غالب گومان وروسته له ژمې څخه سلطان بلخ ته (لکه چې وویل شول) له هند سره د جگړې د تیاري لپاره د روانید نیت کړی او دغه پیښه د راتلونکی ژمی له راتگ څخه مخکی یعنی د ۳۹۴ له پای ته رسید و وړاندی او د ۳۹۵ هـ په ترخ (۱۰۰۴ سپتمبر - اکتوبر) کې نه ده شوی .

گردیزی (۲۲ - ۲۷ مخونو کی) دغه سفر د ۳۹۳ هـ د ذیحجې او ربیع الثانی (د ۱۰۰۳ فبروری او سپتمبر) په منځ موده کې لیکی او په دی توگه سلطان ته کافي وخت نه دی پاتی شوی چې د عتبی په وینا بلخ ته ولاړ سني او په هند دیرغل لپاره چمتو والی ونیسی . تقریباً ټولو وروستي مؤرخینو، پرته له نظام الدین احمد څخه، دغه سفر په ۳۹۵هـ (۱۰۰۴-۱۰۰۵ م) کی لیکلی دی .

## ک- نبښلونه

### دوه تنه (تریلو چنپال) نومي

راجه (تریلو چنپال) چې په ۴۱۰ هـ (۱۰۱۹ م) کی یې سلطان ته د (روهوت) یا (رام گنگا) د سیند څخه د تیریدو لاره نیولی وه ،د هندوشاهیه د سلسلې د (انند پال) زوی و ،نه د چنپال قنوجې زوی کوم چې (سرسمث) په خپل (د هند مقدماتې تاریخ) نو مې کتاب کی په ۳۹۸ مخ کې لیکلی دی . فرخی دغه ټکی ډیر ښه روښان کړی دی دبیلگې په توگه د خپل دیوان د لومړی پاڼی دویم مخ کې وایې :

شنیده که چه دید است رای از وو چه دید
شه مخالف بیراه و گمرهش گمراه

او په ۴ پانه کې دویم مخ کې لیکي:

شه و (نندا) ورام ورای و کور از بیم شمشیرش
بدان جایند کاندر گورشان ،خوشتر مکان باشد
زجنگ شاه و جنگ (رای نندا) نام کی جوید
کسی کز جنگها او را کمینه جنگ خان باشد

او په ۱۲ پانه کې اول او دویم مخ کې هم وروسته د گنگاله سیند څخه له تیریدو لیکي:

خبر شنید که پیش پی تو شاه از گنگ
گذشت و پیل پس پشت او قطار قطار
بچاشتگاه ملک باکمر کشان سپاه
برفت بردم او جنگجوی و کینه گذار
وزان حصار سوی شاه وربکرد و رفت

به یک شبانروز از پایه قلعهٔ سربل
برود (راهت) شد ،تازیان بیک هنجار
تروچنپال سپه را بشب گذاشته بود
به پیل زآب و زان سو گرفته راهگذر
شهٔ سپه شکن جنگجوی پیش ملک
میان بیشه گشن اندرو خزید چو مار
درشت بود و چنان نرم شد که روز دگر
بصد شفیع همی خواست از ملک زنهار
چو شاه را بزدو مال و پیل از و بستد

زجنگ شاه سپه رابجنگ رای کشید
زخواب خواست همی کرد رای رابیدار

خبر دهند خبر داد رای را که ملک
سوی تو آمده رای گریختن بردار

هنوز رای تمام این خبر شنیده نبود
که شد ز مملکت خویش یکسره بیزار

چو شهریار زمانه به باری اندر شد
خبر شنید که رفت او ز راه دریا بار

پورتنیو شعرونو څخه ښکاري چې:

**لومړی** – شاه او رای د دوه راجه گانو لقبونه وو.

**دویم** – تریلو چنپال چې د (راهت) یا (روهت) د سیند لاره یې بنده کړې وه د شاه د لقب لرونکی و او یو بل راجه هم چې تریلو چنپال نومید او هغه له (باري) څخه تښتیدلی و ،لقب یې (رای) و .له دی امله چې (شاه) د هند و شاهیه د سلسلې د حکمرانانو لقبونه وو،نو ځکه هغه تریلو چنپال چې د (قنوج) یا (باری) د حکمرانانو له سلسلې څخه و (د هغه لقب (رای) اینښودل شوی و) نو دانشی کیدای چې (شاه) وي. پرته له دې څخه; د البیرونی (دویم ټوک ۱۳ مخ) په وینا او د ابن اثیر نهم ټوک ۲۱۹ مخ د لیکنې له مخې،د هندوشاهیه تریلو جنپال په ۴۱۲ هـ (۱۰۲۱ م) کې و وژل شو،حال دا چې د رای قنوج تریلو جنپال، د چهوسی (د هندی لرغونپژندنې مجلې اتلسمه گڼه ۳۳-۳۵ مخونه) د ډبر لیک له مخې چې سر سمت خپلې پایلې دهغې پربنسټ را منځ ته کړې دي ،کم له کمه تر (۱۰۲۷ م) پورې ژوندی و.

## ل – نښلونه

### ۱- د سوریه تاریخ اقتباس (۲۱۱-۲۱۲ مخونه)

په ۴۱۴ هـ کې خوارزم شاه محمود [۱] یوځل بیا په هند یرغل وکړ او ځوښارونه یې ونیول. کله یې چې څلور میاشتې د هند په خاوره کې دننه سفر وکړ، د (کراکیر) په نوم یوې کلاته ورسید چې په هغې کی د هند یوه سلطان ژوند کاو. محمود په کلا باندی یوه شدیده حمله وکړه، هغه وخت یو هندیایلچې په یوه ډولۍ کې چې څلوروکسانو نیولی وه له کلا څخه ووت او محمودته راغی ویې ویل: (زما بادار پوښتنه کو چې آیا تاسو څه ډول سړی یاست؟) محمود ځواب ورکړ. (زه مسلمان یم او کافران د اسلام دین ته رابولم او بت لمانځونکی وژنم. تاسی هندوان یاپه خدای ایمان راوړئ زموږ شریعت ومنئ او د غوائی غوښه وخوړئ او یا هم جزیه را کړی چې یو زر پیلان او یو زرمنه سره زر کیږی) ایلچی وویل: موږ د غوایې غوښه نشو خوړلای دا ستاسی مذهب کی ده. یو عالم را ولیږئ چې موږ ته ستاسی دین را زده کړي. که دا دین زموږ له دین څخه ښه و په ډیره خوښۍ به یې ومنو).

سلطان یو عرب عالم ایلچی سره یو ځای کړ اونوموړی یوتن ژباړونکی سره له دوی سره خبرې وکړې، هغوی وویل چې (موږ خپل دین نه بدلوو او هغو مره طلا چې تاسو غواړی نه لرو خو نقره ډیره لرو) په دی خبره یې اتفاق وکړ چې ۳۰۰ پیلان، ډیره اندازه سپین زر

---

[۱]- ښکاره خبره ده چې دلته غلطی شوی، منظور یې سلطان محمود غزنوی دی.

او جامې به ورکوي. محمود وویل: زه یې منم،خو پاچا باید زموږ جامې واغوندي. یو کمربند او توره تر ملا وتړی او د ژمنې د تصدیق په خاطر لکه ځرنګه چې هند کی رواج ده باید دخپلې ګوتی ځوګه غوڅه کړي . عربی ایلچې وایې : کله چې زه د دغه هندی پاچا ته حضور ورغلم ،هغه یو ډیر ښکلی ځوان و د تور والی سره سره ډیر ښایسته او پرتمین سړی و د سپینو زرو په یوه تخت ناست و .چپنه او د ټوکر جامې [1]. او یوه لونګی یې پرسر وه . کله چې می هغه ولید د هغوی له رواج سره می سږ دواړه لاسونه سره ووهل او د تعظیم لپاره ورته ټیټ شوم . ما د هغه جامې چې ده باید اغوستی وای ورته یادې کړی، هغه وویل هیله کوم ما د هغوله اغوستو څخه معاف کړی او خپل پاچا ته ووایه چې وایې غوستې . زه خپل پاچاته دروغ نشم ویلای اوهغه نشم غولولای.پاچا جامې واغوستې . کمربند یې وتاړه او توره یې تر ملاکړه کله چې جامې واغوستې و شرمیدم چې ورته و وایم چې خپله ګوته غوڅه کړي . خو دومره مې ورته وویل چې موږ سره ژمنه وکړه . پاچا ځواب راکړ چې زموږ ژمنه او قسم پربتانو او اور باندی ده ، خو تاسی هغه نه منئ . ځرنګه ژمنه وکړم ؟ ما ورته وویل چې ته خپله پوهیږی چې باید ځرنګه ژمنه وکړي . پاچا ډیر ژر خپل غلام ته امر وکړ چې یوه چاړه راوړي ،هغه یې په ښي لاس کی ونیوه د خپل کیڼ لاس کوچنی ګوته یې پرته له دې چې دوه په ځیره کې لږ بدلون هم راشي غوڅه کړه،بیا یې لږ دوا ورباندې واچوله کلکه یې وتړله،پرې کړل شوی برخه یې ومینځله کافور یې ورباندی واچول په

---

[1]- د اصلی متن کلمه نه لوستل کیده، خو ښکاري چې د کوم ډول رخت نوم و .

یوه قوطي کې يې کېښنوده له یوڅه جامو ، سپينو زرو او دوو آسونو سره يې ماته راکړه [۱].

## ۲ - له سبط ابن جوزي څخه اقتباس :

( د ۲۱۹ پاڼې دويم مخ چې اصلاً له ذيل الصابي څخه اخیستل شوی ده ) هغه ( محمود ) په يوښار یا په بله وینا په یوه کلا یرغل وکړ چې دغې کلا کې ۵۰۹۰۰۰ تنه خلک اوسیدل د ۵۰۰ پیلانو پرځای ۳۰۰۰ د شیدو غواګانې ورسره ومنل شوی او سوله وشوه یو جوړه جامې ، یوه لونګی و یو کمربند یو آس د طلا له یراق سره او یوه ګوته چې د سلطان نقش ورباندی و د دی کلا مشرته ورکړل شول . لکه څرنګه چې هند کی رواج ده د دغې کلا مشر څخه هیله وشوه چې د خپلې ګوتې څوکه پرې کړی . په دې توګه محمود د څو څو پرې شویو ګوتو خاوند و چې هغوی سره يې سوله کړې وه . راجه جامې واغوستې ،چاقو يې راوویست د خپلی کوچنی ګوتی څوکه يې پرته له دی چې ډیر لږ بدلون دهغه په څیره کې ولیدل شي ،پرې کړه او یوه دوايې په ګوته ووهله چې وینې يې ودریږی .

---

[۱] - مؤلف د علی ګړه د پوهنتون د عربي ښوونکی پروفیسر داکتر تریتون څخه مننه کوي چې دغه برخه لیکنه يې ورته شودلي اوله اصلی سوریایي يې په انګلیسی ژبه ورته ژباړلی ده.

## م ـ نښلونه

### ۱- د سومنات دسفر ماخذ

ما مولف د سلطان د سومنات سفر د

۱. فرخی
۲. گردیزی
۳. ابن ظافر
۴. سبط ابن جوزی
۵. ابن اثیر

په بنسټ شرح کړی دی. فرشته هم ځینی تفصیلات په دې هکله لري چې ممکن سم وي،خوله دی کبله چې د سومنات په سوبه کې ګڼ شمیر مبالغه آمیز حکایتونه هم ورګډ شوی دي چې د خپل اثر ارزښت یې کم کړی دی، نو مولف ور څخه صرف نظر وکړ.

هغه هندي ماخذ چې د مسلمانانو لیکوالو وینا وې یې یا تصحیح کړي یا څه ورباندې زیات کړی، نشته. سره له دې چې کاتهیاوار ډیر مغرور دی چې ګڼ شمیر تاریخونه یا که سم ووایو زیات شمیر تاریخی کیسې لري چې د (جین) د مذهب له درویشانو څخه یې اوریدلی دي لکه د همچندره (۱۰۸۹ - ۱۱۷۳ م) اثر (دوییاشرایا) او د (میروتونګه) اثار (ویچاراس اینی) او (پربندهـ چنتامنسی)،خو دغه دواړه د څوارلسمې میلادې پیړی په لومړیو کې لیکل شوی دي،خویو یې هم دسومنات د عبادتځای په هکله څه نه لري.

## ۲ - د سومنات د بت اصليت او حرمت

د سومنات د بت د اصل او لمانځنې په هکله تاريخي اسناد د اوشواهد نشته . نظر د هندوانو هغو افسانو ته چې البيروني د دويم ټوک ۱۰۲ -۱۰۳ مخونو کې راوړي . وايي چې دسپوږمۍ رب النوع يوه گناه وکړه چې د هغې د کفارې د ورکولو لپاره د لنگه[1] . ( مهاديوا ) په لمانځنې وگومارل شوه . د سپوږمۍ رب النوع همداسې وکړل او لنگه يې جوړه کړه چې هغه د سومنات ډبره وه ،ځکه چې ( سومه ) يعنې سپوږمۍ او ( ناته) يعنې بادار. چې د ټولې کلمې معنی د سپوږمۍ بادار کيږي. دغه ډبره دسمندر پرغاړه جوړه شوې وه،کله به چې سپوږمۍ راختله يا به بيرته لويدله نو د سمندر اوبو به بت پټ کړ، کله به چې مياشت د شپې يا ورځې په نيمايي کې نصف النهارته رسيدله اوبه به د ځپې په ښه شاته تلې او بت به ښکاره شو له همدې امله د خلکو عقيده وه چې سپوږمۍ ( مياشت ) تل دبت د مينځلو په چوپړکې ده .

اسلامي ليکوالو،د سومنات د بت معبد يو بل ډول تعبير کړی چې داهم په حدس او گومان ولاړ دی. دوی غواړي د ( سومنات ) او (منات ) ترمنځ چې د کعبې له بتانو څخه يو تب و ، رابطه ښکاره کړي . دبيلکې په توگه ويل کيږي چې (منات ) د هغه لمانځونکو راپټ کړ ، هغه يې هغې سيمې ته چې له ډير پخوا بت پرستان وو ( يعنې کاتهياوار) ته راوړ او د لمانځنې لپاره يې دلته ودراو. دهغه د يوناځاپې راپيداکيدو به هکله داسې جعل وېناکړې چې: گواکې د

[1]- ( لنگه ) د نارينه د تناسلي آلې تمثال و چې ( مهاديوا ) يا ( سيوا ) هغه لاندې عبادت کاو .

سمندر له منځ څخه راښکاره شوی . وروسته دهغه لپاره يو معبد جوړ کړای شو. له دې کبله چې د کعبې منات په غالب گومان د انسان بڼه لرله،نو اسلامي ليکوال هم په دې فکر شول چې دسومنات بت هم هرومرو د بشر قيافه لرله [۱].

په دې توگه هغه څه چې په ډاډ سره ويل کيدای شي هغه دادی چې د سومنات بت ډير زيات زوړ والی لري .ابن خلکان ( دريم ټوک ۳۳۳ مخ کی ) ليکی: دسومنات بُت خپل شاوخوا ديرش کړی لرلې،کله چې سلطان پوښتنه وکړه،ورته وويل شول چې هره کړی د سومنات د بت د زر کلنې نمانځنی ښودونکی ده [۲] په دې توگه د سومنات دبت عمر ديرش زره کاله کيږی،دا به کيدای شی مبالغه شکاره شي،خو د دغه بت زوړ والی له دې څخه ثابتيږی [۳].

په واقعيت کی د ( مهاديوا لنگه ) نمانځنه يواځې همدې معبد پوری نه وه تړلی ، بلکې لکه څرنگه چې البيرونی په دويم ټوک ۱۰۴ مخ کې ليکی د سند د جنوب غرب معبدونو اوپه کچهـ کی هم څو څو لنگه وې .لاکن د دغه معبد د لنگه د اهميت ځانگړی علت په دی کی و چې دسومنات ښار په هغه بندر کی پروت و چې هلته له چين څخه تر افريقا پوری تلونکو راتلونکوبيړيو سفر کاو.نو د دغو ماڼو گانوپه

[۱]- فرخي د ۱۹ پاڼی دويم مخ ،گرديزی ۸۲ مخ .

[۲]- وگورئ: طبقات اشافعيه د السبکی تاليف ،څلورم ټوک۱۵ مخ او جهت الاخوان د ۲۳پاڼی لومړی مخ .

[۳]-دموهنجورو ديرو ( په سند کې ) له تاريخ څخه مخکې دورې لنگه ډوله تيږو.له کشف څخه ښکاري چې په غربی هند کې د لنگه نمانځنی له ډيری لرغونې زمانې راهيسی رواج درلود.

واسطه دهغه شهرت چې هغه یې خپل لاربنود رب النوع باله،ډېر ژر دنړی نوروځنډوته هم خپور شوی و. دسلطان په وخت کی د هغه د شهرت علت یو بل څه و چې داسی و : د سومنات د بت عقیدتمندان په دې فکر و چې دغه بت له لارې ډېر چپ دی او له بلی خوا دا چې یوې خوا څخه یې سمندر ساتې او بله خوایې لویه دشته پرته ده ،نو په ویاړ او غرور به یې ویل چې د هند په نورو بتانو باندې د محمود د برې یو اځنی علت دادی چې سومنات له دغو نورو بتانو څخه مرور شوی ،دغه دلیل دساده او پرهیزگارو هندوانو په نزد چې د دغو بتانو د خرابیدو بل علت یې نشو پیداکولای ،نو په دغوخبره سره ورته د سومنات دبت سپیڅلتیا نوره هم زیاتیده .له همدې امله به دهند له بیلابیلو برخو څخه په زرگونوزیارت کوونکی خصوصاً د خسوف پر وخت دلته راتلل [1].

د اسلامی لیکوالو په وینا: د هندوانو عقیده وه چې سومنات بت د ملکوتي ځواک خاوند دی او په مړو او ژوندیو ټولو باندی واک لري ،پس له مړینې څخه ارواح،مخکی له دې چې نورو جسدونو ته ورشي یو ځل ده ته ورټولیږی . د دوی په نزد سومنات د غم او ښادی ،سعادت او بخت او د ټولوناروغیو د جوړیدو سر چینه وه. د هند زیات راجگان به یاد خپله د سومنات زیارت کولوته راتلل یا به یې خپل استازي رالیږل [2]. د سومنات معبد ډېر شتمن و و ویل کیږی چې لس زره کلیو دنده لرله چې د هغه عایدات د سومنات د ساتلو لپاره مصرف کړی،زرتنو برهمنانو د هغه مذهبي مراسم اجرا کول او زیارت

---

[1]- فرخی د ۲۰ پاڼی لومړی مخ .

[2]- ابن ظافر د ۱۵۰ پاڼې دویممخ . سبط ابن جوزي ۲۴۱ پاڼی لومړی مخ .

کوونکی یې رهنمائی کول او ۳۰۰ تنو سازیانو د هغه په دروازه کی ساز او گډا کوله او ۳۰۰ تنه د زیارت کوونکو د استراحت لپاره گومارل شوی وو اویو زیات شمیر پیش خذمتانو له گنگا څخه تازه اوبه د بت د مینځلو لپاره او دهغه د هار لپاره تازه گلان له کشمیر څخه راوړل.د دغو کلیو له عایداتو پرته،د زیارت کوونکو اومخلصانو زیات شمیر سوغاتونو د دغه معبد صندوقونه له جواهرو ډک کړی وو [1].

## ۳- د سومنات لومړنی معبد

لومړنی معبد یوه لویه ودانۍ وه چې یو شمیر خدمه پکی ځاییدی او د سمندر پرغاړه آباده شوی وه او دسیند څپې به د معبد په دیوالونو لگیدی [2]. د معبد تاداو له ډیرو لویو لویو تیږو [3]. څخه جوړو او چت یې له ۵۲ کتارو لرگیو څخه جوړو چې دغه ساج لرگې له افریقا څخه را وړل شوی وو [4]. د چت شکل هرم ډوله و او یو پر بل باندی یې د یارلس (۱۳) پوړونه لرل [5]. د پورتنې پوړ پرسر یې د سرو زرو څوارلس(۱۴) گردی کړۍ لرلي چې په لمر کی به ځلیدی او له ډیر لری

---

[1]- ابن جوزي د ۱۷۵ پاڼی لومړی مخ. ابن اثیر ظافر د ۱۵۰ پاڼی دویم مخ. البیرونی دویم ټوک ۱۰۳ مخ ابن اثیر، نهم ټوک ۲۴۱ مخ. سبط ابن جوزی ۲۱۵ پاڼه.

[2]- البیرونی دویم ټوک ۱۰۵ مخ. ابن ظافر ۱۵۰ پاڼه دویم مخ

[3]- ابن ظافر د ۱۵۰ پاڼی دویم مخ. سبط ابن جوزی د ۲۱۵ پاڼی دویم مخ.

[4]- ابن ظافر د ۱۵۰ پاڼی دویم مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۱ مخ. سبط ابن جوزي د ۲۱۵ پاڼی دویم مخ.

[5]- ابن ظافر د ۱۵۰ پاڼه دویم مخ.

ځای څخه به ښکاریدی[۱]. د معبد غولی د ساج له تختو (دړو) څخه جوړ شوی و چې درزونه یې په سربو ډک شوی و[۲]. د دغه معبد بت د تناسلي الی (مهادیوا) څخه عبارت و چې لس نیم فته لوړ والی یه درلوده چې له دې جملې څخه یې دري فته په تادو کی پټ و چې شاو خوا قطر یې څلورنیم فته و. د بت پوښ یو ډیر قیمتی رخت و چې د یوشمیر ځناورانو انځورونه وربانديې چکن شوی وو چې د زرو په تارو ګنډل شوی وو[۳]- او تاج یې د قیمتی جواهراتو جوړ شوي وو[۴]. یو شمیر کوچنی د سرو او سپینو زرو بتان د سومنات پښو ته د پیش خدمت په توګه ایښودل شوی وو[۵]. بتخانه کی قیمتی پردي راځوړندې وې او د مرصع په واسطه رڼا کړای شوی او ښایسته کړای شوی وې[۶]. د دهلیز ټولو برخو کې یې مجاورانو ته لوړ ځایونه جوړ شوی وو[۷]. د بتخانې مخه کې د دو زره منو[۸] په وزن یو د سرو زرو زنځیر ځوړندو چې په ځانګرو وختونو کی به کړنګول کید. د بتخانی

[۱]- ابن ظافر د ۱۵۱ پاڼی لومړی مخ. سبط ابن جوزي د ۲۱۵ پاڼی دویم مخ.
[۲]- ابن ظافر د ۱۵۰ پاڼی دویم مخ.
[۳]-البیرونی، دویم ټوک-۱۰۵ مخ. ابن ظافر د ۱۵۱ پاڼی لومړی مخ. ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۱ مخ.
[۴]- فرخی د ۱۹ پاڼی دویم مخ. ابن ظافر د ۱۵۱ پاڼی لومړی مخ.
[۵]- ابن ظافر د ۱۵۱ پاڼی لومړی مخ.
[۶]- ابن اثیر. نهم ټوک ۲۴۱ مخ.
[۷]- سبط ابن جوزی د ۲۱۵ پاڼی دویم مخ.
[۸]- یو من ۲ رطله یا تقریباً ۲ پونده (د کابل نیم چارک کید)، وګورئ د بنګال آسیائی انجمن مجله ۱۸۹۲ م کال ۱۹۲ مخ.

تر ځنګ تحویلخانه وه چې جواهرات ،دسرو زرو بتان او سپین زر به یې پکې ساتل [۱]

## ۴- د لومړنی معبد ځای

له پورتیو څرګندونو څخه ښکاري چې پخوانی معبد او نوی معبد چې اوس یې صرف کنډوالی پاتي دي ،دواړه په یوه ځای کی نه وو [۲] او یوه ساحه کی نه وو ودان شوی .نو اصلی معبد چیرته و ؟

البیرونی د دویم ټوک ۱۰۵ مخ کې لیکی : لومړنی معبد د ( سرس وتی ) د سیند د پای غرب ته په درې میله واټن کی و . کله چې زه د دغه کتاب لیکوال ( داکتر محمد ناظم . ژ ) ( سومنات پاټن ) ته ورغلم نو د لومړنی معبد پلټنه می پیل کړه .د ( بهدیا ) د معبد تقریباً ۲۰۰ ګزه لویدیځ ته د ( سرس وتی ) د سیند د خولې په درې میله واټن کې می داسی آثارو لیدل چې لویې ډبرې وې چې په سپین رنګه سمنټ یوبل سره نښلول شوي وي . یوشمیر یې شګو کې ښخې وې اونوری یې د سمندر اوبو مینځلی وې او را بر سیره شوی وي . زه باور

[۱]- سبط ابن جوزي د ۲۱۵ پاڼي دویم مخ . ابن اثیر نهم ټوک ۲۴۱ مخ کی لیکې چې : دغه صندوقخانه له بتخانې لاندې وه .

[۲]- د نوی معبد اوسنی بقایا و تقریباً د ۹۰ فټه په اوږدوالی او د ۲۸ فټه په عرض مساحه نیولی ده چې له سمندر څخه تقریباً ۲۰ فټه لری ده او لوړ والی یې د اوبو له سطحی څخه ۴۰ فټه دی . دا د یو پوړیزی ودانۍ آثار ښکاره کوی چې مرکز کی یې یوه ګنبذه لرله اوپه شاو خوا کی یې دوه کوچنۍ ګنبذی لرلي . نوی معبد په ۱۱۲۹ م کی جوړ شوی دی . وګوری ( د هندو لرغونو آثارو د څیړنو د پرمختګ راپور ۱۸۹۸-۱۸۹۹ م کلونه ۹ مخ ) . او ( د لرغونو پاتی شونو فهرست ) . د بمبئ ریاست ۱۸۸۵ م ، ۱۸۲ مخ د برګس تالیف .

لرم چې هغه معبد چې سلطان سوځولی او نړولی همدلته و .له همدغه ځایه د ( بهدیا ) د معبد تر منځ لاره کې لنگه ولاړه ده چې د سمندر اوبو کی ده چې غالباً د معبد اصلی ځای د ښودلو لپاره په قدیم وخت کې اینښودل شوی دی . د دغی سیمی د ساحل ټولو برخو کې خراب شوی آثار خواره واره دي . د سمندر څپی تل د غاړو شگې وړي او یو شمیر آثار را بر سیره کوي . کله چې زه سومنات کې وم ( ورادل) ته نژدې دیوی کوچنی حجری آثار کشف شول او یقین لرم که چیری دلته کیندنې وشي نود لرغوني سومنات د معبد د جوړښت د څرنگوالی او د هغو د لویوالی په هکله په لازیات معلومات تر لاسه شي [1].

## ۵- سومنات باندې دیرغل نیته

سومنات باندی د سلطان دیرغل د نیتی په هکله ،معتبر ماخذونه تقریباً ټول یو شانته دي . د بیلگې په توگه البیرونی ،گردیزي،ابن ظافر او ابن اثیر هغه په ۴۱۲ هـ ( ۱۰۲۵ م ) کال کی ښیي ،خو ځنی وروستی عرب مورخین لکه الذهبی او الیافعی یې سهواً د ۴۱۸ هـ ( ۱۰۲۷ م ) کال د پیښنو په ترخ کی بولي .له بلې خوا د اوسني وخت ځنی لیکوالان لکه ( الفن ستون ) او ( کرنیل میلیسن )

---

[1] - پروفیسر محمد حبیب خپل ( سلطان محمود غزنین ) نوم ي کتاب ۵۱ مخ کې لیکي چې د سومنات د یوه بل سیند په خوله کې چې هغه هم ( سرس وتې ) نومید او کچه ډنډته ورتوییږی . نوموړی سلطان له ( انهلوار ) څخه تیروي چې په ( برین دریا ) کی ده او مخامخ یې د ( سرس وتی ) کوزسرته بیایې او بیا یې سومنات ته رسوي .خو داخط سیرسم نه دی . د سلطان سم خط سیر د غو نوروپاڼو کی شرحه شوی ده .

او ( برگس ) او ( سروليهم هيگ ) د فرشته د عباراتو د ناخرگندوالی او د هغی ناوړه ترجمی له امله چې ( ايليات ) او ( داوسن ) له ابن اثير څخه تر سره کړی ده لاره يې ورکه کړی او د سومنات د سفر کال يې ۴۱۴ هـ ( ۱۰۲۳ م ) ښودلی دی او همدارنگه ۴۱۵ هـ ( ۱۰۲۴ م ) يې ليکلی.

## ۶- سومنات ته د سلطان د تگ لاره

گرديزی، ابن ظافر، سبط ابن جوزي او ابن اثير سلطان مخامخ د ملتان له لارې انهلواره ته بيا يې، پرته له دې چې د لارې په اوږدوکی د پراوونو نوم واخلي. تاريخ فرشته چې د يوولسمی هجری پيړی په لومړيو کی ليکل شوی دی. سلطان اجمير ته رسوي او د اوسنې وخت ليکوالان هم له همده څخه پيروي کوي. حال دا چې د نويو څېړنو له مخی[1]. اجمير په ۱۱۰۰ م کې يعنی دسلطان له سفر څخه ۵۷ کاله وروسته جوړ شوی دی. له دې پرته دا چندان عقل نه منې چې سومنات ته دسفر په وخت به سلطان له اجمير څخه تير شوی وي ،ځکه چې يو د سلطان لاره ۱۰۰ ميله لرې کيده ،بل دا چې لازمه نه وه چې سلطان پرته له کوم علت څخه د اجمير له غرونو تير شي ،دريم دا چې اړتيا پيښيده چې بايد سلطان د راجپوت له رئيسانو سره چې د ( اراولی )د

[1] - ( هندي لرغونپژندنه ) ۲۲ مه برخه ۱۲۲ مخ. سروليم هيگ په ۲۳ مخ کې د پورتنی نيمگړتيا د لری کولو لپاره د اجمير پر ځای ( سامبهر ) ليکلی دی چې دا د ( چوهان ) پلازمينه وه.

غرونو شمالي لمنو کی پراته وو بی گتی جنگیدلی وای [1]. تاریخ الفی (د ۳۸۳ پاڼی لومړی مخ) یو بل ځای ښیي چې حقیقت ته نژدی دی او ممکن اتفاقاً د اجمیر په عوض به لیکل شوی وي چې هغه (جیسلمیر) دی خو جیسلمیر هم په ۱۱۵۷ م کی یعنی د سلطان په لاس د سومنات له ورانولو ۱۳۰ کاله وروسته جوړ شوی دی [2]. زه مولف بریالی شوم چې د فرخي د قصیدی له مخې، چې په دغه سفر کې له سلطان سره یو ځای و [3]. دغه خط سیر وټاکم. فرخی په (۱۹ پاڼه لومړی مخ کی) لیکی:

| | |
|---|---|
| بدان ره اندر چندان حصار های بزرگ | خراب کرد و بکند اصل هریک از بن وبر |
| نخست لدر وه کز روی برج و بارهٔ او | چوکوه کوه فرو ریخت آهن ومرمر |
| حصار او قوی و باره حصار قوی | حصاریان همه برسان شیر شرزهٔ نر |
| مبارزانی همدست و لشکری هم پشت | درنگ پیشه بغزو شتاب کاریگر |
| چو چیکو د رکه صندوقهای گوهر یافت | بکوه پایهٔ ان شهریار شیر شکر |
| چگونه کوهی چونانکه از بلندی او | ستارگان راگوئی فرود اوست مقر |
| چو نهر واله که اندردیار هند بهیم | نه نهروالـه همیکرد برشهان مفخر |
| دویست پیل و کمابیش صد هزار سوار | نود هزار پیاده مبارز و صفدر |
| همیشه رای بهیم اندر و مقیم نعیم | نشسته ایمن و دل پرنشاط و تازه و تر |

---

[1]- (تاد) (لومړی ټوک ۲۹۲ مخ) د فرشته له مخې لیکي چې (نادول) (د راچپوتانه یو ښار و) سلطان ونیو. حال دا چې دغه مسئله د فرشته په هیڅ یو چاپي کتاب کی نه دی لیدل شوی.

[2]- گزیتر شاهنشاهی هند، ۱۴ ټوک، ۹ مخ.

[3]- د فخرالدین مبارکشاه په تاریخ کی په ۵۲ مخ کې لیکل شوی چې سلطان د پیل یو بار سره زر د دغې قصیدی د لیکلو له امله فرخی ته بخشش ورکړی وي.

چو منـدهير كـه در منـدهير حوضـى بـود　چنانكـه خيره شـدى انـدرو دو چشـم فكـر
چگونـه حوضـى چوناكـه هـر چـه انديـشم　نميتـوانم گفـتن صـفاتش انـدر خـور
فـراخ پهنـا حوضـى بـصد هـزار عمـل　هـزار بتكـدۀ خـرد كـرده حـوض انـدر
دگر چو ديو لـواره كـه همچـو ديـو سفيد　پديـد بـود سرافراشـته ميـان گـذر
يكـى حـصار قـوى بـر كـران شـهر و درو　زبـت پرسـتان گـرد آمـده يكـى محـشر
بكشت مـردم و بـت خانـه بكنـد و بـسوخت　چنانكـه بتكـدۀ وارنـى و تانيـسر

فرخي بياد پنځو ځايونو نوم اخلي: لدروه ،چيكودر، نهرواله، مندهير او ديو لواره چې سلطان سومنات ته د سفر په ترځ كې له ملتان څخه تر سومنات پورى ورڅخه تير شوى دى. (لدروه) چې په ننيو نقشو كې د (لودور وه) په نوم يادشوى دى تقريباً لس ميله د (جيسلمير) د ښار شمال خواته پروت دى او د سلطان د يرغل پر مهال يو ښه لوى ښار و او دولس دروازې يې لرلې[1].

دا پته نشته چې بله سيمه چيكودر چيرى وه ؟ ځكه چې د فرخى د عبارت معنى او نص دغه ځاى كې ډير ناڅرگند دى،خو احتمال لرى چې دابه (چيكلودرماتا) غرونه وي چې د (پالن پور) په شمال كى ۱۷ ميله فاصله كى دى[2]. (نهرواله) د نني (پاتن) پخوانى نوم و چې د بمبئ په احمد آباد كى واقع دى[3]. (مندهير) د (پاتن) جنوب ته په ۱۳ ميله واټن كى پروت دى. دهغى د كنډوالوله پراخوالي څخه ښكاري چې يو وخت ډير مهم ښار و يو لوى تالاب لرى چې يو وخت يې

---

۱- گزيتر ماروار ،ملاتي ،جيسلمير(مدونه والتر) ۸۴-۹۲ مخونه (د هندشاهى گزيتر) د ولاياتو په هكله سلسله. د راجپوتانه توک ۲۰۹ - ۲۱۰ مخونه.

۲- بمبئ گزيتر ،پنځمه برخه ۲۸۲۰ مخ.

۳- دهند لرغونوآثاروته كتنه د برگس تاليف ،نهمه برخه ۷۱ مخ.

شاوخوا زينې او زيارتونه جوړ شوي وو [۱]. (ديول واره) همدانننيي (ديل واده) دی چې د سومنات ختيځ ته د ۴۰ ميلو په فاصله د (ديو) د ټاپو او د (اونا) ښار ترمنځ واقع دی [۲].

په دی توګه سلطان له ملتان څخه تر (لودور وه) پورې غالباً د (اوچهـ) يا (بهاول پور) څخه لاره وهلې او له هغه ځايه له يو شمير ټيټو غرونو څخه چې د (جسلمير) او (ملاتی) [۳]. ايالتونو تر منځ پراته دی، تيرشوی او پاتن ته رسيدلی بيا مندهير ته ورغلی، وروسته بيا مخامخ د (کاتهياوار) له ټاپو وزمې څخه تيرشوی او (ديواده) او سومنات ته رسيدلی دی [۴].

## ۷ - د سومنات د سفر په هکله ځنی حکايتونه

د سومنات د بت ورانولو، د اسلام د دين يو ځليدونکی ښيګڼه په بت پرستي باندې نړی ته وښوده او د دغی سوبې اتل محمود، د دغه سپڅلی دين ساتندوی وګڼل شو اود اسلامې نړی د ستاينی وړ وګرځيد. شاعرانو د هغه د صفتونو د مبالغې په برخه کی رقابتونه پيل کړل او وروستيو حکايت ليکونکو هغه د خپلو حکايتونو اتل

---

۱- ابن اثير ليکی چې (بلواده) له سومنات څخه د دوو ورځو په مسافت لری دی.

۲- د هند د شاهشاهی ګزيټر شلمه برخه ۲۴ مخ.

۳- (بريګز) او (فرشته) لومړی جلد. يوه وينا راوستی ده چې ليکی: سلطان د چوتن په نوم يوه کلا چې د عمر کوټ ختيځ ته په ۵۰ ميله فاصله کی وه فتح کړه. او وګورئ ګزيټر ماروار د (والتر) تاليف ۵۲ مخ.

۴- له دې څخه په واضح ډول ښکارې چې د پروفيسرحبيب نظريه چې سومنات (نهرواله) ته نژدې يا پاتن سره نژدی معرفی کوي، بی اساسه ده.

وگرځاو . اکثره دغی کیسی او حکایات چې طبعاً له سلطان محمود سره مطابقت پیدا کوي د تاریخ کتابونو کی ننوتې او د مستند و پیښنو په توګه لاس په لاس ترننه را رواني دي. نو ځکه له هغو ځخه ځنی یې دلته راوړل کیږی ،خو کوشش کوم هغه یې چې تاریخي حیثیت لري هغه روښانه کړم :

۱- له دغو کیسو ځخه هغه ډیره مشهوره یوه یې د ( دایشلیم ) حکایت دی چې لومړی ځل کتاب کی چې دنهمی هجری پیړی تالیف دی راغلی اود ( وصایای نظام الملک ) په نوم دی چې لنډیز یې دا دی.

سلطان د سومنات له فتح کولو وروسته،دهغی سیمی له آب هوا ځخه دومره اغیزمن شو چې تصمیم یې ونیو چې همالته پاتې شي ،خوخلکو وهڅاو چې بیرته غزنی ته راشي او په کاتهیاوار کی یو نائیب الحکومه وټاکی . دوه تنه یې نایب الحکومتی ته ونومول چې لومړنی یې ( دایشلیم زاهد ) او دویم یې د ګاونډي ایالت راجه د ایشلیم و .سلطان زاهد وایشلیم په خپل نیابت وټاکه او دهغه د غوښتني له مخې یې د دویم دایشلیم د مقابلې لپاره ورته یو لښکر هم برابر کړه ویل کیږی چې دا وخت سلطان وویل : ( له دې امله چې د غزا په قصد اونیت می هیواد پریښی ،دا درې کاله کیږی چې په همدې کار لګیا یم ،شپږ میاشتې به نورې هم په همدې کار کی مصروف اوسم ) . وروسته سلطان د راجه دایشلیم د مقابلی لپاره خپل لښکر چمتو کړ اوهغه یې ونیو او بندې یې کړ . کله چې زاهد له خپل ځان سره د هغه په بندي کولو و ویرید ،نو سلطان راجه دایشلیم غزنی کی بندی کړ .لږ موده وروسته زاهد دایشلیم خپل یو شمیر کسان غزنی ته

ولیږل چې راجه دایشلیم راولي . کله چې راجه د کاتهیا وار ښارته را نژدې شو د هغه وخت له رواج سره سم زاهد د ایشلیم د هغه مخې ته له ښار څخه ور ووت ،د راجه راتګ لږ وځنډېنو ،زاهد د یوې ونې سیوري ته خوب یووړ او یوسور دسمال یې پر مخ خوره کړ ،دا وخت یوه الوتونکې پر سره دسمال د غوښې ګومان وکړ له هوا څخه راکوز شو او دسمال یې د زاهد له سترګو سره یو ځای په خپلومنګولو کې هواته پورته کړ. کله چې بندی راجه زاهد ته راورسید ګوري چې د ده رقیب نابینادی او دهیواد د چارو پرمخ بیول نشي تر سره کولای ،نو خلکو راجه ته آفرین و وایه او پرتخت یې کیناو او زاهد یې هغه زندان کې واچاو کوم چې هغه د راجه لپاره چمتو کړی و [1].

له دغې کیسې څخه څو خبرې څرګندیږي :

**اول** : سلطان درې نیم کاله کاتهیاوار کې پاتیشو .

**دویم** : راجه دایشلیم سره یې جګړه وکړه .

**دریم** : سومنات کې یې له خپلې خوانایب مقرر کړ .

لومړنی پایله دسلطان د وخت له معتبرو ماخذونو سره برابره نه ده ،یعنې بیهقي ،ګردیزي او نورو نه دي ویلي چې سلطان دومره زیات وخت هلته پاتې شو ،بلکې لکه یې چې سومنات فتح کړ ډیر ژر غزني ته ستون شو او بیا ماورالنهر ته ولاړ . له بلې خوا ابن اثیر لیکي چې سلطان دسومنات له سوبې څلور میاشتې وروسته غزني ته ستون شو .دویمه اودریمه پایله هم سمه نه ده دا له واقعیت سره توپیر لري . هغه آثار چې له نهمې هجري پیړۍ مخکې لیکل شوي دي (یعنې کوم

---

[1]- د دې پیښې بشپړ نکل په روضه ( ۷۴۱-۷۴۲ مخونه ) او فرشته ( ۳۴-۳۵ مخونه ) راغلی ده .

چې غالباً د نظام الملک وصایا د تالیف کال سره برابر دي ) هم دا خبرې نه تائید وی. گردیزی په ۷۲ مخ کی د دې برعکس وایې چې د سومنات هند وحکمران چې د سلطان په ور رسیدو سره تنبتیدلی و ،د اسلامی پوځ له راستنیدو وروسته ،بیرته را وگرځید. نو له همدې امله ویلای شو چې پورتنی کیسه د تاریخ له پلوه قطعی ډول باندې غلطه او بی اساسه ده. خو ( سو. ای. سی. بیلی ) د مراة احمد ( ۳۳ مخ ) په ژباړه کې هڅه کړی چې وښیې چې دا ډول یوه کیسه نا ممکنه نه ده. ښکاره خبره ده چې نوموړی دغه پیښی د تاریخی گزارشاتو له کړکۍ څخه نه تحلیلوی.

۲- یوه بله مهمه کیسه چې د شیخ فریدالدین عطار د هجري اومې پیړۍ نامتو تصوفی شاعر ( منطق الطیر ) کی راغلی ده ،هغې کې دا هڅه شوي ده چې سلطان ځان ته د بت فروش د لقب پر ځای د بت شکن د لقب د گټلو هڅه کړی او د بت شکن لقب یې غوره گڼلی. په دغه حکایت کی راغلی: کله چې سلطان سومنات فتح کړ او ویې غوښتل چې بت مات کړی ، برهمنانو وړاندیز ورته وکړ چې د بت د وزن په اندازه سره زر به ورکړي ،خو سلطان دغه وړاندیز ونه مانه ، د بت د ماتولو امر یې ورکړ. دا وخت د سلطان صاحب منصبانو مصلحت ورکړ چې بت خرڅ کړی ښه به وي، سلطان په خوب کی وویل : ( زه ویریږم چې د حشر په ورځ به چې ټول بت پرستان د رب العزت دربارته حاضر شي ، نو الله به امر وکړی چې آذر او محمود یو ځای را حاضر کړئ چې یو یې بت جوړونکی او بل یې بت خرڅوونکی و ). وروسته د بت له ماتولو سلطان وویل : د هغه شاوخوا اور بل کړی. بت د اورله امله وچاود او ۲۰ منه گرانبیه جواهر هغه له نس څخه راووتل. دا

وخت سلطان وویل : دغه اور هغه څه ده چې لات ( دغه نوم سومنات ته عطار ایښی وی ) د هغه ورتیا لرله . او هغه جواهرات زما د خیر د کار پاداش دی چې له پورته لوري ماته راکړل شو . ) له دغې کیسی څخه ښکاري چې د بت نس تش نه و . ځکه البیروني ( د دویم ټوک ۱۰۳ – ۱۰۴ مخونو کی ) ټول هغه اصول ښودلي دي کوم چې د دغه ډول بتانو په جوړیدو کی رعایت کیدل ، خو هغه هیڅکله نه دي ویلی چې د بت منځ تش و . له دې پرته د هغه لیک ماخذ هم شته چې سلطان د بغداد خلیفه ته د سومنات د فتح کیدو په هکله لیکلی و ، خو دغه ماخذ کی د دغو جواهراتو په هکله څه نه دي لیکل شوی . که چیری په دی هکله څه حقیقت موجود وای نو فرخی حتماً د هغو په هکله یو څه لیکل او په خپله هغه قصیده کی چې د سومنات د سوبې په هکله یې لیکلی دا موضوع یې هم یکی هرو مرو یا دوله .

۳- یوه بله افسانه هم چې جعل شوی او واقعی نه ده د فتوح السلاطین د ۳۲ پاڼې دویم مخ کې د ۳۵ پاڼې تر دویم مخ پورې راغلې ده چې په اتمه هجری پیړی کې لیکل شوی ده . دغه حکایت کې راغلي چې : د سلطان له زیږیدولو وروسته په هند کې منجمینو پیش بینی وکړه چې په غزنی کې یو شهزاده وزیږید چې د سومنات بت به دهغه په لاس مات شي . نو ځکه یې راجه جیپال وهڅاو چې کوچني محمود ته یو ایلچي ولیږي او هغه ته و وایې چې که چیری د سومنات بت د ده لاس ته ورغی نو د ماتولو پرځای دې ډیرې پیسی واخلي . کله چې محمود سومنات ونیو برهمنانو د هغه ژمنه ورپه یاد کړه او ورته ویې ویل چې ژمنه دې پر ځای کړه ، محمود په شک کې شو ، ځکه چې نه یې دبت ببیرته ورکول غوښتل او نه یې د خپلی ژمني ماتول غوښتل

نو امر یې وکړ چې هغه باید و سوځول شي . کله چې بله ورځ برهمنانو بیا خپله غوښتنه تکرار کړه سلطان وویل چې : هغه د تنبول ( پان ) هغه پاڼې چې وسوځول شوی دبت له ایرو سره ګډې شوی وې راوړی .ایرې یې راوړی . برهمنانو ته یې د هغو د خوړلو امر وکړ کله چې برهمنانو دغه پاڼې وخوړی نو سلطان ورته وویل چې بت خو تاسو وخوړ . له دغې پیښې څخه لږ وروسته یوه برهمن د سومنات دبت په شان یو بل بت جوړ کړ له ښار څخه لږ لرې یې ښخ کړ ، یو خوسی یې داسی ور وزه چې په منډه منډه هغه ځای ته ورشي او په خپلو پښو هغه ځای وتوږي . یوه ورځ یې خلک راټول کړل ورته ویې ویل چې سومنات بت ده ته په خوب کې راغلی او ویې ویل چې په دې ځایونو کی چیری پټ یم که چیری زه خپل خوسی خوشي کړم،نو هغه ځای پیدا کوی او ځمکه به وتوږی نو همالته زه یم . خلکو یقین وکړ، برهمن خپل روزل شوی خوسی خوشې کړ، بالاخره بت را وایستل شو خلکو هغه په عرق ګلاب ومینځه بیرته یې معبد ته راوړ .

۴- له دغو حکایتونو پرته یو بل محلي راویت هم شته چې دسلطان پر ځای د کاتهیاوار یو بل وروستی سلطان ( چې غالباً سلطان محمود بایقرا دی ۱۴۵۹-۱۵۱۱ م ) یادوي . دغه روایت شیخ دین په ۱۲۱۲ هـ ( ۱۸۰۱ م ) کې په نظم جوړ کړی دی او میجر ( واتسن ) د ( هند لرغونپیژندنې) مجله کې په اتم ټوک ۱۵۳ - ۱۲۲ مخونو کی ) په انګلیسی ژبه ژباړلی دی . د دې روایت لنډیز داسی دی چې : مخکی له دې چې سلطان سومنات فتح کړي ،یوشمیر مسلمانان هلته اوسیدل ،خو دهغې سیمې راجه چې (کنور رای ) نومیده،دوی سره ډیر زیات ظلم کاو او امریې کړی و چې هره ورځ به یو تن مسلمان دبت

پښولاندی حلالوي . کله چې حضرت محمد(ص) د مکی د یوه حاجې خوب ته راغی هغه ته یې حکم وکړ چې سومنات ته ورشي او مسلمانان وژغوري . حاجي سومنات ته راغی او د خپل خارق العاده ځواک په واسطه یې د راجه پاملرنه ځان ته واړوله . یوه ورځ حاجي یوه بوډۍ ډیره خواشینی او غمجنه ولیده له پوښتنې وروسته ورته څرګنده شوه چې سبا سهار د هغې د زوی د وژلو وار دی . حاجي د دې غمجن خبر په اوریدو ډیر غمجن او اغیزمن شو، ویې غوښتل چې دی د هغی بوډۍ د زوی پرځای د بت پښو ته و وژنې ،کله چې راجا له دغی پیښی څخه خبرشو ،ډیر خپه شو، خو په دې باندې پوهید چې نشی کولای حاجی په ښکاره منع او اذیت کړي. د فرصت په تمه کیناست . یوه روځ راجه د سومنات د بت او د معبد شاوخوا سیمه حاجی ته ورښودله ،نو دا وخت یو ناڅاپه حاجی پر ځمکه پریوت او بی هوښه شو . راجه خپلو عسکروته امر وکړ چې حاجی و وژنی خو کله چې عسکر د هغه خواته ورتلل د ټولو پښی په ځمکه ونښتې او له ورتګ څخه پاتی شول .

له دغې پیښی وروسته حاجی د دغه ظلم د ختمولو په خاطر سلطان محمود ته بلنه ورکړه .سلطان په ډیره هیله په لاره کې د ( منګرول ) راجه ،جیپال سره چې د سومنات د راجه د ښځی ورور و ونښت او هغه یې تسلیم کیدو ته اړ کړ .وروسته له هغه دسومنات خواته روان شو ( کنور رای ) ته یې ماتې ورکړه . راجه عذر او سوله وکړه سلطان وویل امان په ایمان کی دی .

(سوله په اسلام کی ده) راجه ونه منله نو هوډ یې وکړ چې تر آخره جګړه وکړي . دا وخت حاجی مړ شو او له محمود څخه خپه ولاړ ځکه چې دناروغی پر مهال یې د ده پوښتنه ونه کړه. وروسته له دې چې

راجه څه موده جګړه وکړه . ځان يې کلا کې اسیار کړ او د دواړو خوا وو ترمنځ جګړه روانه وه . محاصرې ۱۲ کاله ونیول . سلطان بې حوصلې شو . دا وخت يې وزیر مشوره ورکړه چې د حاجی د قهر د کینولو او دهغه د ارواح د خوشحالولو په خاطر دې د هغه قبرته ورشي او دکلا په نیولو کې دې ورڅخه مرسته وغواړي .سلطان همداسې وکړل او د حاجې په وینا يې داسې یو چل وکړ چې : یوه ورځ يې د جنګ – جګړې ټول اسباب او وسایل پرېښودل پنځه میله لرې یو ځای ته ولاړ . راجه فکر وکړ چې وتښتید ،له احتیاط څخه يې کار وانخیست او بیدار نه و ،نو د شپې له خوا سلطان راوګرځید له دوو سپرو سره يې چې کتل حاجی و ،دسومنات کلا يې په ۴۷۰ هـ (۱۰۷۷-۱۰۷۸م) کې ونیوله او داسې ویل کیږي چې د دغې جګړې په ترڅ کې د سلطان ۱۲۵۰۰۰ عسکر وژل شوي وو . وروسته (راجه کنور رای) د بت د ساتلو په سوچ کې شو. وړاندیز يې وکړ چې که بت ورڅخه وانخلی ،نو ډیرې پیسې به ورکړي .سلطان امر وکړ چې بت وسوځول شي ایره دې شي او د پان له پاڼې سره دې یو ځای لکه مخکې چې وویل شول ، راجه کنور رای او دهغه درباریانو ته ورکړل شي . له دغې پیښې وروسته يې خپل یو صاحب منصب چې متها خان نومید د سومنات نایب الحکومه مقررکړ، خپله غزنی ته راستون شو . وروسته بیا متها خان معبد رنګ او وسوځاو. پورتنی حکایت هیڅ تبصرې ته ضرورت نه لري، خو دحیرانتیا او تعجب خبره داده چې میجر واتسن د دغه نظم ژباړونکې هغه حقیقی ګڼلی ،اعتبار يې ورکړی او دهغه په وینا چې ګواکې دا د سومنات په هکله تازه کیسه ده چې ده پخوا پاړسی تاریخونو کې نه وه لوستې،حال دا چې د تاریخ له پلوه ۱۲ کلنه محاصره او په دغه موده کې دوامداره جګړه هیڅ امکان نه لري .

# ن – نښلونه

## د نیتوله مخې دسلطان محمود د ژوند ، پیښو او دهغه نیکونو مجدول تاریخ

| پیښې | نیټې | |
|---|---|---|
| | مسیحی یا میلادي | هجری |
| د اسد بن سامان د زامنو تقرر: نوح د سمرعند په حکومت ،احمد په فرغانه کی ،یحیی په شاش کې او اشروسنه ،الیاس په هرات کی . | ۸۲۰-۸۱۹ | ۲۰۴ |
| د طاهر بن حسین انتصاب ( مقررول ) د خراسان په حکومت . | ۸۲۱ | ۲۰۵ |
| د نوح بن اسد مړینه . | ۸۴۲ | ۲۲۷ |
| دبُست په حکومت باندې د یعقوب بن لیث واکمن کیدل. | ۸۵۱-۸۲۵ | ۲۳۷ |
| د یحیی بن اسد مړینه . | ۸۵۶-۸۵۵ | ۲۴۱ |
| د الیاس بن اسد مړینه . | ۸۵۷-۸۵۶ | ۲۴۲ |
| د احمد بن اسد مړینه . | ۸۶۴-۸۶۳ | ۲۴۹ |
| د یعقوب په لاس د هرات ،بلخ او بامیان فتح کیدل. | ۸۶۷ | ۲۵۳ |
| د یعقوب له خوا د محمد طاهر ماتې | ۸۷۳-۸۷۲ | ۲۵۹ |
| د یعقوب په لاس د طبرستان فتح،د نصربن احمد په لاس د بخارافتح او خپل ورور اسمعیل ته دهغی سپارل . | ۸۷۴-۸۷۳ | ۲۶۰ |
| د یعقوب مړینه. | ۹ جون ۸۷۹ | د ۲۶۵ دشوال ۱۴مه |
| د الپتگین پیدا ښت . | ۸۸۱-۸۸۰ | د ۲۶۷ شاو |

| خوا | | |
|---|---|---|
| ۲۷۵ | ۸۸۸-۸۸۹ | پر بخارا د احمد بن نصر یرغل. |
| ۲۸۵ | ۸۹۸ | اسمعیل بن احمد ته د احمد بن فریغون بیعت. |
| د ۲۸۷ د ربیع ۱۵ مه | د ۹۰۰ د مارچ ۲۰مه | د اسمعیل بن احمد په لاس په بخارا کی د عمرو بن لیث ماتې. |
| - | تربیاً ۹۰۳ | د گوپال ورمن په لاس د سامنت دیوا بی وسلې کول او للیه د ځوی (وکمه لوکه) په تخت کیناستل. |
| ۲۹۳ | ۹۰۵-۹۰۷ | سیستان کی د سوبکری اړ دوړ. |
| د ۲۹۵ د صفری ۱۴ مه | د ۹۰۷ د نومبر ۲۴ مه | د اسمعیل بن اسد مړینه. |
| د ۲۹۸ رجب | د ۹۱۱ مارچ | د احمد بن اسمعیل په لاس د سیستان د حکمران معدل بن لیث ماتې. |
| د ۳۰۰ ذیحجه | د ۹۱۳ جولای | د احمد بن اسمعیل په لاس د سیستان د حکمران عمرو بن لیث ماتې. |
| د ۳۰۹ د جمادی الثانی ۲۳ مه | د ۹۱۴ جنوری ۲۴ مه | د احمد بن اسمعیل مړینه. |
| ۳۰۹ | ۹۲۱-۹۲۲ | د سیستان پر حکومت د احمد بن محمد صفاری مقرری. |
| ۳۱۵ | ۹۲۷-۹۲۸ | د اسفار بن شیرویه له خوا د ماکان بن کاکې ماتې او په ری باندې د شیرویه واکمنې. |
| ۳۱۶ | ۹۲۸-۹۲۹ | د مرداویج بن زیار په لاس د اسفار وژل کیدل |
| ۳۱۹ | ۹۳۱ | د کرج په حکومت باندی د مردوایج له خوا د علی بن بویه مقرریدل. |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۲۳ | ۹۳۵-۹۳۴ | د مرداویج مرینه. |
| ۳۳۱ | تقریباً ۹۴۲-۹۴۳ | د سبکتگین پیدا اینبت. |
| د ۳۳۱ د رجب ۲۷ مه | د ۹۳۴ د اپریل ۶ مه | د نصربن احمد مړینه. |
| ۳۳۴ | ۹۴۶-۹۴۵ | په بغداد باندې د معزالدین واکمن کیدل. |
| د ۳۳۸ جمادی الثانی | د ۹۴۹ دسمبر | ذ عمد الدین مړینه او د رکن ادلدوله فنا خسرو پاچا کیدل. |
| د ۳۴۳ د ربیع الثانی ۱۹ مه | د ۹۵۴ د اگست ۲۲مه | د نوح بن نصر مړینه. |
| د ۳۴۵ رمضان | د ۹۵۶ دسمبر | د الپتگین په لاس د بکر بن ملک وژل کیدل. |
| تقریباً ۳۴۸ | ۹۵۹ | د الپتگین له خوا د سبکتگین ابتیاع |
| - | تقریباً ۹۶۰ | د بهیم (چې غالباً د کمکوله زوی و) مړینه او د جیپال پاچا کیدل. |
| د ۳۴۹ د ذیحجی شلمه | د ۹۶۱ د فبروری لسمه | پر نیشاپور باندې د الپتگین حکمرانی. |
| د ۳۵۰ د شوال یوولسمه | د ۹۶۱ د نومبر ۲۳مه | الملک بن نوح مړینه. |
| د ۳۵۰ ذیحجه | د ۹۶۱ نومبر | بخارا باندې د الپتگین یرغل. |
| د ۳۵۱ د ربیع الاول ۱۵ مه | د ۹۶۲ د اپریل ۲۳مه | دالپتگین په لاس د منصور بن نوح د جنرال اشعث بن محمد ماتې. |
| د ۳۵۱ د ذیحجی ۱۳مه | د ۹۶۳ د جنوری ۱۲مه | په غزنې باندې د الپتگین واکمني. |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۵۲ | ۹۶۳ | د الپتگین په لاس د منصور بن نوح د جنرال ابو جعفر ماتې. |
| د ۳۵۲ د شعبان شلمه | د ۹۶۳ د سپتمبر ۱۳مه | د الپتگین مړینه او دهغه د زوی ابواسحق ابراهیم پاچا کیدل. |
| تقریباً ۳۵۳ | ۹۶۴ | د احمد بن نوح مړینه او د هغه د زوی خلف په تخت کیناستل. |
| د ۳۵۴ د شوال ۲۷ مه | د ۹۶۵ د سپتمبر ۲۲مه | دابوابراهیم اسحق په لاس د ابوعلی لاویک ماتې. |
| ۳۵۴ | ۹۶۵ | د خلف په غیاب کې په سیستان باندې د طاهر بن حسین واکمنې. |
| د ۳۵۵ د ذیقعدې ۲۵ مه | د ۹۶۶ د نومبر ۱۲مه | د ابواسحق ابراهیم مړینه اود بلکاتگین پاچا کیدل. |
| د ۳۵۶ ربیع الثانی | د ۹۶۷ نومبر | د معزالدین مړینه اود عزالدین بختیار پاچا کیدل. |
| د ۳۵۶ ذیحجه | د ۹۶۷ مارچ | د وشمگیربن زیار مړینه او دهغه د زوی بهستون پاچا کیدل |
| د ۳۶۱ د محرم لسمه | د ۹۷۱ د نومبر لومړی | د سلطان محمود پیدا ایښت. |
| ۳۶۴ | ۹۷۵-۹۷۴ | د بلکاتگین مړینه اود پریتگین په تخت کیناستل. |
| د ۳۵۶ د شوال یوولسمه | د ۹۷۶ د جون دولسمه | د منصور ابن نوح مړینه او دهغه دځوی پاچا کیدل. |
| د ۳۶۶ محرم | د ۹۷۶ سپتمبر | د رکن الدین مړینه او د دری زامنو ترمنځ یې د سلطنت ویش. |

| | | |
|---|---|---|
| د ۳۶۶ شعبان | د ۹۷۷ اپریل | د پریتګین خلع کیدل . |
| د ۳۶۶ شعبان ۲۷ مه | د ۹۷۷ د اپریل شلمه | د غزنی په تخت د سبکتګین کیناستل . |
| د ۳۶۷ رجب | د ۹۷۸ فبروری | د بهستون مړینه او دهغه د ورور بهستون پاچا کیدل . |
| د ۳۶۷ شعبان | د ۹۷۸ می | د معزالدین اعدامول او د عضدالدوله په لاس د عراق نیول کیدل. |
| تقریباً ۳۶۹ | ۹۸۰-۹۷۹ | د حسنویه بن حسین مړینه . |
| ۳۷۰ | ۹۸۱-۹۸۰ | له همدان څخه د فخرالدین تیښته . |
| د ۳۷۱ جمادی الاول | د ۹۸۱ نومبر | له مؤیدالدین څخه د قابوس ماتې .خراسان فخرالدین تښتیدل.<br>د خلف له خوا د (اوک) د کلا پریښودل . |
| د ۳۷۲ رمضان | د ۹۸۳ فبروری – مارچ | د عضوالدوله مړینه . |
| د ۳۷۳ شعبان | د ۹۸۴ جنوری | د مؤیدالدین مړینه. جرجان ته د فخرالدین بیرته راتګ . |
| ۳۷۵ | ۹۸۶-۹۸۵ | نورکې د سلانیقه ؤ ځای پر ځای کیدل . |
| تقریباً ۳۷۶ | ۹۸۷-۹۸۶ | د سبکتګین په لاس د جیپال ماتې او په یرغمل ډول د سخپال پاتې کیدل .<br>په بست د خلف واکمنی او←<br>← دهغې بیرته پریښودل . د شرف الدین له خوا د صمصام الدین ماتې. |
| ۳۷۹ ربیع الثانی | د ۹۸۹ سپتمبر | دمجدالدوله پیدا کیدل. |
| ۳۸۰ | ۹۹۱-۹۹۰ | د شرف الدین مړینه او د بهاؤالدوله پاچا کیدل .<br>صمصام الدین خلاصون . |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۸۰ | ۹۹۰-۹۹۱ | د غزني په کلا کې د محمود بندي کیدل د سبکتگین له خوا. |
| ۳۸۱ | ۹۹۱ | د الطائی خلع . د جیپال په سلطنت د لاهور د راجه بهرت یرغل . |
| د ۳۸۲محرم | د ۹۹۲ مارچ | سیر جان ته نژدې د عمرو بن خلف ماتې . |
| د۳۸۲ ربیع الاول | د ۹۹۲ می - جون | په بخارا باندې د بغراخان واکمني . |
| د ۳۸۲ جمادی الاول | د ۹۹۲ جولاَی | له بخارا څخه د بغراخان په شا کیدل . |
| د ۳۸۲ د جمادی الثانی ۱۵ مه | د ۹۹۲ د اگست اتلسمه | پر بخارا دنوح واکمني . |
| ۳۸۳ | ۹۹۳-۹۹۴ | د عزالدین د زامنو اعدامول . |
| د ۳۸۴ د رمضان ۱۵مه | د ۹۹۴ د اکتوبر ۲۳مه | د سبکتگین او محمود له لوري د ابو علی سیمجوری ماتې . سبکتگین ته د نوح بن منصور له خوا د بلخ سپارل او د ناصر الدوله لقب ور کول . محمود ته د خراسان د پوځ د مشري ورکول اود دسیف الدوله د لقب بښل . |
| د ۳۸۵ ربیع الاول | د ۹۹۵ د جولای ۲۲مه | دسبکتگین او محمود له خوا د ابو علی سیمجوری او فایق ماتې خوړل . |
| ۳۸۵ | ۹۹۵ | د ابو العباس فضل بن احمد وزیر کیدل له محمود سره . د مامون له خوا د خوارزم فتح کیدل. د ابوعلی سیمجوری بندي کیدل . |
| ۳۸۶ | ۹۹۶ | پر بخارا د ایلک خان یرغل. د ابو علی |

| | | |
|---|---|---|
| | | سیمجوری مړینه. د ابو علی مامون بن محمد مړینه چې د جرجانیه او خوارزم حکمران و. د ده ځای د ده د زوی ابوالحسن علی په تخت کیناستل. |
| د ۳۸۷ د رجب ۱۳ مه | د ۹۹۷ د جولای ۲۲مه | د نوح بن منصور مړینه او دهغه د زوی ابوالحارث په تخت کیناستل. |
| د ۳۸۷ شعبان | د ۹۹۷ اگست | د سبکتگین مړینه او د هغه د زوی اسمعیل سلطان کیدل. د فخرالدین مړینه اود هغه د زوی مجدالدوله پاچا کیدل. |
| د ۳۸۸ربیع الاول | د ۹۹۸ مارچ | د محمود له خوا د غزنی د کلا نیول او د اسمعیل نیول کیدل او په تخت د محمود کیناستل. |
| ۳۸۸ | ۹۹۸ | په فوشنج د خلف واکمن کیدل او بیرته د هغه پرېښودل. د محمود د تره بغراجق مړینه. |
| د ۳۸۸شعبان | د ۹۹۸ اگست | د قابوس الدوله مړینه. |
| ذیحجه | د ۹۹۸ دسمبر | دصمصام الدوله مړینه. |
| د ۳۸۹ د صفری دولسمه | د ۹۹۹ د فبروری ۲مه | د ابوالحارث منصور بن نوح لری کول او پرځای یې د هغه د ورور ابوالفوارس عبدالملک په تخت کینول. |
| د ۳۸۹ جمادی الاول ۲۷مه | د ۹۹۹ د می شپاړلسمه | د محمود له خوا عبدالملک ته ماتې ورکول په مرو او د خراسان نیول د غرشستان د مشر په توگه د محمود پېژندنه او جوزجانان ته د اسمعیل ورتگ. |
| د ۳۸۹ شعبان. | د ۹۹۹ جولای -- اگست | د فایق مړینه. |

| | | |
|---|---|---|
| د ۳۸۹ د ذیقعدی لسمه | د ۹۹۹ د اکتوبر ۲۳ مه | په بخارا د ایلک خان واکمن کیدل او د عبدالملک بندي کیدل. |
| د ۳۸۹ ذیحجه | د ۹۹۹ نومبر | محمود ته د خلیفه له خوا د یمین الدوله او امین الملت دلقب ورکول او په هند باندی هر کال دیرغل کولو تصمیم نیول. |
| ۳۸۹ | ۹۹۹ | د جیپال د زوی ( آنند پال ) له خوا د لاهور د راجه ( چندر دت ) ماتې خوړل او په سلطنت باندی د انند پال کیناستل. |
| د ۳۹۰ محرم | د ۹۹۹ دسمبر | ایلک خان ته د محمود له خوا د یوه هیئت لیږل. |
| د ۳۹۰ محرم | د ۹۹۹دسمبر | د اسپهبه د کلا محاصره او د خلف بیعت. |
| ۳۹۰ | د ۱۰۰۰ کال سپتمبر | د لغمان پرخینو کلاوو د محمود واکمن کیدل او نیشاپورته نژدی د منتصر له خوا د نصر ماتې. |
| د ۳۹۱ شوال | د ۱۰۰۱ سپتمبر | هند ته د محمود رو ایندل. د نصر له خوا د نیشاپور پریښودل. |
| ۳۹۱ | ۱۰۰۱ | د محمود لاس ته د واثق لویدل اودهغه بندي کول. |
| د ۳۹۲ د محرم اتمه | د ۱۰۰۱ د اکتوبر ۲۷ مه | د جیپال ماتې او بندې کیدل اود محمود قلمرو سره د ویهند یوځای کیدل. |
| - | د ۱۰۰۲ اپریل | غزني ته بیرته د محمود راستنیدل. |
| د ۳۹۳ محرم | د ۱۰۰۲ نومبر | له غزني څخه دسیستان خواته محمود ورتګ. |
| د ۳۹۳ محرم | د ۱۰۰۲ نومبر | حاجی قنجی ته د سیستان د حکومت ورسپارل. سیستان کې اړ دوړ. |

| | | |
|---|---|---|
| - | ۱۰۰۲-۱۰۰۳ د | د جیپال مړینه. |
| د ۳۹۳ ذیقعده | د ۱۰۰۳ سپتمبر | د سیستان خواته له غزني څخه دمحمود خوځیدل. |
| د ۳۹۳ د ذیحجی پنځلسمه | د ۱۰۰۳ د اکتوبر ۱۵مه | د محمود له خوا د سیستان د شورشیانو ماتول. دسیستان په حکومت د نصر مقررول. |
| تقریباً ۳۹۳ | ۱۰۰۲-۱۰۰۳ | د جیپال مړینه او دهغه د زوی انندپال په تخت کیناستل. |
| د ۳۹۴ شعبان | د ۱۰۰۴ جون | دایلک خان په لاس د منتصر ماتیدل. |
| ۳۹۵ | د ۱۰۰۴ اکتوبر | له غزني څخه بهتندې ته د محمود تگ اود بهتندې د راجه (بیجی رای) شکست او مړینه. |
| د ۳۹۵ ربیع الاول | د ۱۰۰۴ دسمبر | د منتصر مړینه. |
| ۳۹۵ | ۱۰۰۵ می –جون | غزنی ته د محمود بیرته راتگ. |
| ۳۹۶ | د ۱۰۰۶ مارچ – اپریل | د سند پر غاړه د آنند پال ماتې. |
| ۳۹۶ | ۱۰۰۶ | د ملتان ماتې او د داؤد د تښتیدل. د ملتان پر حکومت د سخپال مقرریدل. |
| ۳۹۶ | ۱۰۰۶ | پر خراسان د ایلک خان یرغل. |
| ۳۹۶ | د ۱۰۰۶ جولای – اگست | له خراسان څخه د ارسلان جاذب له خوا دسبا شتکین ایستل. |
| ۳۹۷ | د ۱۰۰۶ سپتمبر- اکتوبر | له خراسان څخه د ایلک خان د پوځ شاته تلل او وتل. |
| ۳۹۷ | ۱۰۰۶-۱۰۰۷ | گردیزته د خلف لیږل. د مجدالدوله بندي کیدل دهغه د مور له خوا. |

| | | |
|---|---|---|
| د ۳۹۸ د ربيع الثانی ۲۳مه | د ۱۰۰۸ د جنوری پنځمه | پر خراسان د ايلک خان دوباره يرغل او د (کتر) په ميدان کې د هغه ماتې. |
| ۳۹۸ | د ۱۰۰۸ دسمبر | د سخپال بغاوت. |
| د ۳۹۸ ربيع الثانی | د ۱۰۰۸ جنوری | محمود ته د سخپال د بغاوت د خبر ور رسيدل. د سخپال ماتې او بندی کيدل. |
| ۳۹۹ | ۱۰۰۸ | غزنی ته د آنند پال بيرته گرځيدل. |
| د ۳۹۹ د ربيع الثانی ۲۹ مه | د ۱۰۰۸ د دسمبر ۳۱مه | د آنند پال په وړاندې د محمود را خوځيدل او ويهند ته نژدی د آنند پال ماتې. |
| ۳۹۹ | ۱۰۰۹ | د نکر کوټ سقوط |
| تقريباً ۳۹۹ | ۱۰۰۸-۱۰۰۹ | د ابوالحسن علی بن مامون مړينه او د هغه د ورور ابوالعباس مامون پاچا کيدل. |
| ۴۰۰ | د ۱۰۰۹ اگست – سپتمبر | په غزني کی د نکر کوت د غنيمتونو نندارتون. |
| ۴۰۰ | د ۱۰۰۹ آگست | غزنی ته د طغاخان د سفير راتگ. |
| ۴۰۰ | د ۱۰۰۹ اکتوبر | له غزنی څخه د نراين پور خواته د سلطان محمود حرکت کول. |
| ۴۰۱ | د ۱۰۱۰ اکتوبر | له غزنی څخه ملتان د محمود ورتگ. د داود نيول او غورک ته دهغه ليږل. |
| تقريباً ۴۰۱ | د ۱۰۱۰ اکتوبر | د طغاخان پر سلطنت د ايلک خان يرغل او بيرته دهغه په شاتگ. |
| ۴۰۱ | د ۱۰۱۱ مارچ | يو ځل بيا د طغاخان پر سلطنت د ايلک خان يرغل. |
| ۴۰۱ | د ۱۰۱۱ جون | په غور د محمود يرغل او د ابن سيور نيول. د ابن سيور مړه کيدل. |
| ۴۰۱ | ۱۰۱۰-۱۰۱۱ | خراسان کی قحطی. د قصدار د حکمران پاڅون او هلته د محمد بن محمود مقرريدل. |

| | | |
|---|---|---|
| تقريباً ۴۰۱ | ۱۰۱۱-۱۰۱۰ | د آنند پال مړينه . |
| د ۴۰۲ جمادی الاول | د ۱۰۱۱ دسمبر | پر قصدار يرغل او د هغه د حکمران بيعت . |
| ۴۰۲ | ۱۰۱۲ | د قابوس لرې کول . |
| ۴۰۳ | د ۱۰۱۲ اگست | د غرشستان نيول او غزنی سره يې تړل . |
| د ۴۰۳ جمادی الثانی | د ۱۰۱۲ دسمبر | د بهاوالدوله مړينه او د سلطان الدوله پاچا کيدل . |
| ۴۰۳ | ۱۰۱۳-۱۰۱۲ | د قابوس او ايلک خان مړينې . |
| ۴۰۴ | د ۱۰۱۳ نومبر | نندنې ته د محمود ورتگ او له ناچارۍ څخه له هغه ځايه بيرته راتگ . |
| ۴۰۴ | ۱۰۱۳ | د فضل بن احمد لرې کول . |
| - | د ۱۰۱۴ مارچ | له غزنی څخه يو ځل بيا نندنې ته د محمود تگ . دبهيمپال ماتې او د نندنې نيول کيدل . د تريلو چنپال او تونگه ماتې خوړل د جهلم پر سيند . د فضل بن احمد مړينه . |
| ۴۰۵ | د ۱۰۱۴ جولای- اگست | غزنی ته بيرته د محمود راتگ . |
| ۴۰۵ | ۱۰۱۴ | د وزارت په رتبه ابوالقاسم احمد بن حسن ميمندی مقرريدل . |
| ۴۰۵ | د ۱۰۱۴ اکتوبر | تهانيسرته له غزنی څخه د محمود ورتگ او دتهانيسر سقوط . |
| ۴۰۵ | د ۱۰۱۵ مارچ | غزنی ته بيرته د محمود راستنيدل. |
| ۴۰۵ | د ۱۰۱۵ می | په خوابن باندې د محمود يرغل . |
| ۴۰۵ | ۱۰۱۵-۱۰۱۴ | د بدر بن حسنويه مړينه . |
| ۴۰۶ | ۱۰۱۶-۱۰۱۵ | بلخ باندی د محمود يرغل . د مسعود← |

| | | |
|---|---|---|
| | | ← تاکل د ولیعهد په توګه. په کشمیر باندی لومړنی حمله او د لوهکوټ محاصره. د شارابو نصر محمد مړینه. |
| ۴۰۲ | د ۱۰۱۲ مارچ | غزني ته بیرته راستنیدل. |
| د ۴۰۷ د شوال ۱۵مه | د ۱۰۱۷ د مارچ ۱۷مه | د ابوالعباس مامون وژل کیدل. |
| ۴۰۷ | ۱۰۱۷-۱۰۱۲ | غزنی ته له محمود څخه د مرستې غوښتو په خاطر د قواملدوله راتګ. |
| د ۴۰۸ صفره | د ۱۰۱۷ د جولای دریمه | د خوارزم د لښکر ماتی او د محمود له خوادهغو سیمو نیول. |
| ۴۰۸ | ۱۰۱۷ | د خوارزم حکومت ته د التوانتاش غوره کول. د طغان خان مړینه او د هرات په حکومت د مسعود مقرریدل. |
| ۴۰۹ | ۱۰۱۸ | په غزني کی د یو جومات د جوړولو په هکله د محمود امر. |
| د ۴۰۹ د جمادی الاول ۱۳مه | د ۱۰۱۸ دسمبر | له غزنی څخه قنوج ته د محمود حرکت او محمد ته د غزنی د حکومت د کفالت پریښودل. |
| د ۴۰۹ د رجب شلمه | د ۱۰۱۸ دسمبر | له جمنا څخه د محمود قنوج نیول. |
| د ۴۰۹ د شعبان ۲۵ مه | د ۱۰۱۹ د جنوری شپږمه | د راجه شروهه ماتې. |
| د ۴۰۹ ذیحجه | د ۱۰۱۹ اپریل | د قبایلو خواته د محمود حرکت. |
| ۴۰۹ | ۱۰۱۹ | د تریلو جنپال او ګندهـ تر منځ یو والی دګندهـ یه لاس د قنوج د راجه راجیپال وژل کیدل. |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۱۰ | ۱۰۱۹ اکتوبر | له غزنی څخه د ګنډه او دقنوج د نوي راجه د ټکولو په خاطر د محمود حرکت. |
| د ۴۱۰ د شعبان ۱۴مه | د ۱۰۱۹ د دسمبرپنځلسمه | د محمود له خوا د تریلو جیپال ماتې. |
| ۴۱۰ | ۱۰۱۹ | په (باری) باندې د محمود واکمن کیدل. |
| ۴۱۰ | ۱۰۱۹-۱۰۲۰ | د محمود په رسیدو سره د ګنډه تښتیدل. |
| ۴۱۱ | ۱۰۲۰ می – جون | نور او قیرات ته د محمود ورتګ. |
| د ۴۱۱ د جمادی الاول لسمه | د ۱۰۲۰ سپتمبر | د غور (تب) ته د محمود حرکت. |
| د ۴۱۱ ذیحجه | د ۱۰۲۱ مارچ – اپریل | پر عراق د مشرف الدین واکمني. |
| ۴۱۲ | ۱۰۲۱ | د نصر مړینه. |
| ۴۱۲ | د ۱۰۲۱سپتمبر- اکتوبر | پر کشمیر دویم ځل یرغل اود لوهکوټ محاصره کول. |
| ۴۱۲ | ۱۰۲۱-۱۰۲۲ | ملتان ته د مسعود په بندی توګه لیږل د محمود له خوا .د آنند پال د زوی تریلو جیپال وژل کیدل. |
| ۴۱۲ | ۱۰۲۲ مارچ – اپریل | غزنی ته د محمود بیرته راتګ. |
| ۴۱۳ | ۱۰۲۲-۱۰۲۳ | د ګوالیار د راجه بیعت، د کالنجر دراجه ګنډه بعیت. |
| - | د ۱۰۲۳ مارچ- اپریل | بیرته غزنی ته د محمود راتګ. |
| ۴۱۴ | ۱۰۲۲ | د شابهار په ډګر کې د محمود له خوا د پوځ معاینه. |

| | | |
|---|---|---|
| تقریباً ۴۱۴ | ۱۰۲۳ | د ارسلاخان مړینه. |
| ۴۱۴ | ۱۰۲۳ | حج ته د حسنک تګ. |
| ۴۱۵ | د ۱۰۲۴ سپتمبر | بلخ ته د سلطان تګ. |
| د ۴۱۵ شوال | د ۱۰۲۴ دسمبر | د سلطان الدوله مړینه او دهغه د خوی ابو کالنجر پاچا کیدل. |
| د ۴۱۶ دصفری ۲۷ مه | د ۱۰۲۵ داپریل ۲۹ مه | د قدرخان او سلطان کتنه. |
| ۴۱۶ | ۱۰۲۵ | د اسرائیل بن سل جوق نیول کیدل او د کالنجر کلاته د هغه لیږل ،په خراسان کی د سلاجقه و لپاره د اوسیدو اجازه ورکول. |
| د ۴۱۶ ربیع الاول | د ۱۰۲۵ می | د مشرف الدین مړینه او په تخت د هغه د زوی جلال الدین کیناستل. |
| ۴۱۶ | ۱۰۲۵ | له وزارت څخه د احمد بن حسن الميمندی لرې کیدل. حسنک وزیر کیدل. |
| د ۴۱۶ د شعبان ۲۲مه | د ۱۰۲۵ د اکتوبر اتلسمه | سومنات ته له غزنی څخه د محمود ورتګ. |
| د ۴۱۶ د رمضان ۱۸ مه | د ۱۰۲۵ د نوامبر نهمه | ملتان ته د محمود تګ. |
| د ۴۱۶ د شوال دویمه | د ۱۰۲۵ د نومبر ۲۲ مه | د سلطان بیرته راتګ. |
| د ۴۱۶ شوال | د ۱۰۲۵ دسمبر | انهلواړې ته د سلطان رسیدل او د راجه بیهم تښتیدل. |
| د ۴۱۶ د ذیقعدی ۱۲ مه | د ۱۰۲۶ د جنوری اتمه | د سومنات ماتې. |
| د ۴۱۶ | د ۱۰۲۶ جنوری | د محمود له خواد کنتهه کوټ د کلا نیول |

| | | |
|---|---|---|
| ذیحجه | | اود منصوريې د حاکم خفیف ماتې. |
| د ۴۱۲ | ۱۰۲۵-۱۰۲۲ | د معدان مړینه او دهغه د زوی په تخت کیناستل (عیسی). او غزنی ته د ابوالمعسکر تښتیدل. |
| د ۴۱۷ د صفری لسمه | د ۱۰۲۲ د اپریل دویمه | غزنی ته د سلطان راتګ. |
| ۴۱۷ | ۱۰۲۲ | د سلطان حضور کې د قتاخان او ایغورخان د سفیرانو شرفیابی قدرخان ته د محمودله خوا د مرستې په خاطر د ابوبکر حصیری ورلیږل. |
| د ۴۱۷ شوال | د ۱۰۲۲ نومبر – دسمبر | محمود ته د کف (الدوله والاسلام) د لقب او د ده ورونو او زامنو ته د نورولقبونو ورکول کیدل د خلیفه له خوا. د بهیمپال مړینه. |
| ۴۱۸ | د ۱۰۲۷ مارچ | د جاتانو د ټکولو په خاطر له غزنی څخه د محمود وتل. |
| ۴۱۸ | د ۱۰۲۷ جون – جولای | غزنی ته بیرته د محمود راتګ. |
| ۴۱۸ | د ۱۰۲۷ دسمبر | له سلاجقه ؤ څخه د ناوا بیورد د خلکو شکایتونه. |
| ۴۱۹ | ۱۰۲۸ | د مجد دالدوله د مور (سیدې) مړینه. |
| ۴۱۹ | ۱۰۲۸ | د سلاجقه په وړاندې د محمود لشکر کشي. |
| د ۴۱۹ ذیقعده | د ۱۰۲۸ نومبر – دسمبر | د قوام الدوله مړینه و دابوکالنجر له خوا د کرمان نیول کیدل. |
| د ۴۲۰ ربیع الثانی | د ۱۰۲۹ می | ری ته د محمود د لښکر ننوتل. |

| | | |
|---|---|---|
| د ۴۲۰ د جمادی الاول نهمه | د ۱۰۲۹ د می ۲۰ مه | د ری نیول او د مجدالدوله بندی کیدل د ری په حکومت د مسعود مقرریدل |
| د ۴۲۰ د رمضان لومړی | د ۱۰۲۹ د نومبر ۱۳مه | د مسعود له خوا د سالار ماتې د عیسی ابن معدان شورش .د منوچهر مړینه . |
| ۴۲۱ | د ۱۰۳۰ جنوری | د مسعود له خوا د اصفهان نیول . |
| د ۴۲۱ د ربیع ثانی ۱۵مه | د ۱۰۳۰ د اپریل ۲۲ مه | له بلخ څخه غزنی ته د محمود راتګ . |
| د ۴۲۱ د ربیع الثانی ۲۳ مه | د ۱۰۳۰ د می ۲۲مه | د سلطان محمود مړینه . |
| د ۴۲۱ د جمادی الاول شلمه | د ۱۰۳۰ د جون ۲۳ مه | مسعود ته د محمود د مړینې د خبر وررسیدل. |
| ۴۲۱ | ۱۰۳۰ | د علی ابن سوری وژل کیدل . |
| ۴۲۲ | ۱۰۳۱ | د وزارت په چوکی باندې د احمد بن حسن المیمندی تاکل کیدل او د حسنک اعدامیدل. |
| ۴۲۳ | ۱۰۳۲ | د قدر خان مړینه . |
| د ۴۲۴ محرم | ۱۰۳۳ د سمبر | د احمد بن حسن المیمندی مړینه . |
| د ۴۳۲ د جمادی الاول ۱۱مه | د ۱۰۴۱ د جنوری ۱۷مه | د سلطان مسعود مړینه . |
| ۴۳۵ | ۱۰۴۴-۱۰۴۳ | په لاهور د سخپال یرغل،دهغه ماتې او وژل کیدل . |

| | | |
|---|---|---|
| د ۴۴۰ جماي الاول | د ۱۰۴۸ اکتوبر | د ابو کالنجر مړینه او د هغه د زوی الملک الرحیم پاچا کیدل |
| د ۴۴۷ رمضان | د ۱۰۵۵ دسمبر | د طغرل بیگ له خوا د الملک الرحیم ماتې او نیول کیدل |

# ماخذ

دلته یوائې هغه ماخذ راغلی چې په کتاب کی ورڅخه یادونه شوی ده:


- آداب الملوک .د فخر مدیر تالیف ( اندین آفیس.لندن . ۲۴۷ گنه قلمی نسخه ).
- احسن التقاسیم .د مقدسی تالیف .د گوجه طبع.
- اخبارالدول المنقطعه.د ابن ظافر تالیف ( برتش موزیم. ۳۲۸۵ گنه.اصلی فهرست ).
- اربع رسائل. د تعالبي تالیف.
- اثار الباقیه.البیروني.دساچو طبع.
- آثار الوزرا د الفضلی تالیف (اندین آفیس.لندن .۱۵۲۹ گنه قلمی نسخه ).
- د اسلام انسایکلوپیدیا.
- الکامل فی التاریخ.د ابن اثیر تالیف. د توان برگ طبع.
- المنتظم فی التواریخ الملوک والامم. د ابن جوزی تالیف (برلن. ۹۴۳۲ گنه قلمی نسخه ).
- ارشاد الاریب.دیاقوت تالیف.د مارگولیوث چاپ.
- اردو ( د ترقی اردو د انجمن مجله .اورنگ آباد – دکن ).

- بهار عجم
- بهجته الاخوان فی ذکر الوزیر سلیمان ( برتش موزیم د ۷۳۳۲ گنی د اصلی فهرست نښلونه ) .
- تاریخ الفی . د احمد تهتوی تالیف ( برتش موزیم . د ۱۲۲۸ گنی د اصلی فهرست نښلونه ) .
- تذکرة الاولیا . د فریدالدین عطار . د نکولسن چاپ .
- ترکستان،دبار تولد لیکنه ( د گپ مموریل فند د کتابتون د کتابونو لړۍ ) .
- ترکستان،روسي چاپ .لومړی ټوک متن .
- د مراة احمدي انگلیسی ژباړه.د تاریخ گجرات عنوان.دبرد په قلم .
- د تحقیق ماللهند انگلیسی ژباړه،دالبیرونی تالیف.دساچو په قلم ( د ترونبرد شرقی کمپنی د مطبوعاتو لړۍ د ۱۸۸۸ کال چاپ ) .
- تحقیق ماللهند ( عربی اصل ) .دساچو چاپ .
- د اثار الباقیه البیرونی ژباړې.دساچو په قلم ( The chronology of Ancient Nations ) عنوان لاندی .(د لرغونو ملتونو تاریخ ) .
- د تاریخ فرشته انگریزی ژباړه .دبرگز په قلم .د کلکتې چاپ .
- د سورتهه د تاریخ انگریزی ژباړه.دبرگس په قلم ( د گپ مموریل د کتابتون د کتابونو لړۍ ) تذکرة الشعرا .د دولت شاه تالیف. دبراؤن طبع .
- تاریخ دول الاسلام.دالذهبی تالیف (برلن.د ۳۳۰۸ پاڼی قلمی نسخه ) .

- د هندوستان تاریخ.د ذکاالله خان تالیف ( انستی تیون پرس.علی گهړ ۱۹۱۵ ).
- د فخرالدین مبارکشاه تاریخ .د فخرمدیر تالیف.دسردینس راس چاپ.
- تاریخ فرشته .دنولکشور چاپ.
- د تاریخ رشیدی انگریزي ژباړه.د گرگانی تالیف.دسروینس راس په قلم.
- تاریخ گزیده .د حمدالله مستوفي تالیف.
- د بیهقی تاریخ .دابن فندق تالیف ( برتش موزیم .د ۳۵۷۸ گنې اصلی فهرست ).
- د طبرستان د تاریخ ژباړه .داسفندیار تالیف .دبراؤن په قلم.
- د وفیات الاعیان انگریزی ژباړه.د ابن خلگان تالیف.د (دوسلین) لیکنه.
- د یمینی د تاریخ ژباړه .د جریاذقانی لیکنه (داد عتبی د کتاب الیمني پارسی ژباړه ده) د تهران چاپ . ۱۲۷۲ هـ.
- د جوینی ( تاریخ جهانکشایي ) (د گپ ممورېل د کتابتون د کتابونو د لړۍ فند).
- د طبقات ناصری انگریزی ژباړه.د جوزجانی تالیف.د راورټي لیکنه.
- د راجه ترنجی د کتاب انگریزی ژباړه.د کلهنه تالیف.د سرآرلی ستین لیکنه.
- د مروج الذهب انگریزی ژباړه .د مسعودي لیکنه .دسپرنگر په قلم.

- د احسن التقاسيم انگريزی ژباړه.د مقدسي تاليف.د رانکنگ په قلم.
- تاريخ بخارا.د ابو بکر محمد بن جعفر نرشخی تاليف.د شيفر چاپ.
- د النويری احمد بن عبدالوهاب بن محمد له خوا ليکل شوی تاريخ چې د کتاب عنوان (نوم) څرگند نه دی (برلين. ۹۸۰۲۰ گڼه قلمی نسخه).
- تاريخ الحکما د جمال الدين ابوالحسن علی بن يوسف القفطی تاليف.
- داليمينی د کتاب انگريزی ژباړه.د رينولدز په قلم د جرباذقانی د پارسي ژباړې څخه ترسره شوی ده.
- تجارب الامم،د ابو شجاع (الروذراوری) او (هلال بن محسن الصابي) ليکنه د (مارگوليوث) او (اميدروز) چاپ.
- تاريخ الرسل دالملوک،دطبری ليکنه،دگوجه چاپ.
- تاريخ العروس (عربی قاموس).
- تاريخ طبرستان و رويان، د ظهير الدين تاليف،د ډورن چاپ.
- د فضايل البلخ ژباړه،د ابوبکر عبدالله بن عمر الواعظ ليکنه (د پاريس ملی کتابتون. ۱۱۵ گڼه)
- جوامع الحکايات،د عوفی تاليف (برتش موزيم. ۲۳۲ گڼه اصلی فهرست).
- جهان آرا.د قاضی احمد غفاری تاليف. (برتش موزيم. ۱۴۱ گڼه اصلی فهرست).

- جهان نامه .د محمد بن نجیب تالیف (د پاریس ملی موزیم .پارسی قدیمی آثار .۳۸۴ گنه).
- جامع التواریخ .د رشید الدین تالیف (برتش موزیم .۸۲۲۸ گنه .د اصلی فهرست نبنلونه).
- جنات الفردوس،د محمد مرزا تالیف (برتش موزیم .اصلی فهرست .۱۴۴ گنه).
- چهار مقاله .د نظامي العروضی لیکنه .د مرزامحمد طبع.
- حبیب السیر،د خوندمیر تالیف.
- حدیقۀ سنائی.
- حکایات السلاطین (د علی گړه دلاتین کتابو کتابتون .قلمی نسخه).
- خلاصة التواریخ،خوندمیر (برتش موزیم،اصلی فهرست. ۱۲۹۲ گنه).
- د میة القصر .دابو الحسن علی باخرزی تالیف (د سیل Sale عربی فهرست).
- دیوان لغات الترک،د محمود بن حسین بن محمد کاشغری لیکنه.
- د فرخي دیوان .(اندیا آفیس،قلمی نسخه .۱۸۴۱ گنه).
- د عنصری دیوان.د تهران چاپ (د پانو شمیر یې نشته).
- ذیل تجارب الامم .د هلال بن محسن الصابی لیکنه.
- روضة الالباب فی تواریخ الاخبار والانساب.د ابو سلیمان داود بن ابو الفضل محمد بناکشي لیکنه.(قلمی نسخه .کنگز کالج.کیمبریج).

- رساله الغفران.د المعری تالیف(امین هندیه چاپ).
- روضةالصفا .د میرخوند تالیف د نولکشور طبع ۱۸۸۳ کال.
- ربیع الابرار زمخشری ( برتش موزیم.اصلی فهرست .۳۱۸۳ گڼه).
- راحت الصدور .د محمد بن علی بن سلیمان راوندي لیکنه.
- زبدة التواریخ.د عزیزالله لیکنه (د حبیب گنج کتابتون. بهیکمپور. علی گړه).
- زین الاخبار،د گردیزی تالیف،د محمد ناظم طبع.
- زینت المجالس.د قاضي احمد غفاری تالیف (برتش موزیم .اصلی فهرست ۲۳۹ گڼه).
- زبدة التواریخ.د حافظ آبرو تالیف (برتش موزیم،اصلی فهرست. ۱۵۷۷گڼه).
- سلوک الملوک ،د فضل بن روز بهان اصفهانی تالیف ( برتش موزیم ،۲۵۳ گڼه اصلی فهرست).
- سیاست نامه . دنظام الملک تالیف ،د شیفر چاپ.
- د فردوسي شاهنامه.
- صبح الاعشافی صناعت الانسا .د بولاق طبع.
- صبح صادق ،د محمد صادق اثر ( بانکی پور .قلمی نسخه ،۴۷۱ گڼه).
- طبقات الشافعیه الکبری.د السبکی تالیف .د قاهري چاپ.
- ظفرنامه .د حمدالله مستوفی لیکنه ( برتش موزیم .اصلی فهرست .۲۸۳۳ گڼه).
- عیون الاخبار .دابن قتیبه تالیف .دبروکلن چاپ.

- غزة لزيجات .دالبيروني ژباړه چې د كرنه تلكه ( Karana tilaka ) په نوم ديوه سانسكريت اثر ژباړه ده ( د بنارس او سيدونكى د ( جيانند ه ) د زوى ( ويجه يانند ه ) تاليف ) داپه عربى ژبه ده ( د پير محمد شاه درگا كتابتون .احمد آباد ) .فارس نامه ابن بلخى ( د گپ مموريل فند كتابتون ) .
- فتوح السلاطين ( د آنديا آفيس كتابتون .لندن .۳۰۸۹ گنه قلمى نسخه ) .
- فتح الوهبي .د المينيى تاليف .د قاهرې چاپ .
- قانون المسعودي .(قلمى نسخه .برلين ) .
- قابوس نامه .د عنصرلمعالى تاليف.د بمبئ چاپ .
- د عطار كليات .
- كشف الظنون .د حاجى خليفه تاليف .د فليوگل طبع .
- المساک والممالک كتاب.د ابن حوقل تاليف د اوگوجه چاپ.
- كتاب العبر.د ابن خلدون تاليف.د بولاق چاپ .
- فى غور ملوک الفرس.د زوتن برگ طبع .
- مؤيد النعم و مبيد النقم.د السبكى ليكنه .دمايهرمن چاپ .
- الانساب.دسمعانى تاليف .(د گپ مموريل فند كتابتون ) .
- كتاب اليمينى يا د يمينى تاريخ .دالعتبى تاليف .د لاهور چاپ . ۱۳۰۰ هـ .
- لباب الالباب .د عوفى ليكنه ( دبراون چاپ ) .
- مغيث الخلق فى بيان تقديم الاحق .د عبدالملک بن عبدالله تاليف ( برتش موزيم.اصلى فهرست .۳۸۵۴ گنه ) .
- منطق الطير ( عطار ) .

- د بارتولد مقالې .د اسلام انساکلوپیدیا.
- د The humismatic chronicle مجله کې د سر.ای .سی .بیلی مقالې .د ۱۸۸۲ کال چاپ.
- مجمل فصیحی،د فصیحی لیکنه (قلمی نسخه.د گپ مموریل ترست فند کتابتون).
- د ۱۸۹۸ د آسیائی شاهی انجمن په مجلی کې د سرهنری هو ورته مقالی او دبنگال د آسیائی انجمن مجلّه.
- مسالک والممالک د اصطخری تالیف،د دوگوجه طبع.
- کاوه مجله .دبرلین چاپ ،۱۳۳۸ هـ کال.
- مجمع الانساب .د محمد بن علی تالیف (دپاریس ملی موزیم ،د پارسی کتابونو د فهرست نښلونه ،۱۲۷۸ گڼه).
- مجموعه سلطانی ،( د اندیا آفیس کتابتون ،لندن ،۵۰۸ گڼه قلمی نسخه.
- ملفوظات تیموری ( ایلیات او داوسن ،دریم ټوک).
- منهاج اسلاطین ( د اندیا آفیس کتابتون ،لندن،قلمی نسخه ،۱۲۲۳ گڼه).
- مراة الزمان،دسبط ابن جوزي تالیف ( برتش موزیم ،اصلی فهرست ،۴۲۱۹ گڼه).
- مراة مسعودي .د عبدالرحمن چشتی تالیف.
- مجمع التواریخ .(د پاریس ملی موزیم .د پارسی لرغونی آثار .۲۲ گڼه).
- معجم البلدان دیاقوت تالیف.د ووستن فیلد چاپ.
- د اسلام انسایکلوپیدیا کی د محمد ناظم مقالې.

➢ د لندن د آسیائی شاهي انجمن مجله کې د محمد ناظم مقالې.
➢ د لندن د آسیائی شاهي انجمن مجله کې د سرونسنت سمته مقالې.
➢ نظام التواریخ .د ابوسعید عبدالله بن ابوالحسن بیضاوي تالیف.
➢ نزهته القلوب.د حمدالله مستوفی تالیف.
➢ د امین هفت اقلیم ،احمد الرازي (برتش موزیم ،د اصلی فهرست نښلونه ، ۲۴۹۲ گڼه).
➢ یتیمه الدهر ،د الثعابی تالیف .د دمشق چاپ.

Archaeological Survey of India (annual pub )
➢ (د هند د لرغونو آثار و د اداري کلني راپورونه)

Aliterary History of Persia.
➢ (د ایران د ادبیاتو تاریخ ،دبراون تالیف).

Archaeological Survey of Western India.
➢ (د لویدیځ لرغونو آثاروته کتنه .دبرگس تالیف).

Archaeological Survey of India.
➢ (د هند لرغونو آثاروته کتنه .د کننگهم تالیف).

A history of Indian and Eastern archeteeture.
➢ (د هند او د شرق د معماری تاریخ .د ۱۹۱۰ م کال چاپ).

Archaeological Survey of India.
➢ (د هند لرغونو آثاروته کتنه .دفیوهریر تالیف).

Additions to the oriental collection of coins in the British Museum.
➢ (د ختیځ د مسکوکاتو د اضافاتو مجموعه .برتش موزیم .د لین پول تالیف).

A history of Afghanistan.

➢ (د افغانستان تاريخ .د ميليسن تاليف) .

A history of Persia.

➢ (د پاريس (ايران) تاريخ .د سرپرسی سايکس تاليف) .

Annals and Antiquities of Rajasthan.

➢ (د رجهستن پيښنی او لرغونی آثار .د کردک طبع) .

A personal Narrative of a visit to Ghazni, Kabul and Afghanistan.

➢ (غزنی .کابل او افغانستان څخه د ليدنې کتنې په هکله شخصي ويناوی ، د وينه تاليف) .

Asia mair. (دلويې آسيا مجله)

Catalogue of the Persian mssin the Library of the Indian office.

➢ (د انديا آفس د کتابتون د پارسی د قلمي نسخو کتلاگ ، لندن، د ايتهی تدوين) .

Catalogue of the Persian mss. In the Bodlian Library.

➢ (د بودليان کتابتون د پارسی د قلمي نسخو کتلاگ ، آکسفورد . د ايتهی تدوين) .

Catalogue of Oriental Coinsin the British Musseu m.

➢ (په برتش موزيم کې د ختيځ مسکوکاتو فهرست .د لين پول تدوين) .

Coins of Mediaeval India.

➢ (د هندو منځنيو پيړيو مسکوکات . د کننگهم تاليف) .

Epigraphia India.

➢ (دا دهندي ډبر ليکونو يوه مجموعه ده) .

Geschichte der Arabischen Litteratur.

➢ (د عربو د ادبياتو تاريخ .د بروکلمن تاريخ) .

Gezetteer of Bikaner state.

➢ ( د بیکانېر ریاست گزیټر .د کپتان پاولت تدوین ) .
Gazetteer of Marwar.Mallani and Jeysulmere.
➢ ( دماردار .مالاني او جیسلمیر گزیټر ) .
History of India as told by its own Historians.
➢ ( د هند تاریخ د هغوی د مورخینو له وینا وو څخه . د ایلیات او داوسن تالیف ).
History of India.
➢ د هند تاریخ .الفن ستون تالیف ،د کودل چاپ ١٨٨٩ کال ).
History of Arabic Literature.
➢ د عربی ادبیاتو تاریخ .د هوارت تالیف ) .
Lists of the Antiquarian remains in the Bombay presidency.
➢ د بمبئ د ریاست د لرغونو آثار و فهرست ،د برگس تالیف .
Lives.
➢ ( ژوند ،دپلوتارک تالیف،دالانگ هورن ژباړه ).
Memoies of Babar.
➢ ( دبابریاد ،دبیورج ژباړه ١٩٢٢ کال ) .
Mediaeval Researches from Eastern Asiatic Sources.
➢ ( د ختیځی آسیاله سرچینو څخه د منځنیو پیړیو څیړنې ،دبریت شنایدر تالیف ) .
Mazandaran and Astarabad.
➢ ( مازندران او سترآباد .د رابینو تالیف ) .
Manuel de Genealogie et de chronologie Pour l .histore de ١)Lslam.
➢ ( د اسلام د تاریخی پیښو او شجرو رساله ) .
Notes on Afghanistan.
➢ (د افغانستان په هکله یادونې .د راورتی تالیف ) .
Persia and Persian question.

➢ ( پارس او د پارسیانو مسایل،دلارد کرزن تالیف )،
Proceedings of the Royal Geographie Society of London.
➢ ( د لندن دشاهي جغرافیاوی ټولنې د اجراتو څرنګوالی )،
Proceedings of the Royal Geographie Society of London.
➢ ( د هند لرغونو آثارو د پرمختیا د څیړنو رابور ،دبرګس تالیف )،
Ruins of Desert Cathay.
➢ ( د کتهي د د ښتو کنډوالې ،د سر آرل ستین اثر )،
➢ ( سوریه ،مجله ،د پاریس چاپ )، Syrai.
Sultan Mahmud of Ghaznin .
➢ ( غزنوی سلطان محمود ،دپروفیسور جیت سنګه )،
➢ ( سرآندیا ،د سرارل ستین تالیف )، Serindia.
The Bombay Gazetter.
➢ ( د بمبئ ګزیتر ،د ۱۸۲۲ کال چاپ )،
The Cambridge History of India.
➢ ( د سرو وسلی هیګ اثر )،
The ancient Geography of India.
➢ ( د هند لرغونی جغرافیا ،د کننګهم تالیف د ۱۸۷۱ کال چاپ )،
The Imperial Gazetter of India.
➢ ( د هندوستان شاهي ګزیتر ،د ۱۹۰۸ کال چاپ )،
The Indian Antiquary .
➢ ( د هند لرغونپیژندنه ،د ختیځ د څیړنو ځانګړی مجله ده )،
The Mohammadan Dynaties.
➢ ( د اسلامي سلاطینو طبقات ،د لین پول اثر )،
The Caliphate,its rise,decline and fall .

➢ ( خلافت. ترقی. سقوط او له منځه تلل. د سروليم مونيرتاليف .د ۱۸۹۲ کال چاپ ).

The Mihran of sind .

➢ ( د سند مهران .د بنګال د آسيائی انجمن په مجله کی د ۱۸۹۲ کال خپرونه ).

The Heart of Central Asia .

➢ ( د مرکزی آسيا زړه .د سردينس راس اثر ).

The Early history of India.

➢ ( د هند مخکنی تاريخ .د سرونسنت سمث اثر ،۱۹۲۴ کال ).

The Lands of the Eastern Caliphate.

➢ ( د ختيځ خلافت ځمکه .دلوسترينج تاليف ).


The Coins of the Kings of Gazna.

➢ ( د غزنی د سلاطينو سکې .د آسيائی شاهی انجمن د ۱۷ گنیی خپره شوی مقاله .د تاماس ليکنه ).

U.P.District Gazetter .

➢ ( د متحده ولايتونو گزيتر . اگره او اودهـ ).

په یوولسم هجری پیړۍ کې د سلطان محمود غزنوي د غزنی د شاهنشاه قلمرو




Carte JC. Blanc. **L'Afghanistan it res population edition complex 1976 Bruxelle** Jean Charles Blanc

## بخشی از کتب منتشر شدهٔ بنگاه انتشارات میوند (کتابخانهٔ سبا)

- سیرة النبی ﷺ (ترجمهٔ فارسی الرحیق المختوم)
- تاریخ نبوت و انبیاء
- شرح قدوری (فارسی و پشتو)
- سپیڅلی نبوی سیرت (ترجمهٔ پشتو الرحیق المختوم)
- پیغمبر زنجیر شکن
- فقه آسان (فارسی و پشتو)
- احکام فقهی برای زن مسلمان
- داستانهای پیامبران برای خورد سالان
- تربیت اولاد از دیدگاه اسلام
- تاریخ مسخ نمی شود
- اردو وسیاست «درسه دههٔ اخیرافغانستان»
- داؤدخان در چنگال K.G.B (فارسی وپشتو)
- حیات و اوقات سلطان محمود غزنوی
- جغرافیای تاریخی افغانستان (غبار)
- جغرافیای تاریخی افغانستان (حبیبی)
- تحلیل واقعات سیاسی افغانستان
- ازسقوط سلطنت تاظهور واجراآت طالبان
- فدرالیزم و عواقب آن در افغانستان
- آسیای میانه و افغانستان درکنار آتش
- بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخی
- افغانستان از امیرکبیر تا رهبر کبیر
- افغانستان تجاوزشوروی ومقاومت مجاهدین
- نادرشاه چگونه به پادشاهی رسید؟
- محمد ظاهر شاه ( فارسی و پشتو)
- وروستی مورچل
- دیورغازی داستان
- تروژمی مسافر
- محمد بن قاسم
- شاهین
- کلیسا او اور
- وروستی جگره
- قیصر او کسری (اول او دویم)
- یوسف بن تاشفین
- توفان در افغانستان
- بحران ولهات
- شهید میوندوال
- کرباس پوشهای برهنه پا
- افغانستان گذرگاه کشور کشایان
- دو نابغهٔ سیاسی نظامی افغانستان
- دههٔ قانون اساسی
- افغانستان در قرن نزده
- پادشاهان متأخر افغانستان
- نگاهی به عهد سلطنت امانی
- تاریخ روابط سیاسی افغانستان
- تاج التواریخ
- افغانستان چا ورانکړ؟
- محاکمهٔ خاینین ملی
- ابومسلم خراسانی
- مرداره قول اس
- جنگ در افغانستان
- سیر ژورنالیزم درافغانستان
- دستور معاصر زبان فارسی دری
- تاریخ ادبیات افغانستان
- سیرت خاتم النبیین
- روسیه و خاور
- افغانستان و مداخلات خارجی
- افغانستان در آتش نفت (فارسی و پشتو)
- خاطرات ظفر حسن ایبک
- اسپارتاکوس
- سیر تاریخی ضرب سکه در اسلام
- د پیغمبرانو داستانونه د نوی ځوانانو...
- روابط بین الملل در اسلام
- افغانستان و پنج سال سلطهٔ طالبان
- شوکران در ساتگین سرخ
- واهمه های زمینی
- افغانستان در مسیر تاریخ (دوردو جلدی)
- شیرشاه سوری
- سیدجمال الدین افغان (فارسی و پشتو)
- اسلام و امت مسلمان (فارسی و پشتو)
- ظهیرالدین محمد بابرشاه
- سیری در قرآن مجید
- کرونولوژی حوادث تاریخی افغانستان
- ملی مبارزی
- طنزهایی از چهار گوشهٔ جهان
- افغانستان در دایرة المعارف تاجیک
- تاریخ ملیم خانی
- د پستنو قبیلو شجری او مینی
- اور په افغانستان کی
- قیقان افغان (حقیقت تجاوز شوروی بر ...)
- د افغانستان استحکامي کلاوي حصارونه ...
- اسناد لانهٔ جاسوسی
- عبادات در مذهب حنفی
- کتاب الخراج (فارسی و پشتو)
- تاریخ معاصر افغانستان (فارسی و پشتو)
- د اتلانو اتل
- عشق من امریکا (فارسی و پشتو)
- امریکا در افغانستان (فارسی و پشتو)
- جنگ نامقدس امریکا ، افغانستان و ...
- چی کنم عادتم شده؟ (طنز)
- و...

# غزنوي سلطان
# محمود



بنګاه انتشارات میوند
کابل ـ افغانستان